# د عباداتو فلسفه

# یا

# اسلامي عبادت پيژندنه

Download from:aghalibrary.com

تألیف:

استاد عبدالظاهر داعی

د کابل پوهنتون در شرعیاتو د پوهنحی استاد

۱۳۹۱ ش = ۱۴۳۳ ق = ۲۰۱۲ م

| | |
|---|---|
| **د کتاب نوم:** | د عباداتو فلسفه یا اسلامي عبادت پیژندنه |
| **د کتاب اصلي نوم:** | فلسفه و حکمت‌های عبادات در اسلام |
| **لیکوال:** | استاد عبدالظاهر داعی |
| **موضوع:** | نور عقیدوي مسائل (ایمان، جبر، اختیار، قضا او قدر، مهدی، انسان، شیطن، پیرۍ، فرشتی او...) |
| **د چاپ شمیر:** | لومړي (دیجیتال) |
| **د چاپ تاریخ:** | سلواغه ۱۳۹۵ هـ ش - جمادي الأول ۱۴۳۸ هـ ق |
| **سرچینه:** | |

**دا کتاب د عقیدې د کتابخانې سایت نه داونلود شوی دی.**

**www.aqeedeh.com/pa**

**برېښنا لیک:** **book@aqeedeh.com**

**د موحدینو ګروپ ویب پاڼو**

www.mowahedin.com
www.videofarsi.com
www.zekr.tv
www.mowahed.com
www.aqeedeh.com
www.islamtxt.com
www.shabnam.cc
www.sadaislam.com

**په عقیدې سایت کي ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسایت د همغږۍ په معنا نه ده.**

contact@mowahedin.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# نيو ليک


**نيو ليک........................................................ أ**

**سريزه ........................................................ ۱**

**لومړی فصل: اسلامي عبادت پيژندنه ........................ ۴**

ولی عبادت پيژندنه لولو؟ ........................................ ٤

اول: د عباداتو په هکله د احکامو پيژندل:.................... ٤

دويم: د اصلي عبادتونو پيژندنه له جعلي عبادتونو څخه: ............... ٥

الف: د موسیعليه‌السلام د لارويانو ستونزه: ............................ ٥

ب: دعيسیعليه‌السلام د لارويانو د بې لارې علت:........................ ٦

ج: د ابراهيم او اسماعيل عليهم السلام د لارويانو دبی لارۍ علت:.. ٦

۱- د عبادت په شکل کې تغير راوړل:.............................. ٦

۲- په لباس کې تغير راوړل:........................................ ٧

۳- په ديني رهبرۍ کې تغير: ........................................ ٨

۴- د خالق ذات په صفاتو کې تغير:................................ ٨

دريم: د عباداتو هدف پيژندنه: ..................................... ٩

څلورم: د عبادت د مستحق پيژندنه: ................................. ٩

پنځم: د عباداتو د ډولونو پيژندنه: ................................. ٩

شپږم: د هر عبادت حکمت:............................................ ٩

اوم: په انسان جوړونه کې د عباداتو رول پيژندنه: ............... ١٠

اتم: د بدعتونو پيژندل: ............................................. ١٠

نهم: د لومړيتوبونو پيژندل: ........................................ ١٠

د اسلام مقدس دين کې دعبادت مفهوم... .......................... ١٥

عبادت په لغت کې:..................................................... ١٥

عبادت په اصطلاح کي(): ........................................١٦
د عبادت عام تعریف: ........................................١٧
١ - عبادت هر ظاهري او باطني عمل دی: ........................١٧
٢ - دچا یا کوم شی مقابل کې: ........................................١٧
٣- مقابل ذات ته دعظمت قصد: ........................................١٧
۴- د خپلې بندګۍ او ذلت اظهار: ........................................١٨
۵- د اجر او ثواب د حاصلولو لپاره ترسره کیږي: ........................١٩
۶- په حلال او حرام، ښه او بد کې د چا قانون تطبیقول: ............١٩
١ - د ټولو امرونو پر ځاي کول: ........................................١٩
٢ - له ټولو ممنوعاتو څخه ځان ساتنه: ........................................٢١
٣- په قرآن او سنتو کې ثابت دي: ........................................٢٣
٤ - په هغه کې الله ﷻ ته د ذلت او خواري نیت وي: ....................٢٣
د عبادت حقیقت: ........................................٢٣
الف: د انسان نفس کې د عبودیت د معنی استقرار: ........................٢٣
ب: یو خالق ته مخ اړونه: ........................................٢٤
۵- د الله ﷻ محبت: ........................................٢٤
۶- د الله ﷻ رضایت: ........................................٢٤
دعبادت او عدم عبادت ترمنځ فرق: ........................................٢٩
په اسلام کې د عبادت د لمنې پرخوالی: ........................................٣٠
الله ﷻ ته د عبادت خاص کول ........................................٣١
د قرآن کریم دلیلونه: ........................................٣١
د قریشې مشرکینو ددعا څرنګوالې: ........................................٣٧
الف: د عالم اسباب استغاثه: ........................................٣٨
بـ : په ما فوق الاسباب عالم کې استغاثه: ........................................٣٨
په پناه غوښتلو کې دقریشی مشرکینو عادت: ........................................٤١
د عباداتو اهداف ........................................٤٦
دنیوي هدف: ........................................٤٦
الف: جسد جوړونه: ........................................٤٧

ب: روح جوړونه:........................................ ٤٧
ج: جامعه جوړونه: ........................................ ٤٨
د ځمکې آبادي: ........................................ ٤٩
اخروي هدف: ........................................ ٤٩

**دويم فصل: د اسلام مقدس دين کې د عباداتو ډولونه ........................ ٥١**

اول وګړيز عبادتونه:........................................ ٥١
د وګړيزو عباداتو ډولونه ........................................ ٥٢
فکري (قلبی) عبادتونه........................................ ٥٢
دفکري عباداتو ډولونه........................................ ٥٥
د کليسايي اعمالو د درولو پر وخت د کليسا عکس العمل:.......... ٦٤
ددغه نوي مسلمان ستونزې: ........................................ ٦٥
مناظرې او کشيشانو سره خبرې اترې: ........................................ ٦٦
فکري ګناهونه، يا هغه ويرسونه چې د حق د قبلولو مانع ګرځی ..... ٨٥
بدنی او جسمي عبادت ........................................ ٨٨
اول: ژبه ........................................ ٨٩
دويم: غوږونه ........................................ ٩٢
دريم: سترګي ........................................ ٩٣
څلورم: لاسونه ........................................ ٩٣
پنځم: پښې ........................................ ٩٤
شپږم: ټول اعضا........................................ ٩٤
له مالونو څخه په ګټه کې عبادتونه........................................ ٩٤
مال په لغت کې: ........................................ ٩٥
مال په اصطلاح کې:........................................ ٩٥
اول: له وسايلو څخه استفاده........................................ ٩٥
دويم: له پيسو څخه استفاده........................................ ٩٦
د مال د حلال والی فورمول څه شي دي؟ ........................ ١٠١
١- سود:........................................ ١٠١
٢- حرام: ........................................ ١٠١

٣- سحت: ........................................ ١٠١
٤- غلول:........................................ ١٠٢
٥- مکروه: ........................................ ١٠٢
٦- شبهه:........................................ ١٠٣
د مال مصارف په حلال ډول سره: ........................ ١٠٤
نفقه په لغت کې:........................................ ١٠٤
نفقه په اصطلاح کې:........................................ ١٠٤
دنفقى اسباب: ........................................ ١٠٥
حرام مصارف: ........................................ ١٠٥
اسراف په لغت کې:........................................ ١٠٥
اسراف په اصطلاح کې:........................................ ١٠٥
تبذير په لغت کې:........................................ ١٠٦
تبذير په اصطلاح کې:........................................ ١٠٦
د اسراف او تبذير ترمنځ فرق:........................................ ١٠٦
د اسراف حکم: ........................................ ١٠٧
تقتير:........................................ ١٠٨
تقتير په اصطلاح کې:........................................ ١٠٨
دريم: د پيسو ساتل ........................................١٠٩
څلورم: تجارت ........................................ ١٠٩
دويمه برخه: اجتماعى عبادتونه........................................١٠٩
د اجتماعى عبادتونو پيژندنه: ........................................ ١١٠
وګړيز او اجتماعى ډولونو ته د عباداتو تقسيم: ........................١١٠
د اسلامي عبادتونو فرق له غير اسلامى عبادتونو (ټولو اديانو) سره ١١٠
د اجتماعى عبادتونو اقسام........................................١١٤
اول: انساني روابط........................................ ١١٥
١- د کورنۍ د غړو ترمنځ روابط: ........................................ ١١٥
٢- د دوستانو ترمنځ روابط: ........................................ ١١٥
٣- د ګاونډي سره روابط: ........................................ ١١٥

۴- د کوڅې، سرک او محلې له خلکو سره روابط: ........ ۱۱۵
۵- د ناحيي او قريي له خلکو سره روابط: ........ ۱۱۶
۶- د ښار او ولايت له خلکو سره اړيکې: ........ ۱۱۶
۷- د نړۍ سره اړيکې: ........ ۱۱۶
۸- له مستامنينو، ذميانو او لږ کيو سره اړيکې: ........ ۱۱۶
۹- تعليمي اړيکې (تعليمي احکام) تعليمي عبادتونه:........ ۱۱۷
دريم: سياسي اړيکې........ ۱۲۸
څلورم: وظيفوی اړيکي ........ ۱۲۸
الف:د وظيفې انتخاب ........ ۱۲۸
ب: وظيفه پيژندنه ........ ۱۲۸
ج: له استفاده اخيستنې څخه لرې والي........ ۱۲۹
د: په وظيفه کې اخلاص ........ ۱۲۹
ه: د قوانينو طرحه ........ ۱۲۹
دريمه برخه: قانونی عبادات ........ ۱۳۰
د اسلام مقدس دين کې د قوانينو اقسام: ........ ۱۳۱
آسماني قانون: ........ ۱۳۲
۱- قرآن کريم د قانون (شريعت) لومړي مصدر: ........ ۱۳۲
۱- اعتقادي احکام: ........ ۱۳۲
۲- اخلاقی احکام: ........ ۱۳۲
۳- عملی احکام: ........ ۱۳۳
۱- د کورنۍ قانون: ........ ۱۳۳
۲- مدنی قانون: ........ ۱۳۳
۳- د مرافعاتو قانون: ........ ۱۳۳
۴- د جزا قانون: ........ ۱۳۳
۵- د حکومت اساسی قانون: ........ ۱۳٤
۶- د ډيپلوماسی قانون: ........ ۱۳٤
۷- اقتصادی قانون: ........ ۱۳٤
۲- د رسول اللهﷺ سنت د قانون (اسلامی شريعت) دويم مصدر:۱۳۵

د فقهاوو په نزد د سنتو تعریف: ........................ ۱۳۸
۱- موکد سنتونه: ........................................ ۱۳۸
۲- زواید سنت: ........................................ ۱۳۹
۳- دامت اجماع د قانون (اسلامی شریعت) دریم مصدر دی، چې اجماع په لغت کې د عزم، قصد او اتفاق په معنی ده:............... ۱۳۹
۴- قیاس د قانون (اسلامی شریعت) مصدر:........................ ۱٤۰
د قیاس ارکان:............................................ ۱٤۰
وضعی قانون: ............................................ ۱٤۱
**دریم فصل: د عباداتو مختلفې فلسفې ................................. ۱۴۲**
۱- د اسلام مقدس دین کې د ۲۴ ساعته عباداتو فلسفه:.......... ۱٤۳
۲- د عبادت او معرفت ترمنځ د اړیکو فلسفه: ..................... ۱٤۵
۳- د عبادت د قبولۍ اورد فلسفه:................................ ۱٤۷
د پاکۍ په اساس وي: ...................................... ۱٤۷
۱- هغه پاکي چې یو شي ذات سره تعلق لري:.................. ۱٤۸
۲- هغه پاکۍ چې د استفادې له اسلوب سره تعلق لري: .......... ۱٤۹
۳- هغه پاکي چې د یو شي له قیمت او د لاسته راوړلو څرنګوالي پورې تعلق لري ........................................ ۱٤۹
اول شرط: د هغه شي په ذات کې د پاکۍ او د استفادې د قابلیت شرط ............................................................ ۱٤۹
دویم شرط: اسلوب کې دپاکۍ شرط .............................. ۱٤۹
الف: د لاسته راوړلو اسلوب ................................... ۱٤۹
ب: دتیارولو اسلوب.......................................... ۱٥۰
ج: د استعمال او مصرف کولو اسلوب............................ ۱٥۰
دریم شرط: دقیمت د پاکۍ شرط................................ ۱٥۰
څلورم شرط: په استفاده کوونکی شخص کې د پاکۍ شرط........ ۱٥۱
الف: دیوې حرامې مړۍ په خوړلو سره د څلویښت ورځو عبادت نه قبلیدل.......................................................... ۱٥۱
ب: د حرام خور دعا نه قبلیږي.................................. ۱٥۲

ج: هغه جسم چې له حرامو تغذیه شی د دوزخ په اور سوزیږی ... ۱۵۳
د: دیو خرما په اندازه حلاله صدقه د غره په شان ګرځي............ ۱۵۳
هـ: هغه امور چې هغې کی شک دی انسان په حرامو کې مبتلا کوي
................................................................. ۱۵٤
نجات په څه کې دي:......................................... ۱۵۵
الف: حلال خوراک............................................. ۱۵۵
ب: د فرایضو ادا.............................................. ۱۵۵
ج: د نبی کریمﷺ پیروي........................................ ۱۵۵
د اخلاص په اساس وي.......................................... ۱۵۵
د قرآن او سنتو مطابق وي ..................................... ۱۵٦
۴- د علم دتعلیم او د الله د ذکر د مجلسونو فلسفه:............... ۱۵۷
الف: ملایک د هغوی ترخنګ را ټولیږي ............................ ۱۵۸
ب: پدغسي مجلس کې الهی رحمت ددې مجلس ټول اشتراک کوونکی
پوښي ............................................................ ۱۵۸
ج: پدغسي علمی مجلسونو کې د شرکت کوونکو لپاره یو رنګ قلبی
راحت او سکون حاصلیږي ........................................ ۱۵۸
د: د دغسې مجلسونو لوی شرف د الله ﷻ په نزد ددغو اشخاصو یادیدل
دي، او هغه هم د الله ﷻ په ژبه.................................. ۱۵۸
۵- د الله ﷻ عبادت کې د حساب ورکولو فلسفه: ................... ۱۵۹
۶- د منفعتو د جلبولو فلسفه: .................................... ۱۵۹
۷- د شکر فلسفه (شکر د حق شناسی مهمترین مظهر):.......... ۱٦۰
الف: د ژبی د شکر ادا کونې لپاره................................. ۱٦۱
ب: د فکر د شکر ادا کونی لپاره.................................. ۱٦۱
ج: د لاسونو د شکر اداکونې لپاره ................................ ۱٦۱
د: د پښو د شکر اداکونی لپاره.................................... ۱٦۱
ه: دسترګو د شکر ادا کونی لپاره ................................. ۱٦۱
۸- د احوالو او اعمالو د مطابقت فلسفه:............................ ۱٦۲

۹- د عباداتو د زوال فلسفه: ............................................۱٦٤
الف: د میوې د خارجی برخې ګنده کیدل ..........................۱٦٥
ب: د میوې دداخلی برخی ګنده کیدل ..........................۱٦٥
۱۰- د عبادت د اتقان فلسفه: ............................................۱٦٦
۱۱- دنیا د اخرت کښت دی ددې فلسفه: ..............................۱٦٦
۱۲- د کاملې عبادت پیژندنې فلسفه: ..................................۱٦۷
۱۳- د اسلام مقدس دین او نورو ټولو دینونو کې د عباداتو د اختلاف فلسفه: ............................................۱۷۱
۱۴- دعباداتو د حکمت فلسفه: ............................................۱۷۲
الف: د فطری امورو دلیل ............................................۱۷۲
ب: د یقین په اساس د څه امورو دلیل ..............................۱۷۳
ج: د عقل سره موافقو امورو دلیل ..................................۱۷۳
۱۵- د دری ګونو اړیکو فلسفه: ............................................۱۷٤
الف: له خالق سره د انسان ارتباط ..................................۱۷٤
ب: له خپل ځان سره د انسان ارتباط ..................................۱۷٤
ج: له ټولنې سره دانسان ارتباط ......................................۱۷٤
۱٦- بنده ته د عبادت د منفعت فلسفه: ..................................۱۷٤
۱۷- د عبادت ترک د انسان د تسخیرولو لپاره د شیطان وسیله ده، ددې فلسفه: ............................................۱۷٦
۱۸- د اخلاص فلسفه: ............................................۱۷۹
۱۹- د دنیا د ترک، رهبانیت او ګوښه کیناستنې فلسفه: ............۱۸۰
۲۰- له تکنالوژی وسایلو څخه ددعوت او عبادت لپاره استفاده:۱۸۳
۲۱- د ویرې او محبت فلسفه: ............................................۱۸٦
**خلورم فصل: لمونځ پیژندنه ............................................۱۸۸**
لمونځ په لغت او اصطلاح کې............................................۱۸۸
اسلام کې د لمانځه مرتبه: ............................................۱۸۹

د لمانځه حقیقت: ...............................۱۸۹
ظاهری حقیقت: ..................................۱۹۰
د لمانځه د روح حقیقت: ...........................۱۹۰
دلمانځه د فرضیت دلایل: ...........................۱۹۲
له سنتو څخه دلیل: ...............................۱۹۲
له اجماع څخه دلیل: ..............................۱۹۳
د لمانځه ترک کوونکی حکم: .........................۱۹۳
د مومنانو د لمانځه فلسفه ...........................۱۹۵
۱- له پروردګار متعال سره د خبرو کولو فلسفه: .............۱۹۵
۲- لمونځ له الله ﷻ سره د مخلوق دارتباط دوام: .............۱۹۹
۳- له الله ﷻ سره دعهد او پیمان تجدید: ....................۲۰۰
۴- لمونځ الهی دربار ته د عاجزۍ او بنده ګۍ اظهار: ...........۲۰۳
۵- الله ﷻ مخ اړول: ....................................۲۰۵
۶- په فحشا او منکر باندې له مبتلا کیدو څخه د ساتنې فلسفه: ...۲۰۵
۷- د متحرک قران فلسفه او له لمانحه سره د هغه ارتباط: .........۲۰۷
۸- لمونځ په غیبو باندې له ایمان څخه وروسته د متقیانو اساسی صفت او د دین عملی بنیاد دي: .........................................۲۰۷
۹- لمونځ د څو الهی او امرو فرمانبرداري: .......................۲۰۸
۱۰- لمونځ د رب د شکر ګذارۍ نمونه: .........................۲۰۸
۱۱- لمونځ د رشد او کمال علامه: ..............................۲۰۹
۱۲- د لمانځه په واسطه له الله ﷻ سره انس حاصلیږي: ............۲۰۹
۱۳- په لمانځه سره د الله ﷻ د قرب حصول: .......................۲۱۰
۱۴- لمونځ د معنوي روحیې تقویت: ...............................۲۱۰
۱۵- لمونح د وخت پیژنه او وسیله: ...............................۲۱۱
۱۶- لمونځ ددین ستنه ده: ......................................۲۱۱
۱۷- د محمد ﷺ پیژندل له قبرو څخه: ..............................۲۱۲
۱۸- لمونځ مومنانو ته یو لوی الهی نعمت: ...........................۲۱۲

١٩- لمونځ مومنانو ته د الهی غیبی خزانو افتتاحیه ده:............٢١٣
٢٠- لمونځ انسان خپلې ټولنې سره کړي: ........................٢١٤
٢١- لمونځ د پيغمبرﷺ اخري وصيت:...........................٢١٥
٢٢- لمونځ يواځنى او هميشنى عبادت:...........................٢١٥
٢٣- په خاص ځاى کې د لمانځه د فرضيت فلسفه: ..............٢١٥
٢۴- لمونح د ټولو پرښتو د عبادت خلاصه:.........................٢١٥
٢۵- لمونځ د مومنانو ترمنځ د عهد موجب دى: .....................٢١٦
٢٦- لمونځ د توبى لار او نيکيو ته ګرځيدنه ده: ....................٢١٦
٢٧- لمونځ په ځوانۍ کې د الله جل جلاله د دوستۍ لپاره يوه لاره ده: .....٢١٧
٢٨- رکوع د پروردګار د تعظيم سر:...................................٢١٩
٢٩- سجده د کمال بندګۍ نښه: .........................................٢٢٠
٣٠- تشهد د الله جل جلاله په وړاندې ناسته: ............................٢٢١
د لمانځه د الفاظو معنا.................................................٢٢٢
د جماعت لمونځ اود اسلامي ټولنې په جوړولو کې د هغې نقش:٢٣۵
١- خالق ذات سره په رابطه پيدا کولو د لمانځه تاثير: ..............٢٣٧
٢- د جماعت لمونځ تاثير په فردي ژوند:..............................٢٣٧
الف: له الله سره ملاقات ............................................ ٢٣٧
ب: د جماعت لمونځ د فرد او ټولنې ترمنځ پيوند.................. ٢٣٧
ج: د جماعت لمونځ د خداى د کور دعوت دي...................... ٢٣٨
د: د جماعت لمونځ د ژوند د تنظيم لار.............................. ٢٣٨
ه: د جماعت لمونځ د زيات ثواب لار.................................. ٢٣٨
و: د جماعت لمونځ د الله جل جلاله لاره کې د قدمونو زياتوالي........... ٢٣٩
٣- د جماعت لمانځه تاثير په اجتماعى ژوند:........................٢٣٩
الف: د جماعت لمونځ د اجتماعي روابطو کلي........................ ٢٣٩
ب: د جماعت لمونځ د مشکلاتو د حل وسيله......................... ٢٤٠
ج: د جماعت لمونځ دصميمت لار..................................... ٢٤٠

د: دښولو ترمنځ د مساوات اعلان پرته د وظیفو او ځیروله نظر کې نیولو ځخه........................................................... ۲٤۱
۴- د جماعت د لمانځه صفونه د ملایکو د صفونو په شان دي: ...۲٤۲
۵- د لمانځه د نظام تاثیر دسیاسي ژوند په تنظیم کې: .............۲٤۲
الف: اسلام کې د رهبریت عالي صفات.............................. ۲٤۲
ب: اصلاحي هیات..................................................... ۲٤۳
ج: اطاعت د اللهﷻ د اطاعت تر وخت ................................ ۲٤٤
د جماعت د لمانځه فضایل.....................................۲٤٤
هغه قدمونه چې د جماعت خواته ځي ................................. ۲٤٥
د جماعت د لمانځه تاثیر د پل صراط په تیریدلو کې ............... ۲٤۷
د لمانځه نه قبلیدل ..................................................... ۲٤۸
دوزخ ته د تارک جماعت داخلیدل..................................... ۲٤۸
دماسختن او سهار جماعت د ټولې شپې عبادت دی ................. ۲٥۲
**پنځم فصل: رمضان................................................................ ۲۵۴**
رمضان په لغت او د اسلامی شریعت اصطلاح کې ...................۲٥٤
رمضان په لغت کې:.............................................................۲٥٤
رمضان د اسلامی شریعت په اصطلاح کې:.............................۲٥٥
صوم (روزه) په لغت کې: ...................................................۲٥٥
رمضان د قران عظیم الشان د نزول میاشت ...........................۲٥٦
د فرد او جامعې په جوړولو کې د روزې نقش ..........................۲٥٦
د انسان فردی شخصیت جوړولو کې د روزې نقش:.................۲٥۷
الف: معنوي بخش کې.................................................. ۲٥۷
۱- د تقوا حاصلول: ..................................................... ۲٥۸
۲- روحی تربیت: ........................................................ ۲٥۹
۳- اخلاقی تربیت:........................................................ ۲٥۹
ښه اخلاق:.................................................................. ۲٦۰
عالی اخلاق: ............................................................... ۲٦۰

عالی (ممتاز) اخلاق: ........................................................ ۲٦۰
۴- د نفس تربيه او نفس مطمينه ته د هغه ارتقا:.................. ۲٦۱
۵- ٪۱۰۰ درجې ته د ايمان ارتقا: ........................................ ۲٦۲
۶- د خواهشاتو د مبارزې لپاره امادګي: ........................... ۲٦۲
۷- د کادر جوړولو لپاره ذوب کول:....................................... ۲٦۳
ب: په جسمي برخه کې.......................................................... ۲٦٤
د ټولنې په جوړولوکی درمضان نقش .................................. ۲٦٤
۱- اجتماعی برخه کې: ............................................................ ۲٦٤
۲- سیاسی برخه کې: ............................................................... ۲٦٥
۳- اقتصادی برخه کې: ............................................................ ۲٦٥
۴- فرهنګی برخه کې:............................................................... ۲٦٦
د روژې او رمضان فلسفی............................................................ ۲٦٦
۱- د فرصتونو فلسفه:................................................................ ۲٦٦
۲- د رمضان د ثواب فلسفه:.................................................... ۲٦٦
۳- د درې ګونو اړیکو کلکولو فلسفه:....................................... ۲٦٧
۴- د انسان جوړونی د کورس فلسفه: ...................................... ۲٦٧
۵- د کاملې روزې فلسفه:.......................................................... ۲٦٨
الف: روزه لرونکی غوږ........................................................... ۲٦٨
ب: روزه لرونکی ژبه .............................................................. ۲٦٨
ج: روزه لرونکی سترګې........................................................... ۲٦٩
د: روزه لرونکی زړه.................................................................. ۲٦٩
هـ: روزه لرونکی نفس ............................................................. ۲٦٩
و: روزه لرونکی نفس ................................................................ ۲٦٩
۶- د دوزخ د دروازو او شیطان تړلو فلسفه: ............................ ۲۷۰
۷- د رحمت د لسو (۱۰) ورځو فلسفه: ................................... ۲۷۱
۸- د مغفرت د لسیزې فلسفه:.................................................... ۲۷۲
۹- دوزخ څخه د ازادۍ دلسیزې فلسفه: .................................. ۲۷۲
۱۰- د آسمان د دروازو خلاصیدلو فلسفه:.................................. ۲۷۲

۱۱- د روزه لرونکی د خولې دبوی فلسفه: ............ ۲۷۳
۱۲- د رمضان د عمرې فلسفه: ............ ۲۷۳
۱۳- دقدر د شپو فلسفه: ............ ۲۷٤
۱۴- دریان فلسفه: ............ ۲۷٤
۱۵- د قران کریم د نزول د شکر فلسفه: ............ ۲۷٥
۱۶- د روزې د کیدلو او قبول فلسفه: ............ ۲۷٥
۱۷- د رمضان د حقیقت د درک فلسفه: ............ ۲۷٦
د رمضان مبارکې میاشت فضایل ............ ۲۷٦
د روژې د احکامو په هکله پوښتنه ............ ۲۷۸
**شپږم فصل: د زکات فلسفه ............ ۲۸۹**
زکات د اسلامي شریعت په لغت او اصطلاح کې: ............ ۲۸۹
زکات په لغت کې: ............ ۲۸۹
زکات په اصطلاح کې: ............ ۲۹۰
د زکات حکم: ............ ۲۹۰
د اجماع دلیل: ............ ۲۹۰
د زکات نقش: ............ ۲۹۰
۱- د زکات نقش دفرد په جوړولو کې: ............ ۲۹۰
۲- د انسانی ټولنې جوړولو کې د زکات نقش: ............ ۲۹۱
الف: اجتماعی برخه کې ............ ۲۹۲
ب: سیاسی برخه کې ............ ۲۹۳
ج: اقتصادی برخه کې ............ ۲۹٤
د عمر بن عبد العزیز رضي الله عنه خلافت د اسلامي اقتصاد نمونه ............ ۲۹٤
د: فرهنګی برخه کې ............ ۲۹٤
د زکات فلسفې: ............ ۲۹٥
۱- د غنیانو سره د مالونو دنه ذخیره کیدلو فلسفه: ............ ۲۹٥
۲- دبی وزلو د حقوقو د حفاظت فلسفه: ............ ۲۹٥

۳- د مالونو نفقه کول ددین مهمترینه برخه ده ددې فلسفه:.........۲۹۶
۴- د زکات د نظام تطبیق د اسلامی حکومت وظیفه ده: ...........۲۹۶
۵- زکات د مومنانو د کامیابۍ یوه علامه: ...........................۲۹۸
۶- زکات له الله ﷻ سره د انسان د محبت اندازه ثابتوی: ...........۲۹۹
۷- زکات د بخل له صفت څخه د انسان د پاکولو وسیله: .........۲۹۹
۸- د مال د نعمت شکر په زکات سره ادا کیږي: ....................۲۹۹

**اووم فصل: د حج فلسفه .................................................. ۳۰۰**

حج په لغت او د اسلامی شریعت په اصطلاح کې.....................۳۰۰
حج لغت کې:..................................................................۳۰۰
حج په اصطلاح کې:........................................................۳۰۰
د حج حکم:...................................................................۳۰۰
له قران کریم څخه دلیل: ..................................................۳۰۰
له اجماع څخه دلیل: .......................................................۳۰۱
د حج نقش:...................................................................۳۰۱
۱- د فرد جوړونه کې د حج نقش: ......................................۳۰۱
۲- دحج سیاسي نقش: .....................................................۳۰۳
۳- د حج اقتصادی نقش: ..................................................۳۰۵
٤- دحج فرهنګی نقش: .....................................................۳۰۶
د حج فلسفه...................................................................۳۰۷
۱- سپین لباس: ...............................................................۳۰۷
۲- د حج اخلاقي فلسفه:....................................................۳۰۷
د اسلام مقدس دین درې مهم اساسات لري.........................۳۰۸
۳- د قربانۍ فلسفه: ..........................................................۳۰۹
الف: قربانی د باورونو رمز ............................................. ۳۰۹
ب: قربانی د هابلیانو دپیژندلو درس .................................. ۳۱۰
ج: قربانی له ابراهیم ؑ سره اړیکه...................................... ۳۱۰

د: قرباني د اسماعيل؈ ياد، ياد قرباني شوي (نفس) قرباني كيدل
.............................................................. ۳۱۱
هـ: قرباني د ابن الذبيحتين ياد.......................... ۳۱۲
۴- د ابراهيم؈ خليل الله د ياد فلسفه: ......................... ۳۱۳
۵- د صفا او مروا ترمنځ د سعی فلسفه: ........................ ۳۱۸
۶- دقربانۍ فلسفه: ............................................. ۳۱۹
۷- د بیت الله د نوم ایښودلو فلسفه: ............................. ۳۱۹
د ملتونو د اتحاد جهاني اعلاميي فلسفه: ......................... ۳۲۱
د طواف فلسفه: .................................................. ۳۲۱
د زمزم فلسفه: .................................................. ۳۲۲

**اتم فصل: دستر عورت او حجاب فلسفه ............................ ۳۲۴**

حجاب په لغت او د اسلامی شریعت په اصطلاح کې:.............۳۲٤
دالهی احکامو د شرح لپاره باید اسلامی عالمانو څخه وپوښتو: ..۳۲۹
۱- سترګی پټونه:.................................................. ۳۳۰
۲- د شرمګاه حفاظت: ............................................. ۳۳۱
۳- زیاته پاکي: .................................................. ۳۳۱
۴- د دوی له کارونو څخه د الله؁ خبرتیا: ........................ ۳۳۱
۵- زینت: ......................................................... ۳۳۲
۶- الا ما ظهر منها:................................................ ۳۳۲
۷- بخمرهن:....................................................... ۳۳۲
۸- جیوب:......................................................... ۳۳۳
۹- ځینو خپلوانو ته استثناء: ....................................... ۳۳۳
د دوه دروغجنو شبهو رد ........................................... ۳۳۳
عورت په لغت او د اسلامی شریعت اصطلاح کې:.................۳۳۵
عورت په لغت کې: ............................................... ۳۳۵
عورت په اصطلاح کې:............................................. ۳۳۵
دنارینه او زنانه د عورت اندازه................................... ۳۳۵

۱- د نارینه عورت له نارینه سره: ..................................۳۳۷
۲- د زنانه عورت له زنانه سره: ..................................۳۳۷
۳- د نارینه عورت له پردیو سړیو سره: ..........................۳۳۷
۴- د مسلمانې خوینديې عورت له سړیانو سره:......................۳۳۷
دښځو او نارینه و د لباس شرطونه ..................................۳٤۰
د لباس عمومي شرایط ..............................................۳٤۱
۱- نازک نه وي: ...................................................۳٤۱
۲- لنډ نه‌وي: ......................................................۳٤۲
۳- چسپ نه‌وي: ....................................................۳٤۳
خصوصی شرایط......................................................۳٤۳
۱- له جذابه رنګونو لرې والي: .......................................۳٤۳
۲- بوټونه یې اواز ونلري: ...........................................۳٤۳
۳- له عطرو دې استفاده نکوي:.......................................۳٤۳
یو ډېر مهم حدیث....................................................۳٤٤
دستر عورت او حجاب ترمنځ فرق ....................................۳٤٥
د حجاب ارتباط جنسیت سره دی نه له انسانیت سره.....................۳٤۷
د بی‌حجابۍ دعوتګران ................................................۳٤۹
د انسان دوه بعدي خلقت: ............................................۳٥۳
لومړي قسم: روحانی مخلوقات (پرښتې) .................................۳٥۳
دویم قسم: حیوانی مخلوقات (حیوانات) .................................۳٥۳
دریم قسم: انسانان ....................................................۳٥۳
د حجاب اړیکې د ښځو له ازادي سره......................................۳٥٦
لباس د سړیانو وقار ....................................................۳٥۸
له طلا او وریښمو څخه استفاده...........................................۳٦۱
له نورو سره مشابهت...................................................۳٦۱
له غیر مسلمانانو سره په لباس کې مشابهت.................................۳٦۲
د دوی دیني او مذهبی لباس:..............................................۳٦۲

د غیر مسلمانانو فرهنګی لباس: ........................................ ۳٦۲
لعنتی ښځې او سړي ........................................ ۳٦۳
د ستر او حجاب په هکله بی تفاوتی د هلاکت سبب کیږي........ ۳٦٤
۱- دیوې ښځې ترمخ دکوم ماشوم لوییدل داد هغه محرم نه جوړوي: ........................................ ۳٦٥
۲- د رقابت په اساس ستر او حجاب: ........................................ ۳٦٦
۳- خورلڼه: ........................................ ۳٦٦
٤- د زړه پاکی اړیکې له بی حجابۍ سره: ........................................ ۳٦۹
حجاب په غربی هیوادونو کې ........................................ ۳۷۰
یوه ایراني نجلۍ ........................................ ۳۷۰
المانی خویندې میندې له اسلامی نومونو سره........................................ ۳۷۱
یو اروپایي هیواد کې با حجابه خویندې میندې ........................................ ۳۷۲
د ازادۍ او بی بندو بارۍ ترمنځ فرق ........................................ ۳۷۳
ایرانۍ نجلۍ په آلمان کې توبه کوي او حجاب اغوندي: ........................................ ۳۷۸
**نهم فصل: بدعت پیژندنه (په دین کې نوی شی پیدا کول)........................ ۳۸۰**
د فصل سریزه ........................................ ۳۸۰
عبادت که بدعت: ........................................ ۳۸۱
بدعت په لغت او اصطلاح کې........................................ ۳۸۳
جایز نوښت ........................................ ۳۸٥
الف: د ژوند وسایلو کې نوښت او بدعت ........................................ ۳۸٥
ب: دیو سنت په ژوندي کولو کې بدعت او نوښت........................................ ۳۸٥
ج: د ژوند په سیستم کې بدعت او نوښت ........................................ ۳۸۸
د بدعت پیژندلو قواعد ........................................ ۳۹۰
اوله قاعده: هر عمل او عبادت چې په کوم دروغجن حدیث استدلال وکړي ........................................ ۳۹۰

دویمه قاعده: هر عمل او عبادت چې په شخصی نظر او خواهشاتو استدلال کوي ........................................۳۹۰
دریمه قاعده: هر عمل او عبادت چې صحابه تابعینو او تبع تابعینو ترک کړی وي..........................................................۳۹۱
څلورمه قاعده: یو عمل عبادت ګڼل چې شریعت کې عبادت نه وي۳۹۱
پنځمه قاعده: په نامشروعو شیانو عبادت کول .........................۳۹۱
شپږمه قاعده: د عبادت شکل تغیرول ....................................۳۹۱
اوومه قاعده: د عام عبادت خاص کول ....................................۳۹۲
اتمه قاعده: په یو عبادت کې زیادت او افراط .........................۳۹۲
نهمه قاعده: خپل علم او عقل له قران څخه غوره ګڼل...............۳۹۲
لسمه قاعده: مذهبی تعصب.......................................................۳۹۲
یوولسمه قاعده: په قران او حدیث کې دجاهلانو او غیر متخصصینو پیروي..........................................................................۳۹۳
دولسمه قاعده: هغه اعتقادات چې له رسول کریمﷺ او صحابه و څخه نقل شوی ندي..........................................................................۳۹٤
دیارلسمه قاعده: اسلامی عقیده کې فلسفی افکار داخلول...........۳۹٤
څوارلسمه قاعده: په هغو الهی صفاتو او ذات کې بحث کول چې بشر ته یې پیژندل مشکل دي ........................................................۳۹٤
پنځلسمه قاعده: انسان پرستی او یو شخصیت ته تعصب...........۳۹۵
شپاړسمه قاعده: دیني امورو کې نظر یي ورکول......................۳۹٦
اوولسمه قاعده: له کفارو متاثر کیدل یا ورسره مشابهت ............۳۹٦
اتلسمه قاعده: د بدعت او ګناه امورو کې د علماوو اشتراک.........۳۹٦
نولسمه قاعده: په ضعیفو احادیثو اعتماد ..................................۳۹٦
شلمه قاعده: د منطقي فرهنګ او عادات عبادت ګڼل.................۳۹٦
یویشتمه قاعده: د عوامو کارونو کې د علماو بی تفاوتی ............۳۹٦
سیئه بدعت (بد او ناروا بدعت) ..........................................۳۹۷
۱- د یو نوې عقیدې اختراع:..................................................۳۹۸

الف: د خدای د ځوی نیولو بدعت............................ ۳۹۸
ب: اللهﷻ د واسې لټولو بدعت ............................ ۳۹۸
ج: له اللهﷻ څخه پرته د (استعانت) کمک غوښتلو بدعت......... ۴۰۰
د: د ونو دریشو د مقدس ګڼلو بدعت ............................ ۴۰۰
ه: مخلوق د رکوع او سجدې کولو بدعت............................ ۴۰۱
و: زیارتونو ته د قربانۍ ورلو بدعت ............................ ۴۰۱
ز: د زیارت د لنګر ګرمولو بدعت ............................ ۴۰۱
ح: د دروازو، دیوالونو، قبرونو او غیره ښکلولو بدعت............. ۴۰۲
ط: د مراد پوره کیدو لپاره د قلف کشولو بدعت..................... ۴۰۲
ی: د قبرونو د خاورو خوړلو بدعت ............................ ۴۰۳
ک: مړو ته د حیواناتو ذبح کولو بدعت............................ ۴۰۳
د سپند کولو بدعت ............................ ۴۰۳
ل: د مریو مقدس ګڼلو عبادت ............................ ۴۰۳
م: د ممیز نخودو بدعت ............................ ۴۰۵
نک د نذر لپاره دماشومانو د ویښتو پریښودلو بدعت: ............. ۴۰۶
۲- د نوي عبادت اختراع: ............................ ۴۰۶
الف: د الهاک بدعت............................ ۴۰۶
ب: د جشنونو بدعت............................ ۴۰۶
ج: د مخصوصو ورځو بدعت ............................ ۴۰۷
د: د سمنک بدعت: ............................ ۴۰۸
د خورې شعلي بدعت: ............................ ۴۰۹
د دیکچي بدعت: ............................ ۴۰۹
په قبرونو د شمعې بلولو بدعت: ............................ ۴۰۹
د اسلام په نوم د دنیا د ترک بدعت: ............................ ۴۰۹
زیارت ته د ناوې وړلو بدعت: ............................ ۴۱۰
۳- د جاهلانو فتوا ورکول او د شرعی حکم بدلیدل په قومی حکم: ۴۱۰
۴- عبادت نوی سیستم یا نوې طریقه جوړول: ...................... ۴۱۴
اول: ځینو عباداتو کې مبالغه ............................ ۴۱۵

دوم: عبادات د منطقی د عنعناتو او رواج مطابق ادا کول........... ٤١٦
دریم: د خلکو د رضایت لپاره د عباداتو سیستم کې تغیر ........... ٤٢٠
څلورم: په یو عبادت کې د عبادتونو خلاصه کول................. ٤٢٢
۵- د عبادت د مفهوم تغیر په رواج او عنعنو سره: ................٤٢٤
الف: د مهر بدلول په طویانه بانه........................... ٤٢٤
ب: دنیمه نکاح بدعت........................................ ٤٢٦
د ګمراه کوونکو بدعتونو د انتشار اسباب ......................٤٢٦
۱- تیزي او افراط: ..........................................٤٢٧
۲- د پردیو تاثیر:...........................................٤٢٨
۳- د پخوانیو کلتورونو تاثیر: ................................٤٢٨
۴- دیني احکاموته د فلسفی نظریاتو انتقال: ....................٤٢٩
۵- عقل په شرعی احکامو کې منځګړی ګرځول: .....................٤٣٠
۶- د یو بدعت په بل بدعت سره: ................................٤٣٠
۷- دسنتونو مخفی پاتې کیدل:...................................٤٣٠
۸- جهالت:...................................................٤٣١
۹- اسلامی شخصیتونو سره افراطی محبت:...........................٤٣٢
۱۰- د جاهلانو ته ددیني رهبرۍ تسلیمول: .........................٤٣٤
۱۱- مذهبی تعصب:...............................................٤٣٥
۱۲- د موضوعي احادیثو انتشار: ...................................٤٣٦
۱۳- په رواجي عبادتونو اصرار: ....................................٤٣٦
۱۴- دینی حقایقو سره احساساتی بر خورد: ...........................٤٣٦
۱۵- دنیوی منفعت طلبی او دینی تجارت: .............................٤٣٧
د بدعت پایلې او ضررونه .........................................٤٣٧
لومړۍ برخه: په دین کې د بدعت منفی تاثیر..........................٤٣٨
الف: د اسلام ناقصه منل ........................................ ٤٣٨
ب: د الیوم اکملت لکم دینکم آیت سره مخالف......................... ٤٣٨
ج: په پیغمبر باندې تهمت کول ..................................... ٤٣٨

د: د پيغمبر د يو سنت له منځه وړل ................................ ٤٣٨
دويمه برخه: د بدعت منفي تاثير پخپله بدعت کار کې ..............٤٣٩
الف: په عقيده کې فساد ........................................ ٤٣٩
ب: عمل يې مردود وي............................................ ٤٣٩
ج: توبه يې نه قبليږي............................................ ٤٣٩
د: د پيغمبر له امت والي څخه ځان باسي ........................... ٤٣٩
ه: د پيغمبر له حضور څخه محروميږي................................ ٤٣٩
و: د هغو خلکو ډله کې راځي چې بې علمه په الله ﷻ باندې خبرې تړي
....................................................................... ٤٣٩
دريمه برخه: د اسلام انتشار کې د بدعت منفي تاثير .................٤٣٩
الف: د اسلام دښمنانو سره د اسلام مقدس دين په متهم کولو کې همکاري ........................................................... ٤٤٠
ب: د اسلام مقدس دين څخه د خلکو متنفر کول .................. ٤٤٠
ج: بدعت د الله ﷻ او د پيغمبر د دوستۍ مخالف دي.............. ٤٤١

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ فَمِنۡهُم مَّنۡ هَدَى ٱللَّهُ وَمِنۡهُم مَّنۡ حَقَّتۡ عَلَيۡهِ ٱلضَّلَٰلَةُۚ فَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ٣٦﴾ [النحل: ٣٦]

د مومن وګړی شخصیت هغه وخت کامل کیږی چی د عبادتونو حقیقی پیژندلو او د قرآنی لارښوونو او پیغمبرﷺ له طریقې سره مطابق د هغې په ادا کولو کی کوشش وکړی او ټول په پوره اخلاص سره ادا کړی.

مومن + د عبادتونو حقیقی پیژندنه (علم) + تقوا + اخلاص = کامل مومن.

ټول پوهان په هلاکت کې دی پرته له عمل کوونکو څخه پخپله پوهه باندی، ټول عمل کوونکی هلاک دی پرته له متقیانو.

ټول متقیان هلاک دی پرته له مخلصانو.

بناءً د نجات لاری ته د رسیدو لپاره لازم دی چې څلور شیان په نظر کې ونیسو:

علم + عمل + تقوا + اخلاص = کامل عبادت.

# سريزه

الحمد لله القائل ﴿وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ۝٥٦﴾ والصلاة والسلام على رسوله محمد الذي عبد ربه حتى أتاه اليقين وعلى آله وأصحابه الطيبين الطاهرين ومن تبعهم باحسان إلى يوم الدين.

حمد او ثنا الله ﷻ ته ده چې مخلوقات يې د خپل عبادت لپاره پيدا کړل، او درود او سلام د هغه پر استازي محمد ﷺ چې د ژوند تر اخري لحظو د يو پروردګار په عبادت باندې مشغول ؤ، او د (عبده ورسوله) لقب يې تر ټولو لوی صفت دی او د هغه په آل او اصحابو چې ټول د خپل پروردګار په عبادت سره د لوړو مرتبو خاوندان ګرځيدلي او همدارنګه په ټولو مومنانو چې د حق لاره يې د ژوند اساس ګرځولی، او هره ورځ يې (۸۶۴۰۰) ثانيې خپل عمر لکه د ثروت يونت ګڼلی، ټول الهي بانک ته استوي او په خپلو عبادتونو سره برياليتوب او برلاسی تر لاسه کوي.

عبادت او پالنه د بشري فطرت په ژورو کې ريشې لري، انسان د معبود انس او د هغه د ياد په سيوري کې ارامتيا ته اړتيا لري، او د ستونزو او غمونو پر وخت د انسان يواځنۍ سرپنا او پټن ځای د پروردګار کبريايي در بار دی.

د اسلام په مقدس دين کې د عباداتو د فلسفې موضوع د هغو مهمو موضوعاتو له جملې څخه ده چې د اسلام په مقدس دين کې د عبادت د حقيقت پيژندلو لپاره، البته د اسلام له عقيدې پيژندلو وروسته د ډير مهم رول لرونکې ده. ځکه الله متعال د انسان د خلقت او پيدايښت هدف عبادت بيان کړی دی.

يو مومن ته پکار ده چې لومړی د عبادت هدف باندې پوه شی، او بيا دې نقطې ته پاملرنه وکړئ چې عبادت د کوم ذات لپاره لايق دی. او دخپلې هغې معاهدې مطابق چې هره ورځ وايي (اياک نعبد) خاص ستا عبادت کوو خپل

ځان د مشرکانو له صف څخه خارجوي او خپل عبادتونه فقط او فقط د اللهﷻ د ذات لپاره ادا کړي. او هر عمل چې عبادت نوميږي هغه صرف د اللهﷻ د رضايت په خاطر ادا کړي. دغه مومن ته ښايي چې لومړی د عبادت اقسام درک کړي، او د عبادت وختونه هم په ښه ډول سره وپيژني، او هر کله چې عبادت يواځې د الله متعال لپاره خاص دی. نو د عبادت په پيژندلو سره نه بايد هيڅ کار د الله متعال له ذات څخه پرته د بل چا لپاره ادا کړی شي.

هر عبادت ځانته خپله ځانګړې فلسفه لري، چې د هر يو د فلسفې پيژندل د هغه عبادت د ښه والي او سيي ادا کولو لپاره ډير مهم رول لري، عبادتونه فقط ځينې ناستې او ولاړې ندي چې بې معنی او بې مفهومه ادا کړی شي، بلکه هر يو په وګړي، ټولنه، سياست، اقتصاد، او د انساني ژوند په تولو اړخونو کې مهم اهداف او تاثيرونه لري، چې د هريو پيژندنه انسان د عبادت پيژندنې او خدای پيژندنې کمال ته رسوي.

هر عبادت په حقيقت کې د انسان جوړونې يو مکتب دی.

عبادتونه هغه تکليفونه دی چې هر تکليف يی د انسان د تشريف لپاره دی. عبادتونه انسان ذوب کوی او هغه د ګاڼې غوندی جوړوی. دغه انسان چې په عبادتونو سره ترې انسان جوړيږی يو کادر ګرځی چې کولی شی په اسلامی ټولنه کې ډير مهم رول ترسره کړی.ما ددی اثر د تاليف پر وخت هڅه او کوشش کړی ترڅو د مهمترينو اسلامی عبادتونو فلسفه په دقيقه او مفصله توګه بيان کړم، ترڅو محترم محصلين او هغه خلک چی دا کتاب مطالعه کوی د اسلامی عبادتونو پر حقيقت باندی اطلاع حاصله کړی او په پوره قناعت سره د پروردګارﷻ عبادت ته ورووړاندې شی.

له الله متعال څخه دعا غواړم چی دغه ليکنه د بنده دنيکو عملونو څخه په خپل دربار کې قبوله کړی، د هغې اجر راته د آخرت په ورځ را نصيب کړی، او همدارنګه دعا کوم چی الله تعالی دې هغو کسانو ته چی د الهی احکامو مطابق ددې کتاب له محتوياتو څخه استفاده کوی هغه په عملی ډول سره په خپل ورځنی ژوند کې تطبيقوی، او يا هم خلکو ته د حق درسولو په هدف

دغه کتاب د خپلو دوستانو ترلاسه رسوی او ددې په نشر او توزیع کې برخه اخلی، د خپل رضایت په شرف سره نایل کړی.

﴿وَقُلِ ٱعۡمَلُواْ فَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمۡ﴾.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

عبدالظاهر داعی

# لومړی فصل:
# اسلامی عبادت پیژندنه

**فصل کې شامل موضوع ګانې:**

**۱- ولې عبادت پیژندنه لولو؟**

**۲- د اسلام مقدس دین کې دعبادت مفهوم.**

**الف: عبادت په لغت کی.**

**ب: عبادت په اصطلاح کی.**

**۳- د عبادت او عدم عبادت ترمنځ فرق.**

**۴- الله تعال ته دعبادت خاص کول.**

## ولی عبادت پیژندنه لولو؟

له ټولو مخکی دا پوښتنه مطرح کیږی چی مونږ ولې عبادت پیژندنه لولو؟ د عبادت پیژندنی لوستل یو سلسله اهداف لری چی مهمترین یی:

### اول: د عباداتو په هکله د احکامو پیژندل:

پدی کتاب کې هڅه او کوښښ کیږی چی مونږ هغه ریښتینی عبادتونه وپیژنو چی قرآن کریم او در سول اللهﷺ سنتو بیان کړی دی. او له هغو کارونو څخه ځان وساتو چی ځینې خلک یی د عبادت په نوم، سره له ډیر اخلاص او محبت نه ادا کوی خو په قرآن کریم او سنتو کې کوم اصل نلری، ځکه چی:

الف: د حقیقی عباداتو په هکله احکام د الله جل جلاله د رضایت لامل، او له ځانه جوړ شوی احکام د الله جل جلاله د غضب لامل ګرځی.

ب: د حقیقی عباداتو په هکله احکام د انسان د شخصیت د رشد لامل ګرځی او انسان د نیکیو خوا ته وړی، او له ځانه جوړ شوی احکام د انسان د

اجتماعی شخصیت د کمزورتیا لامل ګرځی، د انسان او ټولنې ترمنځ فاصله پیدا کوی.

ج: د حقیقی عباداتو په هکله احکام ددې لامل ګرځی چی غیر مسلمانان د اسلام مقدس دین سره علاقه پیدا کړی هغوی مسلمانان شی، ولی له ځانه جوړ شوی احکام داسلام له مقدس دین څخه د نورو د نفرت لامل ګرځی ددې پر ځای چی هغه مسلمانان شی، پر اسلام باندې خپل انتقادونه زیاتوی او د اسلام په ضد خبرې کوی.

**دویم: د اصلی عبادتونو پیژندنه له جعلی عبادتونو څخه:**

د پیغمبرانو د لارویانو له ټولو لویه ستونزه پدی خبره کی ده چی د زمانی په تیریدلو، د پیغمبر له عصره لری کیدلو، د شیطانانو په لاس وهنو، له رواجونو او رسمونو سره د خلکو علاقمندی، د توحید او یو پالنې د دښمنانو برنامه ریزی اود پیغمبرانو د لارویانو بی خبری سره دین او ددین حقیقی احکام هیریږی او ددې په عوض کې هغه څه په دین کې داخلیږی چی له دین سره څه رابطه نلری. ولې ددین په نوم په هغه باندې عمل کیږی.

دلته د پیغمبرانو د لارویانو څه ستونزې د بیلګې په ډول ستاسی په خدمت کې بړدو:

**الف: د موسی عليه السلام د لارویانو ستونزه:**

پدیکې د شک ځای نشته چی موسی عليه السلام له خپل ورور سره د توحید عقیده خلکو ته تبلیغ کوله، هغه پخپله یو موحد او یو پالونکی پیغمبر و، او هغه خلک چی د هغه لارویان و، یو پالونکی مومنان ول، ولی د وخت په تیریدو د هغه لارویانو د موسی عليه السلام لاره هیره کړه، او دبی لارۍ په لور یی مخ کړ، د دوی د بې لارۍ علت څه و؟

خپل ځانونه یی د الله تعالی محبوبان او زامن مقرر کړل او پدې بانه یی د نورو سپکاوی او توهین وکړ ﴿وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ وَٱلنَّصَٰرَىٰ نَحۡنُ أَبۡنَٰٓؤُاْ ٱللَّهِ

وَأَحِبَّٰٓؤُهُۥ﴾[1] [المائدة: ١٨] د الله تعالی په وړاندی بې ادبی، د هغو صفاتو په بیانولو سره چی د الله تعالی له شان او عظمت سره لایق نه و، لکه ﴿وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ يَدُ ٱللَّهِ مَغۡلُولَةٌۚ غُلَّتۡ أَيۡدِيهِمۡ وَلُعِنُواْ بِمَا قَالُواْۘ﴾[2] [المائدة: ٦٤]

﴿وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ عُزَيۡرٌ ٱبۡنُ ٱللَّهِ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَى ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ ٱللَّهِۖ ذَٰلِكَ قَوۡلُهُم بِأَفۡوَٰهِهِمۡۖ يُضَٰهِـُٔونَ قَوۡلَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَبۡلُۚ﴾[3] [التوبة: ٣١]

**ب: دعیسی ﷺ د لارویانو د بې لارې علت:**

د وخت په تیریدلو د شاوول طرطوسی (پولس) په نوم سره یو شخص را پیدا شو، دسیسه یی جوړه کړه او د تثلیث عقیده یی د خلکو په منځ کې رواج کړه، او دعوه یی وکړه چی پلار خدای، زوی او روح القدس وجود لری، دده په پیروی سره خلکو د توحید هغه عقیده هیره کړله چی عیسی ﷺ به خلکو ته تبلیغ کوله او د شرک عقیده یی اختیار کړله[4].

**ج: د ابراهیم او اسماعیل ﷺ د لارویانو دبی لاری علت:**

حضرت ابراهیم ﷺ چی یو موحد او یو پالونکی پیغمبر و او ځوی یی اسماعیل ﷺ هم یو پالونکی پیغمبر و، هغوی د توحید عقیده خلکو ته تبلیغ کوله، خو پیروان یی داسې ول چی د وخت په تیریدو سره یی ابراهیمی توحیدی عقیده هیره کړه، شیطان د هغوی ترمنځ وسوسه واچوله او هغوی یی په فریب کاری سره له دې لارو بی لارې کړل:

**١– د عبادت په شکل کې تغیر راوړل:**

---

١ – او وویلې یهودو او نصاراو مونږ د الله ځامن او دوستان یو.

٢ – او وویلې یهودو د الله لاسونه تړلی دي، ودې تړل شي د دوی لاسونه او لعنت شوی دي پدې وینا.

٣– او وویلی یهودو عزیر د الله ځوی دی، او وویلی نصار ا او مسیح د الله ځوی دی، دا د دوی خبرې دي په خولې سره مشابهه کوي د هغو کافرانو له خبو سره چې دوی نه مخکې و.

٤ –تاسی کولی شی د پولیس د دسیسو درد د تفصیل لپاره د همدی اثر د مولف د پنجاه دلیل رد مسیحیت لیکنې ته مراجعه وکړي.

قریشیانو د ابراهیمی عقیدی په اساس کعبه شریفه مقدسه ګڼله او د حاجیانو خدمت یی کولو هغوی خپل ځانونه با ایمانه اشخاص اود ابراهیمعليه السلام پیروان ګڼل، خو شیطان هغوی ته د هغوی په عبادت کې چک چکې او اشپلاق داخل کړ، بناءْ کله چی هغوی غوښتل د کعبی په وړاندې لمونځ وکړی د خشوع، ارامتیا، تقوا او تواضع پر ځای به یی د خالق ذات په وړاندی په چک چکو او اشپلاقونو سره دغه عبادت ترسره کؤ. ﴿وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِندَ ٱلْبَيْتِ إِلَّا مُكَآءً وَتَصْدِيَةً ۚ فَذُوقُوا۟ ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٣٥﴾﴾[1] [الأنفال: ٣٥] او هر کله چی عبادت له خپل اصلی شکل څخه ووځی او په عبادت کې چک چکې اشپلاق، سرنی، تبله، تنبور، رقص او غیره داخل شی، دغه عبادت ددین په خلاف کار باندې بدلیږی، او هغه لمونځ چی اللهجل جلاله توصیف کړی دی بالکل هیریږی. ځکه اللهجل جلاله فرمایی: ﴿قَدْ أَفْلَحَ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١﴾﴾ په تحقیق سره کامیاب شو مومنان ﴿ٱلَّذِينَ هُمْ فِى صَلَاتِهِمْ خَٰشِعُونَ ﴿٢﴾﴾ هغه چې دوی پخپل لمانځه کې خشوع کوي ﴿وَٱلَّذِينَ هُمْ عَنِ ٱللَّغْوِ مُعْرِضُونَ ﴿٣﴾﴾ [المؤمنون: ١-٣] او هغه چې دوی له بیهوده کارو ځان ساتی.

تاسی کولای شی د لغوې په هکله له قران پوهانو او حدیث پوهانو علماو څخه وپوښتی چی لغوه څه شی ده؟

بناء د ابراهیمعليه السلام د عبادت او د ابوجهل د عبادت ترمنځ څه فرق و، د ابراهیمعليه السلام په عبادت کې خشوع، تواضع، ستر، شرم، او حیا وجود درلود، خود ابوجهل عبادت کی اشپلاق چک چکې، بربنډتوب او بی‌حیایی وه.

وګوره چې د لاری فاصله له کوم ځایه تر کوم ځایه ده.

**٢– په لباس کې تغیر راوړل:**

شیطان هغوی بی لاری کړل، او دایی ورته تلقین کړه چی د دوی لباس سیی ندی، ځکه نو سړیان باید د کعبی په وړاندې بربنډ عبادت وکړی. او

---

١- او نه و لمونځ د دوی د بیت الله په وړاندې مګر چکچکې او اشپیلاق نو وڅکی عذاب په سبب ددې چې تاسې کفر کو.

ښځینه هم باید له تنګو او نازکو لباسونو سره له کوره راووځی، شیطان هغو شیطان صفته نارینه او ښځینه و ته تلقین کوی چی کله زړه پاک وی نو د لباس اغوستل او نه اغوستل کوم اهمیت نلری، او پدی شیطانی دسیسی سره دوی خپل زړونه د اصحاب کرامو او صحابیاتو له زړونو څخه پورته ګڼی، ښځو به لکه: بی بی عایشی، بی بی فاطمی، بی بی زینب او نورو ټولو حجاب مراعات کړ.

**۳– په دینی رهبرۍ کې تغیر:**

قریشیانو د وخت په تیریدو سره یو جاهل شخص چی ددینی رهبری صلاحیت یی نه درلوده او د توحید له احکامو څخه بې خبره ؤ، په رهبرۍ سره ونیو، د رحیق المختوم صاحب لیکی: تر دې چی د دوی په منځ کی د عمرو بن لحی په نوم سره یو شخص پیدا شو چی د خزاعه رئیس ؤ، هغه چی نیک کارونه کول، او خلکو ته به یی مصارف او صدقی ورکولی، او په دینی امورو حریص و، نو خلکو دی په همدې لحاظ دوست ګڼلو.

پدی ګمان چې دی یو لوی عالم او د خدایﷻ ولي دی، هغه شام ته سفر وکړ او ویی ولیدل چې د بتانو عبادت کوي، هغه له خپل ځان سره د هبل بت راوړ، او د کعبی په منځ کې یي کیښود، او خلک یی شرک ته راوبلل او خلکو هم د هغه خبرې ومنلې، او بیا وروسته ټولو خلکو د مکی د خلکو د خبرو چي هغوي یي د حرم اهل او ساتونکی ګڼل پیروی وکړله[۱].

**۴– د خالق ذات په صفاتو کې تغیر:**

وروسته له دې چې شیطان په خپلو برنامو کې بریالی شو او هغوی ته یی قناعت ورکړ چي بتان دکعبی په اطرافو کې ځاي پځاي کړی، نو داسې یي ورته تلقین کړه چې دا بتان د خدای پاک د مقربو او نیکو شخصیتونو سمبولونه دي، تاسې له دې لامله چې تور مخي او شرمیدلي یاست نشي کولي چي له الله پاک سره راز او نیاز وکړی.

---

۱– الرحیق المختوم، صفي الرحمن مبارکفوري، ص: ۳۳.

بناءً لومړی دوی ته راځی او دوي ته رکوع، سجده، قرباني او نذر کوی ترڅو دغه بتان تاسی د الله پاک دربارته نژدې کړي.

**دریم: د عباداتو هدف پیژندنه:**

دلته باید پوه شو چې د عباداتو هدف څه شی دي، ایا عبادت د انسان جوړوني او انسان ته د شرف وربښني لپاره دي، او یا دا چې عبادات یواځې هغو کلتورونو غوندې دي چې د یو رواج په ډول سره ادا کیږي.

**څلورم: د عبادت د مستحق پیژندنه:**

مومن انسان باید پوه شي چې عبادت د کوم ذات لپاره ښایی، او د خپلی معاهدې مطابق چې هره ورځ وایي ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ﴾ خاص ستا عبادت کوو- خپل ځان د مشرکانو له صف څخه خارج کړی، او د خپل ځان په هکله احکام فقط او فقط د الله ﷻ د ذات لپاره ترسره کړي. او هر عمل چې عبادت نومیږی هغه صرف د الله ﷻ د رضایت په خاطر ادا کړي.

**پنځم: د عباداتو د ډولونو پیژندنه:**

یو مومن ته ښایي چې لومړی د عباداتو ډولونه درک کړي او د عباداتو وختونه هم ښه وپیژني او هر کله چې عبادت خاص د الله ﷻ لپاره دی. نو د عبادت له پیژندلو سره باید هیڅ عمل دالله ﷻ له ذات څخه پرته د بل چا لپاره ونکړی.

**شپږم: د هر عبادت حکمت:**

هر عبادت خپل ځانته ځانګړی حکمت لری، چې د هریو د حکمت پیژندنه د هغه د ښه والی او د عبادت دسیي ادا کونې لپاره ډیر مهم رول لري، عبادات یواځې څو ناستی او ولاړې ندی چې بې معنی او بی مفهومه ادا شی، بلکه هر یو په وګړي، ټولنه، سیاست، اقتصاد او د انسانی ژوند په هر اړخ کې مهم تاثیرونه لری چی د هر یو پیژندنه انسان د عبادت پیژندنې او خدای پیژندنې کمال ته رسوي، هر عبادت په حقیقت کې د انسان جوړونې یو مکتب دي.

**اوم: په انسان جوړونه کې د عباداتو رول پيژندنه:**

عبادتونه هغه تکليفونه دي چي هر يو تکليف يی انسان ته تشريف دی. عبادتونه انسان ذوب کوي او هغه نه، ګانې جوړوی، دغه انسان چي په عباداتو سره ترې انسان جوړيږي هغه کادر ګرځي چې کولی شی په اسلامی ټولنه کې ډير مهم رول ترسره کړي.

**اتم: د بدعتونو پيژندل:**

په دين کې تر ټولو لوي خطر په اسلامی عقيده او احکامو کې د بدعتونو داخليدل دي، د عباداتو فلسفه (اسلامی عبادت پيژندنه) کې پوهيږو چي څه شی اصل عبادت دي او څه شی هم بدعت دي.

**نهم: د لومړيتوبونو پيژندل:**

په اسلامی عبادتونو کې مهمترينه موضوع د لومړيتوبونو پيژندل دي، مثلا يو مسلمان بايد پوه شی چې په ټولو الهی احکامو کې کوم يو په لومړۍ درجه کې قرار لري، او کوم عبادت له بل عبادت څخه مخکی ادا کړو، طبعا د عبادت مرتبې يو بل سره فرق لري عقيده او فکري عبادت د ټولو عبادتونو په سر کې ځای لري، او بيا ورپسې فرايض، واجبات، سنتونه، مستحبات او مباحات هر يو پخپل نوبت سره ترتيب شوی دي، همدارنګه په ممنوعاتو کې حرام، مفسد، او مکروه هر يو ځانګړی خطر لري.

بناء ددې مسلی د ښه وضاحت لپاره غوره ده چې ددين يوه نقشه جوړه کړو او بيا هغه تر مطالعې لاندې ونيسو:

| لومړیتوبونه | |
|---|---|
| ❶ عقیده | |
| ❷ فرایض | |
| ❸ واجبات | |
| ❹ سنتونه | |
| ❺ مستحبات | |
| ❻ مباحات | |




د اسلامي لومړیتوبونو په پیژندنه کې پکار ده چې انسان لومړی له عقیدې څخه شروع وکړی، ځکه چې د اسلام قدرمن پیغمبر تقریبا ۱۳ کاله خپل عمر په مکه کې یوائې د توحید عقدې ته د بلنې لپاره مصرف کړ.

له هرڅه مخکې یو مسلمان باید خپل زړه له غیر الله، د غیر الله عبادت او دغیر الله له محبت څخه پاک کړي.

| | |
|---|---|
| تاسې پخپلو تیلفونو کې یو سیم کارت لري ددغه سیم کارت ټول کمال په زیړ رنګی زړه کې دی چې داد سیم کارت زړه تشکیلوی او دا زړه له ستر لایت سره ارتباط لری.<br>لومړي سیم کارت یو نمبر لري چې ددغه نمبر په دایرولو سره لومړي له ستر لایت سره ارتباط تامین کیږي او بیا له مقابل طرف سره.<br>او هرکله چې سیم کارت څه عوارض پیدا کړي یو اړوند مخابراتی دفتر ته ورځو ترڅو سیم کارت دوباره له ستر لایت سره وصل کړي | **سترلایت**<br>↑<br>↑<br>↑<br>↑<br>↑<br>↑<br>○ **د سیم کارت زړه** |

| | |
|---|---|
| په همدي ډول د مومن انسان جسد د تیلیفون د ټولو برخو غوندي دي، ولې هغه څه چې د انسان جسد کې زیات ارزښت لري د انسان زړه دي چې الله ﷻ سره ارتباط لري. | **الله ﷻ**<br>↑<br>↑<br>↑<br>↑<br>↑ |

| | |
|---|---|
| دغه انسان همیشه د هغه نمبر په واسطه چي ورته ورکړ شوي دي له خپل خالق سره خپل ارتباط په دوامدار شکل سره ساتی. | **د انسان زړه** |
| ۲۴۴۳۴<br>دوه رکعته د سهار فرض ۴ رکعته د ماسپښین فرض ۴ رکعته د مازدیګر فرض ۳ رکعته د ماښام فرض ۴ رکعته دماسختن فرض (واسجد و اقترب) هر کله چې له خالق سره ارتباط تامین شو نو مخلوق سره هم ارتباط ښه وی.<br>د زړونو د ضعف په حالت کې باید مسجدونو ته ولاړ شو ترڅو په شناخت او عبادت سره دوباره د زړونو صفایی ایجاد شی. | |

ټول پیغمبران راغلل ترڅو د انسان ارتباط له خپل خالق سره تامین کړي او د دوي زړونو کې د مخلوقاتو د تعلق پر ځاي د مخلوقاتو د خالق تعلق تامین کړي.

ولې د اسلام قدرمن رسول اللهﷺ ۱۳ کاله د توحید درس ورکولو؟ ددي لپاره چې د تاریخ په اوږدو کې انسي او جني شیطانان توانیدلي و، چې د هغه وخت د انسانانو زړونو ته له مخلوقاتو سره ارتباط ورکړي او د خالق له ارتباط او د هغه له یووالي څخه یې لیرې کړي.

يهوديانو سره د خالق پيژندني، هغه په بدو صفتونو سره توصيفؤ، مسيحيانو د خالق د سجدې او عبادت په ځاي د عيساى مسيح مجسمي پوري زړونه تړلي و، او د يا الله ويلو پر ځاي يى يا مسيح او يا مريم ويل، قريشيانو چې خپل ځانونه د ابراهيمعليه السلام او اسماعيلعليه السلام پيروان ګڼل د هغوي زړونه د بتانو په محبت مشغول و، ځيني به د خپلو ستونزو او دردونو لپاره پيريانو ته ورتلل له هغوي يى كومک او مدد غوښته او خالق ذات يي هير كړي و، ځينو به لمر او سپوږمۍ ته رجوع كوله، او ځينو به هم مريو، تيګو، لرګيو او نورو ته پناه وروړله، حبشيان به د صالحينو او نيكانو قبرونو ته ورتلل هلته به يى د سجدې او عبادت سرتيټاؤ، او له هغوي به يي زامن او لورګانې غوښتلې... هغه چى ټولو هير كړى و يواځينى خالق ذات و.

شيطان د زياتو معبودانو محبت ته د هغوى په زړونو كې ځاى وركړى و. هر چا ځانته اله (خداى) درلود، رسول الله وكولي شو چې ۱۳ كلونو كې هغوى ته په (لااله الا الله) سره قناعت وركړي، او د (لااله الا الله) مفهوم د هغوي په زړونو كې ځاي پر ځاي كړى.

د همدغو ۱۳ كلونو په اوږدو كې د مومنانو زړونو د خپل خالق سره ارتباط ټينګ كړ، بيا نور لس كاله ټول احكام خپاره شول، چې ددي احكامو په سر كې فرايضو ځاي درلود، بيا واجبات او په همدي ترتيب سره سنتونه، مستحبات او مباحات.

او كله چې له خالق سره ارتباط تامين شو نو له مخلوق سره هم ارتباط تامين شو، اسلامى حكومت ايجاد شو، اسلامى نظام برقراره شو، اخوت او وروركلوي خپره شوه، او پدي ډول سره و چې مسلمانانو وكولي شو د څو كلونو په اوږدو كې د اسلام مقدس دين د هغه وخت نړۍ ټولو لويو وچو ته ورسوي.

د نن ورځې اساسي مشكل دادي چې مسلمانان دغه نقشه برعكس تطبيقوي له عقايدو څخه د شروع پر ځاي له مباحاتو او مستحباتو څخه شروع كوي، او په مجلسونو كې هميشه بحث پر مباحاتو او مستحباتو باندي دي.

واړه لستونې څه حکم لري؟

ایا وړو لستوڼو سره لمونځ کیږي؟

دوه تنه خپلو کې پدې سره اختلاف کوي او خپل ټول وخت په هغې تیروي.

او یا ددې لپاره چې معلومات زیات شي، پوښتنه کیږي.

او لین شخص چې جنت ته داخلیږي هغه به څوک وي؟

اولین شخص چې دوزخ ته داخلیږي څوک دي؟

اولین شخص چې د جنازي لمونځ وکړ څوک و؟

داسې پوښتنې چې پوهیدل او نه پوهیدل یې مسلمان ته هیڅ فایده نلري.

## د اسلام مقدس دین کې دعبادت مفهوم...

### عبادت په لغت کې:

د ذلت خوارۍ او اطاعت په معنی دي[1]. عرب وايي: «طریق معبد» هواره شوې لاره — دغه اصطلاح هغې لارې ته استعمالوي چې لوړې، ټیټې، نابرابرۍ او تیګې هر څه یې هوار شوي وي، او داسې هواره شوي وي چې د تګ لپاره په هغې باندې هیڅ مانع نه وي.

ددي معنی په اساس د عبادت، عبد، عبودیت اونوری کلمی چې له دې ریشو څخه اخیستل شویدي د یو چا په وړاندې د ذلت، فروتنۍ او تسلیمۍ په معنی دي.

لکه څرنګه چې جګ غرونه، لویي تیګي له قوي هیکلو نو ډک باغونه هواریږي او په سرک بدلیږي، په همدې ډول سره د عبادت په واسطه یو قوي، قدرتمند، ثروتمند او غیره انسان په یو تسلیم شوي بنده، متواضع، فروتن او غیره باندې بدلیږي. بناء خپل ځان د چا په مخکي په دغسي صفاتو اختیارول د عبادت او بندګي په معنی دي.

---

۱- الصحاح في اللغة تاليف الجوهري١/٤٤٠.

**عبادت په اصطلاح کي[١]:**

پوهانو عبادت په مختلفو شکلونو تعریف کړی دی چې ټول یو هدف احتوای کوی «اسم جامع لکل ما یحبه الله ویرضاه من الاقوال والاعمال الباطنة والظاهرة» یو پوره نوم د ټولو هغو شیانو لپاره چي اللهﷻ یي خوښوی او د اللهﷻ رضا پرې حاصلیږي له ویناګانو او ظاهري او باطني اعمالو...[٢].

عبادت یا عبودیت د هر هغه شي لپاره جامع نوم دي چې هغه الله تعالی خوښوي او یا هغه پرې راضي کیږي، (له عقایدو — دزړه عمل، د بدن د

---

١- اسلام پوهانو د عبادت په هکله زیات تعریفونه کړي دي، مثلا د دکتور قرضاوی په وینا (عبارت دی د معبود د عظمت او سلطې په نسبت یو رنګه خضوع نه چي نهایت درجه کې وی، او د زړه له اعتقاد او اګاهی نه یي نشات کړي وي چې د هغه ماهیت او منشا نه پیدا کیږي عبادت په اسلام کې، تلیف دوکتور یوسف القرضاوی ص ٣٧ — بیا دکتور قرضاوی وایي: دعبادت لپاره دوه شیان ضروری دي: ١- د هغه څه پابندي چي الله د امر، نهی حلال او حرام په ډول تشریح کړی او د رسول اللهﷺ په واسطه ابلاغ شوی دا هغه شي دي چي د اللهﷻ په وړاندې د اطاعت او خضوع عنصر ته عینیت وربښی. ٢- دا چي دغه التزام او پابندي د خدای په محبت له سر شاره زړه څخه راووځی. محمد عبده (ددغی خضوع او خشوع ریشی ته پام کوی، که ددې ریشه او علت یو سطحي او ظاهر شی وی لکه حکومت قدرت وغیره هغه عبادت نه شمیرکل کیږي، او که ریشه یی د حاکم په هکله د عظمت او ادراکي او حس قدرت ځانګړی عقیده وی عبادت حسابیږی. محمد عبده چې د مصر یو مشهور پوهاند او د سید جمال الدین افغان شاګرد دي د عبادت او ظاهري تسلمی ترمینځ فرق بیانوي، او وایي چي د عبادت اساسی شرط دادي چي د هغه ریشه د اللهﷻ د عظمت عقیده وي، او کله چي د غسی اعتقادي ریشه ونلري او ده غه علت یو سطحي او ظاهری کار وی عبادت ندي — د ابن قیم په نظر: په دین کې مطلوب عبادت د محبت او خوراي معنی سره یو ځاي رانیسي او د اللهﷻ په وړاندې د نهایت وړوکوالی او د هغه په نسپ د نهایت پندی متضمن دی ٢- عبادت په اسلام کی ص ٣٨ علامه ابن قیم د عبادت لپاره دوه اساسی شرطونه بیانوی هغه دا چي د ټولو د خالق په وداندی د خورای او وړوکوالي اظهار، او د الله تعالی په محبت د سر شار زړه درلودل .

٢- شیخ الاسلام ابن تیمیه تعریف کړي دي: یو جامع ته نوم د هر هغه څه لپاره چي الله تعالی خوښوی، او پرې کیږی له ویناو، او ښکاره او پټو عملونو.

اعضاوو اعمال) او یا هر هغه عمل چې انسان الله تعالی ته نژدې کوي (د اوامرو پر ځاي کول له نواهییو ځان ساتل)[۱].

ټولو اسلام پوهانو زیات تعریفونه او تشریحات ورکړي دي، چې د لیکوال په نظر کیدلي شي عبادت په عام او خاص ډول تعریف کړو:

**د عبادت عام تعریف:**

عبادت هر ظاهري او باطني عمل دي چې د چا په وړاندې د هغه د عظمت د بندګۍ د ښکاره کونې او د خپل ذلت په قصد او د اجر او ثواب د حاصلولو لپاره ترسره شي. او یا هم د چا قوانین تطبیقول دي په حلال او حرام یا ښه او بد کې.

**۱- عبادت هر ظاهري او باطني عمل دی:**

پدې عبادت کې د انسان ټول قلبي، لفظی، او ظاهری اعمال شامليږی هر کله چې چا ته سجده وکړو، عبادت دی، رکوع وکړو عبادت دي، ددعا لاس پورته کړو عبادت دي.

**۲- دچا یا کوم شی مقابل کې:**

عبادت احیانا د کوم ذات، شخص او یا هم د کوم بې روحه شي مقابل کې صورت نیسي، هر کله چې څوک د پیغمبرانو، ملایکو، غوره شخصیتونو، حیواناتو، بتانو، قبرونو، لمر، سپوږمۍ، ستورو، انسانانو او غیره مقابل کې کوم عمل دبندګۍ او عاجزۍ او د اجر او ثواب د حاصلولو په قصد ترسره کړي عبادت ورته ویل کیږي.

**۳- مقابل ذات ته دعظمت قصد:**

---

۱- د عبادت حقیقت او روح الله تعالی د خضوع او محبت ثابتول دی، یعنی الله تعالی سره پوره محبت او هغه ته کامله خضوع دعبادت حقیقت دی. او کله چې عبادت له دغه دوه کارو یایو څخه محروم شی. نو بیا عبادت ندی، ځکه حقیقت یی الله تعالی ته ذلت او انکسار دی او دا نه کیږی مګر د هغه له محبت سره، هغه پوره محبت چې محبت کوونکي په هر څه کې پسي وی".

هر كله چي څوک د چا مقابل كې سجده وكړي او هغه ته عظمت وركړي دا عبادت دي، لکه څرنګه چې د قريشو مشركين پدې نظر و، او د بتانو مقابل كې يې سجده كوله، بتانو ته يې عظمت وركؤ، سره له دې چې هغوي ويل: چي مونږ دې بتانو ته عبادت نكوو، بلكې ددې لپاره چې هغه الله تعالى ته درسيدلو وسيله ونيسو، نو ځكه يې عبادت كوو، خو بيا هم د هغه عظمت په اساس چي دوی دغو مخلوقاتو ته وركؤ، د دوی دغه عمل ددغو اشخاصو مقابل كې عبادت حساب شو او دوی مشركين وګڼل شو.

**۴– د خپلې بندګۍ او ذلت اظهار:**

په عبادت كې دا شرط دي چي انسان د چا مقابل كې د ذلت او بندګۍ اظهار وكړی، اما كه څوک د څه شی مقابل كې ودريده خو د بندګۍ اظهار يې ورته ونكړ داد هغه شی عبادت نه شميرل كيږي، مثلا مسلمانان حجر الاسود ددې لپاره ښكلوي چې دا يوه تيګه ده چي جنت نه راغلې ده او د اسلام پيغمبر ښكل كړې ده، خو ددغې تيګې مقابل كې د ذلت او بندګې اظهار نكوي لکه څرنګه چي پدي هكله د حضرت عمرﷺ قصه مشهوره ده.

وايي يوه ورځ حضرت عمرﷺ د حجر الاسود خوا ته راغي هغه يي ښكل كړه او ورته يي وويل: چي ای تورې تيګې! زه پوهيږم چي ته يو توټه تيګه يي هيچا ته كومه ګټه او تاوان رسولي نشې او كه ما پيغمبرﷺ ليدلي نه و چي ته يي ښكلولې نو ما به نه وې ښكل كړې[1]. حضرت عمرﷺ د اسلامی عقيدي له فهم سره پدي پوهيده چي مسلمانان تيګې ته سجده نكوي، كعبې ته سجده نكوي، پيغمبر ته سجده نكوي، ځكه چي دا ټول مخلوق دي.

عبادت يواځي يو خالق ته جايز دي، مسلمانان حجر الاسود د پيغمبرﷺ له يو سنت سره مطابق ښكلوی، پدي عقيده چي دغه تيګه څه ګټه او تاوان نشي

---

۱ - اشاره هغه حديث ته ده چې بخاري روايت كړي دی، «عن عباس بن ربيعه عن عمر انه جاء الى الحجر الاسود فقبله فقال اني اعلم انك حجر لا تضر ولا تنفع ولو لا انی رايت النبي يقبلك ما قبلتك» بخاری حديث ۱۴۹۴.

رسولي، مسلمانان کعبې ته د مسلمانانو د قبلي په حيث مخ اړوی، ترڅو پخپلو لمنځونو کې ترتيب او تنظيم ولري، خو کعبي ته سجده نکوي، ځکه کعبه مخلوق ده له خاورو او ختو څخه جوړه شويده، فقط د مسلمانانو د يو موټی کيدلو او د توحيد رمز دي.

**۵- د اجر او ثواب د حاصلولو لپاره ترسره کيږي:**

د عبادت شرط دادي چي هغه کې د ثواب قصد وي، مثلا څوک له زنا څخه ځان ساتي او مقصد يي دا وي چي الله تعالی زنا حرامه کړې ده، بناء دده دغه عمل په عبادت کې شامليږي. ولی هر کله چي څوک زنا ددي لپاره پريږدي چي په ايډز مبتلا نشی عبادت ورته نه ويل کيږي. او د عبادت ثواب ورته هم نه ويل کيږي.

همدرانګه زيات عادتونه او رواجونه لکه سمنک، او ديکچه چي هر کله د عبادت په نيت او هدف ادا شي بدعت ورته ويل کيږي، خو که کله څوک دغه کار منحيث يو کلتور ترسره کړي چي هغه کې د ثواب ارزو ونلري عبادت نه ګڼل کيږي.

**۶- په حلال او حرام، ښه او بد کې د چا قانون تطبيقول:**

په حلال او حرام، يا جايز او ناجايز کې دچا دقوانينو اطاعت او پيروي هم عبادت دي. ځکه د چا قانون ته ترجيح ورکول او پدي هکله په هغه عمل کول هم عبادت ګڼل کيږي.

اسلامي شريعت کې د عبادت خاص تعريف: د ټولو هغو امرونو پر ځاي کول، او ټولو هغو ممنوعاتو څخه ځان ساتل چي په قرآن کريم او سنتو کې ثابت شويدي، او په هغه کې الله ﷻ ته د ذلت، خوارۍ، محبت او ويري نيت او د هغه د رضايت د کسب لپاره وي.

ددي تعريف شرحه:

**۱- د ټولو امرونو پر ځاي کول:**

د اسلامی شريعت له ليد څخه ټول الهی اوامر د الله ﷻ د رضايت په خاطر ترسره کول عبادت دی، چي لاندې امورو ته شامليږي:

الف: د زړونو اعمال لکه ایمان، توحید، د الله محبت، اعتقادات، خشوع، تواضع، خوف، رجا، نذر او غیره.

ب: اقوال لکه د قرآن عظیم الشان تلاوت، تسبیحات، اذکار، امر بالمعروف نهی عن المنکر، (نیکمرغیو ته دعوت او له بدیو منع کول) تدریس، تعلیم او غیره.

ج: افعال لکه لمونځ، روزه، حج، زکات، جهاد، رکوع، سجده، دعا، قرباني او غیره.

د الله ﷻ د اوامرو مثالونه: ﴿أَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ﴾ لمونځ ادا کړي. ﴿ءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ﴾ زکات ورکړي، ﴿وَجَٰهِدُواْ فِي ٱللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِۦ﴾ او د الله تعالی په لاره کې په حقه جهاد وکړي. ﴿وَٱعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ ٱلْيَقِينُ ﴿٩٩﴾﴾ او تر هغه د خپل رب عبادت وکړه ترڅو مرګ درته راشي. ﴿ٱدْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلْحِكْمَةِ وَٱلْمَوْعِظَةِ ٱلْحَسَنَةِ﴾ او د خپل رب لارې ته په حکمت او نیکې موعظې سره خلک راوغواړه.

د رسول الله ﷺ د اوامرو مثالونه: عن ابی موسی رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم «فکوا العاني يعني الاسير واطعموا الجائع وعودوا المريض» بخاری شریف.

ژباړه: ابوموسی اشعري رضي الله عنه وایی: رسول الله ﷺ وفرمایل: «بندیان ازاد کړي، وږو ته خوراک ورکړي او د بیمارانو پوښتنه وکړي».

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: «مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلا يُؤْذِ جَارَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ»[1].

---

۱- (بخاری شریف) ابوهریره رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې په الله ﷻ او د اخرت په ورځ ایمان لري نو اذیت دې نه ورکوي خپل همسایه ته، او څوک چې په الله ﷻ او د اخرت په ورځ ایمان لري نو د خپل میلمه احترام دې وکړي او څوک چې په الله ﷻ او د اخرت په ورځ ایمان لري نو یاد ښه خبره وکړي او یا دې چپ شی.

ژباړه: ابوهریره رضي الله عنه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: هر څوک چي په الله تعالی او د قیامت په ورځ ایمان لري نو خپل ګاونډي ته دې اذیت نه ورکوي، او څوک چي په الله تعالی او دقیامت په ورځ ایمان لري نو د خپل میلمه احترام دې وکړي او څوک چي په الله تعالی او د آخرت په ورځ ایمان لري نویادې نیکه خبره وکړي او یا دې غلی شي.

**۲– له ټولو ممنوعاتو څخه ځان ساتنه:**

هر کله چي څوک داسې بد عمل ترک کړي چي د هغه بدي په قرآن او سنتو کې ثابته شوي وي نو یو عبادت یي ترسره کړي دې چې دا عبادتونه لاندې ټکو ته شاملیږي:

الف: د زړونو اعمال لکه کفر، شرک، منافقت، ریاکاری، د الله جل جلاله له درباره نا امیدي، تکبر، ځان غوښتنه، له خپله ځانه راضي کیدل، له الله جل جلاله څخه نه ډاریدل او غیره...

ب: اقوال لکه له الله جل جلاله پرته مرسته غوښتل، له الله جل جلاله پرته د ثنا او حمد کول، د اشخاصو داسې بی نهایته زیات توصیف کول چي هغه د الوهیت درجي ته ورسیږي، هغه څه چي الله جل جلاله پوري خاص دي له بل چا څخه غوښتل، غیبت، دروغ، تهمت، کنځلي کول، مسخره کول، د فساد خپرونې مقابل کې بې تفاوتي، خبرلوځې او غیره.

ج: افعال لکه زنا، شراب څښل، غلا، اختلاس، قمار، له الله جل جلاله پرته سجده کول، له الله جل جلاله پرته رکوع کول، د الله له درباره پرته د بل چا دربار ته ددعا لاسونه پورته کول او غیره.

دالله جل جلاله د ممنوعاتو مثالونه: ﴿وَلَا تَكۡتُمُواْ ٱلشَّهَٰدَةَۚ﴾ شاهدي مه پټوي، ﴿وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ تَفَرَّقُواْ وَٱخۡتَلَفُواْ﴾ [آل عمران: ۱۰۵] او د هغه خلکو غوندې مه کیږي چې تفرق او اختلاف یي وکړ ﴿وَلَا تَهِنُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ١٣٩﴾ [آل عمران: ۱۳۹] او مه سستیږي او مه خفه کیږئ او تاسې کامیاب یاست پدې شرط که تاسی مومنان یاست.

د رسول اللهﷺ د ممنوعاتو مثالونه: عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِّ صلى الله عليه وسلم فَكُنَّا إِذَا أَشْرَفْنَا عَلَى وَادٍ هَلَّلْنَا وَكَبَّرْنَا ارْتَفَعَتْ أَصْوَاتُنَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ، ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ فَإِنَّكُمْ لا تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلا غَائِبًا إِنَّهُ مَعَكُمْ إِنَّهُ سَمِيعٌ قَرِيبٌ تَبَارَكَ اسْمُهُ وَتَعَالَى جَدُّهُ»[۱].

ژباړه: ابو موسى اشعريرضي الله عنه وايي: د رسول اللهﷺ سره يو ځاي وو، هر كله چې يو لوړ ځاي ته رسيدو، تهليل (لا اله الا الله) او تكبير (الله اكبر) مو ويلې، او زمونږ غږ به اوچتيده نبی كريم ﷺ وفرمايل: پخپلو ځانونو رحم وكړي ځكه تاسې كوڼ او غايب ذات ته غږ نكوي، هغه له تاسې سره ده، هغه تاسې ته نزدې او ستاسې خبرې اوري نوم يي با بركته او مقام يي لوړ دي.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: أَنَّ رَسُولَ اللهِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: «لا تَبَاغَضُوا، وَلا تَحَاسَدُوا، وَلا تَدَابَرُوا، وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا، وَلا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلاثَةِ أَيَّامٍ»[۲].

ژباړه: له انسرضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول اللهﷺ فرمايي: «يو بل سره د ښمني مه كوي حسد مه كوي يو بل ته شامه اړوي، او په وروركلوي سره د اللهجل جلاله عبادت وكړي، او حلال ندي هيڅ مسلمان ته چې له درې ورځو زيات له خپل مسلمان ورور څخه خفه وي».

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: «إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ، فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ، وَلا تَحَسَّسُوا، وَلا تَجَسَّسُوا، وَلا تَنَاجَشُوا، وَلا تَحَاسَدُوا، وَلا تَبَاغَضُوا، وَلا تَدَابَرُوا، وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا»[۳].

ژباړه: له ابوهريرهرضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول اللهﷺ وفرمايل: له گمان څخه ځان وساتي ځكه چې گمان دروغجنه خبره ده د بل چا عيبونه مه لټوي

---

۱- (بخاري: ۲۹۹۲).

۲- (بخارى: ٦٠٦٥).

۳- (بخارى: ٦٠٦٦).

او تجسس مه کوي پرته له دې چي د څه شي اخيستلو نيت لري د څه شي قيمت مه لوړوي، حسد مه کوي، دښمني مه کوي، يو بل ته شامه اړوي او په وروركلوي سره د اللهﷻ عبادت وکړي.

**۳– په قرآن او سنتو کې ثابت دي:**

د اسلام مقدس دين له ليد څخه عبادت هغو امورو ته ويل کيږي چي په قرآن او سنت کې اصل ولري، او هر کله چي څوک داسې کار وکړي چي په قرآن او سنت کې ثابت نه وي اسلامي عبادت ورته نه ويل کيږي، بلکې هغه ته بدعت وايي چې د نبی کريم ص د وينا په اساس بدعت اوګمراهي ده[۱].

قرآن عظيم الشان اساسي قانون دي چې عبادتونه بيانوي، او پيغمبرﷺ دغه احکام په مفصل ډول سره تشريح او توضيح کړي، د مثال په ډول الله فرمايي: ﴿وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ﴾ [المزمل: ۲۰] تاسې لمونځ ادا کړي او زکات ورکړي بيا پيغمبرﷺ د لمانځه د اداکولو څرنګوالي او د زکات مقدار او کيفيت بيان کړي دي.

**۴– په هغه کې اللهﷻ ته د ذلت او خواري نيت وي:**

د اسلام مقدس دين کې حقيقي عبادت دادي چې انسان هميشه د اللهﷻ مقابل کې خپل ځان خوار او ذليل وګڼي او له ډيرې خشوع او تواضع سره د هغه کبر يا، ذات په مقابل کې قرار ولري بناپردی پرته له دغو صفاتو څخه د عباداتو اداکول حقيقی عبادت نه ګڼل کيږي.

**د عبادت حقيقت:**

د عبادت حقيقت چی د هر مومن اساسی وظيفه ده، په دوه اساسي شيانو کې تمثليږي:

**الف: د انسان نفس کې د عبوديت د معنی استقرار:**

---

۱– د بدعت په هکله کتاب کې ځانګړي فصل لرو چې ستاسي خدمت کې به مفصلا تشريح او توضيح شی (ان شاء الله).

یعني د انسان په ذهن، ضمیر، عقل، فکر او اندیشه کې دا خبره ځاي ولري چي یو خالق دي او بل مخلوق یو خدای پاک وجود لري چې عبادت یي کیږي او بل مخلوق وجود لري چي عبادت کوي بناء له دینه بله لویه خبره وجود نلري فقط د ټول ژوند اساس همدغه ده، چي یو خدایﷻ دي چې ټول د هغه بندګان دي، او بالاخره په نورو ځایو کې ټول احکام د همدې توحید فرع دي.

**ب: یو خالق ته مخ اړونه:**

د انسان د نفس او ضمیر په هر حرکت کې، د بدن د هر عضوي په حرکت کې او د ژوند په هر حرکت کې اللهﷻ ته خالصه توجه کول، او خپل ځان له بل هر احساس څخه خارجول، او له هري هغي معنا څخه چې د یو ذات د بندګۍ له معنا سره مخالف وي لرې کول دي. پدې اساس د عبادت معنی د انسان د ژوند ټولو اړخونه ته شاملیږي او عبادت تنها په څو شعایرو کې نه محصوریږی.

**۵– د اللهﷻ محبت:**

د اطاعت او عبادت اداکول د اللهﷻ د محبت سبب کیږي، اللهﷻ د اسلام ښاغلي رسول ته فرمايي چي خپل امت ته ووایه که تاسې له اللهﷻ سره محبت لري نو زما پیروي وکړي ترڅو اللهﷻ تاسې سره محبت وکړي. ﴿قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٣١﴾ [آل عمران: ۳۱].

**۶– د اللهﷻ رضایت:**

د الله عبادت کول د اللهﷻ د رضایت سبب ګرځي.

د عباداتو په تقسیم کې مشکل: کله چي ما عبادتونه پدې ډول سره تقسیم کړل چې قران عظیم الشان او رسول اللهﷺ د سنتو له منهج سره مطابق دي ځینو دوستانو انتقاد وکړ چي عبادات خو اسلامی فقه کې معلوم دي. او عبادات په اسلامي فقه کی پدې ډول تقسیم بندي شوي ندي، د هغوي په نظر

عبادت فقط ځینې امورو کې ده چې د عباداتو تر عنوان لاندې د فقې کتابونو کې ذکر شوي دي، اما ټول معاملات، نکاح، او له جنایاتو ځان ساتنه عباداتو کې نه شاملیږي.

د دې لپاره چې دا موضوع واضحه شي غوره ده چې پدې هکله کومې خبرې په في ظلال القرآن تفسیر کې ددې آيات شريف لاندې راغلي ﴿وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ۝٥٦﴾[1] [الذاريات: ٥٦] نقل کړو:

د عبادت د اصطلاح اطلاق په شعايرو او په هغه څه چې د بنده اود پروردګار ترمنځ ترسره کیږي، د معاملاتو د اصطلاح اطلاق دهغه څه په مقابل کې چې د خلکو ترمنځ ترسره کیږي، هغه اصطلاح ده چې د قران عظیم الشان د نزول له عصر څخه ډیره زیاته وروسته راغلي ده، دغه اصطلاح لومړي عصر د (نبی کريم ﷺ او صحابه کرامو) په عصر کې پیژندل شوې نه وه، د انساني اعمالو تقسم په عباداتو او معاملاتو هغه موضوع ده چې ډیر وروسته د فقهي د مضمون د تاليف پر وخت را پيدا شوه، په پيل کې فقط يوه فني تقسيم بندي وه، چي دا دعلمي تاليف خصوصيت وي، ولې په ډير تاسف په تصور کې يي ډير بد اثر وکړ چې له يو څه وخت وروسته يي د اسلامی ژوند په ټولو اړخونو کې ډير بد تاثيرات پريښودل، ځکه چې د خلکو تصور کې يي داسې شيان ځاي پر ځاي کړل چې له عباداتو څخه منظور يواځې د اسلامی فقهې هغه برخه ده چي د عباداتو په نوم سره په اسلامي فقه کې نومول شوي دي، او دا په اسلامي تصور کې انحراف دي، چې بالاخره په اسلامي ټولنه کې د ژوند په ټولو اړخونو کې د انحراف سبب شو، په اسلامي تصور کې هيڅ داسې نشاط او فعاليت نشته چي هغه باندې د عبادت نوم تطبيق نشي. او يا ددې وصف تحقيق په هغه باندې تطبيق نشي، د اسلامي برنامې نهايي هدف په کلي ډول سره د عبادت د معنی تحقيق دي... په اسلامي برنامه کې د سياسې نظام لپاره او اقتصادي، جنايي تشريعات، مدني، کورنۍ او ټولو تشريعاتو لپاره همدغه منهج تطبيقيږي.

---

۱- او مونږ ندي بيدا کړي انسانان او پيريان مګر د عبادت لپاره

مرحوم د خبرو په پای کې وايي: يو عرب انسان چې د لومړي ځل لپاره د قرآن په واسطه مخاطب شو، ددې لفظ مفهوم تنها په څو عبادتونو باندې نه منحصر کيده، بلکې کله چې يو عربي انسان د لومړي ځل لپاره په مکه مکرمه کې مخاطب شو، نو تردې وخته پرې څه شي فرض شوي نه و، بلکې هغه پوهيده چې له عبادت څخه منظور واحد خداي ته په ټولو امورو کې متدين کيدل او د نورو ددينداري پريښودل... او رسول اللهﷺ خپله عبادت تفسير کړ او ويې ويل چې (متابعت) دي.

پيغمبرﷺ عدي بن حاتم ته د يهودو او نصاراو په هکله وويل چې هغوي خپل احبار او رهبان په خدايې سره نيولي، هغوي حلال حرام کړل او حرام يې حلال کړل، او يهودو او نصاراو پدې هکله د هغوي متابعت او پيروي وکړله[1].

---

١ – «إن تقسيم النشاط الإنساني إلى» عبادات «و» معاملات «مسألة جاءت متأخرة عن التأليف في مادة» الفقه «.ومع أنه كان المقصود به في أول الأمر مجرد التقسيم» الفني «الذي هو طابع التاليف العلمي، إلا أنه مع الأسف أنشأ فيها بعد آثاراً سيئة في التصور، تبعها بعد فترة آثار سيئة في الحياة الإسلامية كلها؛ إذ جعل يترسب في تصورات الناس أن صفة» العبادة «إنما هي خاصة بالنوع الأول من النشاط، الذي يتناوله» فقه العبادات «.وهو انحراف بالتصور الإسلامي لا شك فيه. فلا جرم يتبعه انحراف في الحياة كلها في المجتمع الإسلامي».

ليس في التصور الإسلامي نشاط إنساني لا ينطبق عليه معنى «العبادة» أو لا يطلب فيه تحقيق هذا الوصف. والمنهج الإسلامي كله غايته تحقيق معنى العبادة، أولاً وأخيراً.

وليس هناك من هدف في المنهج الإسلامي لنظام الحكم، ونظام الاقتصاد، والتشريعات الجنائية، والتشريعات المدنية، وتشريعات الأسرة. وسائر التشريعات التي يتضمنها هذا المنهج..

«ليس هناك من هدف إلا تحقيق معنى» العبادة «في حياة الإنسان.. والنشاط الإنساني لا يكون متصفاً بهذا الوصف، محققاً لهذه الغاية التي يحدد القرآن أنها هي غاية الوجود الإنساني إلا حين يتم هذا النشاط وفق المنهج الرباني؛ فيتم بذلك إفراد الله سبحانه بالألوهية؛ والاعتراف له وحده بالعبودية.. وإلا فهو خروج عن العبادة لأنه خروج عن العبودية. أي خروج عن غاية الوجود الإنساني كما أرادها الله. أي خروج عن دين الله!»

«وأنواع النشاط التي أطلق عليها الفقهاء اسم» العبادات «وخصوها بهذه الصفة على غير مفهفي وم التصور الإسلامي حين تراجع في مواضعها في القرآن، تتبين حقيقة بارزة لا يمكن إغفالها. وهي انها لم تجئ مفردة ولا معزولة عن أنواع النشاط الأخرى التي أطلق عليها الفقهاء اسم «المعاملات».. إنما جاءت هذه وتلك مرتبطة في السياق القرآني، ومرتبطة في المنهج التوجيهي. باعتبار هذه كتلك شطراً من منهج «العبادة» التي هي غاية الوجود الإنساني، وتحقيقاً لمعنى العبودية، ومعنى إفراد الله سبحانه بالألوهية.

«إن ذلك التقسيم مع مرور الزمن جعل بعض الناس يفهمون أنهم يملكون أن يكونوا» مسلمين «إذا هم أدوا نشاط» العبادات «وفق أحكام الإسلام بينما يزاولون كل نشاط» المعاملات «وفق منهج آخر.. لا يتلقونه من الله ولكن من إله آخر.. ! هو الذي يشرع لهم في شؤون الحياة ما لم يأذن به الله!»

«وهذا وهم كبير. فالإسلام وحدة لا تنفصم. وكل من يفصمه إلى شطرين على هذا النحو فإنما يخرج من هذه الوحدة، أو بتعبير آخر: يخرج من هذا الدين.

«وهذه هي الحقيقة الكبيرة التي يجب أن يلقي باله إليها كل مسلم يريد أن يحقق إسلامه؛ ويريد في الوقت ذاته أن يحقق غاية وجوده الإنساني».

فالآن نضيف إلى هذه الفقرات ما قلناه من قبل هذا الجزء من أن العربي الذي خوطب بهذا القرآن أول مرة لم يكن يحصر مدلول هذا اللفظ وهو يؤمر به في مجرد أداء الشعائر التعبدية.. بل أنه يوم خوطب به أول مرة في مكة لم تكن قد فرضت بعد شعائر تعبدية! إنما كان يفهم منه عندما يخاطب به أن المطلوب منه هو» الدينونة «لله وحده في أمره كله، وخلع الدينونة لغير الله من عنقه في أمره كله. ولقد فسر رسول الله صلى الله عليه وسلم» العبادة «نصاً بأنها» الاتباع «وليست هي الشعائر التعبدية، وهو يقول لعدي ابن حاتم عن اليهود والنصارى، واتخاذهم الأحبار والرهبان أرباباً:» بلى. إنهم أحلوا لهم الحرام، وحرموا عليهم الحلال، فاتبعوهم، فذلك عبادتهم إياهم «إنما أطلقت لفظة» العبادة «على» الشعائر التعبدية «باعتبارها صورة من صور الدينونة لله في شأن من الشؤون. صورة لا تستغرق مدلول العبادة، بل إنها تجيء بالتبعية لا بالإصالة!..

ولقد قلنا من قبل في هذا الجزء» إن الواقع أنه لو كانت حقيقة العبادة هي مجرد الشعائر التعبدية ما استحقت كل هذا الموكب الكريم من الرسل والرسالات؛ وما استحقت كل هذه الجهود المضنية التي بذلها الرسل صلوات الله وسلامه عليهم وما استحقت كل هذه العذابات والآلام التي تعرض لها الدعاة والمؤمنون على مدار الزمان! إنما الذي استحق كل هذا الثمن الباهظ هو إخراج البشر جملة من الدينونة للعباد، وردهم إلى الدينونة لله وحده في كل أمر وفي كل شأن، وفي منهج حياتهم كله للدنيا وللآخرة سواء. ويوسف عليه السلام يعلل القول بأن الحكم لله وحده. فيقول: {أمر ألا تعبدوا إلا إياه}. ولا نفهم هذا التعليل كما كان يفهمه

د عبادت د کامل مفهوم پیژندلو لپاره یو حدیث شریف لولو: له حضرت عدی بن حاتمﷺ څخه روایت دي چې د رسول اللهﷺ خواته راغلم او په غاړه کې مې طلایي صلیب ځوړند و، نبی کریمﷺ وفرمایل: دادي له غاړه نه لرې واچوه... عدي وویل: ما هغه لرې واچوه، او خواته یې راغلم، آنحضرتﷺ براءت سورت لوستلو نو دا آیات یې ولوست ﴿ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ﴾ دوی ونیول خپل احبار او زاهدان په خدایي سره پرته له اللهﷻ څخه.

عدیﷺ وایي ما وویل: ای د خدای رسوله، مونږ خو د هغوي عبادت نکؤ، انحضرتﷺ وفرمایل: آیا هغه څه چې اللهﷻ حلال ګرځولي و دوي نه حرامول او تاسې بیا هغه حرام نه منل، او هغه څه چې اللهﷻ حرام کړي و دوي حلال نه ګرځول او تاسې بیا هغه حرام نه منل.

---

الرجل العربي إلا حين ندرك معنى {العبادة} التي يخص بها الله وحده..إن معنى عبد في اللغة: دان، وخضع، وذل.. ولم يكن معناه في الإصطلاح الإسلامي في أول الأمر أداء الشعائر.. إنما كان هو معناه اللغوي نفسه.. فعندما نزل هذا النص أول مرة لم يكن شيء من الشعائر قد فرض حتى ينطلق اللفظ إليه. إنما كان المقصود هو معناه اللغوي الذي صار هو معناه الاصطلاحي. كان المقصود به هو الدينونة لله وحده، والخضوع له وحده، واتباع أمره وحده. سواء تعلق هذا الأمر بشعيرة تعبدية، أو تعلق بتوجيه أخلاقي، أو تعلق بشريعة قانونية. فالدينونة لله وحده في هذا كله هي مدلول العبادة التي خص الله سبحانه بها نفسه؛ ولم يجعلها لأحد من خلقه.

وحين نفهم معنى العبادة على هذا النحو نفهم لماذا جعل يوسف عليه السلام اختصاص الله بالعبادة تعليلاً لاختصاصه بالحكم. فالعبادة أي الدينونة لا تقوم إذا كان الحكم لغيره.. وسواء في هذا حكمه القدري القهري في حياة الناس وفي نظام الوجود، وحكمه الشرعي الإرادي في حياة الناس خاصة. فكله حكم تتحقق به الدينونة.

ومرة أخرى نجد أن منازعة الله الحكم تخرج المنازع من دين الله حكماً معلوماً من الدين بالضرورة لأنها تخرجه من عبادة الله وحده.. وهذا هو الشرك الذي يخرج أصحابه من دين الله قطعاً. وكذلك الذين يقرون المنازع على ادعائه، ويدينون له بالطاعة وقلوبهم غير منكرة لاغتصابه سلطان الله وخصائصه.. فكلهم سواء في ميزان الله.ويقرر يوسف عليه السلام أن اختصاص الله سبحانه بالحكم تحقيقاً لاختصاصه بالعبادة هو وحده الدين القيم: {ذلك الدين القيم}..وهو تعبير يفيد القصر) ظلال القران ٤/ ٢٧٧

عدي وايي، ما وويل: بلې.

نو رسول اللهﷺ وفرمايل: همدغه يي عبادت دي[۱].

ددې حديث په اساس عبادت يوازې د اللهﷻ دربار ته لمونځ کول او د الهی شعايرو اداکول ندي، بلکې عبادت عبارت له يوي جامعې کلمې څخه ده چې ټولو حلالو، حرامو او امر او نهی ته شامليږي، چې پدې هکله د الهی ارشاداتو مراعات ته عبادت اود هغې مخالفت ته ګناه او معصيت ويلي شو.

بناء په حلال او حرام، امر او نهی کې د نورو څخه اطاعت او متابعت ته ددې حديث شريف مطابق د هغوي عبادت ويلي شو.

د اللهﷻ لپاره د اقوالو، افعالو او ظاهري او باطني اعمالو ادا کول او پريښودل دي چي د اللهﷻ د رضايت او محبت سبب ګرځي او له قرآن او سنت څخه استنباط شوي وي.

## دعبادت او عدم عبادت ترمنځ فرق:

علامه زرکشي وايي هر عمل چي شريعت د هغه تقاضا کوي عبادت دي، هرکله چي څوک د عبادت لپاره هغه ادا کړي او يا يي د عبادت لپاره ترک کړي، اما که ښه کار د عبادت په نيت ونکړي او يا بدکار د عبادت په نيت پري نهږدي بلکې بل نيت ولري عبادت کې نه شامليږي[۲]. ځکه چې قرآن عظيم

---

١- حدثنا أبو كريب وابن وكيع قالا حدثنا مالك بن إسماعيل = وحدثنا أحمد بن إسحاق قال، حدثنا أبو أحمد = جميعًا، عن عبد السلام بن حرب قال، حدثنا غطيف بن أعين، عن مصعب بن سعد، عن عدي بن حاتم قال: أتيت رسولَ الله صلى الله عليه وسلم وفي عُنُقي صليبٌ من ذهب، فقال: يا عديّ، اطرح هذا الوثنَ من عنقك ! قال: فطرحته، وانتهيت إليه وهو يقرأ في «سورة براءة»، فقرأ هذه الآية: (اتخذوا أحبارهم ورُهبانهم أربابًا من دون الله)، قال قلت: يا رسول الله، إنا لسنا نعبدُهم! فقال: أليس يحرِّمون ما أحلَّ الله فتحرِّمونه، ويحلُّون ما حرَّم الله فتحلُّونه؟ قال: قلت: بلى! قال: فتلك عبادتهم! = واللفظ لحديث أبي كريب. رواه من طريق مالك بن إسماعيل، عن عبد السلام بن حرب، بلفظه، البخاري في الكبير ٤ / ١ / ١٠٦. وانظر التخريج السالف

٢- الموسوعة الفقهية الكويتية ١٠٥٨٦/٢

الشان وايي: ﴿ذَٰلِكَ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ يُرِيدُونَ وَجۡهَ ٱللَّهِۖ﴾ دا کار غوره دي هغو خلکو ته چي د الله تعالی رضا غواړي.

مثلا څوک له فقیرانو سره د انسانیت لپاره کومک کوي نه د عبادت په خاطر، یا چا ړیره د مود په خاطر یا د خپل ځان د ښایست پخاطر پرې ایښې ده نه د عبادت په قصد، او یا هم څوک له زنا څخه ددې لپاره ځان ساتي چي په ایډز مبتلا نشي نه د عبادت په خاطر.

## په اسلام کې د عبادت د لمنې پرخوالی:

له هغه ځایه چي د اسلام پوهانو ویلي دي چې د انسان هر نیک عمل چي د الهی طاعت په نیت سره وي عبادت ګڼل کیږي او د رسول اللهﷺ احادیث دغه نظر تاییدوي، مثلا حدیث کې راغلي دي چې د دوه تنو ترمنځ عدالت صدقه ده، نیکه خبره صدقه ده، هر ګام چي د مسجد په طرف اخلي صدقه ده، هر ضررناک شي چي له لارې څخه لیرې کوي صدقه ده، همدارنګه رسول اللهﷺ د یو شخص په هکله وفرمایل: چې هر کله د خپل اولاد د نفقې لپاره یا د والدینو د خدمت یاد خپلې پاکۍ او عفت لپاره هڅه کوي هغه د اللهﷻ په لاره کې دي[1].

---

۱- عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم «كل سلامى من الناس عليه صدقة كل يوم تطلع فيه الشمس يعدل بين الاثنين صدقة ويعين الرجل على دابته فيحمل عليها أو يرفع عليها متاعه صدقة والكلمة الطيبة صدقة وكل خطوة يخطوها إلى الصلاة صدقة ويميط الأذى عن الطريق صدقة» حديث نمبر۲۸۲۷ صحيح البخاري.

«وعن كعب بن عجرة رضي الله عنه قال مر على النبي صلى الله عليه وسلم رجل فرأى أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم من جلده ونشاطه فقالوا يا رسول الله لو كان هذا في سبيل الله فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم إن كان خرج يسعى على ولده صغارا فهو في سبيل الله وإن كان خرج يسعى على أبوين شيخين كبيرين فهو في سبيل الله وإن كان خرج يسعى على نفسه يعفها فهو في سبيل الله وإن كان خرج يسعى رياء ومفاخرة فهو في سبيل الشيطان»، رواه الطبراني ورجاله رجال الصحيح . ۱٦۹۲ – (صحيح لغيره) صحيح الترغيب والترهيب تاليف محمد ناصر الدين الألباني، الرياضي: مكتبة المعارف، ط٥، ١٤١/٢

## الله ﷻ ته د عبادت خاص کول

پدې بحث کې په دوه اساسي محورونو باندې تحقیق کوو:

۱- عبادت چا ته کیږي او ټولو پیغمبرانو خپل امتونه د چا عبادت ته راغوښتي دی؟

۲- کوم امور عبادات دي چې د هغې ادا کول یوائې د الله تعالی لپاره وشي؟ د لومړی موضوع په هکله باید ووایو چې د قرآن عظیم الشان، د پیغمبرانو د ویناوو، امتونو ته د پیغمبرانو د لارښوونو، او د نبي کریم ﷺ د احادیثو په مطالعه عبادت خاص د الله ﷻ لپاره دي.

### د قرآن کریم دلیلونه:

د قرآن کریم ټولو آیاتونو عبادت الله ﷻ ته خاص کړي دي چې دلته یي څو مثالونه ذکر کوو:

﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝٥﴾ خاص تاته عبادت کوو او خاص له تا نه کومک غواړو- تاسې پدي آیات شریف کې ښه دقت وکړي چې ولې، مو خاص وویل، او ولې الله ﷻ مونږ ته لارښوونه کوي چې همیشه خپلو لمنځونو کې دغه آیات ولولي، له الله ﷻ سره تعهد وکړي او د هغه مطابق ژوند وکړي، کله چي چاته وایو خاص تاسره مینه لرم او یا خاص تاسره معامله کوم دا له مقابل جانب سره یو رنګه تعهد دي، چې له بل سره دغه عمل نه ترسره کوم اوس نو یو مسلمان د خپل لمانځه په هر رکعت کې له الله ﷻ سره تعهد کوي چې خاص تاته عبادت کوم او خاص له تانه کومک غواړم، د مسلمان د عبادت او د نورو ټولو ادیانو د پیروانو اساسي ترین فرق په همدې نقطه کې دي چې د اسلام مقدس دین کې عبادت تنها او تنها الله ﷻ ته کیږي، او دغه عبادت قرآن الله ﷻ ته خاص کړي دي. ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ۝٢١﴾ [البقرة: ۲۱] «اي خلکو د خپل رب عبادت وکړي هغه چې تاسې یې پیداکړي یاست او هغه خلک چې له تاسې مخکې و ددې لپاره چې تاسې تقوا دار شي» پدې آیات شریف کې:

الف: د پروردګار د عبادت امر شوي دي.

ب: د هغه چا بیان شوي چي د عبادت لایق دي. یعنې هغه پروردګار چي تاسې او هغه خلک یې پیداکړی چې له تاسې څخه مخکې و.

ج- عبادت یي د تقوا اساس ګڼلي.

هغه درسونه چي دې آیات شریف څخه استنباط کیږي:

لومړي داچې د پرودګار د عبادت امر شوي دي.

دویم د عبادت لایق هغه څوک دي چي د انسانانو د خلقت قدرت ولري او تر اوسه پوري څوک نشته چي دعوه وکړي چي زه د انسانانو خالق یم او که احیا ځینې خلکو دعوه هم کړیده ندي قادرشوي چې کوم انسان پیدا کړي.

دریم داچې د تقوا اساس پدي کې دي چې انسان د هغه الله ﷻ عبادت وکړي چې یو او واحد ذات دي. هغه خلک چي خپل عبادت پرته له الله ﷻ بل ذات ته کوي او خپل ځانونه متقي ګڼي ددې آیات شریف په اساس متقیان ندي.

١ - ﴿۞وَٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـٔٗاۖ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنٗا﴾ [النساء: ٣٦] «او د الله عبادت وکړي او هغه سره څوک مه شریکوي او د والدینو سره نیکي وکړي» دې آیات شریف کې ویل شوي دي چې عبادت الله ﷻ ته وکړي او څوک د هغه په عبادت کې مه شریکوي.

٢ - ﴿وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ لَا تَعۡبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ﴾ [البقرة: ٨٣] «او هغه وخت چي مونږ د بنی اسرائیلو څخه محکمه وعده واخیسته چي پرته له الله به بل چاته عبادت نکوي» پدې آیات شریف کې الله ﷻ بیان کړي دي چي له بنی اسرائیلو هم عهد او پیمان اخیستل شوي و چي پرته له الله ﷻ بل چاته عبادت مه کوي. ولې هغوي دغه عهد او پیمان مات کړ..

٣- د یعقوب ؑ د وصیت په هکله فرمایي: ﴿أَمۡ كُنتُمۡ شُهَدَآءَ إِذۡ حَضَرَ يَعۡقُوبَ ٱلۡمَوۡتُ إِذۡ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعۡبُدُونَ مِنۢ بَعۡدِيۖ قَالُواْ نَعۡبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ

ءَابَآئِكَ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗا وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ١٣٣﴾ [البقرة: ١٣٣] «آيا تاسې حاضر وي کله چې يعقوب ته مرګ راغی کله چې هغه خپلو بچيانو ته وويل له مانه وروسته به د څه شي عبادت کوي، هغوي وويل ستا د خدای عبادت به کوو او ستا دپلرونو ابراهيم اسماعيل او اسحاق دخدای عبادت به کوو چې يو خدای دی او مونږ هغه ته تسليم يو». دې آيات شريف کې بيانوی چې د يعقوب وصيت خپلو بچيانو ته داللهﷻ د عبادت خاص کول و.

٤- پيغمبر پوه کوي چې اهل کتابو ته ووايي: ﴿قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ كَلِمَةٖ سَوَآءِۭ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ أَلَّا نَعۡبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشۡرِكَ بِهِۦ شَيۡـٔٗا﴾ [آل‌عمران:٦٤] «ورته ووايه ای اهل کتابو راشي يوې کلمې ته چې برابره ده زمونږ او ستاسې ترمنځ دا چې عبادت به نکوو مګر د يو الله او هغه سره به څه شي شريک نه نيسو».

٥- هودؑ خپل قوم ته وويل: ﴿وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمۡ هُودٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۖ﴾ [هود: ٥٠] «او عاد ته خپل ورور هود وويل اي قومه د الله تعالی عبادت وکړي نشته تاسې لره پرته له هغه نه بل اله».

٦- د مشرکينو په هکله وايي: ﴿وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِۚ قُلۡ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ١٨﴾[1] [يونس: ١٨] پدې آيات شريف کې د قريشو د مشرکينو صفت بيانويي چې هغوي د مخلوقات عبادت کو او ويلی يي چې دوي زمونږ شفاعت کوي.

---

١- او عبادت کوی پرله اللهﷻ د هغه شي چې نه ورته ضرر رسوی شي او نه نفعه او دوی وايي دا زمونږ شفاعت کوونکی دی د اللهﷻ په نزد، ورته ووايه ايا خبر ورکوی اللهﷻ ته په هغه څه چې خبر ندی په اسمانونو کې او نه په ځمکه کې پاک دی او لوی دی له هغه څه نه چې ده سره يې شريکوي.

۷- الله ﷻ د نوح عليه السلام خبرې را نقلوي چې خپل قوم ته يې ويلې: ﴿أَن لَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۖ﴾ [هود: ۲٦] «چې پرته له الله د بل چا عبادت مه کوي».

۸- د صالح عليه السلام او د هغه قوم ثمودو په هکله وايي: ﴿۞وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمۡ صَٰلِحٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ﴾ [هود: ٦۱] «او ثمود ته د هغوي ورور صالح وويل اي قومه د الله عبادت وکړي نشته تاسې لره پرته له هغه نه بل اله».

۹- شعيب عليه السلام هم خپل قوم د الله تعالی عبادت ته دعوت کړ، ﴿۞وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ﴾ [هود:۸٤] «او مدين ته د هغوي ورور شعيب وويل ای قومه د الله عبادت وکړي نشته تاسې لره پرته له هغه بل اله».

خلاصه داچې ټولو پيغمبرانو خپل پيروان د الله ﷻ عبادت ته دعوتول، او رسول الله ﷺ هم خپل امت د الله ﷻ عبادت ته دعوتو، او قرآن کريم مسلمانانو ته د عبادت د حقيقت دورپيژندلو لپاره تعليم ورکوي، چې په خپل پنځه وخته لمونځ کې فقط يو اساسي عمل ترسره کړي چې هميشه تعهد وکړي چې ﴿إِيَّاكَ نَعۡبُدُ﴾ «خاص تاته عبادت کوو».

اوس لازمه ده چې دويمي پوښتنې ته ځواب ووايو: چې کوم کارونه عبادت دي، ترڅو هغه ښه وپيژنو او پرته له الله ﷻ بل چاته هغه ادا نکړو:

۱- سجده: ﴿وَلِلَّهِ يَسۡجُدُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾ [الرعد: ۱٥] «او الله ته سجده کوي هغه څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي». پدې آيات شريف کې يې (لله) ويلي دي، د عربي ژبې علما وايی چې لام د تخصيص لپاره دي هر کله چې په يو اسم باندې داخل شي نو امور هغه پورې خاص کوي، نو دلته فقط سجده الله تعالی ته خاص شوې ده..

هغه خلک چې پرته د الله ﷻ څخه بل چا ته سجده کوي ان دهدهد له خوا د هغوی بدوينه شويده ﴿وَجَدتُّهَا وَقَوۡمَهَا يَسۡجُدُونَ لِلشَّمۡسِ مِن دُونِ ٱللَّهِ﴾ [النمل: ۲٤] «ما هغه او د هغې قوم پيدا کړ چې پرته له الله يې لمر ته سجده کوله» پدې

آیات شریف کې بیانیږي چي ان یو الوتونکي لمر ته د بلقیس او د هغې د قوم په سجده حیرانیږي..

۲- رکوع: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱرۡكَعُواْ وَٱسۡجُدُواْۤ وَٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمۡ وَٱفۡعَلُواْ ٱلۡخَيۡرَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ۩ ٧٧﴾ [الحج: ۷۷] «ای مسلمانانو رکوع وکړي او سجده وکړي او د خپل رب عبادت وکړی او نیک کارونه وکړي ترڅو تاسې بریالي شی».

۳- استعانت:د مرستي، کومک او استعانت غوښتل فقط له اللهﷻ څخه کیږي اللهﷻ مونږ ته تعلیم راکړي دي چي همیشه وواییي ﴿إِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ﴾ «اي پروردګاره مونږ خاص له تانه مرسته غواړو».

او بل آیات کې د کومک طریقه را ښاییي، چي په ستونزو کې لومړي صبر کوي او بیا د لمانځه له لارې له خپل رب سره اړیکې ونیسې، خپل مشکلات هغه ته وړاندې کړي. ﴿وَٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ﴾.

٤- دعاء: پیغمبر فرمایي: «الدعاء هو العبادة» دعا عبادت ده، کله چي د عا عبادت ده نو یو مومن باید همیش خپل لاسونه الهی دربار ته اوږده کړي او وواییي ای الله ما وبښه اي الله ماسره کومک وکړه، ای الله ماته نجات راکړه، او اللهﷻ خطاب هغو خلکو ته چی مخلوقاتو ته رجوع کوي او د هغوي له دربار څخه د خپلو ستونزو پر وخت کومک غواړي فرمایي: ﴿أَمَّن يُجِيبُ ٱلۡمُضۡطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكۡشِفُ ٱلسُّوٓءَ وَيَجۡعَلُكُمۡ خُلَفَآءَ ٱلۡأَرۡضِۗ أَءِلَـٰهٞ مَّعَ ٱللَّهِۚ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ٦٢﴾ [النمل: ٦٢] «آیا څوک دې چې د مجبور ځواب ورکړي چي کله یي وغواړي او ضرر لرې کړي او تاسې د ځمکي خلیفه ګان ګرځوي ایا له الله سره بل اله شته ډیر کم ستاسې عبرت اخلي» یعني پرته له اللهﷻ څخه بل مشکل اسانوونکی نشته دي.

﴿أُجِيبُ دَعۡوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِۖ﴾ [البقرة: ۱۸٦] «قبلوم د دعا کونکي دعا چي رانه وغواړي».

قرآن کریم همدارنګه د پیغمبرانو د دعا کیسې را نقلوي چې هغوي یوائې د الله تعالی دربار ته لاسونه اوږدول او کومک یي غوښته ترڅو هغه خلک چي ځانونه د پیغمبرانو حقیقی پیروان ګڼي د هغوي د لارې مطابق عمل وکړي.

﴿هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُۥۖ قَالَ رَبِّ هَبۡ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةٗ طَيِّبَةًۖ إِنَّكَ سَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ٣٨﴾ [آل عمران: ۳۸] «هغه ځاي دعا وکړه زکریا خپل رب ته ویي ویل اي ربه راوبښه ماته له خپل لوري پاک اولاد بې شکه ته ددعا اوریدونکي یي».

د ابراهیم ددعا په هکله قرآن کریم وایي: ﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى ٱلۡكِبَرِ إِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَۚ إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ٣٩ رَبِّ ٱجۡعَلۡنِي مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِيۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلۡ دُعَآءِ ٤٠ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡحِسَابُ ٤١﴾ [إبراهیم: ۳۹-٤۱]

«حمد اوثنا هغه ذات لره چي ماته یي راوبښه په زړښت کې اسمساعیل او اسحاق بیشکه زما رب ددعا اوریدونکي دي ای ربه ما وګرځوې د لمانځه ادا کوونکي او زما له اولادې، ای ربه او قبوله کړې دعا ای ربه مغفرت وکړه ماته او زما والدینو ته او ټولو مومنانو ته هغه ورځ چې حساب کیږي». قرآن عظیم الشان هغه خلک چې پرته له الهی درباره د مخلوقاتو دربار ته ددعا لاس اوږدوي تهدیدوی او ورته وایي: ﴿وَٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسۡتَجِيبُونَ لَهُم بِشَيۡءٍ إِلَّا كَبَٰسِطِ كَفَّيۡهِ إِلَى ٱلۡمَآءِ لِيَبۡلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَٰلِغِهِۦۚ وَمَا دُعَآءُ ٱلۡكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ ١٤﴾ [الرعد: ۱٤] «او هغه خلک چي را غواړي بل څوک نشي قبلولي هغوي ته هیڅ شي مګر لکه اوږدونکي د ورغوي اوبو ته چي ورسیږي د هغه خولې ته او ندي هغه رسیدونکي هغه ته او نه ده دعا د کافرانو مګر بې لارې کې» دلته الله جل جلاله هغه کسان چي پرته له الهی درباره د نورو دربار ته ددعا لاسونه اوږدوي هغه کسانو سره مشابه کړي دي چې خپل لاسونه اوبو ته اوږدوي او ورغوي په اوبو کې ږدي او فکر کوي چې له دې لارې پرته له اوبو اخیستلو او خولې ته وړلو څخه ورشي، دا کار نتیجه نه ورکوي ځکه هر څومره چي لاسونه اوبو کې کیښودل شي اوبه خولې ته نه ځي، همدرانګه هغه خلک چي ددعا لاسونه د مخلوق

دربار ته اوړدوي او له هغه نه اجابت او ددعا قبولي غواړي خپل ځانونه تکليفوي او دعايي هيڅکله نه قبليږي، ځکه د کافرانو د کار نتيجه فقط ګمراهي ده.

**د قريشي مشرکينو ددعا څرنګوالي:**

د قريش مشرکينو سره له دې چي د ايمان دعوه کوله ددعا لاسونه يي د مخلوقاتو دربار ته اوږدول او لاندې شيان يي ترې غوښتل:

الف: د خير غوښتنه او دضرر دفع کول له مخلوقاتو څخه: ښځو ته د ماشومانو ورکول نه د دوا په واسطه او يا د علاج له لارې بلکې جهان کې د تصرف په واسطه ځکه هغوي عقيده لرله چې پيريان او انسانان کولي شي الهی حکومت کې تصرف وکړي.

چاته چې اللهﷻ لور يا ځوي ورنکړي هغوي کولي شي لور يا ځوي ورکړي، او يا هغې ښځې ته چې لورګانې راوړی کولي شي په ځوي باندې بدل کړي، او يا يي دا عقيده درلوده چي دغه بتان، پيريان او هغه مخلوقات چي دوي ورباندې عقيده درلوده کولي شي پرته له کومې وسيلې د شکوونکو حيواناتو مقابل کې مقاومت وکړي او يا کوم مريض ته شفا ورکړي او يا مړي ژوندې کړي او يا باران نازل کړي؟ او يا هم ټول هغه کارونه ترسره کړي چې قرآن کريم تر اللهﷻ پورې خاص کړي دي.

اللهﷻ ورته وويل: ﴿وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مَا يَمۡلِكُونَ مِن قِطۡمِيرٍ ۝١٣ إِن تَدۡعُوهُمۡ لَا يَسۡمَعُواْ دُعَآءَكُمۡ وَلَوۡ سَمِعُواْ مَا ٱسۡتَجَابُواْ لَكُمۡۖ﴾ [فاطر: ١٣-١٤] «هغه خلک چې تاسې پرته له الله څخه راوغواړي تاسې ته هيڅ شي درکولي نشي، که تاسې هغه راوغواړی هم ستاسې غږ نه اوري او که يي واوري هم درته قبلولي يي نشي».

اللهﷻ ددې لپاره چي دا خلک ښه وپوهوي ورته خطاب وکړ ﴿قُلۡ أَرَءَيۡتُم مَّا تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُواْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ لَهُمۡ شِرۡكٞ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِۖ ٱئۡتُونِي بِكِتَٰبٖ مِّن قَبۡلِ هَٰذَآ أَوۡ أَثَٰرَةٖ مِّنۡ عِلۡمٍ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ۝٤﴾ [الأحقاف: ٤] «ورته

ووایه خبر راکړي ماته له هغه څه چې تاسې یې را غواړي پرته له الله څخه راوښایاست چې څه شي یې پیدا کړي له ځمکې، یا هغوي شریکان دي په اسمانو کې، راوړي ماته یو پخواني کتاب، او څه نښه د علم که تاسې رښتیا وایاست».

بیایي ورته وویل: ﴿وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّن يَدْعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَن لَّا يَسْتَجِيبُ لَهُۥٓ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ وَهُمْ عَن دُعَآئِهِمْ غَـٰفِلُونَ ۝٥﴾ [الأحقاف: ٥] «او څوک ده ګمراه له هغه چا چې را غواړي پرته له اللهأ څخه هغه څوک چې دته یې قبلولي نشي د قیامت تر ورځې او دوي د هغه له دعا څخه غافله دي».

۵- استغاثه: د سختي او مشکلاتو پر وخت د کومک غوښتنه، استغاثه په دوله ډوله ده:

**الف: د عالم اسباب استغاثه:**

په عالم اسباب کې استغاثه داده لکه مثلا یو انسان د سختۍ حالت کې قرار لري بناء له مخلوقاتو څخه څه شي کې کومک غواړي، چې هغوي دا توان لري، دا چې د چا کور سوزیدلی وی، هغه له اطفایي څخه کومک غواړي یا د چا ماشوم موټر وهلي وي د ډاکتر کور ته ورځي له هغه کومک غواړي یا د چا کورته غله راغلي دي له ګاونډیانو څخه کومک غواړي. ﴿فَٱسْتَغَـٰثَهُ ٱلَّذِى مِن شِيعَتِهِۦ عَلَى ٱلَّذِى مِنْ عَدُوِّهِۦ﴾ «پس کومک وغوښته له ده نه هغه چې دده له قبیلې څخه و په هغه چا چې دده دښمن و» دغه رنګ استغاثه د کومک او همکاری له قبیلي څخه ده، لکه چې الله تعالي فرمایي ﴿وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلْبِرِّ وَٱلتَّقْوَىٰ﴾ «او یو بل سره په تقوا او نیکۍ کې مرسته وکړي».

**بـ: په ما فوق الاسباب عالم کې استغاثه:**

په عالم ما فوق الاسباب کې استغاثه داده چې انسان په هغه کار کې توانایي ونلري، بناء مومن انسان هغه له اللهﷻ څخه غواړي، لکه څرنګه چې د اسلام پیغمبر په عالم اسباب کې لښکرونه تیار کړل او د بدر جنګ ته یې اماده ګې ونیوله، خو دا چې تعداد یې کم ؤ، نو الهی دربار ته یې استغاثه وکړه، ترڅو یې لښکر ته بري او پیروزي ورکړه.. ﴿إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَٱسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّى

مُمِدُّكُم بِأَلْفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُرْدِفِينَ ۝٩﴾ [الأنفال: ٩] «کله چې تاسي خپل رب ته اواز کړ نو تاسې ته يي قبوله کړه چي بيشکه زه تاسې سره کومک کوم په زر ملايکو يو بل پسي».

صحيح مسلم له حضرت عمر بن الخطابؓ څخه روايت کوي چې د بدر په ورځ رسول اللهﷺ مشرکينو ته وکتل چې تعداد يې زر تنو ته رسيده او د هغه صحابه ۳۱۳ نفره و رسول اللهﷺ مخ قبلې ته کړ بيايي لاسونه پورته کړل او خپل پروردګار ته يې داسې اواز کړ: «اللَّهُمَّ أَنْجِزْ لِي مَا وَعَدْتَنِي اللَّهُمَّ آتِ مَا وَعَدْتَنِي اللَّهُمَّ إِنْ تَهْلِكْ هَذِهِ الْعِصَابَةُ مِنْ أَهْلِ الإِسْلاَمِ لاَ تُعْبَدْ فِي الأَرْضِ»[١].

امام بخاري روايت کوي چې ابن عباسؓ وايي د بدر په ورځ نبی کریمﷺ چې د يو څپرې لاندې ولاړ و وويل (خدايه له تانه غواړم چې خپله وعده او لوظ باندې وفا وکړې خدايه که غواړې چې نن څخه وروسته ستا عبادت ونشي...(دلته يي ابوبکر لاسونه ونيول او وې ويلی: ای د خداي رسوله، خپل خداي باندې دې زيات اصرار وکړ نور بس دي، انحضرتﷺ چي زغره اغوستې وه ميدان ته داسې حال کې راغي چې ويلې يي: «سيهزم الجمع ويولون الدبر بل الساعة موعدهم والساعة ادهى وامر» يعني دا لښکر به ماتې خوری او شابه اړوي بلکې د دوي وعده آخرت دي او قيامت ډير لوي او ډير تريخ دي.

امام طبراني روايت کوي چې در سول اللهﷺ په زمانه کې يو منافق و چې خلک به يې اذيت کول، ځينو وويل راځي چې رسول اللهﷺ ته ورشو او ددي منافق په هکله ترې استغاثه وغواړو، نبي کريمﷺ وفرمايل استغاثه له ما څخه نه کيږي، له الله تعالي څخه کيږي[٢].

---

١ – حديث نمبر ٤٦٨٧ صحيح مسلم.

٢ – وروى الطبراني بإسناده عن عبادة بن الصامت أنه كان في زمان النبي – صلى الله عليه وسلم – منافق يؤذي المؤمنين، فقال بعضهم فقوموا بنا نستغيث برسول الله – صلى الله عليه وسلم – من هذا المنافق، فقال النبي – صلى الله عليه وسلم -: «إنه لا يستغاث بي، وإنما يستغاث بالله».

٦- استعاذه (پناه غوښتل) اللهﷻ مسلمانانو ته تعليم ورکړي چې هميشه له اللهﷻ څخه پناه وغواړي ﴿فَٱسۡتَعِذۡ بِٱللَّهِۚ﴾ ﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ١﴾ ﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ١﴾ بناء يو مسلمان د پناه غوښتلو پر وخت وايي (اعوذ بالله من الشيطان الرجيم) (الهې پيغمبرانو هم اللهﷻ ته پناه وړله ﴿أَعُوذُ بِٱللَّهِ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ٦٧﴾ [البقرة: ٦٧] «الله ته پناه وړم له دې چې له جاهلانو څخه شم» ﴿وَإِنِّي عُذۡتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُمۡ أَن تَرۡجُمُونِ ٢٠﴾ [الدخان: ٢٠] «او زه پخپل رب او ستاسې په رب پناه غواړم له دې چې ما په تيږو وولي». ﴿مَعَاذَ ٱللَّهِۖ﴾ [يوسف: ٢٣] ﴿رَبَّنَا ظَلَمۡنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمۡ تَغۡفِرۡ لَنَا وَتَرۡحَمۡنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٢٣﴾ [الأعراف: ٢٣] وويل... او قرآن دغه را ګرځيدل مونږ ته کيسې کې بيانوي، ولي؟ ددې لپاره چې مونږ د هغوي اولاد يو او بايد د لغزشونو او ښوييدنو وخت کې الهی دربار ته پناه يوسو.

ابراهيمعليه السلام چې د پيغمبرانو پلار دې هغه هم د ضرورت پر وخت الهی دربار ته رجوع کوي. ﴿رَبَّنَا وَٱجۡعَلۡنَا مُسۡلِمَيۡنِ لَكَ﴾ حضرت عيسىعليه السلام هم الهی دربار ته دعا کوي او وايي چې ﴿رَبَّنَآ أَنزِلۡ عَلَيۡنَا مَآئِدَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ تَكُونُ لَنَا عِيدًا لِّأَوَّلِنَا وَءَاخِرِنَا وَءَايَةً مِّنكَۖ وَٱرۡزُقۡنَا وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ١١٤﴾[1] [المائدة: ١١٤] موسىعليه السلام هم خپل مشکلات او دردونه الهی دربار ته وړاندې کوي ﴿وَقَالَ مُوسَىٰ رَبَّنَآ إِنَّكَ ءَاتَيۡتَ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَأَهُۥ زِينَةً وَأَمۡوَٰلًا فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا رَبَّنَا لِيُضِلُّواْ عَن سَبِيلِكَۖ رَبَّنَا ٱطۡمِسۡ عَلَىٰٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ وَٱشۡدُدۡ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَلَا يُؤۡمِنُواْ حَتَّىٰ يَرَوُاْ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ ٨٨﴾[2] [يونس: ٨٨]

---

١- ای ربه را نازل کړې په مونږ باندې يو د سترخوان له اسمان څخه چې زمونږ اول او اخر ته اختر شي او يوه نښه ستا لخوا، او مونږ ته رزق را کړه او ته ښه رزق ورکوونکی يې.

٢- او وويل موسى ای ربه تا فرعون او د هغه ډلې ته ښآيست او مال ورکړي دي، ددنيا په ژوند کې ای ربه ددې لپاره چې بی لارې شي ستا له لارې نه ای ربه فسخ کړې د هغوی مالونه او ورکلک کړه د هغوی زړونه او ايمان را نه وړی تردې چې ووينی دردناک عذاب

**په پناه غوښتلو کې دقریشی مشرکینو عادت:**

د رسول اللهﷺ د بعثت نه مخکي عصر کې داسې خلک و چې:

١- پیریانو ته یي پنا وړله: ﴿وَأَنَّهُۥ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ ٱلْإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِّنَ ٱلْجِنِّ فَزَادُوهُمْ رَهَقًا ۝٦﴾ [الجن: ٦] «او ول څه سړیان له انسانانو چې پنايي وړله څه سړیانو د پیریانو ته نو زیاته یې کړه د هغوي سرکشي».

٢- ځینو مشرکینو د نیکو انسانانو مجسمو ته پناه وړله لکه لات، منات، هبل او غیره.

٣- د حبشې ځینې مشرکینو د نیکو شخصیتونو قبرونو ته پنا وړله او هغه یی خپل د سجدې ځایونه جوړ کړي و.

٤- ځینو مشرکینو ونو ته پنا وړله، هغه یي تبرک ګڼله، «فعن ابی واقد اللیثي قال: «خرجنا مع رسول الله صلى الله علیه وسلم الى حنین ونحن حدثاء عهد بکفر وللمشرکین سدره»[١] یعکفون عندها وینوطون بها أسلحتهم، یقال لها ذات أنواط، فمررنا بسدرة، فقلنا: یا رسول الله صلى الله علیه وسلم اجعل لنا ذات أنواط کما لهم ذات أنواط، فقال رسول الله صلى الله علیه وسلم: الله أکبر، إنها السنن، قلتم والذي نفسي بیده کما قالت بنو إسرائیل لموسى: ﴿ٱجْعَل لَّنَآ إِلَٰهًا كَمَا لَهُمْ ءَالِهَةٌ ۚ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ۝١٣٨﴾ [الأعراف: ١٣٨]، لترکبن سنن من کان قبلکم»[٢] له ابی واقد لیثی څخه روایت دې چې وایي مونږ له رسول اللهﷺ سره حنین ته ووتلو او مونږ له کفر سره نژدی وو او مشرکینو یوه ونه لرله چي ورته ښکته کیدل به او وسله به یې پرې ځوړندوله چې هغې ته ذات انواط ویل کیده مونږ چې پدې ونه تیر شو نو ومو ویل یا رسول اللهﷺ مونږ ته هم یو ذات انواط مقرره کړه لکه هغوی یې چې لري. نو رسول اللهﷺ وویل الله اکبر دا قانون

---

١- درخت خار دار را گویند.

٢- سنن الترمذی تحت شماره (٢١٨٠) و گفته است که حدیث صحیح می‌باشد.

ده، تاسې هغه خبره وکړه چې بنی اسرایلو موسی ته کړې وه تعین کړه مونږ ته اله لکه هغوی چې اله لری هغه وویل بی‌شکه تاسې جاهل قوم یاست تاسې به ځی د هغه چا په لاره چې تاسې نه مخکی و.

٥- ځینو به مریو، لرګیو، تیګو، تارونو او غیره ته پناه وړله د نظر د بندولو لپاره یې له دې شیانو استفاده کوله.

دا ټول درسونه ددې لپاره دي چې انسان د مشکلاتو پر وخت الله ﷻ ته پناه ویسي، بی بی مریم چې یوه موحده او یو پالونکي انجلۍ وه د ملایکو د ملاقات پر وخت چې لومړي یي هغوي نه پیژندلې هغوي ته وایي ﴿قَالَتۡ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِٱلرَّحۡمَٰنِ مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيّٗا ١٨﴾ [مریم: ١٨]

«دې وویل زه پناه غواړم په رحمان ذات له تا څخه که ته تقوا لرې»، اوس ماته پوښتنه پیداکیږي چې آیا داسې کسان به هم وي، چې پرته له الهی دربار څخه بل چا ته هم پناه یوسي، بلی داسې خلک شته چې قرآني عقیده نلري توحید یې په زړه کې ځاي ندی نیولي، او یا هم خپله قرآن کریم د هغو مشرکانو کیسه کوي چې پرته له الله ﷻ څخه یي بل چا ته پناه وړله... د قرآن آیاتونه د پیریانو له ژبې مونږ ته قصه کوي چې هغوي ویل: ﴿وَأَنَّهُۥ كَانَ رِجَالٞ مِّنَ ٱلۡإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٖ مِّنَ ٱلۡجِنِّ فَزَادُوهُمۡ رَهَقٗا ٦﴾ [الجن: ٦] «او ؤ یو څه سړی له انسانانو چې پنایې وړله څه پیریانو ته نو زیاته یې کړه د دوی سرکشی».

او خپله یي بیان کړله چې دغو خلکو چې پیریانو ته پناه وړله پرته له دې چې خپل ځان ته تشویش پیدا کړي نور څه یي نه کول.

نني عصرکې هم داسې خلک شته چې د فال لیدونکو خوا ته ورځي او هغوي ته پناه وړي، او یادا چې دغه جادوګر اوفال لیدونکي دوي ته د نورو خلکو لکه پیریانو سره پناه ورکوي، په تعویذونو کې د پیریانو نومونه لیکي، او شیطان هم له جنیاتو څخه و ﴿وَكَانَ مِنَ ٱلۡجِنِّ﴾ بناء دوي په نوي اسلوب سره دهماغو کار تکرار وي چې قرآن کریم په بدیو یاد کړي دی، البته په نورو شکلونو او ډولونو سره.

نن هم داسې خلک شته ته چې اشخاصو ته پناه وړي تاسې ټول قرآن کې ولولي، د قرآن په یوه صفحه کې هم نشته چې کوم پیغمبر کومې ملایکې ته پناه وړي وي، یا داچي کوم پیغمبر کوم پخوانی پیغمبر ته پناه وړي وي، او یا د قرآن کوم آیات امر کړي وي چي د مشکلاتو پر وخت کوم شخص ته پناه یوسي، ولې متاسفانه نن ورځ ډیر خلک شته چې نیکو شخصیتونو ته پناه وړي، سيي ده چې دغه اشخاص نیک شخصیتونه دې، ولې د مشکلاتو په وخت هغوي ته پناه وړل د ټولو پیغمبرانو ددعاګانو مخالف دي.

د اعوذ بالله مخالف دي، مونږ که له شیطان څخه پناه وړو نو رحمان ذات ته پناه وړو، لکه څرنګه چې پیغمبرانو همیشه الهی دربار ته پناه وړله، مونږ که له دردونو او تکلیفونو پناه وړو فقط الهی دربار ته به رجوع کوو او پیغمبرانو غوندې به (ربنا) وایو.

اوس نو ای مسلمانه وروره د الهی امر ﴿فَٱسۡتَعِذۡ بِٱللَّهِۚ﴾ «پنا وغواړه له الله» څخه درس اخلو چې کله هغه مهربان ذات مونږ ته امر کړي دي چې هغه ته پناه یوسو، معلومیږي چې بل چاته پناه وړل د هغه د امر، او غوښتني مخالف دي.

او هر څوک چې پرته له هغه نورو اشخاصو یا شیانو ته پناه وړي په حقیقت کې یې هغه شي او هغه شخص له الله ﷻ سره شریک کړي دي، همدا سبب دي چې ډیر خلک نورو شیانو ته لکه مرى، تیګې، بتان، انسانان، جنیات، حیوانات او غیره ته پنا وړي، او دغه پنا وړلو ته یې شرک ویل کیږي رسول الله ﷺ فرمایي: «من علق تمیمه فقد اشرك» چا چې تعویذ ځوړند کړ نو مشرک شو او همدارنګه د هغو کسانو په هکله چې دفالګر او جادوګر خوا ته ځي او بیا هغوي خپلو تعویذونو کې د جنیاتو نومونه نوشته کوي او هغوي ته پناه وړي نو بناء په مجرد فالګر ته ورتګ سره یې د څلویښت ورځو عبادت نه قبلیږي، او د فالګر او جادوګر په خبرو باور کولو په صورت کې کافر کیږي.

هر کله چې څوک د فالګر او جادوګر خوا ته ورشي او خبرې يي تصدیق کړي او په هغه څه چي جادوګر خپلو تعویذونو کې د شیطانانو او جنیاتو

نومونه نوشته کړي دي باور وکړي نو په هغه څه چې په رسول اللهﷺ باندې نازل شوي دي کافر شو.

اساسي ستونزه داده چې اللهﷻ مونږ ته درس را کوي چې مونږ د هغه دربار ته له شیطانانو څخه پناه یوسو، خو متاسفانه نن ورځ خلک د الهی امر په خلاف د ډېر عادي مشکل پر وخت هم شیطانانو ته پناه وړي، افسوس او سل واري افسوس د هغه چا په حال چې سره له دې چې خپل ځان ته مسلمان هم وایي او بیا هم د جادوګر په وړاندې زنګون ږدي، او هغه ورته د پیریانو خبرې کوي هغه ورته له غیبو خبرې وکړي هغه ورته یو تعویذ نوشته کړي، هغه کې د پیریانو نومونه نوشته کړي او له ټولو خطرناک دا چې ډېر خلک بت پرستو هندوانو ته ورځی، اوس هغه څوک چې یو چا ته ورځي چې تعویذ ورته نوشته کړي نو هغه چا ته پنا وړي، تاسې ښاغلې چې یو فالګر، جادوګر، غیب ویونکی، کف شناسي، نجومی اوغیره ته ورځی هغه خپله چا ته پناه وړي. هغه جنی شیطانانو ته پناه وړي، هغه جني شیطانان انسانی شیطانانو ته څه دروغجن معلومات ورکوي او دغه شیطان بیا هغه باندې څو نور دروغ زیاتوي او د تاسې عقیده خرابوي.

د مثال په ډول د هر شخص سره یو شیطان وي مثلا تاسې پرون شپه لس بجې یو کار وکړ، او یا مو یو میاشت مخکې څه کار وکړ چې هیچا ونه لیدلې، ایا کله چې تاسې دغه کار کوی تنها وي، نخیرتاسې سره ملایکې وي چې د تاسې عملونه یې نوشته کړل همدارنګه ستاسې په سر یو الهی ذات و چې هر وخت ستاسې مراقبت کوي او همدرانګه هلته ستاسې شیطانان و چې تاسې پسې و او غواړي تاسې بی لارې کړي بناء تاسې چې دا کار وکړ دداسې کسانو مخکې مو وکړ چې تاسې هغه لیدلې نشي، په هر حال اوس تاسې یو جادوګر ته ورځي هغه جادوګر له شیطانانو سره اړیکې لري او ستاسې له شیطان سره د هغه شیطان ارتباط نیسي او ترې پوښتني چې تاسې فلاني وخت کې څه کړي دي، هغه شیطان چې پوهیږي چې تاسې څه کړي دي ورته کیسه کوي.

هغه شیطان بیا دغه انسان شیطان ته چې ستاسې مخکې د جادوګر، فالګر، کف شناس، په لباس کې ناست دي کیسه کوي او هغه بیا تاسې ته کیسه کوي،

دې کیسه کې هیڅ غیب نشته او نه هغه تاسې ته غیب ویلی دی، نو بناء تاسې چي دا ضعیفه عقیده لري فورا دغه جادوګر ته تسلیمیږي او ورته وایي چې دا په غیبو پوهیږي او په خپله دې عقیدې سره ځان د ایمان له دایرې نه خارجوي، ځکه چې غیب اللهﷻ ته خاص دي.

اوس چي ته ښاغلي ورور یا خور یو هندو ته ورځي ترڅو درته تعویذ نوشته کړي نو اوس تاسې څه فکر کوي چې دې تعویذ کې هغه څه شي نوشته کوي هغه چي خپله یو مشرک دي په بتانو ایمان لري بتانو ته سجده کوي تاسې ته به څه نوشته کوي.حتما د څه شیطانانو نومونه اخلي او خپلو تعویذونو کې یي نوشته کوي، او تاسې هم پخپل دې کار سره هغه څه ته چي تعویذ کې نوشته شوي دي پنا وړي، اوس نو خپله ووایاست چې چا ته مو پنا وړیده معلوم ده چې شیطان ته.

همدرانګه ځینې جادوګر له هندوانو سره شریک دي، او دا کار خو ښکاره ده چې له انسانی شیطانانو سره رابطې لري او بیا د ایمان دعوي کوي، تاسې فکر کوي چې تاسې کله یو جادوګر ته ورځي نو څه کار موترسره کړي دي. دلته په (اعوذ بالله من الشیطان الرجیم) ستاسې عقیده څه شوه؟ قرآن وایي اللهﷻ ته پناه یوسې او تاسې شیطان ته پناه وړي.

آیا همدا هغه قوي ایمان دي چې مونږ یې ادعا کوو.

بله خبره چې دلته مهمه ده ځیني خلک خپلو مشکلاتو کې مریو ته پنا وړي هغوي غواړي د نظر وهونکو له سره یوه مرۍ د خپلو ماشومانو په غاړه یا اوږه کې ځوړند کړي دلته دغه خلک څه شي ته پناه وړي؟

آیا یوې مرۍ یا یو صدف ته یي پناه نده وړي؟

همدا علت دي چې رسول الله ﷺ دغه کار شرک ګڼلي دي په حدیث شریف کې فرمایي: «من علق تمیة فقد أشرك» چا چی تعویذ ځوړند کړ نو مشرک شو.

٦- نذر عبادت دي: د اسلام مقدس دین له نظره نذر عبادت دي ﴿وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن نَّفَقَةٍ أَوْ نَذَرْتُم مِّن نَّذْرٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُهُۥ﴾ [البقرة: ٢٧٠] قریشی

مشرکینو د خپلو بتانو په نومونو چې هغه يې نیک شخصیتونو ګڼل نذر منلو، ولې دغه عقیده یوائې د غیرالله لپاره مني.

٧- دچا په نوم د حیوان ذبح کول عبادت دي: د قرآن آیات ارشاد کوي: ﴿قُلۡ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحۡيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٦٢﴾ [الأنعام: ١٦٣] «ووایه چې زما لمونځ او قرباني او ژوند او مرګ خاص الله رب العالمین لره دي» مجاهد وايي: «النسك الذبح في الحج والعمرة» نسک د حج او عمرې ذبحي ته وايي په آیات شریف کې دي ﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنۡحَرۡ ٢﴾ [الکوثر: ٢] «خپل رب ته لمونځ وکړه او قربانې» امام مسلم له حضرت علیﷺ څخه روایت کوي چې رسول اللهﷺ راته څلور کلمې راوښودلې او ویې ویل: «لعن الله من ذبح لغير الله» د الله لعنت په هغه چا چې د غیر الله په نوم ذبحه کوي)..

## د عباداتو اهداف

مخکې پوه شو چې عبادت د اسلامي شریعت په اوامرو اونواهیو کې د الهی احکامو ادا کولو څخه عبارت دي یعنې د اسلام مقدس دین هر مومن ته ارشاد کوي چې دغه کارونه ترسره کړه او دغه کارونه ترک کړه بناء دغه مومن انسان دواړو حالاتو کې څه عبادت ادا کړي دي.

اوس ډیر خلک پدې نظر دي چې مثلا فلاني عبادت څه فایده لري، او فلانې غذا یا څښونکی ولې حرام او منع کړي شوي دي؟

دلته باید پوه شو چې: عبادات د دوه هدفونو لپاره ترسره کیږي.

١ - دنیوی هدف.

٢ - اخروي هدف.

### دنیوي هدف:

د عباداتو دنیوي هدف انسان جوړونه، ټولنه جوړونه، په څمکه کې د اللهﷻ د خلافت د مسؤلیت ادا کول او ددنیا ابادي ده.

انسان هغه وخت جوړیږي چې په عبادتونو کې د هغه جسد جوړ شي روح يي جوړ شي او جامعه یا ټولنه هم هغه وخت جوړیږي چې د ټولنې افراد د داسې قانون پیروي وکړي چې ټولنې ته فایده ولري او بیا دغه انسانان هغه اهداف چې د هغې لپاره د ځمکې پر مخ پیدا شوي دي چې عبادت دي د پروردګار عالم د خلافت له ادا کولو او د ځمکې له آبادۍ څخه ترسره کړي.

**الف: جسد جوړونه:**

ډیر عبادتونه د انسان د جسد دفایدې لپاره دي، ترڅو د انسان د جسدي برخې په سالمې ساتنې سره یو مومن فرد وکولي شي چې ټول الهی احکام او دستورونه په سیي ډول سره ادا کړي او له همدې لامله چې هر وخت په مختلفو اسلامي احکامو کې طبي تحقیقات صورت ونیسي ډیر عبادتونه له مرضونو او افتونو څخه د انسان د جسد دوقایې لپاره دي، او ډیر عبادتونه د هغو زیاتو مرضونو د علاج لپاره دي چې دانسان جسد په هغو باندې مبتلا شوي دي.

**ب: روح جوړونه:**

ځینې خلک فکر کوي چې باید ټول عبادات د جسدي فایدو لپاره دلایل ولري ولې دارنګه فکر کول یوه اشتباه ده، ځکه د عباداتو هدف یواځې د وجود فیزیکي ساختمان نه، بلکې له روحي او معنوي اړخه هم عبادات خپل تاثیرونه لري، بناء ډیر عبادتونه دداخلي صفایي (معنویت — روحانیت) لپاره دي چې انسان وکولي شي له دې عباداتو څخه ددې هدف لپاره استفاده وکړي. مومن انسان د عباداتو د ادا پر وخت پدې خبره عقیده کوي چې دده هر عبادت دوه درجې په تقوا، اخلاص، الهی دربار ته نزدیکت، اخروي، سعادت، الهی رضایت، او ټولو معنوي برخو کې پورته وړي، او همدا علت دي چې دده د ژوند ټوله برنامه یواځې مادي منفعت نه وي بلکې معنویت هم د خپل ژوند د برنامې په سر خط کې بردي، او همدا معنویت ده چې انسان ته

يي نسبت ټلو حيواناتو ته برتريت ورکړي دي، هغه يي (اشرف المخلوقات) (باکرامته شخصيت) او د ټولو عالي رتبو خاوند ګرځولي دي.

او همدغه دنبوت د معنويت تربيت ليدونکي و چې هغوي يې له ډيرو هغو بدبختيو خلاص کړل چې نن ورځ مادي نړي په هغې کې ککړه ده.

وايي چې د حضرت علیؓ د پلار له وفات څخه وروسته يو سړي ده ته راغي او ورته يي وويل ستا پلار زما له پلار څخه يو اندازه پيسې قرضدار و، انحضرت پرته له دليل غوښتلو او محکمي ته تللو څخه هغه شخص ته هماغومره مال ورکړ، بله ورځ همدغه سړي ورته راغي او ورته يي وويل چې ما خپلو حساباتو کې اشتباه کړيده په حقيقت کې زما پلار ستا د پلار نه قرضدار و، انحضرت ورته وفرمايل کومې پيسې چې ستا پلار زما پلار نه اخيستې دي هغه ورته ما ښښلې دي او کومې پيسي چي ما تاته درکړي هغه هم تاته ښښل شوي دي.

پدې اساس نه بايد هر اسلامی حکم نه د مادي منافعو تقاضا وکړو بلکې ډير زيات احکام د معنوي صفا لپاره هم راغلی دي.

**ج: جامعه جوړونه:**

د عباداتو د اهدافو منحصرول يواځې په فردي (معنوي او مادي) اړخ کې هم اشتباه ده، بلکې ډير زيات الهی احکام او عبادات د ټولنې جوړوني لپاره هم راغلي دي. ترڅو دغه شخص د خپل شخصيت جوړونې ترڅنګ اسلامی انساني ټولنه هم جوړه کړي او همدا لامل دي چې ډير خلک ترڅو خپله جوړ شوي نه وي د ټولنې په ضرر وي، الهی احکام لومړي د هغوي د اصلاح لپاره هڅه او کوشش کوي او مسولينو ته (هغه دعوتګران وي او که د اسلامي دولت مسولين) هدايت ورکړل شوي دي چې د ټولنې د افرادو په تربيه کې هڅه او کوښښ وکړي، ولې د مريضۍ د زياتوالې او ساري کيدو په حالت کې چې ټولنه فاسدوي بايد دغسې اشخاص په مجازاتو محکوم شي، چي نورو ته پند او ټولنه له ناپاکو انسانانو څخه پاکه شي دمثال په ډول يو شخص د ماشومانو د ګوردو د قاچاق لپاره د دوي په قتل لاس پورې کوي، نو د جرم د

اثبات پر وخت دغه شخص باید قصاص شي، ځکه په جنایتکارانو باندې ترحم ټولنه فاسدوي، خوف وحشت اودهشت حاکموی، او هیڅوک نشی کولي په نورمال ډول ژوند وکړي.

د عباداتو نتیجه او ثمره: هرکله چې انسان جوړ شو بناء د هغه لویه وظیفه چي د پروردګار متعال ذات عبادت دي په کامل ډول سره ترسره کیږي.

د الله‌ﷻ دخلافت لیاقت: داچي انسان د الله‌ﷻ خلیفه دي، ددغه مسولیت دتحمل لپاره باید دي جوړ شي او دغه عبادتونه دي چي دي ددغه دارنده مسولیت د تحمل لپاره اماده کوي، هرکله چي انسان صرف په مادیاتو اوبدن جوړونه مصروف وي، خپل عالي شخصیت له لاسه ورکوي نه یواځې دا چې ددغې لویې وظیفې لایق نه کیږي بلکې خپل شخصیت لکه حیوانات او یا له حیواناتو هم ذلیل تر کوي.

**د ځمکې آبادي:**

د ځمکې ابادي د ملایکو وظیفه نده، انسان ده چي دځمکې د ابادۍ لپاره راغلي دي، بناء د عباداتو سیي ادا کونه دی ددې وظیفې د ادا کولو لپاره جوړوي، ځکه انسان د غرایزو په لرلو سره همیشه غواړي له نورو څخه برتریت ولري. او عبادت دغه قوه او غریزه مثبت طرف ته سوق کوي او روانوي.

**اخروي هدف:**

عبادات د اخروي اهدافو لپاره هم ادا کیږي، ځکه عبادتونه د اخروي ښیګنو دلاسته راوړنې سبب دي، چې عبارت دي له:

الف: د روح وتلو اساني.

ب: د قبر بدلیدل د جنت د باغونو په یو باغ.

ج: د محشر په ورځ د الهی رحمت سوري لاندې د یوې ښایسته چوکۍ مستحق کیدل.

د: د صراط پل څخه په اسانۍ سره تیریدل.

و: د دوزخ له عذابه نجات.

و: د الهی ابدي جنت مستحق کیدل.

# دويم فصل:

# د اسلام مقدس دين کې د عباداتو ډولونه

**فصل کې شاملې موضوع ګانې:**

**۱) وګړيز عبادتونه**

**۲) ټولنيز عبادتونه**

**۳) قانوني عبادتونه**

دا چې د اسلام مقدس دين يو کامل او جامع دين دی، او د اسلام احکام د ژوند ټول اړخونه را نيسي، بناء ددې مطلب د پوهيدو لپاره کولی شو چې د عبادت ډولونه د اسلام مقدس دين کې لومړي د وګړيزی، ټولنيزې او قانوني اساسې څانګو ته تقسيم کړو.

## اول وګړيز عبادتونه:

د وګړيزو عباداتو پيژندنه: وګړيز عبادتونه هغه عبادتونه دي چې انسان کولی شي په ځانته ډول سره هغه تر سره کړي لکه د قرآن تلاوت دسنت او نفل لمنځونه کول، د روزې نيول، ذکر، استغفار، دعا او غيره.

## د وګړېزو عباداتو ډولونه




انسان د انساني ټولنې د یو وګړي په حیث یو لړ مسؤلیتونه لري چې دده له شخص سره تعلق لري لکه فکري عبادات، جسمي او مادي.

له دې تقسیم څخه مخکې باید پوه شو چې احیانا څو نوعه عبادات د انسان په یو عمل کې راتلي شي د مثال په ډول کله څوک حج ته ځي په هغه کې فکري عبادت یعنې نیت او اخلاص شامل دي، هم مالي عبادت کیدلي شي، او هم بدني او جسمي عبادت، ولې د عبادت د ډولونو دښې توضیح لپاره کولي شو لاندې اقسام توضیح کړو:

### فکري (قلبی) عبادتونه

هغه عبادتونه دي چې دانسان فکر، انګیرنې، زړه، تفکر، او تدبر پورې اړیکې لري، هرکله چي یو شخص د اسمانونو او ځمکي د خلقت په هکله فکر کوی او دې نتیجې ته رسیږي چې ددې ټولو خالق پروردګار متعال دی، دده دغه عمل یو عبادت دی، هرکله چي انسان د خپل ځان په هکله فکر کوي مثلا له خپل ځان څخه پوښتنه کوي.

که سترګې مې نه وې څه به مې کول؟ نو هغه ذات چې ماته یې سترګې را کړي دي څومره مهربانه ذات دي؟

که پښې مي شلي وې نو څه به مې کول؟ نو هغه ذات چې ماته یې روغې پښې را کړې دي څومره مهربانه ذات دي؟

که ګورده مې نه وه څه به مې کول؟ نو هغه ذات چي ماته یې ګورده را کړې څومره مهربانه ذات دي؟

که معده مې نه وه نو څه به مې کول؟ نو هغه چي ماته یې معده راکړې څومره مهربانه ذات دي؟

که عقل مې نه و، نو څه به مې کول؟ نو هغه ذات چي ماته یې عقل را کړي دي څومره مهربانه ذات دی؟

پدې شکل انسان دي نتیجې رسیږي او دغه فکري عبادت نسبت بدنې عبادت ته زیات ثواب لري، ځکه د یو ساعت تفکر نسبت د ۶۰ کلونو عبادت ته زیات غوره دي.

د فکر په هکله آیاتونه: فکر او انګیرنه د انسان دعالي صفاتو څخه یو دي چي نسبت ټولو مخلوقاتو ته د انسان د امتیاز او برتریت سبب شوي دي، بناء قرآن عظیم الشان همیشه انسان فکر او انګیرنې ته دعوت کوي، ترڅو له دې لارې وکولي شي چې حقیقتونه درک کړي.

مومن انسان د فکر او انګیرنې په اعتبار هم د الله متعال عبادت کوي پدې آیت شریف کې واقعي مسلمان داسې تعریفوي چي دا هغه خلک دي چی د ځمکي، اسمان او ټولو مخلوقاتو په هکله فکر کوي، او پدې ډول خپل ایمان او عقیدې ته تقویت ورکوي. ﴿ٱلَّذِينَ يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمۡ

وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَٰطِلًا سُبْحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿١٩١﴾﴾ [آل عمران: ۱۹۱] «هغه خلک چي الله تعالی یادوي په ولاړه، په ناسته، په ډډه پراته، او فکر کوي په خلقت د اسمانونو او ځمکي کې ای ربه تا دا ندي پیدا کړي باطل نو وساته مونږه د وور له عذاب څخه»، تفکر یو اساسي فکري او عقیدوي عبادت دي، الله متعال په قران عظیم الشان کې همیشه دانسان تفکیر او انګیرنه مخاطبه وي او هغه خلک چې فکر نکوي تهدید کړي او رټلي دي، ﴿كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْءَايَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١٩﴾﴾ [البقرة: ۲۱۹] «دغه رنګ بیانوي الله پاک تاسې ته آیاتونه ترڅو تاسې فکر وکړي».

﴿أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ ﴿٥٠﴾﴾ [الأنعام: ٥٠] «آیا تاسې فکر نکوي؟».

﴿كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾﴾ [یونس: ٢٤] «دغه رنګ بیانوو آیاتونه هغه قوم ته چې فکر کوي».

﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٣﴾﴾ [الرعد: ٣] «بی‌شکه پدې کې دي آیاتونه هغه قوم ته چي فکر کوي».

﴿أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۗ﴾ [الروم: ٨] «آیا دوي فکر ندې کړي پخپلو نفسونو کې».

﴿لَوْ أَنزَلْنَا هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ عَلَىٰ جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُۥ خَٰشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِۚ وَتِلْكَ ٱلْأَمْثَٰلُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾﴾ [الحشر: ٢١] «که مونږ نازل کړي و دغه قرآن په یو غره باندې نو تابه لیدلي و عاجز او ټوټه ټوټه او دغه مثالونه بیانوو خلکو ته ددې لپاره چې دوي فکر وکړي».

دعقل کارولو په هکله آیاتونه: عقل د الهی نعمتونو څخه یو بل نعمت دي چې هر کله انسان له خپل عقل څخه استفاده وکړي حق ته درسیدو په لاره کې دده غوره رهنما ګرځي. پدې شرط چي دغه انسان خپل ځان له تعصب، تکبر، نشنلستۍ، قوم پرستۍ او رواج پرستۍ نه وساتي او خپل عالی شخصیت وساتی او خپل عقل د یو لوی الهی نعمت په حیث حق ته درسیدو لپاره استعمال کړي الله ﷻ فرمايي: ﴿إِنَّ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ

وَٱلنَّهَارِ وَٱلْفُلْكِ ٱلَّتِي تَجْرِي فِي ٱلْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن مَّآءٖ فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٖ وَتَصْرِيفِ ٱلرِّيَٰحِ وَٱلسَّحَابِ ٱلْمُسَخَّرِ بَيْنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوْمٖ يَعْقِلُونَ ﴿١٦٤﴾ [البقرة: ١٦٤] «بې‌شکه د اسمانونو او ځمکې په پيدايښت کې او د شپې او ورځې په اختلاف کې او هغه کشتۍ چې بحر کې ګرځي ترڅو فايده ورسوي خلکوته او هغه اوبه چې نازلې کړي دي الله پاک له اسمانونو او بيايې وربانديې را ژوندي کړيده ځمکه پس له مرګه د هغې او خپاره کړي يې دي پدې کې هر رنګه ګرځيدونکي او د بادونو ګرځيدل، او د اسمان او ځمکي ترمنځ مسخره ورېځ خامخا نښې دي هغه قوم ته چې پوهيږي».

**دفکري عباداتو ډولونه**




فکري عبادتونه کولي شوپه لاندې ټکو کې خلاصه کړو:

١ - ايمان: ايمان د مسلمان لويه پناګاه ده، ايمان هغه کلکه کلا ده چې انسان د انساني او جنی د ښمنانو د حملو مقابل کې ساتی، ايمان ده چې د انساني شيطانانو د تطميع تهديد او تخويف[1] مقابل کې د انسان د مقاومت سبب ګرځی.

ايمان تقاضا کوي چې يو مسلمان د الله ﷻ په وجود، يو والي (توحيد) په اسماني کتابونه، ملايک، پيغمبران، د آخرت ورځ، قضا اوقدر، پس له مرګه

---

١- تطميع له طمع ښخه اخيستل شوي چې د اسلام دښمنان پر مسلمانانو د برلاسی لپاره احيانا هغوي د پيسو په ورکولو، چوکۍ او جنسي خواهشاتو تحريکوی ترڅو دغه انسان دغو امورو ته د طمع په خاطر هغوي ته تسليم شی، تهديد داده چې دښمنان د تطميع د ناکامۍ پر وخت مسلمانان له بند ښخه ډاروي، او تخويف له مرګ او بدنامۍ ښخه ويرول دي.

ژوندي کيدل، جنت، دوزخ، صراط، د جنياتو موجوديت، شيطان او غيره امورو باندې چې قرآن کريم کې ذکر شوي دي کامل يقين ولري.

همدارنګه ايمان تقاضا کوي چې يو مومن فرد لاندې امور مراعات کړي:

له شرک، کفر، په دين او اسلامي مقدسو امورو له استهزا څخه ځان لرې وساتي.

پوښتنه: ايا ايمان لرل عبادت دي؟

ځواب: د ايمان ضد کفر دي، او کفر لويه ګناه ده، بناء ايمان لرل لوي عبادت دي، چې د انسان له فکر انګيرنې او زړه سره تعلق لري.

پوښتنه: ايا توحيد هم عبادت دي؟

ځواب: د توحيد ضد شرک دي او شرک لويه ګناه ده توحيد هم لوی عبادت دي.

٢- باور: باور عبارت دا چې يقين لرل پدې چې قرآن کريم د ژوند کتاب دي، هغه کامل نظام دي چې ټولو فکري، عقيدتي، وګړيز، ټولنيز، اقتصادي، سياسی، تعليمي، تربيوي، عسکری، قضايي او فرهنګي څانګو ته شامليږي حقيقی مومن انسانان باور لري چې قرآن د ژوند کامل نظام دي چې د ژوند ټولو نظامونو ته شامل دي، په همدي اساس په قرآن باور لرونکي د قرآن قوانينو او قرانی نظام د تطبيق لپاره هڅه او کوښښ کوي، ترڅو، د لااله الا الله بيرق د ټولو دولتو پر سر ورپيږي او دا د توحيد کلمه ده چې د بشريت د توحيد او يو موټې کيدو سبب کيدلی شي. پرته له دې به انسان هميشه سر ګردانه پريشانه او د سوکالۍ په لټه کې وي، او سوکالي پرته له قرانه هيڅکله ممکنه نده، ځکه ددنيا او آخرت سعادت او سوکالي د قرآن د نظام په تطبيق کې پرته ده.

زيات خلک دي چې د ايمان ادعا کوي ولې په قرآنې قوانينو او پدې چې قرآن د ژوند کتاب دي باور نلري، ددې بې باورۍ اساسی علت په مسيحيت او هندوييزم باندې د اسلام نادرست او غلط قياس دي.

په وروستیو کلونو کې یو تعداد مسلمانانو په یو شکل نه یو شکل د غرب سیاسي تاریخ او د غرب د ادیانو تاریخ چې د غربی پوهانو په واسطه لیکل شوي دي مطالعه کړي دي، هغوي خپل غربی مطالعات په شرق کې تطبیقوي او په ډیرو حالاتو کې اسلام ته لکه مسیحیت غوندې فکر کوي، او د مسلمانانو تاریخ د مسیحیانو تاریخ غوندې ګڼي.

د حقیقت د وضاحت لپاره باید لاندې ټکو باندې پوه شو:

مسیحیت هغه دین دي چې دري اساسي عنصره پکې وجود لري:

۱- له خداي سره د ذکر او دعا له لارې رابطه.

۲- د انسانانو ترمینځ اخلاقي مسایل.

۳- د ازدواج او طلاق مسایل.

په مسیحیت اود هغوي په مقدس کتاب (بایبل) کې د سیاسي، اقتصادي، اجتماعی او عسکري نظام او غیره په هکله څه وجود نلري، بناء بایبل کې نوشته شوي دي هغه څه چې خداي پورې اړه لري هغه خداي پورې اړه لري، او هغه څه چې امپراطور پورې اړه لري امپراطور پورې اړه لري دغه حقیقت یو تن مسیحي کشیش چې د اسلام په مقدس دین مشرف شوي په لاندې ډول سره توضیح او تشریح کړي دي:

(سامی فرناندس) د (مسکمینو فرناندس) ځوي چې په ۱۹۵۵ م کال د سیبوي جزیرې، د بیسایس منطقه د فلپین هیواد کې پیدا شوي دي، د پروتستانت مذهب یو کشیش دي، چې ۱۹۷۹م کې دلاهوت ایدیولوژیک پوهنتون څخه فارغ التحصیل شوي دي، دغه پوهنتون د مذهبي متخصصو کادرونو په تربیه لکه کشیشان او منصرین (هغه څوک چې خلک مسیحیان کوي) مشغول دي.

هغه وایی: ددغه پوهنتون د هغه وخت قوانینو تقاضا کوله ترڅو له فراغت څخه وروسته د عملي تعلمیاتو مرحله د اتلسو میاشتو لپاره تیره کړو، په دې وخت کې زه دمسلمان نشینه منطقو د خلکو د مسیحي کولو په کار باندې د فلپین په جنوب کې مشغول شوم، همدارنګه دغه وخت کې مکلف وو، ترڅو

يو بحث د شرقيانو دديني فرهنګونو په هکله وليکو، او الهی تقدير همدا و چې زه د اسلام د فلسفې په هکله د بحث په ليکلو وګمارل شوم. مسيحيان د مسلمانانو د ګمراه کولو لپاره له هرې وسيلې نه کار اخلي، او دې هدف ته د رسيدو په خاطر لومړي کوشش کوي د مسلمانانو په هکله زياتات معلومات ولري. د مسلمانانو د فکري اساساتو په هکله، د هغوي دضعف ټکي، د مسلمانانو ژبني، قومي او قبيلوي اختلافات، هغه تکتيکونه چې داسلامی تمدن په صدر کې د مسلمانانو د بريالیتوبونو سبب شويدي تر څېړني لاندې نيسی، ترڅو ددې مسايلو په درک سره وکولي شي په ښه ډول د هغوي په ضعيفولو، اود مسلمانانو له منځه وړلو، او يا هم منسوخ او د بشر لاسوهلو اديانو ته د هغوي په کشولو کې بريالي شي.

زه د خپل علمی اثر د ليکلو دامادهګۍ لپاره دکتابونو او هغو مراجعو په را ټولولو مشغول وم چې د اسلام اود اسلام در سول حضرت محمدﷺ په هکله و. ځکه مونږ په پوهنتون کې زده کړي و چې که غواړې خپل دښمن ته ماتې ورکړې بايد د هغه په هرڅه باندې پوه شي (اساسات، فکری مبادي، تکتيکونه، روانی اړخونه او غيره).

هر کله چې څوک د اسلام دين په ښه ډول سره مطالعه نکړي او يا هم دغير مسلمانانو کتابونو او مراجعو ته رجوع وکړي او وغواړي چې د اسلام دين له هغوي نه زده کړي هيڅکله نشي کولي حق ته ورسيږي. اويا هم د اسلام مقدس دين حقانيت درک کړي، ځکه د کليسا متعصب علما او د غرب استعمارګر حکومتونه اسلام په غير صحيح شکل سره خلکو ته معرفي کوي، پيغمبر ﷺ له خپل اصلي شخصيت څخه لرې معرفي کوي، او مسلمانان دتروريستو انسانانو په حيث ناپوهه او بې اخلاقه معرفي کوي، غالبا د بعضې بی علمه مسلمانانو اشتباهات يې وسيله نيولې او د بعضې مسلمانانو د عيبونو تصويرونه يې د اسلام پيژندني اساس جوړ کړي دي. ځيني داخلي جنګونه چې د مسلمانو ملتونو د اکثريت له رضايت څخه پرته د څه مشکلاتو او د ځينو ګروپونو او سياسی احزابو د تعصباتو په اساس را پيداکيږي هغه يې په دين پورې تړلې دي.

د اسلام مقدس دین متهم کوي او پدې ډول دحق پټولو لپاره یو پوښ لټوي او د غربیانو سترګې د اسلام د حقانیت له درک څخه منع کوي، ولې پوهان او علمي اشخاص د حقیقت د لاس ته راوړو لپاره کوښښ کوي، ترڅو واقعیت خپله د مسلمانانو له ژبې او اسلامي کتابونو څخه پیدا کړي.

ښاغلي فرناندس پدې هکله وایي: ځینې کتابونه چې د اسلام په هکله و هغه مې د نرامبوانګاد ښار د تنصیر له پوهنتون څخه ترلاسه کړل، خو دا چې ددې کتابو مولفین غیر مسلمانان و اسلام یې د خپل نظر مطابق تفسیر کو، پدې توګه مې پدې کتابونو قناعت حاصل نشو ځان سره مې وویل: ولې اسلام د مسلمانانو د لیکنو له لارې مطالعه نکړم نو دداسې کتابونو په لټه کې شوم چې هغه مسلمانو مولفینو تالیف کړي و، لومړي مې دوه کتابه په لاس راغلل اول (اسلام.... هغه دین چې تهمت پرې ویل شوي) د ابوالاعلی مودودی کتاب او دویم کتاب (اسلام د میکروسکوب لاندې) د حموده عبد العاطي تالیف.

سامی فرناندس دغیر مسلمانانو او مسلمانانو د کتابونو له دقیقې مطالعې وروسته پوه شو چې د دواړو ډلو دنوشتو ترمنځ فرق دي، غیر مسلمانان خصوصا مخالفین او د اسلام د ښمنان د خلکو د ګمراه کولو لپاره دوه ډیر خطرناک کارونه ترسره کوي:

۱- اسلام په ناقص ډول سره نورو ته تشریح او بیانوي، یعنې د اسلام یوه برخه را اخلي او هغه له نورو منزوي انتقاد لاندې نیسي او پدې رنګ خلک فکر کوي چې اسلام یو ناقص دین دي.

۲- مخکې له تحقیق او مطالعې څخه حکم صادروي، او د هغې دښمنۍ په اساس چې اسلام سره یې لري وایي اسلام حق دین ندي، او د دوي دغه مخکني احکام او تصمیمونه حق ته خپله د دوي د رسیدو مانع ګرځي. اوهم نور ګمراهۍ ته کشوي.

هغه دغه دوه ټکي داسې بیانوي (کله مې چې د استاد مودودي کتاب ولوست له هغه څه چې د اسلام په هکله پوهیدم کاملا یو مخالف فکر راسره

پيدا شو، ځان سره مى وويل: ولې دا ونه منم؟ اوس را ته اسلام د خپل يو ځوي له خوا وړاندې کيږي، ولې د دواړو وړانديزنو ترمنځ زيات فرق و، ځکه اوس اسلام په خپل کامل شکل سره وړاندې کيږي، نه له يوه اړخه او مخکنيو فيصلو سره هر کله چې مونږ اسلام له اړخه ووينو، نو د اسلام حقيقت څرنګه چې لازم دي درک کولي نشو، او د اسلام ارزښت راته هغه وخت معلوميږي چې هغه په کامل شکل لکه يوه متکامله او مترابطه کتله د تحقيق او څيړنې لاندې ونيسو ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱدْخُلُوا۟ فِى ٱلسِّلْمِ كَآفَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا۟ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَـٰنِ ۚ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٢٠٨﴾﴾ [البقرة: ٢٠٨] «اى مسلمانانو داخل شي په ټول اسلام کې او پيروي مه کوي د شيطان دقدمونو بي شکه هغه ستاسې ښکاره دښمن دي».

ښاغلي سامى فرناندس چې اسلام د مسلمانانو په ليکنو کې مطالعه کړ اسلامى حقايقو په هغه کې اثر وکړ او دا چې يو متعصب او خود خواه انسان نه و او هر اسلامى حقيقت يې منفى نه تفسير و ددغو حقايقو په هکله د زياتو معلوماتو غوښتونکي شو، هغه وايي: له دې وروسته د اسلام په هکله دزياتي مطالعې او زياتو معلوماتو علاقمند شوم له فلپين څخه بهر د ځينو هغو مرکزونو سره پوستي تماس کې شوم چې کتابونه توزيع کوي، چې له هغې جملې څخه (داغلي عايشه بواني د وقف مرکز) په پاکستان کې، (داستاد ديدات مرکز) په جنوب افريقا کې او اسلامي موسسه په لندن کې دي، او يو لړ غوره کتابونه مې ترلاسه کړل، ددې کتابونو له جملې څخه (محمد د بشريت معلم) کتاب د افضال الرحمن تاليف ما باندې تاثير وکړ، او زما د زړه په عمق کې يې اثر وکړ دغه کتاب دپيغمبر ژوند او شاهکاريانې بيانوي.

له دې وروسته مې د اسلام په سيي فهم باندې پيل وکړ او احساسو له مې چې اسلام حقيقتا حق دين دي، دا احساس وروسته له هغې و چې ما ټول معاصر اديان او مذهبونه او فرقې مطالعه کړې وې، ان هندي عقايد، چيناي او دا سيوي اديانو تعليمات.

همدلته و چې په مسيحيت باندې زما قناعت ضعيف کيده احساسو له مې چې ددې کلونو په اوږدو کې بيهوده مشغوله وم ځکه ننی مسيحيت يو خالي منځه دين دي، چې د انساني ژوند لپاره په هيڅ شکل د اشکالو خدمت نشي کولي، ځکه که د حاکميت او سياسي نظام او دولت دارۍ په هکله مسيحيت کې بحث وکړي هيڅ شي به پيدا نکړي، هر کله چې د اقتصاد، مالی امورو او هغه څه چې ورپورې تعلق لري په هکله مسيحيت کې بحث وکړي هيڅ نتيجې ته به ونه رسيږي او هر کله چې مسيحيت څخه د اجتماعی ارتباطاتو، د وګړو او ټولنې ترمنځ د روابطو د تنظيم پوښتنه وکړي نو خپلې پوښتني ته به هيڅ ځواب پيدا نکړي، ان کمونستې نظريات صرف نظر اشتباهاتو څخه اقتصادی او اجتماعي نظريات لري، خو مسيحيت پدې هکله هيڅ نلري، ځکه مسيحيت د کليسا او ديرو د څلورو ديوالو له احاطي څخه بهر ندي وتلي، صرف ځينې طقسونه لکه لمنځونه، د ودونو مختلف محفلونه، د اطفالو نصرانی کونه، او د مړو فاتحه خواني وي. ولې هغو مشکلاتو ته چې انسان ته په ورځني ژوند کې پيداکيږي هيڅ حل نلري.

ښاغلي سامی فرناندس چې خپله يو متخصص او د مسيحيت يو لوي روحانی شخصيت و او په همدې څانګه کې يې تحصيل هم کړي و ددغه دين له کميو او عيبونو څخه پرده پورته کوي او وايي: چې نني مسيحيت ټول هغه قوانين چې يو مکمل دين يې بايد ولری نلري، مسيحيت (نصرانيت) د اقتصادي او سياسی او اجتماعي برخو څخه خالي دي، چې نشي کولي د انسانانو مشکلات په کامل شکل سره حل ا وفصل کړي، ولې ددغو ټولو مسلو حل د اسلام مقدس دين کې پروت دي، ځکه اسلام الله متعال د بشريت د هدايت لپاره د محمدﷺ له بعثته د قيامت تر ورځې پورې تعين کړي دي، اودا چې کامل دين دي ټولو سياسي، اقتصادی او اجتماعي ابعادو ته شامليږي، چې کولی شي د يو حق پلټونکي انسان د ټولو پوښتنو ځواب ووايي، هغه وروسته له دې چې د اسلام او مسيحيت ترمنځ مقارنه کوي او له مسيحيت څخه خپله ستړيا اظهار وي د اسلام مقدس دين په هکله داسې نظر څرګندوي: (وروسته له دې چې د يو کال په اوږدو کې مې اسلام د کتابونو په

منځ کې پیدا کړ احساس مې کړه چې خپله ورکه مې پیدا کړه د هغو ټولو پوښتنو چې زما ذهن کې ګرځیدلي او مسیحیت کې یې ځواب نه درلود د هغو ځواب مې اسلام کې پیدا کړ، خو تر اوسه مې هم د کلیسا په مراسمو او هغو کارونو کې چې دې پورې متعلق و برخه اخیستله خو پرته له اهتمام او قناعت څخه ځکه نه مې شو کولي په یوه شپه او ورځ کې تغیر وخورم او دا هغه کار دي چې زیات وخت ته ضرورت لري.

د اسلام مقدس دین د اجتماعي عدالت دبې وسو د مشکلاتو د رفع کولو لپاره زکات فرض کړي دي، چې دا زکات له غنیانو اخیستل کیږي او فقیرانو ته توزیع کیږي، ددینې عالمانو وظیفه داده چې خلک خبر کړي ترڅو خپل کلنی زکات فقیرانو ته ورکړي. ولې مسیحیت کې غنیانو باندې زکات نشته بلکې کشیشان د کلیسا له پیروانو ٪۱۰ عواید اخلی او دغه فیصدی په ټولو خلکو حتی هغه چې ډیر کم عواید لري هم په اجباري شکل سره تطبیق کیږي، چې دا قانون په فقیرانو او بی بضاعته خلکو باندې یو رنګه ظلم دي. ښاغلي سامی فرناندس پدې هکله د خپل ژوند واقعیت هغه وخت چې کشیش و داسې بیانوی: (دا وخت په مونږ کشیشانو باندې لازم وه چې باید د خلکو له مالونو څخه ٪۱۰ فیصده کلیسا ته ټول کړو، ما له فقیرانو، عادي کارګرانو لکه سکاره خرڅوونکي او لرګو ځمکو والا دهقانانو څخه ددغو مالونو ټولولو پر وخت د خجالت احساس کو، احساس می وکړچې دا داسې ظلم دي چې مناسب ندي، هغه زیاتوي: (دلته غواړم یو مطلب ته اشاره وکړم چې ددي کشیشانو او راهبانو وظیفه غالبا د خپلو اتباعو د عواطفو تجارت او په باطله دهغوی د مالونو خوړل وي، ما نور دا کارونه نشو تحمل کولي، ددغو کلیسایي مالیاتو ټولول می توقف کړل، په رادیو کې مې (د انجیل پیغام) په نوم یوه برنامه لرله، ددې برنامې پرمخ بیول مې هم توقف کړ، همدارنګه مې د خلکو د نصرانی کولو له پروګرام څخه هم انکار وکړ، او پاي کې مې په کلې ډول سره کلیسا ته تګ پریښود، ملګري مې څو ځله راته راغلل بیرته د کلیسا تګ ته یې دعوت کړم مابه ورته ویل چې زه ستړي یم، او روح مې د کارکولو لپاره تیار ندي، خپلو مطالعاتو ته مې دوام ورکړ او احساس مي کړه چې اسلام

می لړ لړ په زړه کې ننوځی، البته پرته له دې څخه چې اعلان وکړم ولې ټولو هغو انسانی وجایبو ته چې اسلام یې مونږ ته امر کوي ور مخکې کیدم مهمترین شي چې دغه وخت زما زړه کې رسوخ وکړ دا و چې پرته له اللهﷻ څخه هیڅ بل معبود نشته، او د درې خدایانو خیال، الله ځوی نیولی، او ددې عقایدو فلسفه یو رنګ لیونتوب و، حتی مخکې له دې چې زه په کامل شکل په قرآن کریم باندې پوه شم ځکه چې دا عقیده د انسان له عقل سره مخالفه ده، ځکه که اللهﷻ د انسان په شکل کې ښکاره شي او کوم ځوي ونیسی نو بیا د الوهیت مستحق ندي، ځکه اللهﷻ چې څرنګه خپل ځان توصیف کړي دي (قوی، قادر، شدید، خوب نه کوي، او هیڅ شي له هغه څخه پټ ندي او غیره) نو بناء اللهﷻ اړتیا نلري چې د کوم انسان په شکل یاد غوا په شکل او یا بل حیوان لکه څرنګه چې ځینې ګمراه ادیان عقیده لري ظاهر شي نعوذ بالله.

ښاغلي سامی فرناندس وروسته له هغه چې د نصرانیت (مسیحیت) عقاید ناقص او غیر معقول بولي اودا چې هغوي حضرت عیسیؑ چې د مریم ځوي دي او د ټولو پیغمبرانو په څیر یو مخلوق او الهی استازي دی، د الله تعالی ځوي جوړوي باطله عقیده ده، د اسلام مقدس دین باندې د خپل قناعت دلایل داسې بیانوی: (په حقیقت کې درې اساسي محوره و، چې زه یې اسلام ته جذب کړم اودا امور مې له اسلامه پرته نورو ادیانو کې پیدا نکړل:

١ - اسلام د بشریت له طبیعي فطرت سره موافق دي.

٢ - د اسلام کامل والي (شمولیت) ځکه اسلام سیاست، د حکم نظام، اقتصاد مالي نظام، کورني او اجتماعی روابط او فطري روحي برخو ته شاملیږي.

٣ - د اسلام نړیوال پیغام: د انسان اصل له ادمؑ او حوا څخه دي، او ټول بشر ورونو غوندې دي. د کوم سیاسی حزب، یا اجتماعی موسسې او یا اقتصادی سازمان سره د تړاو ضرورت نلري، داچې مسلمان یې کافي ده. او ټول هغه ارتباطات چې دغه سازمانونه یې غرب کې لازموي اسلام کې شته دي. ځکه غربیان د اخوت، وروړګلوي،

همکاری، اجتماعی تکامل او غیره معاني نلري بناء خیریه سازمانونه یې د (برادرزهود) په نوم سره په خپل ژوند کې ددغو ورکو اړخونو د ډکولو لپاره تاسیس کړي دي. خو مسلمان ددغو موسساتو تاسیس ته ضرورت نلري. ټول په یو خداي، یو قرآن، یو پیغمبر، یوې قبلې، سره د ژبې او رنګ له اختلافه را ټول دي.

**د کلیسایي اعمالو د درولو پر وخت د کلیسا عکس العمل:**

کله مې چې کلیسا ته له تګ څخه ځان وساته، مانه یې پوښتنه وکړه: څه غواړي؟ څه ضرورت لرې چې درته یې اماده کړو؟ کله چې مقابله پیل شوه ما ورته وویل هیڅ شي نه غواړم، ولې نه غواړم داسې پیغام خلکو ته ورسوم چې زه پري عقیده نلرم، او همدا وخت و چې الله جل جلاله غوښتل هغوي نور پریږدم، البته وروسته له هغه چې زما سترګې او زړه یې په هغه څه روښانه کړي چې ما غوښتل هغه درک کړم کیداي شي له دې مخکې اماده نه وم، چې دغسې تعینوونکې ګام واخلم.

اما د الله جل جلاله علم کې مناسب وخت راته راغي او ما ته یې د هغې توفیق راکړ، ماورته وویل چې دا شخصی موضوع نه بلکې اعتقادي موضوع ده، له دې وروسته یې ماته درې تنه لوي کشیشان راولیږل هغوي ته مې د اسلام اساسات او تعلیمات بیان کړل، کوشش یې وکړ ما سره هم له هماغو حیلو او نظریو نه کار واخلي چې د خپلو افکارو د خپرولو لپاره یې استعمالوي، او ما باندې یې هم تجربه کړي، پداسې حال کې چې زه او هغوي له یوې ایدیالوژیکې فاکولتي څخه فارغ شوي وو، او پوهیدم چې څرنګه دغه نظریات چې کیداي شي عام خلک پرې قناعت وکړي رد کړم، بناء زما دلیل قوي و، د هغو عقیدو په هکله چې دوي پرې معتقد دي د هغو د تفسیر او حل په هکله مې له دوي څخه پوښتنې وکړي، او ورته مې وویل که ددې سوالونو ځوابونه را کړي بیرته درسره ګرځم، له هغې جملې څخه دا پوښتنې وي: په انجیل کې د مسزوایت په نبوت او یا الهي استازي توب باندې کوم دلیل لري؟ ایا انجیل کې د فقیرانو له عوایدو د ٪۱۰ مالیاتو د ټولولو په هکله کوم حکم لري؟ د

کليسا د ننه مو د لمانځه پر وخت د بيانو، ګيتار او د موسيقی د نورو وسايلو غږ اجازه مو له کومه راوړيده؟[١].

هغوي ددې پوښتنو ځوابونه ورنشو کړلي، نو ما ورته وويل: (اوس حق ښکاره شو) او ما دوي د دوي د عقل څخه په استفادې سره دعوت کړل او اسلام مې ورته تقديم کړ، زما له خوا څخه لاړل او د خلکو منځ کې يې خپره کړه چې زه ليوني يم او زما نوم يې د کليسا له اسنادو څخه وواهه.

**ددغه نوي مسلمان ستونزې:**

هغه چې حقيقتا د اسلام په مقدس دين باندې عقيده لري مجبور دي ترڅو هغه الهی امتحان چې خبل بندګان ډير وخت پرې ازمويي ووينې. ښاغلي نجيب رسول وروسته د الهی وحدانيت له شهادت او د (لااله الا الله محمد رسول الله) له کلمې ويلو وروسته پخپل ژوند کې زيات مشکلات تحمل کړل، له کور والا جدا کيدل، له وظيفې لرې کيدل، له کوره شړل کيدل، او نور زيات مشکلات، پدې هکله واي: (له دې وروسته الهی ازميښت تحقيق او امتحان راغي، په ژوند کې می سخترينې لحظې راغلی وروسته له دې چې ښځه، کور او وظيفه می له لاسه ورکړل يواځې پاتې شوم او هغه څه چې زما مشکلات يې زيات کړل د ځينو مسلمانانو شک و چې ګمان يې کو زه ظاهرا خپل ځان مسلمان ښايم ترڅو حکومت ته جاسوسي وکړم دې وخت کې زه نه مسيحيانو غوښتلم او نه مسلمانانو، زه دا موضوع په تفصيل سره وايم ترڅو مسلمانان په راتلونکی کې له دې څخه استفاده وکړي. خپل شخصي وسايل مې را ټول کړل او له کوره ووتم، او په مسجد کې می واړول، ټول يقين مې داو چې الله ﷻ ما امتحان کوي، د لمانځه او ژړا ترمنځ پوره څلويښت ورځې پاتې شوم تردې چې يوه ورځ يو تن مسلمان چې د مسجد علاقه کې اوسيده زما

---

١- ښاغلی نجيب رسول پوهيده چې مسيحيان هره ورځ خپل دين تغيروي او د مسيحيت دين کې د احکامو د اضافه کولو قوی او اساسي دليل هغه مسايلو چې راهبان يې ساکت کړل ځکه دوي د هه پوښتنو ته ځوابونه نه درلودل.

خواته راغي او راته يې وويل: سره له دې چې زه شک لرم چې شايد جاسوس اوسي، ولې بيا هم تاسره مرسته کوم، او حقيقتا هغه را ته خوراک او څښاک تيار کړ او زه يې خپل کور کې د اوسيدو لپاره دعوت کړم او مونږ دغسې مسلمانانو ته ضرورت لرو، له دې وروسته مې د کار او له نا اميدۍ څخه د خلاصون فکر وکړ دکار په هکله مې په راديو کې د اسلامی دعوت برنامې باندې فکر وکړ او د هغې راديو ستديو ته ولاړم چې د مسيحيت برنامه مې پکې خپروله د لومړنيو راديويي برنامو په خپرولو کې مرسته وکړه، وروسته له دې ماته دليبيا سفارت دعوت راکړ ترڅو دطرابلس پوهنتون کې يو کنفرانس ورکړم او دا لومړي ځل و چې زه ددعوت لپاره له فلپين څخه بهر ولاړم، له دې وروسته مې بيا ماليزيا، تايلند، سنګاپور او نورو اسيايي، منځنی ختيځ، او يو اندازه اروپايی هيوادو ته سفر وکړ الحمدلله.

**مناظرې او کشيشانو سره خبرې اترې:**

زه د يو مسلمان په صفت پدې باوريم چې اسلام ته بلنه دهر مسلمان وګړي وجيبه ده، اللهﷻ په ټولو مسلمانانو باندې د اسلام د مقدس دين تبليغ فرض کړي دي، او مونږ بايد له ټولو مخکې راهبان او کشيشان اسلام ته دعوت کړو، ما د اللهﷻ په فضل او رحمت سره دهغوي له يو څو کسانو سره څه مناظرې کړې دي، له هغې ډلې څخه يوه مناظره دکاتوليکانو د يو لوی کشيش سره چې زما خپلوان هم دي، او د بويما ارنيتا په نوم سره لوي منصر هم دي، او بيا له پاستورولی مانتو سره، هغه سړي چې امريکا کې يې د اسلام پر ضد د جنګ لپاره تمرين ليدلي دي، او ماسره دمناظرې دروازه د تولو لپاره وازه ده، ولې زه هغه مناظرې نه خوښوم چې هغو کې نورو ته چيلنج ورکړ شوي وي، ځکه دغه رنګ مناظرې په هغه څه باندې چې زمونږ هدف دي چې هغه د اسلام مقدس دين د حقيقت د اظهارولو توقع ده منفي او برعکس اثر کوي.

فعلي مصروفيتونه: ښاغلی ورور نجيب رسول د خپلې اسلامي وظيفې په درکولو سره (يعنی د اسلام مقدس دين ته دعوت) غلی ناست ندي، او شپه او ورځ يې ددعوت لاره مخکې نيولې ده، هغه وايي (زه د الله تعالی په فضل

سره، ددعوت برنامه درادیو له لارې دهاي سیبو، تجرور، لو لو، زامبو اجنا، کوتاباتو، الیجان او بکرونون ښارونو کې پر مخ وړم، هغه وایي (زه غالبا د غیر مسلمانانو دعوت ته زیاته پاملرنه لرم، ځکه دا کار زما د تخصص مطابق هم دي، چې هغه په ښه ډول سره ادا کولي شم، علاوه پردې زه په مختلفو ځایو کې منظم او مرتب کنفرانسونه او سیمینارونه دایروم، او یو میاشت مخکې مې د اسلامي دعوت لومړی تلویزوني برنامه د (اسلام غږ) په نوم سره پیل کړې وه، چې د دیارلسم چینل له لارې هره اونۍ کې د یو سات لپاره خپریږي، او د فلپین تاریخ کې لومړې اسلامی کار دي. زمونږ مسلمان ورور نجیب رسول قرآن عظیم الشان د اسلامی دعوت عالترینه نمونه بللې ده، او غواړي چې هغه خپلو وطنوالو ته تقدیم کړي، دده وطنوالو ته د قرآن کریم د فهم بهترینه وسیله د قرآن کریم ترجمه ده تر اوسه د هغوي په ژبه ندی ترجمه شوي، هغه دیو مخلص او مسلمان دعوتګر په حیث مثبت موقف پیدا کړي دي چې قرآن کریم په ترجمه باندې پیل کوي هغه وایي: اخر مې هم دالله په فضل سره په سیبوانو ژبه باندې د قرآن کریم ترجمه مکمله کړه.

ښاغلي نجیب رسول چې پخوا یې د مسلمانانو د تنصیر په ځانګه کې وظیفه ترسره کړیده د هغوي ټولې برنامې یې مطالعه کړي دي، او هغه موسسې ښې پیژني چې د مسلمانانو په نصرانی کولو کې فعالیت کوي، هغه په دې هکله خپل نظر داسې څرګند کړي دي: په فلپین کې د نصرانی کولو حرکت اوږد تاریخ لري او دغه هیواد نسبت د جنوب شرق اسیا نورو هیوادونو ته دې ځانګې ته زیاته پاملرنه کړې ده، بناء د هیواد په شمال او وسط کې په تنصیري تغیر باندې کامیاب شو، او اوس غواړي چې د میند ناو منطقه مسیحي کړي، پدې ځمکه یې په ملیونو ډالر مصرف کړل، او ددې کار مسولیت درې اساسې جهتونه چې د (لویې ونې) په نوم سره یادیږي په غاړه اخیستې دي، چې هغه د امریکا کلیسا د انګلستان کلیسا او واتیکان څخه عبارت دي او پدې ځاي کې د قوي برخې او تسلط خاوند واتیکان دي. هغوي خپل هدف ته د تحقق ورکولو لپاره په متعددو محورونو باندې اعتماد کوي، چې ددغو محورونو مهمترین یې یوه برخه ده د (F-E-A) فرست اکونومیک استنس) په نوم سره او هدف

يې د استفاده کوونکو له ضرورتونو سره مطابق د مالي کومکونو تقديمول دي. مثلا که دهقان ياست تاسې ته زراعتي ترکتور، زراعتی تخمونه او د زراعتي افتونو ضد دواګانې درکوي. د دوې دويمه برخه د با استعداده فقيرو زده کوونکو جلب او جذب دي چې والدينو ته يې پيسې ورکوي او ددوي زامن د مسيحيت (نصرانيت) مکتوبونو ته جذبوي، علاوه له دې څخه يوه ډله متخصصين لري چې په مسلمان نشينه منطقو کې شفاخانې، کلينکونه او مکتبونه جوړوي هغوي خپل خدمتونه په مفته وړاندې کوي، او همدارنګه يتيمانو ماشومانو ته له وړکتوبه هغسې تعليم او تربيه ورکوي څرنګه چې دوي غواړي همدارنګه يوه زياته ډله نصراني کوونکې د بهرنيو هيوادو څخه لکه امريکا، اروپا، استراليا څخه د ميندناوپه مختلفو منطقو کې مصروف دي. چې دعامه رسنيو (راديو – تلويزيون) او مطبوعاتو له لارې د خپلو اهدافو د تحقيق لپاره استفاده کوي.

مسلمانان کولي شي چې د دوې دغه برنامي له مسجد او اسلامی مکتبو څخه د مسلمانانو دفهم او بيدارۍ دمرکزونو په ډول له ګټې اخيستلو سره خنثی کړي، او مسلمانانو ته د هغوي د سيسې بيان کړي، او بايد هيره نکړم چې د فلپين حکومت د نصرانی کوونکو سازمانو د ملاتړ لپاره خبري او اطلاعاتي رسنۍ د هغوي د خدمت لپاره ټاکلې دي. چې دغه شبکې په مستقيم ډول د رئيس له دفتر سره اړيکي لري.

دا چې د فلپين حکومت يو مسيحي حکومت دي او مسلمانان په حکومت کې څه رول نلري، نو دغه حکومت هم د مسيحيت په برخه کې له نصرانی کوونکو سره مرسته او همکاري کوي. ښاغلي نجيب رسول پدې هکله وايي: نظر د هيواد په اساسې قانون سره چې سيکولر دي حکومت حق نلري چې له ديني ډلو سره همکاري وکړي ولې په حقيقت کې د هغه پر خلاف عمل کوي حکومت د کليسا همکار او مرسته کوونکې دي. سياست مداران او حکومتې اشخاص له (نصراني) ديني ډلو ټپلو څخه له دوي څخه د خلکو دملاتړ په خاطر استفاده کوي. دغه نصراني ډلې او تنظيمونه سره د زياتو مالی عايداتو له ماليي اچولو څخه معاف دي. حتي که حکومت د کليسا سره له خپلو اړيکو

منکر هم شي ټول د عقل خاوندان يې له کليسا سره ارتباط ښه درکولي شي. البته دا حکومت چې اسلام ته ددښمن په نظر سره ګوري او د خلکو ترمنځ داسې اوازه خپروې چې اسلام د خلکو د وروسته پاتې والي سبب ګرځی.

د کليسا اونصرانيانو ټولو دسيسو او تکتيکونو سره بياهم الله تعالى د اسلام مقدس دين ساتنه کوي، او سره له دې چې د نړۍ مسلمانانو ددعوت لاره پريښې ده او پخپل ځان مبتلا دي او د اسلام او اسلامي دعوت په وړاندې يې خپل دعوت هير کړي دي بياهم د قرآن عظيم الشان معجزه، او د اسلام د مخلصو داعيانو کړنې په ټوله نړۍ کې د اسلام د مقدس دين په خپرولو کې خپل رول لري. او زمونږ مسلمان او دعوتګر ورور نجيب رسول په فلپين کې د اسلامی دعوت د مسير په هکله وايي: د الله تعالى په فضل سره د اسلامی دعوت دغير مسلمانانو په منځ کې زياته کاميابي ترلاسه کړيده.

هره ورځ يوه ډله نوي مسلمانان د اسلام له قافلې سره يو ځای کيږي، د تيرو لسو کلونو په اوږدو کې د ټولنې له مختلفو طبقو او پرګنو څخه څلويښت زره مسيحان د اسلام په مقدس دين باندې مشرف شوي دي. هغه چې شپه او ورځ له جنوبي منطقو څخه د اسلام د محوه کولو لپاره کوښښ کوي برعکس د اسلام مقدس دين دهيواد په شمال او وسط برخو کې خپريږي.

دغه نوي مسلمانان په ټولنه کې ډير موثر عناصر دي مونږ ددغو مسلمانانو لپاره يوه ټولنه جوړه کړيده چې ټولو نوو دعوتګرو مسلمانانو ته شامليږي، او هغه مو د (اسلامی تبليغ ډله) نومولې ده اوس مسيحيان په تعجب سره پوښتی چې څه شوي دي؟ په فلپين کې د اسلام راتلونکې ډيره روښانه ده، او زه په ټول اطمينان سره ويلي شم چې فلپين به انشاء الله د مسلمانانو د همکاري په اوږدوالي سره لکه د پخوا په څير يو اسلامی هيواد ګرځي.

وروسته له دې چې د مثال په ډول ددغه لوي مسيحي شخصيت د مسلمانۍ په کيسه باندې پوه شو ښه ده چې اصل موضوع ته وګرځو، او هغه دا چې ډير خلک اسلام له مسيحيت سره يو رنګ ګڼي چې دا يوه اشتباه ده.

الله تعالي هغو خلکو ته ددنیوي او اخروي تکونې وعده ورکړیده چې د قرآن کریم له تطبیق څخه ځان لرې کوي. ﴿وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ ١٢٤ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرۡتَنِيٓ أَعۡمَىٰ﴾ [طه: ١٢٤]

﴿قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرۡتَنِيٓ أَعۡمَىٰ وَقَدۡ كُنتُ بَصِيرٗا ١٢٥ قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتۡكَ ءَايَٰتُنَا فَنَسِيتَهَاۖ وَكَذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمَ تُنسَىٰ ١٢٦ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي مَنۡ أَسۡرَفَ وَلَمۡ يُؤۡمِنۢ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦۚ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَشَدُّ وَأَبۡقَىٰٓ ١٢٧﴾[1] [طه: ١٢٥ - ١٢٧]

﴿وَقَدۡ ءَاتَيۡنَٰكَ مِن لَّدُنَّا ذِكۡرٗا ٩٩ مَّنۡ أَعۡرَضَ عَنۡهُ فَإِنَّهُۥ يَحۡمِلُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وِزۡرًا ١٠٠﴾[2] [طه: ٩٩-١٠٠]

٤- دنیت تصحیح: نیت هغه وسیله ده چې دانسان هر عمل په عبادت باندې بدلوي، نیک عمل+ صحیح اسلامی نیت = عبادت مثلا یو محصل درس وایي او درس او د علم تعلیم یو ښه او نیک عمل دي، ولې دغه ښه عمل هغه وخت عبادت ګڼل کیږي چې له هغه سره ښه نیت هم وي. مثلا محصل په خپل نیت کې ووایي زه غواړم چې درس ووایم ترڅو په راتلونکي کې د یو عالم په توګه د اسلام مقدس دین، مسلمانانو، وطن او خلکو ته خدمت وکړم پدې صورت کې دده د ناستې هره لحظه په عبادت باندې حسابیږي، خو کیدلي شي د بل محصل نیت کې داوي چې درس د شهادتنامی د اخیستلو او پیسو پیداکولو لپاره ولولي، بناء دده عمل عبادت نه ګڼل کیږي. او یا مثلا څوک له زنا څخه ځان ساتي او نیت کې یې دادي چې زناه هغه بدکار

---

١- او څوک چې مخ واړوي زما له ذکر څخه نو وي به هغه لره ژوند تنګ او را ولوبه یې دقیامت په ورځ وړوند، دی به وایي ای ربه ولې دی زه وړوند راوستلم زه خو بینا وم وایي به دغسې راغله تاته زمونږ ایاتونه تو تاهیر کړ او همدارنګه نن ته هیریږي، او دارنګه چزا ورکوو مونږ هغه چاته چې اسراف وکړي او ایمان را نه وړي د خپل رب په ایاتونو، اود اخرت عذاب ډیر سخت ادوامدار دی.

٢- او په تحقیق سره درکړ مونږ تاته له خپلې خوا څخه ذکر څوک چې ترې مخ واړوي نو هغه به باروی دقیامت په ورځ پیتی.

دي چې الله تعالی مونږ ددغې ګناه له مرتکب کیدلو څخه منع کړي یو، زه د اللهﷻ د رضایت په خاطر له دغې ګناه څخه ځان ساتم، بناء له دغې ګناه څخه دده لري والي دده لپاره ثواب دي، ولې دده مقابل کې دبل سړي په نیت کې دادي چې زه له ایډز څخه د ځان ساتنې لپاره زنا نکوم بناء که څه هم دې زنا نکوي ولې په عبادت کې ورته نه حسابیږي. دنیت تصحیح د مسلمان په ژوند کې یو مهمترینه عنصر دي، ځکه نیت د اعمالو په قبولۍ او رد کې ډیر مهم رول لري، پیغمبر عليه السلام فرمایي: چې د انسان اعمال دده له نیت سره تعلق لري: «عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ قَالَ سَمِعْتُ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ»[1]. له علقمه بن وقاص له عمر رض روایت دی چې رسول اللهﷺ فرمایي: عملونه په نیت سره د ي، د چا هجرت چې ددنیا لپاره وي ورته به ورسیږي، او یا د ښځې لپاره نو په نکاح به یې کړي، نو دده هجرت د همغه څه لپاره ده چې هجرت یې ورته کړی ده او د چا هجرت چې د اللهﷻ او رسول اللهﷺ لپاره وي نو دده هجرت د اللهﷻ او رسول اللهﷺ لپاره ده.

۵- اخلاص: اخلاص ٪۱۰۰ د الله تعالی د رضا لپاره دهر عبادت ترسره کول دي، هغه خلک چې خپل ټول کارونه د الله تعالی د رضا لپاره ترسره کوي په حقیقت کې داللهﷻ مخلص بندګان دي. شیطان خپله د ښمني دادم عليه السلام دپیدایښت له وخت څخه اعلان کړې او ویلې یې دي! ﴿قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ۝٨٢﴾ [ص: ۸۲] «هغه وویل ستا په عزت مې قسم چې دوی به ټول بی لارې کوم» ولې شیطان انسانانو ته یوه لاره هم

۱- «عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إنما الأعمال بالنيات وإنما لكل امرئ ما نوى فمن كانت هجرته إلى الله ورسوله فهجرته إلى الله ورسوله ومن كانت هجرته إلى دنيا يصيبها أو امرأة يتزوجها فهجرته إلى ما هاجر إليه..» بروایت بخاري ومسلم.

ښودلې ده چې ددې لارې پیروي کولي شي انسان د شیطان له شر څخ خلاص کړي او دا د اللهﷻ رحمت دي چې خپله دشیطان له خولې څخه له شیطان څخه د خلاصون وسیله راته ښایي. شیطان وویل ﴿إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ ٱلْمُخْلَصِينَ ۝﴾ [ص: ۸۳] «یعنې زه نشم کولې خپلو ټولو شیطاني وسوسو او دسیسو سره د الله هغه مخلص بندګان چې خپل عملونه خاص د الله تعالی د رضا لپاره ترسره کوي بې لارې کړم».

پوښتنه: اخلاص څرنګه ترلاسه کیږي؟

ځواب: د اخلاص حاصلولو یواځنۍ لاره د نیت اصلاح کول دي او هرکله مو چې خپل نیتونه کم کړل او همیشه زمونږ په نیت کې د الله تعالی رضا ساتلي وي او د ژوند دامورو په برنامه ریزۍ کې مخلوقات له خپل نظر څخه لرې کړو اخلاص حاصلیږي، لکه څرنګه چې اللهﷻ خپل پیغمبر ته امر کوي ﴿قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝﴾ [الأنعام: ۱۶۲] «ووایه زما لمونځ او قرباني او ژوند او مرګ خاص الله لره دي چې رب العالمین دی».

۶- احسان: په یو حدیث کې له حضرت عمرؓ څخه روایت دي چې یوه ورځ چا له رسول اللهﷺ څخه د ایمان اسلام او احسان په هکله پوښتنه وکړه رسول اللهﷺ د احسان په هکله وویل: اللهﷻ ته داسې عبادت وکړه لکه چې هغه په سترګو ویني او که چیرې تاسې هغه نشي لیدلی هغه خو تاسې ویني، یعنی انسان باید د ژوند په تولو حالاتو کې اللهﷻ ناظر وګڼي او هیڅ کار د هغه د امر خلاف ونکړي[۱].

۷- عدالت اوایثار: عدالت او ایثار فکري عبادتونه دي، ځکه انسان دخپل نفس په داخل کې دعدالت (ځان څخه تیریدني) او د نورو په خاطر د قربانۍ نیت لري، او ددې کار لپاره عملا هڅه او کوشش کوي، او د انسان په اعمالو کې ددغې ایماني انګیزنې نتایج معلومیږي.

پوښتنه: دایثار او عدل ترمنځ څه فرق دي.

---

۱- (مشکاة المصابیح حدیث نمبر دوم کتاب الایمان).

ځواب: عدالت يعنې چاته خپل حق مکمل ورکول دي، او ايثار نورو ته د خپل حق ورکول دي پرته له عوض اخيستلو څخه، مثلا تاسې د کوم کار په ګټه کې په نيمه شريک ياست، ۱۰۰۰ افغانۍ ګټه مو وکړه، ۵۰۰ افغانۍ مو خپل شريک ته ورکړې او خپله مو هم ۵۰۰ افغانۍ ترلاسه کړې بناء تاسې عدالت وکړ، او کله مو چې خپل شريک ته ۷۰۰ افغانۍ ورکړې دغه وخت تاسې په ۲۰۰ افغانيو هغه باندې ايثار وکړ هغه وخت چې مهاجرين خالي لاس مدينې منورې ته ولاړل انصارو ايثار وکړ خپل مالونه يي نيم کړل، نيم يې خپله واخيستل او نيم مهاجرينو يی ته پرته دبدل له غوښتلو څخه ورکړل اللهﷻ د دوي په هکله وويل: ﴿وَيُؤۡثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ وَلَوۡ كَانَ بِهِمۡ خَصَاصَةٞ﴾ [الحشر: ۹] «او غوره کوی پخپل ځان باندې که څه هم وي په دوی باندې سخته ولږه».

۸- هدفمندي: د خپل ژوند لپاره يوه مشخصه برنامه جوړول او په مثبتو امورو کې خپل وخت مصرفول يو قوي فکري عبادت دي. يو هدفمند ځوان فکر کوي. ﴿وَٱلۡعَصۡرِ ۝١ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ۝٢﴾ زه دلته فکر کوم چې زمانه او نقصان سره څه رابطه لري؟ نودې نتيجې ته رسيږم چې وخت د يو انسان په ژوند کې لويه او قيمتي ترينه عنصر دي، او هره ورځ يو انسان (۸۶۴۰۰) يونټه عمر له لاسه ورکوي، مثلا هر ساعت ۶۰ دقيقي دي، او هره دقيقه ۶۰ ثانيي دي، او ۶۰ ضرب ۶۰ مساوی ۳۶۰۰ او ۳۶۰۰ ضرب ۲۴ مساوی ۸۶۴۰۰ ثانيی.

بناء دغه مسلمان ځوان پوهيږي چې دخپل عمر ۲۴ ساعتو کې دده د ژوند له تعمير څخه ۸۶۴۰۰ خښتې غورځيږي، بناء انسان په نقصان کې دي. ولې هغه خلک له دې نقصان څخه په نجات کې دي چې د (ايمان + اعمال صالحه + دخير اوصبر دعوت) سره خپل ځان د نجات کشتۍ ته ورسوي.

دغه هدفمند ځوان پوهيږي چې هره ورځ دده د عمر دغه يونټونه دده د ژوند له سرمايي څخه منفي کيږي، بناء ددې لپاره چې دغه يونټونه ناحق مصرف نشي او د شيطان په لاره لاړ نشي نو خپل ځانته هدفمنده برنامه جوړوی.

له دې جملې څخه خلکو سره په معامله کې هدفمندي، له خپل يو مسلمان ورور سره ارتباط د اللهﷻ د رضا دحاصلولو په رابطه وي، پدې اساس دغه مومن فرد کوشش کوي چې د ټولو خلکو په خدمت کې وي، خو دده دغه خدمت بايد د الهی احکامو مخالف نه وی، اوداسي نشي چې زه چا ته خدمت کوم او دا خدمت کومې ګناه ته منجر شی.

د مثال په ډول ډېر راديويي او تلويزوني چينلونه خلکو ته د خدمت په هدف هغوي په اخلاقی مرضونو مبتلا کوي. چې د هغوي ټولې لحظې په ګناه حساب شوي دي، او په آخرت کې د هغوي دبدبختۍ سبب ګرځی.

داسلام مقدس دين کې هدفمند کيدل او هدف لرل مهمترين عبادت دي، ځکه چې دغه هدفمند انسان د خپل وخت په هره لحظه کې د خپل دنيوي او اخروي ژوند دبهبود لپاره کوشش کوي ولې مقابل کې بی هدفه انسان ټول عمر سرګردانه وي او بالآخره مطلوبي نتيجې ته نه رسيږي.

پوښتنه: څرنګه کولی شو خپل ځان هدفمند کړو؟

ځواب: هرکله چې د ژوند په هکله، د ژوند موده، راتلونکي، او زمونږ د ضعف زوړوالي او کمزورۍ حالت، داخرت ژوند، داخرت د امتيازاتو او عذابونو په هکله فکر وکړو، او د هرښه اوبد عاقبت وسنجوو، پرته له شکه چې خپل ژوند کې دخپل راتلونکي لپاره هم په دنيا او هم په آخرت کې مشخصه برنامه او پلان لرو، او هيڅ کار بايد پرته له سنجش نه ترسره نکړو، دادي د هدفمند ژوند اثار.

پوښتنه: څرنګه پوه شم چې زه هدفمند يم؟

ځواب: دخپل ژوند برنامو ته نظر وکړه.

پوښتنه: دښه او دقيق مثال ضرورت دي.

ځواب: د انسان اوسط عمر دشپيتو اويا کلونو ترمنځ دي، بناء هر انسان د عمر يو اويا کلن تعمير لري، چې هره ورځ له دغه تعمير څخه ۸۶۴۰۰ خښتي غورځيږي، بي هدفه انسانان د خپل تعمير دغه خښتې پريږدي او هر څوک يې ترې وړي، کله د فلمونو هيروګان، کله د هوټلونو مالکان، کله تجاران او پدې

شکل سره بالاخره داسې ورځ راځي چې د تعمير خښتې يې خلاصې شوي وي او تهداب ته رسيدلې وي. او دوي بيا په دغه وخت کې متوجه کيږي چې زيات اشتباهات يې کړي دي. خو اوس تعمير وران شوي دي، او خښتې يې خلکو وړې دي.

دغه بی هدفه انسان د عمر په اخر کې د سمساری اوښکي تويوي، ولې برعکس هدفمنده انسان پوهيږي چې دده دعمر په ۲۴ ساتو کې دده د عمر ۸۶۴۰۰ خښتې غورځيږي او مخکې له دې چې دغه خښتې نور خلک ويسي هغه ورشي برنامه جوړه کړې او هره خښته په آخرت کې پخپل نوي تعمير کې لګوي، او کله چې ددغه تعمير اخري خښته هم وغورځيږي نو خپل نوي تعمير ته چې هغه يې د خپل عمل په ښايستونو باندې جوړ کړي دي سفر کوي..

۹- محبت له الله ﷻ او د هغه له استازي محمد رسول الله ﷺ سره: محبت هغه داخلي قوه ده چي انسان ديو چا پيروی ته کشوي، د الله ﷻ محبت او دوستي يو مومن ته اساسی‌ترين فکري عبادت دي، قرآن عظيم الشان پدې هلکه وايي: ﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِۗ﴾ [البقرة: ١٦٥] «او مسلمانان له الله تعالی سره سخت محبت لري» دلته محبت د خداي پرستې اوبت پرستۍ اساس ګڼل شوی دي، هغه چې د الله ﷻ سره محبت لري خپل ټول اعمال د الله ﷻ د رضا مطابق ترسره کوي خو هغه خلک چي په بتانو باندې ايمان لري نو له خبلو معبودانو سره قوي محبت لري، د هغوي نومونه په خپلو اولادونو باندې ږدي، خپل لباس دبت پرستانو په سيستم سره ډيزاين کوي، او مراسم يې دبت پرستانو د مراسمو په شان دي، ولې مقابل کې هغه خلک چې له الله ﷻ سره محبت لري خپل ټول کارونه د اسلامی شريعت سره مطابق عياروي، ترڅو د دوي د محبوب د رضايت سبب شي. همدارنګه هغه خلک چې له الله ﷻ سره مبحت لري دده له استازي سره هم محبت لري، «عن انس قال قال النبی صلی الله عليه وسلم لايومن احدکم حتی اکون احب

اليه من والده وولده والناس اجمعين» بخاری له انسﷺ روايت دی چې رسول اللهﷺ فرمايي: «هيڅ يو ستاسې به کامل مومن نشي تر هغې چې زه ورته له والدينو، اولاد او ټولو خلکو څخه محبوب نشم».

په نن‌ې عصر کې داسې خلک هم شته چې د اللهﷻ له محبت څخه خبرې کوي ولې لمونځ چې د اللهﷻ سره خبرې کول دي ترک کوي، څرنګه ممکنه ده چا سره دوستي لرو خو له هغه سره خبرې ونکړو، کور ته يې ورنشو، او په اونيو له هغه سره ارتباط ترک کړو؟ فارسی شعر دي:

ترسـم نرسـی بـه کعبـه، ای اعرابـی      اين‌راه که تو ميروی به‌ترکستان است

يعنی:

اريږم‌چې‌وبه‌نه‌رسـيږې‌کعبی‌ته‌ای‌کوچيه      پدغه لاره چې تـه ځې داد ترکسـتان ده

پوښتنه: محبت څرنګه حاصليږي؟

ځواب: تاسې فکر وکړي چې يوه خزانه پنځه لارې لري چې له پنځو واړو نلونو پاکې اوبه دغې خزانې ته لويږي، نو بناء همدغه خزانه له پاکو اوبو څخه ډکه ده، او هم هغه اوبه چې له دې څخه ووځې باکې او نظيفی دي.

خو که چيرې په دغې خزانه کې له پنځو نلونو څخه کثافات او ګندګي وغورځيږي هم به خزانه کثيفه او ګنده وي او هم هغه اوبه چې له هغې څخه بيرون غورځيږي کثيفې او ګنده وي.

د انسان داخل ديوې خزانې غوندې دي چې د پنځه ګونو حواسو په واسطه تغذيه کيږي نو کله چې پنځه ګوني حواس په مثبتو شيانو مصروف کړو ټول د انسان داخل ته مثبته غذا ورکوي، او د انسان هره خبره هر فکر او انګيرنه مثبته او ښه وي، ولې د پنځه ګونو حواسو مشغولول په ګناهونو باندې هم انسان کثيف او پليد کوي او هم هر شي چې انسان يې بيرون طرح کوي ګنده وي.

اوس نو هغو خلکو چې خپل ځانونه يي د قران په فهم، د ايمان په فهم، او له صالحو او نيکو خلکو سره په ناسته مصروف کړي دي دوي ته د اللهﷻ محبت حاصليږي، او هغه خلک چې هره شپه سلګونه دقيقې له هندوانو سره ارتباط لري بالاخره دوي ته دهندويزم او بت پرستۍ محبت حاصليږي:

سعدی وایي:

گِـــل خوشـــبو در حمـــام روزی — رسیـد از دسـت محبـوبی بدسـتم
بـدو گفـتم کـه مشـکی یـا عنبـری — کـه از بـوی دلاویـز تـو مسـتم
بگفتـا مـن گِـل نـاچیز بـودم — ولـیکن مـدتی بـا گـُل نشسـتم
کمـال همنشـین در مـن اثـر کـرد — وگرنـه مـن همـان خـاکم کـه هسـتم

یعني یوه ورځ په حمام کې دیو دوست له لاسه زما لاس ته ښه بوی والا خټه راورسیده هغې ته مې وویل چې مشک یې که عنبر چې ستا له زړه ځوړندي بوي نه مست یم، هغي راته وویل چې زه بی کاره خاوره وم، خو څه وخت له ګلانو سره پاتي شوم دملګرو کمال په ما اثر وکړ او که نه زه هماغه خاوره یم چې یم.

پوښتنه: ایا په نوم، لباس او په ژوند کې له بت پرستانو سره مشابهت په محبت باندې څه اثر لري؟

ځواب: د مشابهت اساس محبت دی؟ ستا پلار ولې ستا د ورور نوم عبد الله ایښي دي؟ ځکه ستا پلار (الله) سره مینه لرله، ولې ستا د کاکا د ځوی نوم اسماعیل دي ځکه کاکا دي له پیغمبرانو سره مینه لرله، ولې ما دځوي نوم انس ایښی دي، ځکه زه له حضرت انس سره چې داسلام د ښاغلي پیغمبر صحابی ده مینه لرم.

اوس نو ولې فلانی د خپل ځوی نوم (ګاتم) ایښي دي او د لمسي نوم یې (شوبا) ځکه هغه نسبت اللهﷻ پیغمبرانو او صحابه وو ته له هندوانو سره زیاته علاقه لري، هغه کیدلی شي د لس صحابه ونومونه ونه پیژني، او د هغوي د پیژندلو لپاره هم د خپل ژوند په تقسیم اوقات کې څه وخت نلري، ولې هره ورځ دي او دده کورنۍ څو ساعته د هندي فلمونو او سریالونو په تماشا باندې مصروف وي، چې د زیاتو هندي فلمونو اوسریالونو مشاهده د انسانانو په زړه کې د هندوانو محبت پیدا کوي.

د تعلیم او تربیې یو غربي دانشمند چې خپل مسلک کې یې دکتورا لرله وغوښتل چې په یو پر مختللی هیواد کې د ماشومانو د ښه تعلیم او د هغوی د

ذهنیت د تقویت لپاره خپل تدریس له ابتدایي مرحلو څخه پیل کړي، ترڅو د تعلیم او تربیې ددغه اساسي تهداب په تقویې سره چې په ابتداي صنفونو کې وي دغه ماشومان د ښې پوهې د قبلولو لپاره اماده کړي دی وایي: ما غوښتل چې ماشومان د ښه او سالم تفکیر او انګیرنې خوا ته کش کړم، ولې ومې لیده چې یو ماشوم زه د پوهې خوا ته کش کړم او بالاخره مسلمان شوم زه د مکتب د ابتدایي مرحلې د اول یا دویم صنف ماشوم په لاسونو مسلمان شوم، دې پدې هکله د خپل ایماني ژوند کیسه داسې توضیح کوي: یوه ورځ مې وغوښتل چې د ماشومانو خپلو شاګردانو د ذهنیت د درک لپاره هغوي ته څه پوښتنې تقدیم کړم.

له ټولو مې وپوښتل چې دې (خپل راتلونکي ته څه تصمیم لري؟) د زده کوونکو هر یو د خپل شخصي ارتباط او د ژوند د مفاهیمو د درک په اساس د خپل استعداد مطابق د خپل راتلونکي مسلک د انتخاب په هکله ځواب ورکو، چا غوښتل چې ډاکټر او یا انجینر شي، بل غوښتل چې استاد او معلم شي، او یو هم د خپلو سپورتي ا وفلمي علاقمندۍ په اساس غوښتل چې فوتبالر ممثل، هیرو او یا رقاص او سندرغاړي شي، ولې کله چې ددغو ماشومانو په جمله کې د یو ماشوم ځواب ته متوجه شوم چې ویې ویل غواړم د حضرت محمدﷺ صحابی شم.

ما په ډیر تعجب سره وپوښتل چې صحابي څوک دي؟ هغه ماشوم راته وویل: د حضرت محمدﷺ د مکتب او پوهنتون شاګردان.

ما وپوښتل: ایا پدې نوم سره کوم مکتب او پوهنتون هم وجود لري.

په ځواب کې یې وویل: د نبوت مکتب د نړۍ تر ټولو غوره مکتب دي.

ما وویل: ایا شاګردان یې لرل؟

هغه وویل: زرګونو فارغ التحصیل یې درلودل چې د اخلاقو، سیاست، علم، تقوا، ایمان دارۍ، عفت، حیا، اقتصاد ټولن پوهني اروپوهني او غیره مختلفو رشتو کې یې تخصصونه کړي و.

ماوویل: تاسې دا ټول له کوم ځایه ترلاسه کړي دي.

ويې ويل: زما مور او پلار هره شپه مونږ ته دکور په محيط کې د ناخوښو او مبتذلو فلمونو دليدلو پر ځاي مونږ دپيغمبرعليه السلام د ملګرو له يوتن سره اشنا کوي او مونږ ته زمونږ پخپله ساده ژبه باندې د هغوي د ژوند کيسي بيانوي. او زه، ورونه او خويندې مې چې هره شپه دصحابه کرامو د يوتن د ژوند يوه کيسه اورو، بالاخره د هغوي په شخصيتونو کې غرق شو او وايو چې ای کاش مونږه هم د پيغمبر صحابه شو، او که کله هم امکان وي، نو غواړم په ځوانۍ کې دپيغمبرعليه السلام صحابي شم.

ما وويل: د نبوت د مکتب د شاګردانو څه نومونه دې زده دي؟

ويې ويل: بلې سلګونه نومونه.

ما وويل: کيدلې شي څو نومونه واخلې.

هغه وويل: بلې، ابوبکر، عمر، عثمان، حسن، حسين، بلال، ياسر... ماوويل: پدې مکتب کې نجونې او ښځينه درس نه وايي؟

هغه وويل: ددغه مکتب قهرمانه ښځينه له سړيانو څخه کمې نه دې، سميه د اسلام اوله شهيده، بی بی خديجه لومړي هغه څوک چې په محمد ﷺ يې ايمان راوړه، بی بی خوله هغه ښځه چې الله جل جلاله يې غږ اوريدلی دي، بی بی اسماء هغه ښځه چې د اسلام پيغمبر ته يې د ثور غار ته غذا وړله، بی بی نسيبه هغه ښځه چې د احد غزا کې يې د اسلام له پيغمبره دفاع کوله، او ۱۲ غشي او نيزې يې په اوږه کې لږيدلی وې، او پوره يو کال تداوي کيدله، بی بی فاطمه، بی بی عايشه بی بی ميمونه او غيره...

دغه دانشمند وايي دغه معصوم ماشوم نشو کولي چې زما ټولو پوښتنو ته ځوابونه ووايي نو بناء ومې غوښتل چې د صحابه و په هکله نور زيات معلومات دده والدينو څخه ترلاسه کړم، او د همدي هدف لپاره مې دده له والدينو سره اړيکه ونيوله، او يوه ورځ د هغوي کورته ورغلم.

زه د هغوي کورته په ورتلو سره حيران شوم ځکه له نورو څخه کاملا يو متفاوته کور و دغي کورنۍ چي له نورو کورنيو سره يې پوره فرقونه درلودل سړي کورته د ننوتلو پر وخت خپلې ښځې او د کورنۍ اعضاو ته سلام اچوي

ښځه په ګرمۍ سره د خاوند استقبال کوي او خاوند هم کور ته د ننوتلو پر وخت د (السلام عليکم) کلمه په احترامانه ډول سره وايي:

چې جانب مقابل ته ددعا او سلامتۍ مفهوم لري. ځوان ځوي يې زمونږ مخي ته چاي ږدي او نوې ځوانه لور يې له مور سره د کور په کارونو کې مرسته کوي.

ددې په عوض چې هر سړي پخپل کارکې مصروف وي، او د نورو ټولو کورونو په شان يو په موسيقی اوريدلو مصروف وی بل په فلم ليدلو مصروف وي او يو په کور کې او بل سرګردانه په نايت کلپ کې وي. ټولو په متحد او با اتفاقه ډول سره د مور او پلار ارشادات پرمخ وړل، او کله چې به هم دوالدينو يو تن ددين په امورو کې خبرې کولی ټولو به له رضايت سره دده خبرو ته غوږ نيؤ او دسر په خوځولو سره به يې د دوي د خبرو استقبال کو، او کله به يې هم د اوښکو په څو ځاځکو سره چې د دوي له سترګو به تويیدلې د اصحاب کرامو په مصيبتونو به پوهيدل او د رسول الله ﷺ له نوم اخيستلو سره به يې فورا درود په ژبه راوړه او په همغه عربی الفاظو به يې (صلی الله عليه وسلم) ويل: ما خپلې پوښتنې د پيغمبر ﷺ د صحابه و او د پيغمبر د شخصيت په هکله پيل کړي، او ددغسي شخصيتونو له معرفت سره مې بياهم د ماشومانو دعلاقې علت وپوښته، او دا چې شاګرد مې راته څه ځواب را کړی و بيا مې استفسار وکړ. د ماشوم پلار راته واضحه کړه چې دي د الهی ارشاداتو په اساس ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارٗا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُ عَلَيۡهَا مَلَـٰٓئِكَةٌ غِلَاظٞ شِدَادٞ لَّا يَعۡصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمۡ وَيَفۡعَلُونَ مَا يُؤۡمَرُونَ ٦﴾ [التحريم: ٦] «ای مسلمانانو خپل ځانونه او خپل اهل وساتی له هغه اور نه چې سوخت يې خلک او تيږې دی پده باندې سختی کلکی ملايکی دي الله چې ورته څه وکړي دهغه نافرمانی نکوي او هغه کار کوي چې امر ورته کيږي». د همدې الهی حکم مطابق زه هره شپه د تلويزوني او راديويي برنامو د مصروفيت په عوض چې اکثرا هغه د انسان پرستۍ او ماده پرستۍ څخه پيدا شوي دي او ماشومان او د کورنۍ غړي د انحرافاتو خوا ته کشوي د پيغمبر ﷺ او د هغه ديارانو د شخصيت په مطالعه مصروفوم او د کورنۍ يو غړي د يو صحابی د ژوند يوه

وړه برخه د صحابه و د حکاياتو له کتاب او يا د پيغمبر له سيرت څخه مطالعه کوي، بيا د هغوي د زندګي په هکله خبرې کوو، چې دغه کار زمونږ د شخصيت سازی لپاره مفيد واقع شوي دي. او هره شپه زمونږ ايمان قوي کوي. او ددې مهمترين تاثير همدغه دي چې زمونږ ماشومان دغير متدينه فلمونو د ممثلينو د شخصيتونو پر ځاي چې اکثرا غير اخلاقی رولونه ادا کوي او ماشومان په ګمراهيو کې غرقوی د پيغمبرﷺ ال بيت او صحابه کرامو په شخصيت متاثره کيږي، او سره له دې چې هيڅوک نشي کولي چې دي عصر کې صحابی شي، ولې زمونږ دغه ماشوم د همدغي ماشومانه علاقي سره تاسې ته د غسې ځواب درکړي.

دغه دانشمند اضافه کوي، زه له دغسې شخصيتونو سره له ليدني وروسته د اسلام د پيغمبرﷺ او صحابه کرامو په هکله د لازياتې مطالعې لپاره راووتم. او ما هغه کتاب (قران کريم) چې د ټولو لارښوونکي و مطالعه کړ.

او بالاخره د اسلام مقدس دين د حقايقو په درکولو، دغه د مدنيت، اخلاقو او انسانيت دين ته مې نزديوالی پيدا کړ، او د اسلام مقدس دين ته مې خپل داخليدل اعلان کړ. او ومې ويل چې (لا اله الا الله محمد رسول الله) دغه دانشمند دخپلو مسلمانيدو اصلي او اساسي علت له يو مسلمان ماشوم سره خپل ملاقات ګڼي.

قرآن عظيم الشان وايي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا ٧١﴾ [الأحزاب: ۷۰-۷۱]

امام ابن کثير ددې ايت شريف په تفسر کې وايي: اللهﷻ خپلو بندګانو ته د تقوا او سمو خبرو کولو چې هغې کې غلطي او انحراف نه وي امر کړي دي.

۱۰- فکري آزادي: د مومن انسان له ځانګړتياو څخه يو، باطلو انګيرنو ته له تسليميدلو څخه د فکر او انګرينې ازادي ده. د اسلام مقدس دين کې داسلامي انګيرنې ازادي ده. د اسلام مقدس دين کې د اسلامی انديشي لرل يو مهم فکري عبادت دي. او دا انديشه د يو پرستی په بنياد سره

ايجاد شوې ده، او ددې اصل فروعات هم ددې ايماني انګيرنې اجزا ګرځي، هر کله چې د اسلام مقدس دين حقيقت د مومن په ذهن کې په کامل ډول سره روښانه شي، او ددې عقيدې کمال په يو منظم چوکات کې تقسيم بندي شوي دي. د ژوند په مختلفو برخو کې د مطالعې لاندې راځي، د انسان د ژوند ټول اړخونه د همدغي اسلامي انګيرنې په چارچوب کې څرخيږي، بناء سياست، اقتصاد، کلتور، اجتماعي روابط، هنرونه او ټول امور د اسلامي انګيرنې په چوکات کې ګڼي.

د اسلامي عقيدې ټول اساسات، اسلامي تمدن او اسلامي نظام هغه وخت مستحکم کيږي چې اسلامي فکر او انګيرنه ولرو، او تر هغه وخته چې د مسلمانانو ذهنونه په اسلامي حقيقي انګيرنې مستقر و، ويې کولي شو ۱۳ پيړۍ په نړۍ باندې حکومت وکړي. او هر مسلمان سالمه انګيرنه ددنيوي او اخروي سعادت اساس ګڼي.

د اسلامي فکر او انګيرنې په لرلو سره انسان ته د فکر ازادي پيداکيږي او هيڅکله بيا د غلامي زنځير او انسانانو ته د سرټيټول نه قبلوي.

دغه فکري آزادي له باطلو انګيرنو څخه د ازادۍ سبب کيږي او انسان ته د نورو له غلامۍ نه نجات ورکوي، او ددغسې خلکو هيواد هم خپل استقلال لري.

برعکس هغه چې فکر يې په يو رنګ سره مغشوش شوي وي، د اسلام مقدس دين په ځينو عباداتو کې منحصروي او د کمونستي، سيکولرستي او غيره انګيرنو او افکارو په لور روانيږي. په حقيقت کې يې اسلام په کامل ډول سره ندي پيژندلی او ندي توانيدلي چې اسلامي انګيرنه ولري.

بايد پوه شو چې هيڅ فکر او انګيرنه، نه تجزيه کيږي او دا سيي نده چې څوک ادعا وکړي چې زه مارکسيست يم خو اسلامي اقتصاد مې خوښيږي او غواړم چې تطبيق يې کړم، ځکه چې مارکسيزم يو مکتب دې او نه تجزيه کيږي، په همدي ډول داسلام مقدس دين هم يو کامل مکتب دي او ممکنه

نده چې څوک ځان مسلمان وګڼي ولې سوسیالستي اقتصاد غوره وګڼي یا دا چې زه اسلامي لمونځ او روزه قبلوم خو اسلامی نظام او سیاست نه غواړم ځکه اسلام نه تجزیه کیږي.

ددښمنانو لویه وسیله فکری جنګ دي چې هدف یې د اسلامي انګیرنې متزلزل کول دي، او د همدې لپاره عربان استثمار ته استحمار وایي. یهودانو عادت لره چې دین به یي هغه وخت تطبیق و چې د دوي له فرهنګ، رواج، غوښتنو، او ملي بدو عادتونو او کلتورونو سره مخالفت نه درلود، نو خپل رواج او کلتور او یا هم خپلو شخصي غوښتنو ته یې په دین باندې ترجیح ورکوله.

اللهﷻ دوی رسوا کړل، دوي ته یي وویل: ﴿أَفَتُؤۡمِنُونَ بِبَعۡضِ ٱلۡكِتَٰبِ وَتَكۡفُرُونَ بِبَعۡضٖۚ فَمَا جَزَآءُ مَن يَفۡعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمۡ إِلَّا خِزۡيٞ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰٓ أَشَدِّ ٱلۡعَذَابِۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ٨٥﴾ [البقرة: ۸۵] «آیا تاسې ایمان راوړي په څه کتاب او کفر کوي په څه باندې، نو څه به وی جزا د هغه کس چې داکار کوي له تاسې څخه مګر رسوایي ددنیا په ژوند کې او د قیامت په ورځ رد کیږي سخت عذاب ته او نه دی الله غافل له هغه څه چې تاسې یې کوي».

پوښتنه: ایا له خپلو رواجونو او عنعنو څخه صرف نظر وکړو؟

ځواب: هغه رواجونه او عنعنات چې له قران عظیم الشان سره صریح مخالفت لري بایدترې صرف نظر وشي.

پوښتنه: مثلا کوم عنعنات؟

ځواب: نن ورځ رواج ده چې باید زوم مجبور شي چې لکونه افغانۍ قرضدار شي او د خپلي ښځې لپاره قیمتي لباسونه او زیات مصارف وکړي، او ځو لکه ورکړي. او دا عنعنه د اسلام مخالفه ده. او واقعي مسلمانان باید دغه بد رواجونه چې د ځوانانو د ودونو مانع ګرځي ترک کړي.

پوښتنه: ایا مونږ نشو کولي چې د کاپیتالیستي اقتصاد څخه چې په نننۍ نړۍ کې مروج دي استفاده وکړو؟

ځواب: د کاپیتالیستي اقتصاد اساس سود خوړل، قرض، د انسانانو د وجود مارکیټنګ، مخدره مواد، او الکول تشکیلوي، چې اسلام ددغسې اقتصادي سیستم مخالف دي.

پوښتنه: ایا قرض هم بد شي دي؟

ځواب: د اسلام پیغمبر له قرضدارۍ څخه اللهﷻ ته پنا وړیده، بناء قرض باید د اقتصاد اساس ونه ګڼل شي. یواځې د ضرورت پر وخت د قرض اخیستل مباح دي، ولې هغه د اقتصاد اساس ګرځول ښه کار ندي.

پوښتنه: د غربي د موکراسۍ په هکله څه نظر لري؟

ځواب: مونږ باید د افرادو نظر ته نه، بلکې د دموکراسۍ اساساتو او اسلامی اساساتو ته نظر واچوو. او وګورو چې څه فرقونه لري. او ما دا موضوع د اسلام سیاسي نظام کتاب کې مفصلاً شرحه کړیده، تاسې کولي شي چې هغه مطالعه کړي.

١ - خیر غوښتنه: خیر غوښتنه په یو مومن شخص کې غوره صفت دي، دغه صفت هغه دې انګیرنې ته رسولې چې نه غواړي ټولې نیکۍ خپل ځانته جلب کړي، او نور هلاکت ته واچوي، بلکې په هره نیکۍ کې نور هم باید شریک اوسي حتی هغه نه غواړي جنت ته یواځې ولاړ شي بلکې کوشش کوي چې د نورو سره یو ځاي ددغه الهی نعمت مستحق وګرځي.

له فکري عبادتونو څخه یو هم انسانیت ته دخیر غوښتنه ده، مسلمان انسان همیشه دنورو لپاره خیر غوښتونکي وي. د اسلام پیغمبر فرمایي چې ستاسې د یو تن ایمان ترهغې پورې نه سیي کیږي چې هغه څه چې ځان ته خوښوي بل مسلمان ورور ته یې هم خوښ نکړي. مومن مسلمان همیشه د نورو د خیر لپاره هڅه او کوشش کوي

سلام په حقیقت کې مقابل جانب ته د صحت او سلامتۍ دعا ده، ځکه مومن انسان باید په اولینه مرحله کې مقابل جانب ته دخیر دعا وکړي، د پرنجي پر وخت هم باید الحمدلله ووایو، او څوک یې چې اوري ځواب کې

باید «یرحمکم الله» ووایی (الله دې په تاسې باندې رحم وکړي) لومړي انسان دې بیا ووای «یهدیکم الله ویصلح بالکم» اللهﷻ دې تاسې ته هدایت وکړي او ستاسي کارونه دې اصلاح کړي. همدا نورو ته خير غوښتنه ده چې انسان هميشه نيکۍ ته د نورو په دعو ت کې کوشش کوي، او هيڅکله پدی نيت نه وي چې خپله جنت ته ولاړ شي او نور جهنم ته بلکې هڅه کوي چې حتی غير مسلمانان هم سمې لارې ته هدايت شي او دنيوي او اخروي سعادت يې نصيب شي.

د خير غوښتونکي انسان صفتونه:

الف: هر کله چې څوک په بدۍ ووینې نصيحت ورته کوي.

ب:هر کله چې څوک په نيکۍ ووينی نور يې هم تشويقوي.

ج: هر کله چې څوک غافل ووينې حق ورته په يادوي.

د: هر کله چی چا سره ملاقات وکړي هغه ته د خير او نيکۍ غوښتنه کوي.

**فکري ګناهونه، يا هغه ويرسونه چې د حق د قبلولو مانع ګرځی**

نن ورځ ساينسی علومو نوو اختراعاتو او اکشافاتو ثابته کړيده چې دغه نړۍ له دغه نظم سره يو خالق لري. او هيڅ ممکنه نده چې څوک دا ادعا وکړي چې دا نړۍ دی تصادفي وي، ځوان له خپل عقل او پوهي سره وايي زه چې کله خپل ليپټاپ کمپيوتر کې کار کوم او ددې کمپيوتر برنامې مشاهده کوم نو که د ټولې نړۍ خلک هم راته ووايي چې دغه کمپيوتر تصادفي برنامه ريزي شوي دي، زه يې نشم منلي. په همدې ډول کله چې دې شته نړۍ ته فکر کوو نو ددې نړۍ نظم ماته ثابتوي چې دا نړۍ يو خالق لري او کوم تصادف ندي، او هر کله چې را ته مليونونه انسان دليل هم ووايې چې دا نړۍ تصادف ده، نشم کولي چې ويې منم، ځکه چې دتصادف نظريه منل په حقيقت کی له عقل او پوهې څخه انکار دي.

ولې دبې ايمانه انسانانو اصلي مشکل په هغو ويرسونو کې دي چې دحق منلو مانع ګرځي. چې دغه ويرسونه عبارت دي له:

۱ـ تکبر: هغه وخت چې د اسلام ښاغلي رسول خلک ایمان او توحید ته بلل، ابوجهل او ابولهب پوهیدل هغه څه چې دي وایي حق دي، ولې د هغوي تکبر ددي مانع شو چې حق قبول کړي، په همدې ډول ډیر خلک حق درک کوي ولې د دوي تکبر دحق دقبلولو مانع ګرځي شیطان لومړي کس و چې دادم؇ له خلقت څخه وروسته له الهی دربار څخه وشړل شو، ځکه د هغه تکبر ددې سبب شو چې حق ونه منی.

۲ـ ځان غوښتنه: ډیرو وختونو کې ځان غوښتنه سبب کیږي چې یو تن د خپلو شخصی منفعتونو په خاطر حق ونه مني د اسلام د ښاغلی رسول په وخت کې یولوی یهودی عالم له انحضرتﷺ سره دمناظرې او خبرو اترو لپاره مدینې منورې ته ورته او وړوکې ورور یې چې دده د اوښ رسۍ یې نیولې وه او د نن ورځې په اصطلاح سره ډریوریي و، په نیمه لاره کې اوښ یو ټکان وخوړه او مشرر ورور یې سخت اذیت کړ او وړوکې ورور چې عالم ندي پر مشر ورور دشفقت له مخې د اسلام ښاغلي پیغمبر ته څه کنځاوې وکړې، مشر ورور سخت په غصه شو او ورته یې وویل: ای احمقه څرنګه جرءت کوې چې د الله رسول ته کنځا وکړي، واړه ورور په تعجب سره وپوښتل: هغه صورت کې چې د الله رسول وي، نو ولې له هغه سره مناظره کوې او ولې هغه د خلکو مخکې په دروغو متهم کوي؟ مشر ورور وویل: زه پوهیږم او یقین لرم چې پیغمبر دي، خبرې یې رښتیا دي، او هغه کتاب یې چې راوړي دي اخرینې الهی کتاب دي. او زه پدې حقیقت باندې سلګونه دلیلونه لرم ولې هغه څه چې ماته مهمه دي او د حق منلو مانع ګرځی، منصب، قدرت، دغه جګ معاش، او دغه لوي قصر دي چې ماته راکړل شوي دي او هرکله چې زه ددې پیغمبر په نبوت اقرار وکړم دغه ټول ثروت مې له لاسه ځی، ځکه هغه یهودیان چې زما احترام کوي او ماته امتیازات را کوي ترهغه وخته دغه امتیازات را کوي چې زه یې په خدمت کې واوسم، او د اسلام په خلاف حرکت وکړم، وړوکی ورور مدینې منورې ته په مجرد رسیدلو سره د رسول اللهﷺ خوا ته ورځي او

مسلمانيږي ولې مشر ورور د ځان غوښتني په خاطر له دنيا څخه بې ايمان ځی.

په درې کې وايي:

علـم اگـر در دل زنـد يـاری شـود علـم اگـر در سـر زنـد مـاری شـود

علم که زړه کې ځای ونيسي نو يار شي او که سر کې ځای ونيسی نو مار شي.

۳- تعصب: تعصب هغه تورې عينکې دي چې هر سپين شي تور ښايي، نشنلست او متعصبه انسان هيڅکله حق ته نشي رسيدلي حتي که په مسلمانه کورنۍ کې هم پيدا شوي وي. بالاخره له نړۍ څخه بي ايمانه ځي.

٤- رواج پرستی: خلک د هغو رواجونو، عادتونو او عنعنو په اساس چې له حق سره مخالف دي په ډير وخت کې حق نه مني، د اسلام پيغمبر پر وخت ډيرو مشرکينو ادعا کوله چې ايا زمونږ رواجونه غلط دي، ايا زمونږ پلرونه چې سلګونه کلونه يې دبتانو په وړاندې نذرونه او قربانۍ کړې دي په غلطه تللی دي؟ ايا دغه بتان چې زمونږ تاريخي ميراثونه دي او ايا دغه رواجونه او عادتونه چې مونږ لرو ممکن دي چې هير شي؟

۵- بی‌شخصيتي: حضرت رسول اکرمﷺ د ۱۳ کلونو موده کې په مکه مکرمه کې مسلمانان په ايمانی عالی شخصيت سره تربيه کړل هرکله چې شخصيت عالی وي نو بيا عمر نه مطرح کيږي بناء د نبوت د مکتب شاګردان سره له دې چې مختلف عمرونه يې درلودل خو عالی شخصيتونه يې درلودل، او د اويا کلن او ۱۸ کلن ترمنځ د شخصيت له مخې څه تفاوت نه و، هغه ورځ چې د اسلام رسول غوښتل د اسلام لومړنۍ سفير تعين کړي د ځوانانو له منځه يې مصعب بن عمير انتخاب کړ، ځکه ددغه شل کلن ځوان شخصيت د هيچا له شخصيت څخه کم نه و، او کله چې رسول اللهﷺ درومیانو مقابل کې اسلامي

قوتونو ته دیو قومندان ضرورت درلود ۱۸ کلن ځوان اسامه بن زید يې غوره کړ، با شخصيته ښځينه و هم له سړيانو څه کم رول نه درلود، بی بی اسماء چې کله احساس کوي چې د اسلام پيغمبر په ثور غار کې وږي دي فورا له ټولو هغو ستونزو او مشکلاتو سره چې ددې په مخ کې و او چا جرءت نشو کولی چې پيغمبر او د هغه ملګري ابوبکر ته غذا ويسي، او دغه قهرمانه او زړوره ښځه له ملا نه دوه کمربنده تړي او هغوي ته غذا وړي، او د ذات النطاقين لقب ځانته ګټی، د احد په غزا کې بی بی نسيبه قهرمانانه له پيغمبر څخه دفاع کوي، اوپه اوږه کې يې د تورو او غشو دولس ځايونه پيدا کيږي د اسلام د دښمنانو لويه وسيله په اسلامي ټولنه کې د ځوانانو د شخصيت کمزوري کول دي، د ځوانانو د مصروفولو لپاره مبتذله برنامې، او په مبتذله شيانو د هغوي مشغولول، فقط د شخصيت د ضعيفولو لپاره دي ځکه بې شخصيته انسانان د استعمار لپاره بهترينه مړی ده.

۶- مرکب جهل: انسان په څو قسمه دي، يو پوهيږي او پوهيږي چې پوهيږي، يو نه پوهيږي او پوهيږي چې نه پوهيږي، يو نه پوهيږي او نه پوهيږي چې نه پوهيږي. خو خطرناک يې هغه ده چې نه پوهيږي او پدې عقيده دې چې دې له ټولو ښه پوهيږي، دغه جهل ته مرکب جهل وايي. ځکه لومړي خو نه پوهيږي او دويم دا چې دده په نظر دي له ټولو څخه زيات پوهيږي. چې مرکب جهل کولی شو په ساده اصطلاح سره (جهل په توان دې دوو) وښايو هغه خلک چې پدغسې جهل باندې اخته دي د دوي جهل د حق دنه منلو سبب ګرځی. لومړي هغه کس چې له پيغمبر سره يې سرسخته مقابله وکړه ابوجهل و، ځکه د هغه جهل ددي سبب شو چې د حق په مقابل کې ځاي ونيسي.

## بدني او جسمي عبادت

بدني عبادتونه هغه عبادتونه دي چې ديو مومن انسان دبدن اعضا و کې له تطبيقيدونکو الهی احکامو سره اړيکې ولري. د قران او سنت رسول الله ﷺ

سره مطابق د بدن د ټولو اعضاو مثبت استعمال دبدن د اعضاو مهمترین عبادت دجسم تقویه کول او سپورت کول ددې لپاره چې قوی شي او د عبادت لپاره تیاری هم عبادت دي. پیغمبر فرمایلی قوي مسلمان له ضعیف مسلمان څخه محبوبتر او بهتر دي او په ټولو کې خیر دي له حدیث شریف څخه معلومیږي چې مسلمان په هر صورت کې ښه ده ولي قوی مسلمان د الله په نزد محبوبتر، بهتر او عزتمند دي ځکه چې دغه قوي مومن کولي شي چې خپل ایماني مسولیتونه په سیي ډول سره پر مخ پوځي.

د بدنې او جسمي عبادت اصلی فلسفه همدا دده چې د بدن ټول اعضا مونږ ته د یو قیمتی امانت په ډول سره را کړي شوي دي، بناء مونږ حق نلرو چي دغه امانتونه منفی استعمال کړو، ځکه ددې منفي استعمال ددې سبب کیږي چې مونږ د آخرت په ورځ له هغې څخه محروم شو مثلا قرآن کریم کې وایو چې الله ﷻ دا قاعده مونږ ته بیانوي ﴿وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ ١٢٤﴾ [طه: ١٢٤] «او څوک چې مخ واړوی زما له ذکر څخه نودده ژوند به تنګ وی او راولوبه یې د قیامت په ورځ وړوند».

له پورتنی آیات شریف څخه معلومیږي چې د الهی احکامو نافرماني، ورڅخه لریوالی او د هغی منفی استخدام ددې سبب کیږي چې دغه انسان د قیامت په ورځ د یو وړانده انسان په شکل سره حشر شي. نو دغه شخص بیا دعوه کوی او وایي ﴿قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرۡتَنِيٓ أَعۡمَىٰ وَقَدۡ كُنتُ بَصِيرٗا ١٢٥﴾ [طه: ١٢٥] «ای ربه زه دې ولې وړوند راوستلم زه خو بیناوم».

﴿قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتۡكَ ءَايَٰتُنَا فَنَسِيتَهَاۖ وَكَذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمَ تُنسَىٰ ١٢٦﴾ [طه: ١٢٦] «وایي به دغه رنګ راغله تاته زمونږ ایاتونه نو تاهیر کړ او دغه رنګ ته هم هیر شوې».

بدني عبادتونه کولي شو په لاندې ډولونو تقسیم کړو:

**اول: ژبه**

ژبه د طاعت او عبادت مهمترینه وسیله ده، د ژبی څخه د مثبتي ګټې پورته کولو او د ژبي له منفی امورو څخه د ځان ساتني په هکله زیات احکام بیان

شوي دي، مومن انسان د خپل پروردګار عبادت په ژبې سره هم کوي، د ژبي عبادتونه کولي شو لاندې ټکو کې خلاصه کړو:

۱- د اللهﷻ د وحدانیت اقرار، او هره ورځ د لا اله الا الله محمد رسول الله کلمی تکراول.

۲- د اللهﷻ په ذکر او یاد سره د ژبي مشغولول.

۳- په مثبت ډول د ژبي استعمالول.

٤- د قران عظیم الشان تلاوت.

٥- د علومو او معارفو زده کول او ښودل.

٦- ایمان او تقوا ته د خلکو دعوتول (امر بالمعروف).

۷- له بدیو څخه د خلکو منع کول (نهی عن المنکر)

۸- په مال رزق اولاد او غیره کې له اللهﷻ څخه مرسته غوښتل.

۹- له اللهﷻ څخه د ښښني او مغفرت غوښتل.

۱۰- په نذر او قربانۍ کې د اللهﷻ نوم اخیستل.

قسم ته د ضرورت پر وخت فقط د اللهﷻ په نوم قسم خوړل، ځکه د مخلوقاتو په نوم قسم خوړل شرک دي.

۱۱- له بیهوده امورو څخه خاموشي.

۱۲- د اللهﷻ دربار ته دعا.

۱۳- نصیحت.

۱٤- هغه خلکو ته چې پوهیږي د حق وریادول.

۱٥- چوپ کیدل: د ژبي بهترین عبادت له بي ځایه خبروچپ کیدل دي، هرکله چې غواړي په عبادت باندې د خپلې ژبي قدرت معلوم کړي لازمه ده ترڅو خپل ځان په چوپه ناسته کې تجربه کړي، د ډیرو خلکو مشکل پدې کې دي چې پخپلو ژبو باندې حاکمیت نلري. او نشي کولي څو ساعته غلي کیني، بناء له دوي څخه یو ژبني عبادت پاتې کیږي، په

حدیث شریف کې دي چې دیو ساعت چپ کیدل د شپیتو کلونو له عبادت څخه غوره دي.

د ژبي ګناهونه: هر کله چې ژبه په منفي امورو او هغه څه کې چې د قران او سنت مخالف دي استعمال کړو نو ګناه ګڼل کیږي چې دغه ګناه ګاني عبارت دی له:

۱- د شرکې الفاظو استعمال.

۲- هغه توري چې مقدسات پکې توهینیږي.

۳- بی ضرورته قسم خوړل مثلا چا ته وایو چې دتله کینه یا دغه پیاله چاي وڅښه وایي والله که کینیم او بیا کیني یا یي څښي.

٤- غیبت:

٥- دروغ

٦- منت بارونه

۷- خبر لوڅي

۸- دو تنه په جنګ اچول

۹- تهمت

۱۰- جاسوسي

۱۱- رییشخند وهل

۱۲- کنځل کول.

۱۳- طعنه ورکول پیغور ورکول.

۱٤- په دروغو د نورو دخندولو لپاره دروغجنې او ساختګې توري.

۱٥- بی حیا الفاظ.

۱٦- بی هدفه او بی چوکاټه توري

۱۷- بیهوده خبرې

**دویم: غوږونه**

غوږونه د الله ﷻ له قیمتي نعمتونو څخه یو دی، دغه نعمت هم باید دټولو نعمتونو غوندي مثبت استعمال شي دغوږونو عبادتونه په لاندې ډول سره دي:

دغوږونو مثبت اعمال:

۱- د قرآن عظیم الشان دتلاوت اوریدل، ځکه چې قران د مومنانو د روح غذا ده، داسې حال کې چې انګریزان موسیقی د روح غذا بولی.

۲- د هغو خبرو اوریدل چې د انسان ایمان عقیده او اعمال قوي کوي او دغه کار په اسلامی درسونو او علمی مجلسونو کې په شرکت سره حاصلیږي.

۳- د مکتب، مسجد، مدرسې پوهنتون او ټول درسونه اوریدل.

٤- دلویانو د نصیحتونو اوریدل.

٥- د اسلامی کستونه او سی ډی ګانو اوریدل.

دغوږونو منفی اعمال (ګناهونه) منفی امورو ته غوږ نیول دوه ګناګانی لري، یو دا چې خپله انسان ګناهګار کیږي دویم داچې د ګنهګارانو د تشویق سبب کیږي او د ګناه د رشد او پرمختګ سبب کیږي.

دغوږونو ګناه ګانی عبارت دي له:

۱- بی ضرورته دنامحرمه غږ اوریدل.

۲- د مبتذله موسیقی اوریدل.

۳- دداسې بی فایدې خبرو اوریدل چې هغې کې نه ددنیا ګټه وي نه داخرت.

٤- غیبت ته غوږ نیول.

٥- تهمتونو ته غوږ نیول.

۶- خبر لوڅیو او غیره ته غوږ نیول.

**دریم: سترګې**

سترګې هم یو لوي الهی نعمت دي، چې پرته له هغې نشې کیدلي چې د ژوند ډیر امور په نور مال شکل سره پر مخ ولاړ شي. مونږ مسولیت لرو چې خپلې سترګې په مثبتو امورو کې مشغوله کړو، او له بدیو څخه یې وساتو، د سترګو مثبت اعمال:

۱- د قرآن عظیم الشان لیدل.

۲- بیت الله شریف ته کتل.

۳- خپل د ژوند ملګري ته کتل.

٤- اسلامی او علمی کتابونو ته کتل.

۵- د عوتګرانو ته کتل.

د سترګو منفی اعمال (ګناهونه) هر کله چې خپلې سترګې منفی استعمال کړو نو ګناه ګڼل کیږي د سترګو ګناهنونه عبارت دي له:

۱- نامحرمو ته کتل.

۲- د مبتذلو فلمونو او سریالونو کتل.

۳- د موسیقی سی ډی ګانو کتل.

٤- د خلکو عورت ته کتل پرته له نکاح څخه.

۵- دنامحرمو عکسونو ته کتل.

۶- د بی‌حیا مجلو عکسونو ته کتل.

**څلورم: لاسونه**

د انسان په وجود کې د قیقترینه اناتومی دلاسونو اناتومی ده، الله‌ﷻ د انسان لاسونه په ډیر دقیق ډول سره پیدا کړي دي. چې ددنیا لوي اختراعات هم د لاسونو په واسطه ترسره شوي دي.

د لاسونو مثبت اعمال: د انسان لاسونه هغه وخت په عبادت کې وي چې د الهی اوامرو مطابق په مثبتو امورو کې استعمال شي او نورو ته له ضرر رسولو

څخه په امان وي، حضرت محمدﷺ حقیقی مسلمان په دوه ټکو کې خلاصه کړي دي «المسلم من سلم المسلمون من یده ولسانه».

**پنځم: پښې**

هر قدم چې پورته کوو زمونږ د اعمالو دثبت کتاب کې رسیږي هغه قدمتونه چې د مسجد خوا ته ځي د هغو قدمونو سره چې د ګناه د مجلسونو خوا ته ځي ډیر زیات فرق لري. حضرت محمدﷺ فرمایي (د هغو خلکو لپاره چې تیارو کې د مسجد خوا ته ځی د قیامت په ورځ دپوره نور زیري ورکړي) هر کله چې یو ځوان د ملی بس په چوکۍ کې ناست وي او کوم مشر سړي یا مریض او یا ماشومداره ښځینه ویني او د هغوي د احترام او قدر او عزت لپاره له خپل ځایه جګیږي او خپل ځاي هغوی ته پریږدي نو یو جسمی عبادت یې کړي دي.

او هر کله چې یو ځوان له خپل همسایه سره همکاري کوي د هغه اموال ورسره انتقالوي په حقیقت کې یی یو جسمي عبادت ترسره کړي دي.

**شپږم: ټول اعضا**

د انسان ټول اعضا چې عبارت دي دلامسې حس، عورت او د وجود ټول اعضا هر یو مسولیت لري چې خیریه امورو کې استعمال شي او له ممنوعاتو څخه وساتل شي. بدني عبادتونه په ټولو عبادتونو کې لکه لمونځ حج هجرت جهاد، دعوت ته تلل او نورو ټولو عبادتونو کې هم واقع کیږي مومن انسان پوهیږي چې د قیامت په ورځ ترې د جسم په هکله چې په څه کار کې یې استخدام کړي پوښتنه کیږي، انسان دقیامت په ورځ د خپل وجود دساختمان په هکله پوښتل کیږي.

**له مالونو څخه په ګټه کې عبادتونه**

مسلمان انسان په خپل ۲۴ ساعته ژوند کې له هر شي څخه په ګټه کې یاد اسلامی شریعت مطابق حرکت کوي او یا هم د هغه مخالف.

هر کله چې څوک له کوم مادی شي څخه د الهی احکامو مطابق استفاده وکړي دده دغه عمل عبادت او ثواب ګڼل کیږي. او هر کله چې د اسلامی احکامو مخالف استفاده وکړي په ګناه کې شاملیږي.

**مال په لغت کې:**

د هر شي چې مالک کیدلی شي هغه ته مال وایي، جنس وي که منفعت خو اصل مال سرو زرو او سپنو زرو ته استعمالیږي بیا ددې معنی پرمختګ وکړ.

**مال په اصطلاح کې:**

په اسلامی اقتصاد کې اسلامی دانشمندانو د مال لپاره زیات تعریفونه کړي دي ابن عابدین د حنفی فقهاو څخه وایی: مال هغه شي ده چې د انسان طبیعت ورته میلان کوي او د ضرورت پر وخت یې ذخیره کول ممکن وي[۱].

له انسان څخه پرته دنورو شیانو نوم دي چې د انسان د منفعت لپاره پیدا شوي دی دي او په اختیارې ډول د هغې ساتني او پکې تصرف کول ممکن وي.

له مال څخه استفاده کیدلي شي په دوه اساسی برخو تقسیم کړو، له وسایلو څخه استفاده له پیسو څخه استفاده.

**اول: له وسایلو څخه استفاده**

اللهﷻ انسانانو ته د ژوند لپاره ډیر وسایل پیدا کړي دي. او هم یې انسان ته عقل ورکړي دي ترڅو دخپل علم او معرفت په واسطه ښه وسایل غوره کړي، اصلاً دوه نوع وسایل وجود لري:

۱- مباح وسایل: مباح وسایل هغه وسایل دي، چې د انسان د ورځنیو ضرورتونو لپاره له هغه څخه استفاده کیږي لکه ترانسپورتي وسایل

۱- الموسوعة الفقهية الكويتية ۱۳۰۹۸/۲.

زراعتي وسايل د کور وسايل، د پخلنځي وسايل، ددفتر دارئ وسايل د مکتب وسايل د پوهنتون وسايل او غيره.

۲- حرام وسايل: هغه وسايل دي چي د حرامو اوناروا امورو د ترسره کولو لپاره کارول کيږی، لکه هغه وسايل چې د زنا لپاره ترې استفاده کيږي او د ځينو خارجی هيوادونو په مارکيټونو کې پلورل کيږي او پيرودل کيږي. همدارنګه د مبتذل موسيقی وسايل.

۳- د استفادې مطابق: ډير وسايل داسې دي چې د هغي حلال والی او حرام والي له هغې څخه د استفادې په نوعيت پورې تړلی دي، مثلا که څوک کمپيوتر انترنت راديو تلويزون، فلم سی ډی د ټايپ کسټې او غيره د نيک هدف په غرض استعمالوي نو دا ورته جايز ده، او که څوک هغه په حرامو امورو کې استعمالوي هغه ته حرام او ناجايز دي.

**دويم: له پيسو څخه استفاده**

د پيسو په هکله کې کولي شو څلور برخې د مطالعي لاندې ونيسو:

۱- دعايداتو مشروعيت

۲- د مصارفو مشروعيت

۳- د مالونو دساتني مشروعيت.

۴- د مالونو د تجارت مشروعيت




اول- عايدات: مومن انسان له هر څه مخکي د خپلو عايداتو په هکله فکر کوي، څکه حديث شريف کې راغلي دي: «عَنْ ابْنِ مَسْعُودٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَزُولُ قَدَما ابْنِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ عِنْدِ رَبِّهِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ خَمْسٍ عَنْ عُمُرِهِ فِيمَ أَفْنَاهُ وَعَنْ شَبَابِهِ فِيمَ أَبْلَاهُ وَمَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَ أَنْفَقَهُ وَمَاذَا

عَمِلَ فِيمَا عَلِمَ»[۱]. ابن مسعود له رسول اللهﷺ څخه وايي: شور به نخوری د انسان قدمونه د قيامت په ورځ د رب له مخی ترڅو د پنځو شيانو څخه وپوښتل شي، له عمر څخه چې څه شي کی يې پناه کړي، او ځواني يې په څه شي کې تيره کړې، او مال يې له کومه پيدا کړی او په څه يې مصرف کړ او په علم يې څه عمل کړي.

چې دا عايدات يې له کوم ځايه ترلاسه کړي دي؟

حرام عايدات کولي شو په لاندې ټکو کې خلاصه کړو:

۱- حرام معاش: هغه معاش ده چې په حرامو تجارتي شرکتونو کې له کار کولو او له حرامو وظيفو څخه په لاس راځي.

د حرام تجارت مثال: د شرابو تجارتونو مخدره موادو حرام لباسونه، حرام وسايل، د فلمونو سی ډی ګانی او مبتذله موسيقی.

د حرامو وظيفو مثال: د شراب جوړولو شرکتونو کې کار کول، مخدره مواد، سودی بانکونه د شرابو او زنا عرضه کوونکی هوټلونه، د ګناه محفلونه، هغه موسسات چې د هيواد د اسلامی او ملی منافعو پر ضد مصروف دي.

۲- حرام تجارت: په اسلامی اقتصاد کې حلال تجارت هغه ده چې هغو وسايلو کې ترسره شي چې له هغو څخه استفاده حلاله وي.

۳- استفاده پورته کول: له وظيفو څخه استفاده پورته کول لکه رشوت او اختلاس.

٤- حرامې لوبی: د حرامو لوبو له لارې پيسي ترلاسه کول لکه قمار.

٥- حرام امور: دناروا امورو له لارې د پيسو ترلاسه کول لکه د کنسرتونو پيسې، د حيواناتو په جنګ اچول، رقص، په دروغو د خلکو خندول او غيره.

٦- فريب ورکول: ډير خلک د چل بازۍ او د خلکو په سترګو کې د خاورو شيندلو له لارې پيسي په لاس راوړي چې دغسي پيسې حرامې وی لکه:

---

۱- السلسلة الصحيحة تاليف محمد ناصر الدين الألباني، رياض: مكتبة المعارف.

الف: په تجارت او دکانداری کې چل: اکثره دکانداران او تجاران د بدلو او خرابو مالونو په خرڅولو سره فريب کاری کوي چې دغه پيسي ورته حرامې دي، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «اتَّقُوا الظُّلْمَ فَإِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاتَّقُوا الشُّحَّ فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حَمَلَهُمْ عَلَى أَنْ سَفَكُوا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوا مَحَارِمَهُمْ»[1]. له جابر بن عبدالله نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايي: وډار شی له ظلم څخه چې ظلم د قيامت د ورځ تياره ده، او له بخيلۍ وډار شي چې بخيلي هلاک کړي هغه خلک چې له تاسې مخکی و هغوی يې وهڅول چې وينی توی کړی او حرام حلال وګڼی.

ب: په کار کې چل: ځيني داکتران په چل سره پيسې لاس ته راوړي مثلا يو بيچاره مريض ته قيمتي نسخې نوشته کوي او غواړي له خپلو قرار دادي دواخانو سره ګټه ترلاسه کړي. او يا د هغو خلکو لپاره چې دوي سره اړيکې لري پرته له ضرورت څخه د وينې معاينې، تلويزوني، سيروم او غيره توصيه کوي.

ج: يو ډله خلکو ته د تعويذ، جادو فال ليدنې او غيره له لارې چل ورکوي او پيسې لاس ته راوړي.

د: د خلکو له مجبوريته استفاده کول: يو اندازه خلک شته چې کله څوک مجبور ووينی او د هغوي کار بند وي، نو د هغوي له مجبوريت څخه استفاده کوي مثلاً کور ترينه په ډير کم قيمت سره اخلي له هغوي څخه رشوت اخلی، يو مريض د هغه د تداوي لپاره د زياتو پيسو په اچولو باندې مجبور وي، له عاجزۍ او بی کسۍ څخه د هغوي مالونه غصب کوي. د يتيمانو مالونه خوري، د خلکو په کور او ځمکه باندې دعوه کوي. لنډه دا چې د خلکو له بيچاره ګۍ، فقيرۍ، کمزورۍ او بی کسۍ څخه استفاده کوي او د هغوی څخه مالونه ترلاسه کوي، پدې هکله د اسلام د پيغمبر حديث صدق کوي: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ «أَتَدْرُونَ مَا الْمُفْلِسُ». قَالُوا الْمُفْلِسُ فِينَا

---

١- حديث نمبر (٦٧٤١) صحيح مسلم.

مَنْ لاَ دِرْهَمَ لَهُ وَلاَ مَتَاعَ. فَقَالَ «إِنَّ الْمُفْلِسَ مِنْ أُمَّتِي يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصَلاَةٍ وَصِيَامٍ وَزَكَاةٍ وَيَأْتِي قَدْ شَتَمَ هَذَا وَقَذَفَ هَذَا وَأَكَلَ مَالَ هَذَا وَسَفَكَ دَمَ هَذَا وَضَرَبَ هَذَا فَيُعْطَى هَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ وَهَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْضَى مَا عَلَيْهِ أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَتْ عَلَيْهِ ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ»[1]. ابوهريره رضي الله عنه له رسول الله ﷺ څخه وايي: ايا پوهيږئ چې مفلس څوک دئ؟ ويويل مونږ كې مفلس هغه ده چې نه درهلم لرى او نه دينار، هغه وويل: زما دامت مفلس هغه ده چې دقيامت په ورځ له لمونځ روژى او زكات سره راشى خو ده ته يې كنځا كړې وي، او دا يې تورن كړى وي او دده مال يې خوړلى وي، او دده وينه يې تويه كړې وي، او دايې وهلى وي، نو ده ته به يې له نيكيو څخه وركول كيږي او ده ته هم، نو چې نيكي يې خلاصه شى مخكى له دې چې فيصله وشي نو د نورو ګناه به اخيستل كيږي او په ده به اچول كيږي او بيا به وور ته غورځول كيږي.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- «إِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[2]. ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دى چې سول الله ﷺ وفرمايل ظلم دقيامت د ورځ تياره ده.

۷- حرام كارونه: د اسلام له نظره هركار حرام ندي، داسي كارونه لكه جادوګري، فال ليدنه، شګه اچول، رقاصي، مبتذله سندر غاړي او غيره د اسلام له نظره حرام دي.

۸- د نورو د مالونو غصب: هركله چې څوک دبل چا مال په زور يا په دعوه سره غصب كړي، نو دا ورته حرام ده، نن ورځ ډير خلک پدې هلكه ډير بى تفاوته دى، د خلكو په ځمكه او كور دعوه كوي او په مختلفو ډولو د نورو مالونه غصب كوي، عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: «لَتُؤَدُّنَّ الْحُقُوقَ إِلَى أَهْلِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُقَادَ لِلشَّاةِ الْجَلْحَاءِ مِنَ

۱- حديث نمبر (۶۷۴۴) صحيح مسلم
۲- حديث نمبر (۶۷۴۲) صحيح مسلم

الشَّاةِ الْقَرْنَاءِ»[1]. ابوهریره‌ﷺ له رسول اللهﷺ څخه وايي چې د قیامت په ورځ به خپل اهل ته حق رسول کیږي ان دبی ښکره پسه لپاره به له ښکرور څخه بدل اخیستل کیږي.

پدې حدیث شریف کې هغو خلکو ته درس دي چې ظلم کوي، ځکه سره له دې چې حیوانات له محاسبې څخه معاف وي، ولې ظالم حیوان حتما مظلوم حیوان ته خپل حق ور ادا کوي. عَنْ أَبِى مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهَّ –صلى الله عليه وسلم– «إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يُمْلِى لِلظَّالِمِ فَإِذَا أَخَذَهُ لَمْ يُفْلِتْهُ». ثُمَّ قَرَأَ «وَكَذَلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَى وَهِىَ ظَالِمَةٌ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ»[2] ابو موسی له رسول اللهﷺ څخه وايي: الله ظالم ته مهلت ورکوي خو چې ویې نیسي بیا یې نه خوشې کوي، بیا یی داايت ولوست (او دا رنګه دي نیول ستا د رب، کله چې یوه قریه ونیسي او هغه ظالمه وي بی‌شکه د هغه نیول دردناک او سخت دي.

۹- سوالګري: اصلا سوالګري هغه چاته چې مجبوریت نلری حرام دي، ځکه چې:

الف: مخلوقاتوته دشکایت اظهار: په سوالګري کې مخلوق ته د شکایت اظهار ده، چې په اسلام کې ناروا ده.

ب: خپل ځان ذلیلول: مومن انسان دعزت او مقام خاوند وي، او هغه نه باید له دغه عالی کرامت سره چې لري یې خپل ځان د نورو په وړاندې ذلیل کړي.

ج: مقابل جانب ته ضرر رسول: مومن انسان نه باید چا ته ضرر ورسوي، اکثرا سوالګر دمال دلاسته راوړلو په خاطر مقابل جانب د پیسو په اچولو باندې مجبور وي، او د هغوي له عاطفي څخه منفی استفاده کوي.

د: چل بازی: اکثرا هغه خلک چې مجبور ندي، په چل بازی سره له خلکو څخه پیسي ټولوي.

---

۱- حدیث نمبر (٦٧٤٥) صحیح مسلم

۲- حدیث نمبر (٦٧٤٦) صحیح مسلم

ه: دروغ: سوالګر د پیسو دلاسته راوړلو په خاطر اکثرا دروغ وايي.

و: بیکاری: سوالګر انسان له کار او زحمت ویستلو څخه ځان ساتي، او د ټولنې د اوږو بار وي.

ز: کورنۍ ته شرم او عار: هغه خلک چې په سوالګرۍ مصروف دي، د خپلې کورنۍ اعضاو ته ډیر لوي عار او شرم وراړوي.

یادونه: سوالګري هغه چا ته اجازه ده چې د سخت ضرورت حالت کې په سر وړي، لکه چې څوک له ولږې مړ کیږي نو هغه ته د مردارې غوښې خوړل حرام دي.

**د مال د حلال والی فورمول څه شي دي؟**

مال هغه وخت حلالیږي چې دغه شپږ شیان ونلري:

**۱– سود:**

هر کله چې څوک کوم سړي ته یولک افغانۍ ورکړي، او ورته ووايي، چې ددې مقابل کې هره میاشت ماته دوه دوه زره را کوه، او د کال په اخر کې خپلې یولک هم اخلم دا سود دي، ځکه چې داپه ګټه او تاوان کې شریک ندي، بلکه که مقابل شخص ګټه اویا هم تاوان وکړي مجبور ده چې میاشتنی ورته دوه دوه زره افغانۍ ورکړي.

**۲– حرام:**

هغه مال ده چې له نا مشروعی لارې لکه غلا، رشوت، سرقت، اختلاس، غصب، چل بازۍ او غیره له لارې لاس ته راغلی وي.

**۳– سحت:**

په لغت کې هغه مردارو او قبیحو کسبونو ته وايي چې د هغې په سبب سړي شرم او عار سره مخ کیږي، او نوم اخیستل یې بد وي، اسحات هلاکت او بربادۍ ته وايي، ثعالبی وايي:

هر حرام چې یادول یې قبیح وي او له هغې نه انسان ته شرم راځي لکه د سپي خوک او شراب او غیره خرڅولو پیسی[۱].

او د اسلامی شریعت په اصطلاح کې سحت هر هغه حرام مال ته وایي چې د هغه کسب کول او خوړل حرام وي، او هغه ته سحت وایي، ځکه چې نیکیاني له منځه وړي، او غالبا د رشوت او هغه څه پورې خاص کیږي چې شاهد او قاضی یې اخلی[۲].

همدارنګ سود، رشوت، غصب، قمار، سرقت، د زنا کارانو اجوره، قمار دفال لیدونکو او جادوګرو ګټه، او هغه مال چې په باطله اخیستل شوي وي، هم سحت نومیدلی شي[۳].

**۴- غلول:**

په لغت کې خیانت ته وایي[٤] او غلول په مخفی او پټ ډول سره د څه شي اخیستلو ته هم وایي، د اسلامی فقهی په اصطلاح کې د غنیمت له مالونو څخه له تقسیم څخه مخکې د څه شي اخیستلو ته وایي[٥] په قرآن شریف کې راغلي دي ﴿وَمَن يَغۡلُلۡ يَأۡتِ بِمَا غَلَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَـٰمَةِۚ﴾[٦] «او څوک چې خیانت وکړي راوړي به هغه مال دقیامت په ورځ».

**۵- مکروه:**

---

١ - كلُّ حرام قَبيحِ الذِّكرِ يلزَمُ منه الْعارُ كثَمنِ الكلبِ والخِنزيرِ والخمرِ فهوَ سُحْت فقه اللغة ١/ ٢٢

٢- السّحت لغةً: ما خبث وقبح من المكاسب فلزم عنه العار وقبيح الذّكر، وهو بضمّ الحاء وسكونها. واصطلاحاً: كلّ مال حرام لا يحلّ كسبه ولا أكله، وسمّي بذلك لأنّه يسحت الطّاعات أي يذهبها. وقد يخصّ به الرّشوة وما يأخذه الشّاهد والقاضي، والسَّحت «بفتح السّين» والإسحات: الاستئصال والإهلاك، كما في قوله تعالى: ﴿فَيُسۡحِتَكُم بِعَذَابٖۖ﴾ أي يستأصلكم.

٣- الموسوعة الفقهية الكويتيه، ٢٥/٢٥٣.

٤- غَل يَغُلُّ غَلّا، إذا خان. جمهرة اللغة ١/٥٧

٥- موسوعة الفقهية الكويتية، ج٢٣ ص ٢٥٠

٦- الموسوعة الفقهية الكويتية ٤٠/٣٦٦

مکروه په لغت کې د محبوب په ضد دي: یعنی مکروه هغه شي دي چې دانسان طبیعت له هغه څخه نفرت کوي، همدارنګه شدت او مشقت ته هم مکروه وایي[۱] د اسلامی فقهی په اصطلاح کې علماو مکروه په مختلفو ډولونو سره تعریف کړي دي: د کویتي فقهي موسوعه کې وايي: ما یمدح تارکه ولایذم فاعله[۲]. ځینې واي کله ناکله مکروه یو حرام شي ته هم ویل کیږي او کله هم مکروه هغه شي ته ویل کیږي چې د هغې ترک مصحلت وي، او یا هغه شي چې د هغه نهی د حرام په ډول نه بلکې د منع په ډول سره وي. لکه ځینو وختو کې د لمانځه کول، او ځینې هم مکروه هغه شي ته وايي چې اصل کې حلال وي خو د انسان نفس دهغه له خوړلو څخه د کراهیت احساس کوي لکه له حلالو حیواناتو څخه د ځینو حیواناتو غوښه خوړل.

د احنافو فقهاو مکروه په دوه ډوله ویشلې ده، الف: مکروه تحریمی، ب: مکروه تنزیهی[۳].

**۶– شبهه:**

مخکې مو په حدیث شریف کې وویل چې د حلالو او حرامو ترمنځ داسي امور دي چې په هغې کې شبه او شک نغښتي دي، او په هغې باندې ډېر خلک نه پوهیږي خو هر چا چې له هغو کارونو چې هغه کی شک او شبه ده ځان وساته نو خپل ځانته یې په دین کې پاکي غوښتې ده، او هر څوک چې شبهاتو

---

۱- والغلول في الاصطلاح: أخذ شيء من الغنيمة قبل القسمة ولو قلّ، أو الخيانة من الغنيمة قبل حوزها، أو الخيانة من المغنم، لأنّ صاحبه يغلّه أي يخفيه في متاعه، أو هو السّرقة من المغنم. موسوعة الفقهية الكويتية، ج۲۳ ص ۲۵۰

۲- موسوعة الفقهية الكويتية، ج۴۰ ص ۳۶۶

۳- الف: مکروه تحریمی: چیزی است که در شریعت اسلامی به شکل قطعی حرام شده ولی ثبوت آن به طریق ظنی باشد، مثل خوردن پرنده‌گان پنجال‌دار مثل باشه، بوم وغیره. ب: مکروه تنزیهی: آنست که در آن شریعت نهی قطعی ننموده باشد. اصول الفقه الذي لا يسع الفقيه جهله ۳۶/۱

کې واقع شو د هغه چا په څیر ده چې د بل چا د فصل ترڅنګ خپل مال څروي، او ډیر زر به یې مالونه د خلکو فصلونو ته ورننوځي[۱].

بناء په هر مسلمان باندې لازمه ده چې د خپل مال د حلال والی لپاره دغو شپږو شیانو څخه ځان وساتي.

دویم: مصارف: د اسلامی شریعت له لید څخه حقیقی مومنان هغه خلک دي، چې خپل مالونه په مثبت ډول سره نفقه کوي، د مال مصرفول هم باید د اسلامی شریعت له احکامو سره مطابق وي، د مال مصارف یا حلال دی یا حرام.

**د مال مصارف په حلال ډول سره:**

۱- خپله نفقه د فامیل او د هغو خلکو نفقه چې ده باندې لازمه ده، پرته له زیادت او کمښت څخه. ﴿وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُواْ لَمۡ يُسۡرِفُواْ وَلَمۡ يَقۡتُرُواْ وَكَانَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا ٦٧﴾ «او هغه چې کله نفقه کوي نه اسراف کوي او نه بخیلی او ددې دواړو ترمنځ برابر وي».

**نفقه په لغت کې:**

عربانو د نفق کلمه په مختلفو معناګانو کې استعمال کړې ده، مثلا کله چې وایي: نفقت الدابة: د حیوان معایش مړه شوه، او د پیسو نفقه د هغو د له منځه تللو په معني ده، نفق همدارنګه تونل ته وایي. او منافق ته د همدې لپاره منافق وایي چې د تونل په رنګ دوه خولې لري[۲].

**نفقه په اصطلاح کې:**

د انسان هغه عادي مصارف دي چې په هغه کې کمي او اسراف نه وي. نفقه د حقیقی مومنانو صفت دي، ﴿وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ٣﴾ د نفقې حکم: نفقه د هغو خلکو لپاره چې شریعت هغه تعین کړي دي واجب ده.

---

۱- حدیث نمبر (٥٠) کتاب الإیمان، بخاري شریف

۲- تهذیب اللغة تالیف الأزهري۲۳۸/۳

**دنفقې اسباب:**

الف: نکاح: د منکوحې نفقه په ناکح باندې واجب ده.

ب: قرابت: د ځينو اقرباو نفقه لکه اولاد، والدين، فقير اقارب.

۲- د زکات ادا کول او د الله تعالى حق ورکول په هغو خلکو چې واجب ده.

۳- په مشروعو لارو کې مصرف لکه خپلوانو سره فقيرانو سره او يتيمانو سره مرسته، او له دوستانو سره همکاري، نفلي صدقات، په صدقه جاريه کې مصرف او غيره.

**حرام مصارف:**

حرام مصارف کولي شو په لاندې ډول سره خلاصه کړو:

۱- اسراف.

۲- تبذير.

۳- تقتير.

**اسراف په لغت کې:**

اسراف په لغت کې په قصد کې زياده روی، د مال په مصرف کې عدم توازن، او د مال ايښودو ته په غير مناسب ځاي کې وايي. او ممنوعه اسراف چې ده د مال مصرفول دي په غير د الله تعالى له اطاعت څخه کم وي او که زيات[۱].

**اسراف په اصطلاح کې:**

اسراف په حلال کې زياده روي ته وايي ﴿وَلَا تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ١٤١﴾[۲] [الأنعام: ۱۴۱] علامه جرجانی وايي (اسراف نفقه کې له حد څخه تجاوز ته وايي، او ځينې وايي: هغه شيان چې حلال دي د اعتدال له حده او د

---

۱- الموسوعة الفقهية الكويتية ۱۲۶۱/۲

۲- او اسراف مه کوی بی‌شکه الله اسراف کوونکی نه خوښوی.

حاجت له اندازې څخه زیات وخوري هغې ته اسراف وایي ﴿وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُواْ لَمۡ يُسۡرِفُواْ وَلَمۡ يَقۡتُرُواْ وَكَانَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ قَوَامٗا ٦٧﴾ [الفرقان: ٦٧]

پدې آیات شریف کې اسراف په نفقه کې استعمال شوي دي، بناء کله چې څوک خپل حلال مال په حلاله نفقه کې استعمالوي نو د همدغه حلال په استعمال کې زیاده روي یا کمې نه کوي.

**تبذیر په لغت کې:**

تبذیر په لغت کې دبذر له کلمی څخه اخیستل شوي دي، او د تیتولو په معنی سره دي.

**تبذیر په اصطلاح کې:**

په غیر مناسبو شیانو کې دمالونو مصرف دي، او یا پرته له حق څخه د مال مصرفول دي. بناء په حرامو شیانو کې د مال مصرفولو ته تبذیر وایي: ﴿وَءَاتِ ذَا ٱلۡقُرۡبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلۡمِسۡكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرۡ تَبۡذِيرًا ٢٦ إِنَّ ٱلۡمُبَذِّرِينَ كَانُوٓاْ إِخۡوَٰنَ ٱلشَّيَٰطِينِۖ وَكَانَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورٗا ٢٧﴾ [الإسراء: ٢٦-٢٧] «او ورکړه خپلوانو، مسکینانو او مسافرو ته خپل حق او زیات اسراف مه کوه بی‌شکه اسراف‌کوونکی د شیطان ورونه دي».

پدې آیات شریف کې تبذیر د نورو د حق په خوړلو کې استعمال شوي دي.

**د اسراف او تبذیر ترمنځ فرق:**

علامه ابن عابدین وایي: اسراف په مناسبو شیانو کې د مال مصرفول دي اضافه له هغه څه چې لازم دي، او تبذیر په غیر مناسبو شیانو کی مصرف کول دي. د علامه ابن عابدین په وینا هر کله چې څوک په حلال خوراک کې زیاده روی وکړي او دیو کیلو غوښې پر ځاي چې ورته کافی ده، دوه کیلو مصرف کړي، نو اصراف یي کړي دي، خود پیسو مصرفول د شرابو، موسیقی، د رقص او طرب مجالسو لپاره تبذیر دي. ﴿إِنَّ ٱلۡمُبَذِّرِينَ كَانُوٓاْ إِخۡوَٰنَ ٱلشَّيَٰطِينِۖ﴾ [الإسراء: ٢٧] «بی‌شکه اسراف کوونکی د شیطانانو ورونه دي».

علامه ماوردی وایي: د حقوقو په مواقعو کې جهل ته تبذیر وایي، مثلا بی توجهی په هغه ځایو کې چې مصرف کیږي، لکه مصرف کول په حرامو کې، او اسراف د حقوقو په اندازه کې جهل دي، یعنی له هغه خه نه چي حق يې لري زيات مصرفوي[۱].

۱- د حرامو شیانو په اخیستلو کې اسراف.

۲- په حرامو خوراکونو او څښونکو کې مصرف کول لکه شراب، دخوګ غوښه او غیره.

۳- د تکبر او غرور په خاطر مصرف کول.

٤- په لهو او لعب کې مصرف کول.

**د اسراف حکم:**

د اسراف حکم په څه شیانو کې د مصرف کولو په اساس فرق نکوي، هر کله چې څوک د خیر په امورو کې زیات مال مصرف کړي د یته اسراف نشی ویلی، مثلا څوک خپل ملیونونه او ملیاردونه پیسې د اسلامی مدرسو، مسجدونو، دارالایتامونو، مکتبونو او پوهنتونونو جوړولو لپاره مصرف کړي دا اسراف ندي.

خو خپل خوراک او څښاک کې زیاده روی ناروا ده، مثلا داسې خلک شته چې د یوې هندوانې پر ځاي څلور هندوانی چیرې کوي، بیايې یوه برخه خوري او پاتې يې کثافت دانی ته اچوي، او یا ډیرو محفلونو کې لیدل کیږی چې د وریځو غوری له خاورو سره یو ځای شوی وی او ایسته اچول کیږي، او یا ځینې ښځینه په مصرف کې په هغه اندازه بی احیتاطي کوي چې اولادونه يې نیم خوراک خرابوی او بیا هغه کثافت دانی کې اچوي. ﴿وَلَا تَجۡعَلۡ يَدَكَ مَغۡلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبۡسُطۡهَا كُلَّ ٱلۡبَسۡطِ فَتَقۡعُدَ مَلُومًا مَّحۡسُورًا ۝٢٩﴾[۲] [الإسراء: ٢٩]

---

۱- الموسوعة الفقهية الكويتية ۱۲٦۱/۲

۲- او مه غوټه کوه خپل لاسونه غاړې ته اومه يې خلاصوه په ټول خلاصول نو بیا به کینی ملامت او پیښتانه.

**تقتیر:**

په لغت کې د تضییق (تنګې)[1] او رمقه (په اخري رمقونو سره دژوند ساتني) بخیلۍ او غیره په معنا راځي، او قتار ددیګ او کباب بوی ته هم واي[2]. عربان وایي: «اقتر، یقتر» کله چې فقیر شي[3] او اقتار په هغه شي کې کمی کول چې حتمی وي[4].

**تقتیر په اصطلاح کې:**

تقتیر مفسرینو کرامو په دې آیات شریف ﴿وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُواْ لَمْ يُسْرِفُواْ وَلَمْ يَقْتُرُواْ وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا ۝٦٧﴾ [الفرقان: ٦٧] په نفقه کې د کمې کولو په مفهوم، چې د اسراف په مقابل کې استعمال شوي دي بیان کړي دی. یعنی اسراف په نفقه کې زیاده روی او تقتیر په نفقه کې کمي ته وایی[5].

علامه شوکاني وايي: هرکله چې څوک د پروردګار څخه پرته دبل چا طاعت کې څه شي مصرف کړي هغه اسراف کړي دي، او کله چې له الهی طاعت څخه لاس واخلي نو تقتیر یي کړي دي، او څوک چې الهی طاعت کې نفقه وکړي هغه (قوام) کړي دي[6].

علامه ابن جوزي وایي: اقتار په نفقه کې تضییق یا تنګي او بخیلۍ ته وایي[7].

---

۱- تفسیر الجلالین تالیف جلال الدین محمد بن أحمد المحلي وجلال الدین عبدالرحمن بن أبي بکر السیوطي، قاهره: دار الحدیث ٤٧٦/١

۲- تهذیب اللغة تالیف الأزهري ١٩٣/٣

۳- الجامع لأحکام القرآن تالیف محمد بن أحمد بن أبي بکر بن فرح القرطبي أبو عبد الله٧١/١٣

٤- زاد المسیر في علم التفسیر تالیف عبد الرحمن بن علي بن محمد الجوزي، بیروت: المکتب الإسلامي، ط ٢ (١٤٠٤ هـ ق) ١٠٣/٦

٥- مفردات القرآن ١١٥٩/١

٦- فتح القدیر الجامع بین فني الروایة والدرایة من علم التفسیر تالیف محمد بن علي الشوکاني ١٢/٤

٧- التسهیل لعلوم التنزیل لابن جزی٧٨٧/٢

علامه سيدقطب وايي: اسراف او تقتير په اجتماعی او اقتصادی مجالاتو کې خلک واردوي، دمالونو بندول اويا هم د هغې په مصرف کې بی تفاوتی د مشکلاتو سبب ګرځي، بناء اسلام دغه مسايل تنظيم کړي دي، او ابتدايې هغه د ټولنې له وګړو څخه شروع کړې ده، ﴿وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا ﴿٦٧﴾﴾ [1] [الفرقان: ٦٧]

**دريم: د پيسو ساتل**

د اسلام مقدس دين له ليد څخه د پيسو ساتل هم ډير مهم دي، د پيسو د ساتلو په برخه کې بايد په لاندې ټکو پوه شو:

الف: اسلام اجازه نه ورکوي چې سرمايه چا سره ذخيره شی، بلکی له هغه نه بايد کار واخيستل شي.

ب: د مالونو زکات دې ادا شي.

ج: هرکله چې دپيسو ساتلو ته ضرورت پيداکيږي نه بايد د هغه چا سره کيښودل شي چې هغه په حرامو کې استعمالوي، مثلا ډير خلک خپلې پيسی په سود اخيستونکو او سود ورکوونکو بانکونو کې ساتي، دغه بانکونه کوم تضمين هم نلري، چي دغه پيسي په څه، څه شيانو کې په کار اچوي، بناء هر چا سره معامله کوي، د شرابو جوړولو شرکتونه، د مخدراتو تجارت، قمار خاني، خارجی شرکتونه او غيره.

بناء له دوي سره د پيسو ايښودل له ګناه سره تعاون او همکاری ده.

**څلورم: تجارت**

په تجارتی مسايلو کې په حلالو شيانو باندې تجارت حلال او په حرامو شيانو باندې تجارت حرام دي، په تجارت او غيره امورو کې د پيسو په کار اچول يوائی په حلالو او جايزو امورو کې اجازه ده.

## دويمه برخه: اجتماعی عبادتونه

---

۱- في ظلال القرآن تاليف سيد قطب ۳۳۲/۵

**د اجتماعی عبادتونو پیژندنه:**

اجتماعي عبادتونه هغه عبادتونه دي چې يو مسلمان نشي کولي هغه په يوائې ډول سره ترسره کړی، بلکه په اسلامی ټولنه کې له ټولو مسلمانانو سره هغه يو ځای ادا کوي لکه د جمعی لمونځ، د زکات اداکول، د حج ادا کول، جهاد، دعوت، د اسلامی نظام د ایجادولو لپاره کار، د الهی قانون تطبيق او غیره.

**وګړيز او اجتماعی ډولونو ته د عباداتو تقسیم:**

ددې علت چې ولې يې عبادت وګړيزې او اجتماعی دوه ډولونوته ويشلي دي داده چې د اسلام مقدس دين هغه کامل دين دي چې اسلامی عبادتونه د ژوند د ټولو وګړيزو، اجتماعی، تعليمی، تربيوي، سياسی، اقتصادی، مادي، معنوی او غيره اړخونو ته شامليږي.

بناء د اسلام مقدس دين کې داسې امور لکه ګوښه کيناستل، رهبانيت، ددنيا ترک چې يوائې د فرد سره اړيکې لري، او په نورو ټولو دينونو کې لکه مسيحيت هندويزم چي په هغې باندې تاکيد شوی دی، هيڅ وجود نلري.

د اسلام مقدس دين کې لکه مسيحيت غوندې رهبانيت وجود نلري، ځکه د مسيحيت راهبانو دنيا ترک کړې وه او خپل ژوند په کليسا او عبادت ځاينو کې تيروي، ازدواج نکوي، او په ډيرو اجتماعی او سياسي امورو کې سهم نه اخلي، برعکس د اسلام مقدس دين کې دغه نوع رهبانيت مردود دي، او ۵۰٪ عبادتونه انسانی ټولني پورې مربوط دي، ترڅو مسلمان يوه ټولنه کې ژوند وکړي، او د نورو په نيک او بد کې شريک وي. دري کې وايي:

تـو کـز محنـت ديگـران بی‌غمـی　　　نشـايد کـه نامـت نهنـد آدمـی

**د اسلامي عبادتونو فرق له غير اسلامی عبادتونو (ټولو اديانو) سره**

۱- عبادت د اسلام مقدس دين کې د کوم خاص مکان او يا زمان پورې منحصر ندي، بلکې دانسان د عمر ټول لحظات د (عبادت او معصيت) دوه برخو ته شامليږي، او اسلامی عبادت په مختلفو زمانو او مختلفو

ځايو کې ترسره کيږي.

۲- د اسلام مقدس دين کې عبادت زيات ډولونه لري، چې دانسان د ژوند ټولو ابعادو ته شامليږي او انسان د ژوند هره برخه کې الهی احکام وجود لري چې بايد د هغې مطابق عمل وکړو او له هغې سره مخالفت معصيت ګڼل کيږي.

۳- د انسا د عمر هره لحظه امتحان دي، او د اللهﷻ ملايک په دوامدار ډول سره د انسان مراقبت کوي دغه ملايک چې د کرام الکاتبين په نوم سره ياديږی د انسان نيک او بد عملونه ياد داشت کوي، په الهی احکامو کې داسې ندي راغلي چې دغه ملايک انسان همداسې پريږدي، او په ځينو وختونو کې انسان کولي شي په داسې کارونو کې مصروف شي چې محاسبه يې ونشي.

٤- تفريح، سپورت، خوښي، له دوستانو سره تګ راتګ، د دوستانو ليدل را ليدل، په محافلو کې اشتراک، د حلال رزق پيدا کول، له دوستانو سره اخلاق او غوره چلند، له همسايه ګانو سره نيکه رويه، د والدينو احترام، د خپلوانو او ټولو خلکو دوستی، د نورو لپاره خير غوښتنه ټول عبادت دي، ځکه د اسلام مقدس دين کې حتی مثبته تفريح چې په هغې کې مثبتی سرګرمياني موجودې وي عبادت دی، حضرت پيغمبرﷺ فرمايي: خپلو اولادونو ته لامبو وهل، غشي ويشتل او اسپ زغلول وښاياست، او په بل حديث شريف کې فرمايي: قوی مسلمان نسبت ضعيف مسلمان ته غوره دي. همدارنګه پيغمبر د استراحت او تفريح په هکله فرمايي: «روحوا عن القلوب ساعة بعد ساعة» دمه ورکړی زړونو ته يو سات وروسته له بل ساته[1] ځکه همشينۍ مشغولتيا انسان له

---

۱- حديث (روحوا القلوب ساعة وساعة) الديلمي من جهة أبي نعيم ثم من حديث أبي الطاهر الموقري عن الزهري عن أنس رفعه بهذا ويشهد له ما في صحيح مسلم وغيره من حديث (يا حنظلة ساعة وساعة) حديث نمبر (۵۳۰) المقاصد الحسنة في بيان كثير من الأحاديث المشتهرة على الألسنة تاليف عبدالرحمن السَّخاوي، قاهره: دار الكتاب العربي ۳۷۲/۱

ستړيا سره مخ کوي او هر کله چي مثبته تفريح ددې لپاره وي چې مونږ وکولی شو چې تعليم او تربيه يا خپل کار په ښه ډول سره پرمخ بوځو، نو داد اللهﷻ د طآعت برخه ده، او د اللهﷻ طاعت عبادت دی.

په حديث شريف کې راغلي دي «وفي بضع احدكم صدقة»[1] يعنی هرکله چ څوک له خپلې ښځې سره نزدې کيږي هم صدقه (يعنی هغه عمل ده چې د هغه په ترسره کولو کې ثواب اخلی) له صحابه کرامو څخه يو تن عرض وکړ، چې ای د خدای رسوله: دا کار خو د لذت وړلو لپاره ترسره کيږي نو په هغې کې څه رنګه ثواب دی، پيغمبر وفرمايل: هر کله چې تاسې دغه لذت له غير مشروع لارې څخه ترسره کړي نو ګنهګار ګڼل کيږی؟ هغوي وويل: بلې، پيغمبر وفرمايل: بناء په مشروع ډول سره ددغه کار ترسره کول هم ثواب لری.

په همدې ډول له مباحاتو څخه استفاده هم ثواب لري، ځکه کله چې څوک د ذبحه شوی حيوان غوښه خوري چې په هغې کې د الله تعالی نوم يادوي، د هغه د ذبح کولو لپاره هڅه او کوشش کوي، پدې اساس ثواب حاصلوي، ځکه د غوښې په خوړلو کې چې مباح ده، د الله تعالی بل حکم چې د حلال استعمال دی هم مراعات شوي دی په هماغه ډول چې د حرامو استعمال ګناه لري په عين شکل سره د حلالو استعمال ثواب لري. د همدې علت له مخي عبادت په اسلام کې وسيع مفهوم لري او مختلفو برخو ته شامليږي.

انسان د ښاري ملی بس د ننه هم له عبادت او يا معصيت سره وي، په ملي بس کې د نورو احترام، چاته ضرر نه رسول، د ملی بس دننه د سګرت نه

---

١ – عَنْ أَبِى ذَرٍّ أَنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالُوا لِلنَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- يَا رَسُولَ اللَّهِ ذَهَبَ أَهْلُ الدُّثُورِ بِالأُجُورِ يُصَلُّونَ كَمَا نُصَلِّى وَيَصُومُونَ كَمَا نَصُومُ وَيَتَصَدَّقُونَ بِفُضُولِ أَمْوَالِهِمْ. قَالَ «أَوَلَيْسَ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ مَا تَصَّدَّقُونَ إِنَّ بِكُلِّ تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةً وَكُلِّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلِّ تَحْمِيدَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلِّ تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةٌ وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ وَنَهْىٌ عَنْ مُنْكَرٍ صَدَقَةٌ وَفِى بُضْعِ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ». قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيَأْتِى أَحَدُنَا شَهْوَتَهُ وَيَكُونُ لَهُ فِيهَا أَجْرٌ قَالَ «أَرَأَيْتُمْ لَوْ وَضَعَهَا فِى حَرَامٍ أَكَانَ عَلَيْهِ فِيهَا وِزْرٌ فَكَذَلِكَ إِذَا وَضَعَهَا فِى الْحَلاَلِ كَانَ لَهُ أَجْرٌ». حديث نمبر ٢٣٧٦ — صجيح مسلم

ځنبل، لويانو او ماشوم لرونکو ښځو ته خپل ځاي پريښودل، د سپريدو پر وخت د الله تعالى نوم اخيستل، د ختلو او ښکته کيدلو پر وخت د نوبت مراعات کول، ټول په عبادت کې شامليږي، او بر عکس د نورو اذيت کول په هر ډول چې وي ګناه ګڼل کيږي.

چل با زه خرڅوونکې د الله تعالى په معصيت کې وي، ځکه پيغمبر يوه ورځ يو تن وليده چې وچ غنم يې په سر ايښى و او د هغه لاندې لانده غنم و، کله چې پيغمبر دې کار ته متوجه شو، ويې ويل «من غشنا فليس منا» چا چې مونږ سره چل وکړ له مونږ ځينې ندي.

پوښتنه: ايا د هغو خلکو عبادت چې دنيا ترک کوي او خپل ټول عمر په عبادت کې تيروي کامل عبادت ندي؟

ځواب: کله چې يو شاګرد د څلورو کلو (اته سمسترو) په اوږدو کې له او يا مضمونو څخه فقط دوه يا درې مضمونه واخلي او پاتې يې ترک کړي، د شهادتنامې مستحق ګرځي، طبعا چې نه کيږي هغه خلک چې دنيا ترک کوي، څو عبادتونه چې په ټولنه کې ترسره کيږي ترک کوي، بناء په څو مضمونو کې د صفر مستحق ګرځی.

پوښتنه: لکه کوم مضمونونه؟

ځواب: هرکله چې څوک ټولنه ترک کړي، او د خلکو ترمنځ ژوند ونکړي او خپله د فقر په حالت کې ژوند وکړي، ايا کولي شي فرض زکات ادا کړي؟ د جمعي لمونځ د خلکو په منځ کې کيږي، او د جماعت پريښودونکي منافق دي، صله رحمى چې د مسلمان د ژوند اساسى شرط دی، ددنيا د ترک پر وخت له منځه ځي، اسلام ته دعوت ددنيا له ترک سره نه کيږي، جهاد هم ددنيا له ترک سره نه کيږي د اسلامي نظام د راوړلو لپاره کار هم ددنيا له ترک سره نکيږي او داسی نور زرګونو اسلامی عملونه..

**د اجتماعی عبادتونو اقسام**




اجتماعی عبادتونه د اسلام مقدس دین له مهمو عبادتونو څخه دي، هر وخت چې یو مسلمان وغواړي چې ددغه آیات شریف مطابق عمل وکړي، چې فرمايي: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱدۡخُلُواْ فِي ٱلسِّلۡمِ كَآفَّةٗ وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ٢٠٨﴾ [البقرة: ۲۰۸] «ای مسلمانانو ننوځی په اسلام کې پوره او پیروي مه کوی د شیطان د قدمونو بی‌شکه هغه ستاسې ښکاره دښمن دی».

لازمه ده چې ټول (فردي او اجتماعي) عبادتونه ترسره کړي، باید ښه واضحه کړو چې په هر وخت کې یو الهی حکم انسان ته متوجه کیږي، چې لازمه ده د هر حکم پر وخت په هماغه الهی حکم باندې مشغول شو، مثلاً کله چې مونږ په بازار کې اخیستل او خرڅول کوو، صداقت او رښتیا په اخیستلو او خرڅولو کې او له چل اودو کې څخه لرې والی په مونږ باندې واجب دی. همدغه وخت چې په ښار کې په اخیستلو او ګرځیدو را ګرځیدو باندې مصروف یو چې ناڅاپه د مؤذن غږ اورو، چې وایي «حي على الصلاة» د لمانځه خوا ته راشي، اوس په مونږ باندې یو نوی الهی حکم لازم شو، ترڅو فورا د مسجد خوا ته لاړ شو، خپل لمونځ ادا کړو، او بیا خپل پاتې اخیستل او خرڅول پوره کړو.

کله چې انسان په ټولنه کې ژوند کوي، څه عبادتونه هغه ته متوجه کیږي، چې نه باید دغه عبادتونه هیر کړو، ځکه د هر الهی حکم تطبیق په مونږ لازم

او ضروری دي. متاسفانه ځينې هغه خلک چې له الهی احکامو څخه بی خبره دي، او ياېې هم دين پخپل کامل ډول سره نه دي درک کړي، نو عبادتونه په فردي امورو کې خلاصه کوي، او فکر کوي چې په وګړيز ډول سره د څو عباداتو ادا کول له الهی عذابه د دوی د نجات سبب شي، داسې حال کې چې حقيقت داسې ندي، اجتماعی امور هم څه عبادتونه لري چې دې برخه کې دغه عبادتونه په ترتيب سره ذکر کوو.

**اول: انسانې روابط**

د ټولنې له افرادو سره ښه او نيک روابط لرل يو څه احکام لري، چې ددغو احکامو ترسره کول او د هغې ترک ګناه شميرل کيږی، انسانی روابط کولی شو د اسلام مقدس دين کې په لاندې ډول سره تقسيم بندي کړو:

**۱– د کورنۍ د غړو ترمنځ روابط:**

کله چې يو مومن د خپل کور دننه ژوند کوي، الهی احکام ده ته په مختلف ډول سره متوجه دي، دغه احکام دکورنۍ د ټولو غړو سره د ښې رابطې په هکله دي، د کورنيو روابطو موضوع کيدلي شي په راتلونکو سمسترونو کې د اسلام اجتماعی نظام تر عنوان لاندې په مفصل ډول سره ولولو.

**۲– د دوستانو ترمنځ روابط:**

د اسلام مقدس دين کې د دوستانو ترمنځ د روابطو د تحکيمولو په هکله احکام وجود لري چې دا موضوع هم د اسلام اجتماعی نظام کې شامليږي.

**۳– د ګاونډي سره روابط:**

د ګاونډی سره روابط هم يو سلسله احکام لری چې د اسلام اجتماعی نظام سره تړاو لري.

**۴– د کوڅې، سرک او محلې له خلکو سره روابط:**

دغه روابط هم د جماعت د لمانځه د اداکولو لپاره مسجد ته د مسلمانانو د حاضريدلو په واسطه حاصليږي، د جماعت لمونځ چې يو مهم اسلامی عبادت دی، بر علاوه له دې چې د انسان رابطه له پروردګار سره محکموي،

همدارنګه مونږ ته د اسلامي نظام تمرين را کوي، چې انسان د امام په انتخاب، د امام څخه پيروي، د مسلمانانو ترمنځ په صفونو کې د مساوات ايجاد او د مسلمانانو له حال څخه با خبرۍ کې وي.

**۵– د ناحيي او قريي له خلکو سره روابط:**

د جمعې لمونځ د انسان اړيکې نورې هم زياتوي، او د جمعې لمونځ د انسان اړيکې له خالق او مخلوق سره مستحکموي ځکه مسلمانان د جمعي په لمونځو کې کولی شي د منطقې زياتې ستونزې له يوبل سره حل کړي.

**۶– د ښار او ولايت له خلکو سره اړيکې:**

د اختر لمونځونه په لويو منطقو کې ادا کيږي، چې د اختر ځايونو (عيدګاه) په نوم سره ياديږي، او مسلمانان په دغو ورځو کې يو د بل حال پوښتي، او بيا د ټولنې د زياتو مسايلو په هکله د اختر امام پيژندنه او څيړنه وکړي.

او په ځانګړي ډول دغه امامت بايد د اسلام سياسی نظآم کې دلويو رهبرانو په واسطه ادا شي.

**۷– د نړۍ سره اړيکې:**

د نړۍ مسلمانان کال کې يو ځل نړيوال کنفرانس لري، چې د حج د مناسکو د اداکولو ترڅنګ نړيوالی ستونزې هم بايد د مختلفو ليدونو لخوا څخه بايد د څيړنې، مناقشې او ارزيابۍ لاندې ونيول شي، د اسلامی نړۍ سياسي مشکلات، اقتصادی مشکلات، د فقر سره مبارزه، کاريابی، د ثروت توزيع، د زکات توزيع، د هيوادونو مرسته، د ډيپلوماسي اړيکې او نورې ټولنې ستونزې کيدلی شي د حج په مراسمو کې په نړيوال ډول سره مطرح شي. متاسفانه چې د نن ورځې عصر کې حج فقط يو عادی عبادت ګرځيدلی دی، او حتی مسلمانان حق نلری ډيرو حالتو کې خپلې ستونزې مطرح کړي.

**۸– له مستامنينو، ذميانو او لږ کيو سره اړيکې:**

دا چې د اسلام مقدس دین د یو نړیوال نظام په توګه د ټولو ادیانو خلکو ته احترام لري، او هیڅوک د اسلام په منلو سره نه مجبور وي، بناء داسې قوانین او احکام لري چې د اهل ذمه (هغه خلک چې بل دین لري او په اسلامی هیواد کې ژوند کوي لکه د افغانستان هندوان او سکان) او مستامنین (هغه خلک چې په قانونې ډول له ټولو هیوادونو څخه اسلامی هیواد ته داخلیږي.

**۹- تعلیمي اړیکې (تعلیمي احکام) تعلیمي عبادتونه:**

(هغه عبادتونه چې تعلیم او تربیي پورې اړه لري) په تعلیمی عبادتونو کې باید لاندې امور په نظر کې ونیسو:

الف: دعلم زده کړه په ټولو مسلمانانو (نر او ښځې) باندې فرض دي، ځکه چې پرته له علم څخه نشو کولي اللهﷻ وپیژنو، نشو کولی خپل عبادتونه ترسره کړو او نشو کولی په ټولنه کې په هغه مثبت ډول سره ژوند وکړو.

ب: د اسلامی شریعت له لید څخه چې هرکار دیو واجب د اداکولو وسیله ګرځي، هغه کار هم واجب دی، «کل ما یؤدی الی الواجب فهو واجب ایضا» اوس ټول هغه علوم چې مسلمانانو ته دا قوت ببښي چې له خپل وطن، ناموس، دین او مقدساتو څخه دفاع وکړي نو مسلمانانو باندې واجب ده، اللهﷻ خطاب مومنانو ته فرمايي: ﴿وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ﴾ «د خپلو دښمنانو لپاره په قوت سره تیاری ونیسي»، اوس پوښتنه مطرح کیږي چې د مسلمانانو قوت څه شي کې نغښتی دی؟ او د حضرت پیغمبرﷺ او خلفای راشدینو او د اسلامی تمدن د عصر مسلمانانو څه قوت درلود؟ په ځواب کې باید ووایو: چې د هغه زمان د مسلمانانو قوت په دوه اساسي نکتو کې و، چې لومړي ایمانی قوت او په قرانی هدایاتو او نبوی ارشاداتو باندې پوهیدل او عمل کول و، او دویم د هغه زمان معاصرو علومو او وسایلو ته لاس رسی وه. مونږ په فقهی کتابونو کې لولو، چې د صلیبی جنګونو پر وخت د اسلام مفتیانو فتوا ورکړې وه چې نه باید په هغه غیر مسلمان باندې چې د نورو مسلمانانو مقابل کې جنګیږي وسله خرڅه کړو، او په هغوی باندې یې د وسلې خرڅول حرام ګرځولی و،

دلته بايد لږ فکر وکړو چې هغه وخت مسلمانان په خپله تکنالوجی دومره قوی و چې نور مجبور و، ترڅو له دوی څخه وسله وپلوري.

مسلمانان په اوسنی عصرکې هغه وخت کولی شي چې قوي اوسي چې اسلامی علومو او معاصرې تکنالوژۍ ته لاس رسی ولري، او قوت کولی شو مختلفو تعليمی، تربيوی، اقتصادی، سياسی، عسکری او ايمانی برخو کی تشريح او توضيح کړو، او دا کار د ټولو مسلمانانو په غاړه واجب دی.

ج: د اسلامی شريعت پيژندل، د اسلامی عقيدې او عبادت د احکامو د پوهيدلو په اندازه په هر مسلمان (نر او ښځی) باندې فرض عين دي.

پدې اساس سره له دې چې هر مسلمان د بشري ژوند په مختلفو څانګو کې تخصص حاصلوي، داکتر، انجينر، ژورنالست، فارمسست، نظامی، ساينس پوه، وترنر، حقوق پوه، ارواپوه، مدير، دهقان، زراعت کار، اقتصاد پوه او غيره لازمه ده چې دخپل تخصص او اصلی څانګې ترڅنګ د ضرورت په اندازه په اسلامی علومو کې هم معلومات پيدا کړي، ترڅو خپله ورځنی عقيده او علم د الهی دستوراتو مطابق پرمخ بوځي. بناء هر مسلمان بايد د دوه برخو خپل اصلی تخصص او اسلامي پوهی ترمنځ يو ځای والی راولي. ځکه چې انسانی علوم پرته د ايمانی ملاتړ څخه انسان ټولنې ته د خدمت پر ځای بی لارۍ ته کشوي، او ډير هغه علوم چې بايد د بشريت په خدمت کې واوسي د بشريت د تهديد سبب ګرځي.

د: په علومو کې فرض کفايي: په اسلامی ټولنه کې ټول علوم فرض کفايي دی، او په کار ده ترڅو ټول وطنوال هڅه او کوشش وکړي په هغو مختلفو رشتو کې چې د ټولنې په ګټه دي د مسلکی کادرونو په روزنه کې هڅه او کوشش وکړي، او هر کله چې يوه ډله کوم مسلک اختيار کړي په هغې کې تحصيل وکړي، بناء دغه فرض د نورو له غاړې ساقطيږي، او په هغه چا باندې چې دغه مسلک يي اختيار کړی دی فرض عين ګرځي، او هر وخت چي کوم تخصص کې هيڅ کوشش ونه شي، بناء د هغې ګناه په ټولو وطنوالو باندې ده، ځکه چې يو فرض يې ترک کړيده، پدې اساس ټولې هغه څانګې او

تخصصونه چې د اسلامي ټولنې پرمختګ او قوت ښښنى لپاره دي په دغو فرضو کې شامليږي.

ه: د تخصصونو فرض والى: قران عظيم الشان فرمايي: ﴿فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ٤٣﴾ [النحل: ٤٣] «تاسې له متخصصينو څخه وپوښتى که نه پوهيږي»، دغه آيات شريف د حضرت محمد ﷺ پر وخت هغو خلکو ته خطاب شو چې د پيغمبر په اړه يي شک کو، ورته وويل شو چې تاسې ولاړ شي او له اهل کتابو څخه چې داديانو او پيغمبرانو په هکله زيات معلومات لري، پوښتنه وکړي، چې هغوی تاسې ته د پيغمبر او د هغوي د وجود د حقيقت په هکله معلومات درکړي، په اوسنى عصر کې هر مسلمان ته لازم دي چې د تخصصاتو پورې ټول اړوند امور له متخصصينو څخه وپوښتي، د مرضونو په هکله له ډاکترانو، د حيواناتو په هکله له وترنرانو، د دواګانو په هکله له فارمستانو، د کمپيوتر په هکله له کمپيوتر متخصصينو او په همدې ډول هره ځانګه بايد هغه متخصص شخص ته پريږدو، او دا چې بيا د هرې ځانګې په هکله يو متخصص وي بناء ددغسي متخصصانو تربيه د اسلامى ټولنې په غاړه ده، چې په مختلفو تخصصونو کې د ځوانانو د تعليم او تربيي لپاره لاره اسانه کړي، او ددې کار لپاره برنامې او کاري پلانونه ولري، ترڅو اسلامى ټولنه همغه قوت ته چې الله ﷻ ورته هدايت کړى دى لاس رسي پيدا کړي.

و: د نجونو او ښځو تعليم او تحصيل: نجونى او ښځې د اسلامى ټولنې نيمه برخه تشکيلوي، لومړى کس چې په رسول کريم ﷺ يي ايمان راوړ د بى بى خديجة الکبرى په نوم سره يوه تجارت کاره ښځه وه، د اسلام لومړۍ شهيده هم د بى بى سميه په نوم سره يوه ښځه وه، هغه ښځه چې الله ﷻ يي غږ واوريد او د سورت مجادلى لومړى آيات ددې په هکله نازل شو ﴿قَدۡ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوۡلَ ٱلَّتِي تُجَٰدِلُكَ فِي زَوۡجِهَا وَتَشۡتَكِيٓ إِلَى ٱللَّهِ وَٱللَّهُ يَسۡمَعُ تَحَاوُرَكُمَآۚ﴾ هم د بى بى خوله رضي الله عنها په نوم سره يوه ښځه وه. او هغه ښځه چې د احد په غزا کې يي د اسلام له پيغمبر څخه دفاع کوله او په مټ کې يي د غشو او تورو د ولس

زخمونه خوړلي و، د بی بی نسیبه (ام عماره) په نوم سره یوه ښځه وه، او هغه ښځه چې مشران صحابه کرام به ورته د علمی ضرورتونو پر وخت راتلل او په زرګونو حدیث یې روایت کړي دي بی بی عایشه رضي الله عنها د رسول کریم ماندینه وه، د قران کریم سورتونه لکه مریم، مجادله، النساء او غیره هم د ښځې د لوړ مقام د احترام او عزت په خاطر نومول شوي دی. او یوه ښځه او یوه نجلۍ هم د ټولو مومنو انسانانو لپاره د الګو او نمونې په ډول سره په قرآن کریم کې ذکر شوي دي، چې یو یې د فرعون ښځه او بله یې بی بی مریم ده.

اوس یوه پوښتنه مطرح کیږي چې آیا مونږ کولی شو په اسلامی ټولنه کې پرته د ښځو له تعلیم او تربیې څخه ژوند وکړو؟ ایا کولی شو چې عفت او پاکۍ سره پرته له دې چې ښځو ته د تعلیم او تربیې په برخه کې سهم ورکړو ژوند وکړو؟ او کله چې وایو چې باید خپلې خویندې میندې او ماندینې د مریضۍ پر وخت د ښځینه طبقې ډاکترانو او نرسانو ته ویسو چې هغه معالجه او تداوي کړي.

او کله چې وایو چې د ښځینه و لپاره باید ښځینه روغتونونه او معاینه خانې وي، او کله چې غواړو زمونږ د ښځینو په لاس ترسره شي، څه رنګه کولی شو چې دغه اهداف د مسلمانو نجونو او ښځو له تعلیم او تربیې څخه پرته لاس ته راوړو بناء ددغو ټولو وجایبو د اداکولو لپاره لازم دی چې په مختلفو رشتو کې د نجونو او ښځو د تعلیم او تربیې لپاره هڅې وکړو.

کیدای شي په اسلامې نړۍ کې هیڅ داسې مسلمان پیدا نشي چې ووایي ماندینه او لور دیې د نارینه ډاکټرانو په واسطه تداوي او معالجه شي، مګر د ضرورت او مجبوریت پر وخت، خو په عادي حالاتو کې چې د ښځینه طبقې ډاکتران او طبیبان موجود وی ضروری ده چې د ښځینه طبقې لپاره داکتران له خپلې طبقې څخه وي.

اوس نو د اسلامی ټولنې په مسولینو باندې لازمه ده، چې ددغسې کادر د روزنې لپاره عملی کاري برنامې تر لاس لاندې ولري.

او د نجونو د تعلیم او تربیې لپاره ځانګړي مکتبونه ولري، او دهغوی معلمان هم باید له ښځینه طبقی څخه وي. نو ضرورت دی چې د هغو مضمونونو لپاره چې مکتبونو کې لوستل کیږي لکه ریاضی، کیمیا، بیولوژی، اروا پوهنه، ادبیات، اسلامی علوم، کورنې چارې، خطاطي او غیره داسې معلمان وروزو چې له ښځینه طبقې څخه وي، د طب د مختلفو رشتو لپاره د ښځینه طبقې داکتران تربیه کړو، چې د ضرورت پر وخت په مختلفو طبي رشتو کې تخصص ولري او حتې طبی وسایل لکه التراساوند (تلویزیونی معاینات) هم د ښځینه طبقی متخصصینو ته ضرورت لري. بناء د هیواد د ضرورتونو په اساس په هغو ځایو کې چې ضرورت تقاضا کوي او اسلامی ټولنه پاکې، صفا، پر مختګ او سعادت ته رسوي، په هماغه اندازه لازمه ده د نارینه او ښځینه له طبقو څخه د مختلفو کادرونو په روزنه کې هڅه او کوشش وشي.

د ښځینه د تعلیم او تربیې پر وړاندې ستونزې: زمونږ په هیواد کې د ښځینه و د تعلیم او تربیې په وړاندې لویه ستونزه د نجونو او ښځینو په تعلیم کې د اسلامی قوانیو د اساساتو له اسلامی ارشاداتو او د اسلامی ټولنی له ضرورتونو څخه ناخبری ده، چې غواړم د هریو په هلکه څه معلومات ورکړم.

په اوله نقطه کې ډیر هغه خلک چې اسلامی ټولنه کې دقدرت په چوکۍ ناست وي ددې په عوض چې د مسلمانو نجونو او ښځینو په تعلیم او تربیه کې اسلامی ارشادات مراعات کړي، غواړي چې تعلیم او تربیه کې اروپایی او امریکایي سیستمونه تطبیق کړي، د اسلام مقدس دین له لید څخه د علم زده کړه په ټولو (نر او ښځې) باندې فرض ده، ځکه حتی هغه ښځه چې په قرآن او حدیث باندې پوه نشي څه رنګه کولی شي خپل دین باندې پوه شي؟ څرنګه کولی شي د الله ﷻ په وحدانیت باندې ایمان راوړي؟ څرنګه کوی شي پوه شی چې روزه یې کله فاسدیږي او کله سیی کیږي؟ بنا پردې ددین د اساساتو پیژندنه همورباندې فرض ده چې اسلامی علوم زده کړي، او په همدی ډول د انسانی ټولنې د ضرورت په ټولو څانګو او تخصصونو کې.

د اسلام مقدس دين علاوه له دې چې ښځينه تعليم او تربيې ته تشويقوی د تعليم او تربيي شرايط هم مونږ ته را په ګوته کوي، چي هر کله غواړو چې ښځې په اسلامی ټولنه کې د علم او پوهی په ګاڼه باندې سمبالې وي لازمه ده چې د دوي دغه تعليم او تربيه په داسې شرايطو کې ترسره شي چې د هغوی عفت او پاکي هم حفظ شي، د هغوي شخصيت هم مصؤن وي، او هيڅ وخت د بدکاره هلکانو او سړيانو لپاره دلوبو، اله نشي. هغه صورت کې چې په اسلامي هيواد کې د تحصيل مصونه، باعفته، پاکه او د سړيانو له تصرفه لرې، او د نجونو او هلکانو له اختلاط څخه پاکه زمينه تياره شي او هر مسلمان پوه شي چې خور او لور يې په امن او امنيت، له کرامت او عزت، له مصونيت او احترام سره درس ته ځي او هيڅ ګمراه او بی لارې نشي کولي، چې په لاره کې يا د مکتب او پوهنتون د ننه هغې ته څه مزاحمت وکړي، پرته له شکه چې اماده کيږي چې ټول اولاد يې درس او تعليم ته ولاړ شي. ځکه د نجونو تعليم او تحصيل د نجونو په ځانګړي مکتب او پوهنتون کې، د ښځينو د ځانګړو ترانسپورتي وسايلو لرل، د ښځينه طبقی د استادانو او معلمانو لرل، په پوهنتونو او مکتبو کې د اسلامی حجاب رعايت کول هغه وسايل دي چي اسلامی ټولنه کې د ښځو د تحصيل زمينه برابروي.

او هر کله چې د دولت مسولين په رښتيا سره غواړي چې اسلامي هيوادو کې د نجونو د تعليم او تحصيل لپاره زمينه برابره کړي دغه اساسی ټکي دې رعايت کړي، ترڅو زمونږ خورګانې او لورګانې هم تحصيل وکړي او هم د هغوی عفت او پاکي مصون او محفوظ وي.

بهرنی کلتور د نجونو د تعليم او تحصيل لوی خنډ: په ننی عصر کې دنجونو او ښځينو د تعليم او تربيې اساسي علت د اروپايي کلتورونو تطبيق دی، په اسلامی هيوادو کې د دولتونو زيات مسولين د اروپايي تعليم او تربيې سيستمونه په مسلمانو نجونو باندې تطبيقوي، هغو د (Coedueation) مختلط تعليم سيستم حتمی ګڼی او مکتبونه او پوهنتونونه د نجونو او هلکانو ترمنځ په مختلط ډول سره جوړوي، د دوی دغه کړنه سبب کيږي چې ډير خلک ددغسې اختلاطونو دعواقبو له ويرې خپلې لورګانې مکتبونو او

پوهنتونونو ته نه پرېږدي، او یا هم ډېر خلک په دغسي ټولګیو کې د خپلو لوڼو کیناستل د خپل کلتور او غیرت مخالف ګڼی بناء دهغوی د تعلیم او تحصیل مانع ګرځي پدې اساس دحل لاره چیرته ده؟ د حل بهترینه لاره د نجونو په تعلیم کې هماغه اسلامی طریقه ده چې مخکې مو یادونه وکړه.

ج: په تحصیل کې نیک نیت: هرکله که څوک غواړي چې دده تحصیلات په عبادت کې حساب شي خپل نیت دې سیي کړي، او په دې نیت دې درس ووایي چې دی دغو علومو ته په لاس رسي سره د الله‌ﷻ په پیژندنه د الله‌ﷻ د رضایت په جلب کولو، د حقیقتونو په پوهیدلو، د اسلام مقدس دین ته او وطن او وطنوالو ته په خدمت کولو کې هڅه او کوشش کوي ولې مقابل کې چې هر کله د انسان نیت سیي نه وي او علم د خپلو دنیوي او شخصی هدفونو د لاس ته راوړلو لپاره حاصل کړي د هغه اجر له منځه ځي، او هیڅ ثواب ورته نه ورکول کیږي بناء دنیت تصحیح په تعلیم او تربیه کې ډېر مهم او ضروري ده، ترڅو د نیک نیت په لرلو سره ددنیا او آخرت نصیب زمونږ په برخه شي.

د: د عالم او متعلم د مقام لوړوالی: د عالم او معلم مقام په اسلامي ټولنه کې بهترینه او عالیترینه مقام دي، الله‌ﷻ فرمایي: ﴿هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلَّذِينَ يَعۡلَمُونَ وَٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَۗ﴾ «آیا عالمان او جاهلان برابر دی؟».

دا پوښتنه د نفی په معني ده یعنی عالمان او جاهلان برابر ندي، د عالم مقام د جاهل په پرتله ډېر زیات لوړ دي، او الله‌ﷻ عالمانو ته دځانګړي اجر او عوض خبره کړیده، د عالمانو مقام ته احترام کول پخپله یو نوع غټ عبادت دي، چې د مخلوقاتو د پروردګار د رضا موجب ګرځي، په روایت کې راغلي دي چې تاسې یا عالمان اوسي یا متعلمان او یا هم د دوي د یوتن خدمتګاران.

ه: د استاد او مربی د مقام احترام: مسلمانانو هغه وخت وکولی شو چې اسلامی مدنیت ته ورسیږي او په ټوله نړۍ کې لوړ او با ارزښته مقام تر لاسه کړي چې دالهی هدایاتو مطابق یې د خپلو عالمانو او پوهانو احترام کو، او

هغوی ته يې ارزښت ورکو، د هارون الرشيد د زامنو پر وخت به هر عالم ته چې يو کتاب به يې ليکه او يا به يې يو علمی کتاب له بلې ژبې څخه را ژباړه نو د هماغه کتاب په وزن به يې طلا ورکوله.

او په همدې علت د عالمانو د مقام په لوړيدلو سره هره ورځ د پوهانو تعداد زياتيده او مسلمانان ديو مدنيت خاوندان شو، په همدغه وخت کې مسلمانانو ساعت اختراع کړ، او د اسلامي تمدن اثار هغې اندازې ته ورسيدل چې ګوستاف لوبون فرانسوی يو لوی کتاب (اسلام اود عربو تمدن) په نوم سره وليکه، مسلمانانو وکولی شو د فارس امپراطورۍ ته ماتې ورکړي او د اسلام مقدس دين هغوی ته ورسوی، او د روم امپراطورۍ د هارون الرشيد پر وخت اسلامی حکومت ته کلنۍ څو مليونه طلايي پيسی جزيه ورکوله، د مسلمانانو عزت دومره زيات و چې يوه ورځ هارون الرشيد دمه کوله چې وريځ يې له پاسه تيره شوه، نو ورته يې وويل: هرې خوا ته چې ځې لاړه شه او ووريږه، په هر هيواد کې چې وريږې ستا ماليه ماته راځي. د مسلمانانو دغه عزت هغه وخت له منځه ولاړ چې عالمان يې بی عزته شو، او استعمار هم ددې لپاره چې نور هم دجهل ريښه د خلکو ترمنځ ښه ژوره کړي، داسې برنامې جوړوي، چې جاهلان، او ناپوهه او بې ايمانه خلک تشويقوي، او هغه تلويزونونه چې داستعمار په ګټه کار کوي، هميشه ځوانان په داسې برنامو کې مصروفوي چې زياتره له علم او پوهې سره ددښمنۍ او بد اخلاقۍ جنبه ولري. ددې په عوض چې د علم ستوري، د تقوا ستوري، د ساينس او تکنالوژي ستوري، د کمپيوتر ستوري، د علومو ستوري معرفی کړي، داسې اشخاص خلکو ته معرفی کوي چې د ډير بد شخصيت خاوندان دي، او په همغه هيواد کې چې يو رقاص انسان په لوکسو موټرونو کې لذت وړي، په همغه هيواد کې چې علما او پوهان د خپل رزق او روزۍ پسې سرګردانه ګرځي، د مکتب معلمان د خپل اولاد د نفقې لپاره نيمه ورځ مازديګر کار کوي، پداسې حال کې چې جاهل خلک په مجللو قصرونو کې افتخار کوي، عالمان او پوهان ساعتونه پياده ځي، او د مکتبونو ماشومان د خيمو لاندې درس وايي. ولی په مراسمو او مجالسو کې مليونونه افغانۍ په غذا خوړلو او د مليمنو په راتګ

باندې مصرفیږي او پدې شکل ویده به کله ویده راوینښ کړي، او همدا ده چي دغسې هیوادونه، نه یوائې دا چي پرمختګ به ونکړي، بلکې هلاکت به د ټولو نصیب شي. دري کې وایي:

صـدها چـراغ دارد و بیراهـه میـرود بگذار تا که افتد وبیند سزای خویش

یعنی سلګونه چراغونه لری او بی لارې هم ځي پریږده یې چې وغورځیږي او خپله جزا ووینې

و: د تعلیم او تربیې اجر: د اسلامی شریعت له لید څخه لوی اجر هغه څوک ترلاسه کوي چې د علم او پوهې په زده کړه باندې مصروف دي.

او په احادیثو کې راغلي دي کله چې یو څوک د علم د زده کړې لپاره مکتب، مدرسې، پوهنتون او پوهنځی ته ځي د رحمت ملایکې خپل وزرونه د دوی د مقام د احترام په خاطر د دوی مخی ته خواره کوي.

ه: نیکیو ته بلنه او له بدیو منع کونه: دټولنی او وګړو د تعلیم او تربیې په مسله کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر موضوع شامله ده، دلته د یو هیواد په ډول نیکیو ته د مسلمانانو بلنه ده، او په نړیوال ډول سره د اسلام مقدس دین ته دغیر مسلمانانو بلنه ده.

ز: له انسانی علومو سره د اسلام علاقه: دین عبارت له هغه شي څخه ده چې هغه الله ﷻ وضع کړی دی، او دقرانی ایاتونو او دپیغمبر او دصحیحو حدیثو په واسطه بشریت ته تبلیغ شوی دی، (دین فقط همغه الهی وحی ده چې د جلی وحی په ډول (قرآن کریم) او خفی وحی (د پیغمبر احادیث) وی، چې بشریت هغې کې تصرف نشی کولی او نه د هغه احکام تغیر او تبدیل کولی شي، اما بقیه امور چې انسانان په هغې کې دخیل دي، هغه انسانی علوم دي، اګر چې د قران او سنتو په خدمت کې وی. خو انسانی علوم هغه څه ته ویل کیږي چې هغه بشر ابتکار کړی وي.

اوس یوه پوښتنه مطرح کیږی چې د دواړو ترمنځ اړیکي څرنګه ارزوو!

په ځواب کې وایو چې: ددین او انسانی علومو ترمنځ اړیکي د هدف او وسیلي دي، دین د یو مسلمان اساسی هدف دی، او د اسلامی احکامو د

تطبیق لپاره د هغو مختلفو وسایلو څخه استفاده کوي چې انسان هغه ابتکار او اختراع کړي دي. او هر کله چې دغه وسایل وکولی شي چې د اسلام په خدمت کې اوسي، او اسلامي مقاصد ترسره کړي نو غوره او د اسلام د تایید وړ مسایل دي، او هر کله چې د الهی احکامو مخالف وي او يا هم الهی احکام پښو لاندې کړي دې وخت کې بیاد اسلام موقف د هغې مقابل کې منفی دی.

انسانی علوم هغه وخت د اسلام مقدس دین سره موافقت پیدا کولی شي چې اسلامی اهداف ترسره کړي، او مونږ دداسې اصطلاحاتو طرفدار نه یو لکه اسلامی طب، اسلامی هنر، اسلامی انجینری، اسلامی ژورنالیزم، بلکه غوره داده چې د اسلامی طب اسلامی هنر او اسلامی مهندسي او غیره پر ځای ووایو: طب، مهندسي او هنر چې اسلام د هغو تایید کوي.

ځکه مونږ داسې طبي، انجنیری، ژورنالیستکی، هنری او غیره امور لرو چې اسلام د هغي تایید نکوی مثلا نن په طب کې مصنوعی القا وجود لري چې دطبی وسایلو په واسطه د نامحرمه سړي نطفه د نامحرمې ښځې رحم ته القا کیږي ترڅو یو ماشوم دنیا ته راشي، چې اسلام دغه عملیه نشي قبلولی. په انجینری کې داسې ساختمانونه شته چې په هغې کې ستر او حجاب نشي مراعاتیدلی. او همدارنګه د هنرونو داسې ډولونه دي چې رقص د هنر په نوم بربنډ ډول سره د نورو په وړاندې ترسره کیږي.

لنډه دا چې دې لاره کې غوره هماغه ددکتور عماره خبره ده چې وایي: باید ووایو چې د ښکلو هنرونو په هکله د اسلام له نظر بیانولو څخه زمونږ هدف دا نده چې ووایو دیني هنرونه، لرو بلکې دا هغه هنرونه دي چې اسلام هغه خوښوی ځکه چې دین یعنی هغه څه چې الله ﷻ وضع کړي دي، او عاقلان هغه څه ته را غواړي چې د الله ﷻ، له پیغمبرانو سره دي او هغه علوم چې د هغې موضوع ده شرعي علوم دي، پداسې حال کې چې هنر د بشر ابتکار دی،

او هر کله چې غواړو، علوم طبقه بندي کړو.هنر د کلتوري علومو او د هغې په ځانګو کې ځای نیسی[۱].

په اسلامي شريعت کې يو مهم قانون دي چې «مايؤدی الی الواجب فهو واجب ايضا» هر شی چې د يو واجب ادا کولو ته منجر کيږي هغه شی هم واجب دي.

ددې قاعدې په اساس هغه وسايل چې د اسلامي واجباتو په ادا کې فعال سهم لري، او د اسلامي احکامو د تطبيق لپاره موثر وی د زيات اهميت څخه برخمن دي. بناء کله چې مونږ له هغو غوره اسلامی هنرونو څخه چې د اسلامی احکامو د وړاندي کولو لپاره کارول کيږي يو اسلامي کار مو تر سره کړي دي. يو هدفمند هنر چي نورو ته د اسلامي حقيقتونو د رسولو په نيت وي د عبادت يوه برخه ګڼل کيږي.

هغه وخت چې ماشينونه اختراع شوي نه و، هنر مندو ليکوالانو مکمل قران کريم په خپلو ښکلو قلمونو سره ليکه او نړيوالو ته يي وړاندې کو اوس هم په ځينې هيوادونو کې د قران کريم څه نسخې چې ډير پخوا وختونو کې ان د صحابه کرامو پر وخت نوشته شوي دي موجودي دي.

مسلمانو ممثلينو (اداکارانو) د اسلام مقدس دين د خپرولو او نړيوالو ته د اسلام د رسولو لپاره فلمونه او سريالونه وړاندې کړي دي چې د رسالت فلم، د عمر مختار، مريم مقدس، د انجلس ځوانان، او مختلف سريالونه لکه د عمر بن عبد العزيز، الغرسان، هولاکو، صلاح الدين ايوبی او غيره ددغه اسلامي هنر لپاره ښه مثالونه دي.

د نقاشۍ او ميناتورۍ هنر نړيوالو ته د اسلامي تمدن په وړاندې کولو کې مهم رول لرلی دی او اوس هم ځينې هغه اثار په مسجدونو او مقدسو ځايونو کې موجود دي.

---

۱- (اسلام وهنرهاي زيبا، دکترمحمد عماره، مترجم مجيد احمدي، تهران: نشراحسان ۱۳۸۱ هـ ش، ص: ۱۷)

د معمارۍ هنر د اسلامي تمدن پر وخت لويو اسلامي هنرمندانو نړۍ ته وړاندې کړ، او تر اوسه د معمارۍ اثار په ورک شوي اندلس (ننۍ اسپانيا) کې مشاهده کوو.

**دريم: سياسي اړيکې**

د اسلامي نظام د ايجاد اسلامي سياست، اسلامی حکومت کې د اسلامې احکامود تطبيق، د زکات د اخيستلو او توزيع او اسلامی جهاد په هکله ځانګړي احکام لري. چې د هغې اجرا کول عبادت کې شامليږي تاسې کولی شي پدې هکله د (اسلام سياسی نظام) کتاب دليکوال تاليف کې دا متن مطالعه کړی.

**څلورم: وظيفوي اړيکي**

کله چي څوک کومه وظيفه انتخابوي، په هغي کي اسلامی احکام لاندي ټکو پوري تعلق لري.

**الف: د وظيفې انتخاب**

کله چي يو مسلمان کومه وظيفه انتخابوي، لازمه ده چي لومړي پوه شي چي دده دغه وظيفه په حلالو کارونو کي ده يا حرامو کي؟ هغه شرکت چي دي پکې کار کوي جايز کارونه ترسره کوي او که نا جايز؟ بناء يو مسلمان ته اجازه نشته چي مثلا د شراب جوړولو په شرکتونو، مخدرات، سود خوړونکی موسسات، جنسي چينلونه، قمارخانو، د فحشا ځايونه، او ټولو مشکوکو ځايونو کې وظيفه ترسره کړي ځکه هغه پيسي چې دغه شرکتونه يي تر لاسه کوي ټولې د حرامو او ناروا لارو څخه دي او چا سره د حرامو په لاسته راوړولو کې مرسته کول ناروا ده او ددغسي اشخاصو معاش هم حلاليدلی نشي.

**ب: وظيفه پيژندنه**

هرکله چې مسلمان په يوه وظيفه کې مقرر شي چې د اسلامي شريعت مطابق جواز ولري او د هيواد په نفع وي، لازم ده ددغې وظيفي په ادا کولو کې هم سعی او کوښښ وکړي خپله وظيفه په صداقت سره ادا کړي، د تقسيم

اوقات مطابق په پوره ريښتينولۍ سره کار وکړي، ځکه په وظيفه کې چل ول کول ناجايز دي.

**ج: له استفاده اخيستنې څخه لرې والي**

رشوت خوړل او يا مراجعينو او لاس لاندې خلکو باندې د ډوډۍ خوړلو محفلونه جوړول يو رنګه نا مشروعه استفاده اخيستنه ده، چې پيغمبر په رشوت خوړونکو باندې لعنت ويلي دي.

«عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّاشِي وَالْمُرْتَشِي» حضرت عبدالله بن عمر وايي چې رسول الله ﷺ په رشوت اخيستونکي او رشوت ورکوونکی باندې لعنت ويلی دی[1].

لعنت د الله له رحمت څخه د شخص د شړلو په معنی سره ده او هغه څوک چې رشوت خوري د الله ﷻ له رحمت څخه شړل کيږي، او هغه څوک چې د الله له رحمت څخه شړل شوی وي جنت ورباندې حراميږي.

**د: په وظيفه کې اخلاص**

مسلمان انسان پخپله وظيفه کې اخلاص هم لري، بناء هميشه د خپلې وظيفي د غوره ادا کولو لپاره هڅه او کوښښ کوي. او د خپل وسې تر اخرې اندازې د هغې د ښې ترسره کونې لپاره کوشش کوي. ځکه مسلمان انسان پوهيږي چې خلکو ته زما خدمت کول نه يوازې له دنيوی منفعت څخه برخمن ده بلکې لوی اخروي ثواب مې هم په برخه کيږی. او ددغسې انګيرنې په درلودلو سره هيڅکله نه خسته کيږي، مومن طبيب چې هره ورځ په سلګونو مريضان تداوي کوي بيا هم د لازيات خدمت کولو لپاره تپ او تلاش کوي او با ايمانه استاذ چې هره ورځ د لکچرونو او چپترونو په تيارولو کې زحمت باسي هيڅکله د ستړيا احساس نکوي ځکه دده د ژوند هره لحظه په عبادت کې محاسبه کيږي.

**ه: د قوانينو طرحه**

---

۱- حديث ۳۱۰۹ کتاب الاقضية، سنن ابي داوود.

هرکله چي مومن انسان په خپله وظیفه کې د قوانینو د طرح کولو مسؤلیت ولري لازمه ده ترڅو ټول قوانین دقران عظیم الشان او پیغمبر د سنتو له شعاع لاندی جوړ کړي ځکه چي د قانون په جوړولو کې دالهی هدایاتو هیرونه او د غیر اسلامي قوانینو پسي تلل په حقیقت کې خپل ځان د ظالمانو په قطار کې راوستل دي.

## دریمه برخه: قانوني عبادات

په عباداتو کې اساسي قاعده داده چې د چا له قانون څخه پیروی کول د هغه عبادت ګڼل کیږي، مونږ مسلمانان د یوه پرودرګار عبادت کوو، بناء الهی قوانین د خپل سعادت ضامن پیژنو د هغه ټول اوامر پخپل ځان باندې تطبیقوو.

هر کله چې څوک په خپل ځان باندې الهی قانون تطبیق کړي نود الله ﷻ عبادت یي کړي او کله چي څوک د کوم انسان قانون پخپل ځان باندې تطبیق کړي نو د هغه شخص عبادت یې کړي دي.

مسیحیان کله کافر شول؟ قرآن عظیم الشان د مسیحیانو په هکله وایي: ﴿ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُوٓاْ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗاۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ سُبۡحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ٣١﴾ [التوبة: ٣١] ویې نیول خپل پوهان او راهبان خدایان، پرته له الله تعالی څخه او مسیح د مریم ځوي، او دوی ته امر نه ؤ شوي مګر دا چې عبادت وکړي د یو الله چې نشته پرته له هغه نه بل لایق د عبادت، پاک دی له هغه څه نه چې دوی یې ورسره شریکوي.

علامه قرطبی وایي: دوی -مسیحیانو- احبار او رهبان[1] د الله په ځیر وګرځول په هر څه کی یې د هغوی اطاعت کو.

۱- احبار د حبر جمع ده او حبر عربي ژبه کې رنګ ته وایي، او عالم او پوه ته هم حبر وایي ځکه رنګ او قلم زیات استعمالوي، رهبان د راهب جمع ده راهب مسیحیت کې هغه کس دی چې

له حضرت حذیفهﷺ څخه ددې آیات شریف په هکله وپوښتل شو چې ایا دوی د خپلو عالمانو او راهبانو عبادت کوي، ویې ویل: نه خیر، بلکې کله چې هغوی یو حلال شی ته حرام ویل او یو حرام شي ته یې حلال ویل دوی د هغوی په خبرو یقین کؤ.

حضرت عدی بن حاتمﷺ چې یوی مسیحي ؤ، او د اسلام په مقدس دین باندې مشرف شوی وایي: یوه ورځ د نبی کریم خوا ته راغلم او په غاړه کې مې د طلا یو صلیب ځوړند کړي و پیغمبر راته وویل «ما هذا یا عدی اطرح عنك هذا الوثن» دا څه شی دی ای عدی دغه بت درنه لری وغورځوه — بیا مې واوریده چې دا آیات شریف یې لوسته ﴿ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ﴾ بیایې وفرمایل (هغوی دعالمانو او زاهدانو عبادت نکؤ خو هر کله چې هغوی کوم حلال شی حرام کړ او یا به یې کوم حرام شي حلال کړ دوی به د هغوی په خبرو اعتقاد او یقین کؤ.

له دې آیات شریف څخه معلومیږي چې مسیحیان که څه هم ظاهر کې پدې عقیدې سره نه و چې دوی د خپلو عالمانو او زاهدانو عبادت وکړي ولی دا چې هغوی ته یې د حلال او حرامو او هغو احکامو صلاحیت ورکو چې د اللهﷻ پوري اړه لري، او د هغوي پیروي یې کوله، بناء هغوی یې له اللهﷻ سره شریک کړل، ځکه نو مشرک شو، هر کله چې یو انسان ته صلاحیت ورکړ شي چې د الهی قانون مخالف یو قانون جوړ کړي او پدغه قانون کې له هغه څخه اطاعت وشي نو داد خپل ځان لپاره د هغه معبود ګرځول دي.

### د اسلام مقدس دین کې د قوانینو اقسام:

د اسلام مقدس دین کې دوه نوعه قوانین وجود لري، یو اسمانی قانون، بل وضعی قانون.

---

دنیا یې ترک کړې وي او ازدواج نکوي فقط کلیسا کې ژوند کوي، ارباب د رب جمع او رب د پروردګار په معنی دی.

**آسماني قانون:**

اسمانی قانون هغه قانون دی چې د قران او سنتو په واسطه ثابت شوی وی. اود اسلام پوهانو له قرآن او سنت څخه استنباط کړی وي چې د اسلامی شریعت په نوم سره پیژندل کیږي.

د اسلام مقدس دین کې د قانون (شریعت) مصادر: د اسلام مقدس دین خپلو قوانینو ته څه مصدرونه لری چې قرآن عظیم الشان هغه تعین کړي دي د اسلامی قوانینو (اسلامی شریعت) مصادر کولی شو لاندې برخو ته وویشو:

۱- قرآن کریم

۲- در سول الله سنت

۳- د اسلامی امت اجماع

٤- قیاس او اجتهاد.

**۱- قرآن کریم د قانون (شریعت) لومړي مصدر:**

د قرآن کریم د احکامو انواع: دا چې قرآن کریم د بشریت لپاره د قیامت تر ورځې پورې کامل قانون دی، بناء په قرآن کریم کې ټول قوانین او نظامونه لکه اعتقادی، فکري، اجتماعی، تعلیمی، تربیوی، اقتصادی او سیاسی، عسکری، د یپلوماسی دنیوی او اخروی ژوند د قران ارشاداتو مطابق تنظیم کړي، قرآن کریم په عمومی ډول سره درې نوعه احکام لري چې عبارت دي له:

**۱- اعتقادي احکام:**

هغه احکام دي چې د یو مکلف انسان دواجباتو په هکله په الله باندې د ایمان، توحید، په ملایکو ایمان اسمانی کتابونه، پیغمبران، دقیامت ورځ، جنت، دوزخ، پل صراط او غیره په هکله بحث کوي، چې د اسلامی عقیدې په نوم سره تدریسیږی.

**۲- اخلاقی احکام:**

هغه احکام دي چې د یو مکلف شخص واجبات د فضیلتونو د تطبیق او بدو او خرابو کارو څخه دلري والی په هکله بیانوی، چې د قرآن کریم د تربیوی اړخ سره ارتباط لري.

**۳– عملی احکام:**

هغه احکام دي چې انساني ټولنه کې له عملي قوانینو سره تعلق لري. د قرآنی ایاتونو د مشخص بیان په هکله د قرآنی قوانینو په هکله د اسلام علماو او پوهانو ایاتونه په مفصل ډول سره تقسیم بندي کړي دي. چې پدې هکله ددکتور عبد الکریم زیدان تقسیم بندی څه رقمونه بیان کړیدي چې په لاندې ترتیب سره دي.

**۱– د کورنۍ قانون:**

په قران عظیم الشان کې اویا ایتونه د کورنۍ اړوند قوانینو په هکله دي چې د (قانون الاسره = کورنۍ قانون، احوال شخصی) په نوم سره نومول کیږي چې په هغې کې په قومي اساساتو باندې د کورنۍ جوړونه د کورنۍ د اعضاو د حقوقو او واجباتو بیان وي.

**۲– مدنی قانون:**

هغه قانون چې د ټولنې د افرادو مالی معاملات تنظیموی او پلورلو پیرودلو، ګروی او ټولو عقودو ته شاملیږي په ۷۰ آیاتونو کې تشریح شوي دي.

**۳– د مرافعاتو قانون:**

په دې ایاتو کې د قضا، شهادت، قسم او غیره په هکله اړوند قوانین ذکر شوي دي چې ددې هدف جامعه کې د عدالت تحقیق دي، چې په ۱۳ قرآنی آیاتونو کې توضیح شوی دي.

**۴– د جزا قانون:**

دې قانون کې دجرایمو او د هغې د جزا اړوند امور بیان شوی دي چې ددې هدف د خلکو د ژوند، مال او ابرو ساتل او همدارنګه د ټولني افرادو ته د

امنیت او ارامی او اطمینان حفاظت کول دي. دغه قانون په قرآن عظیم الشان کې په ۳۰ آیتونو کې تشریح شوی دی.

**۵– د حکومت اساسی قانون:**

په قران عظیم الشان کې د هیواد د اساسی قانون، او له رعیت سره د دولت د رابطې په هکله ۱۰ آیاتونه بیان شوي دي.

**۶– د ډپلوماسی قانون:**

پدې قانون کې چې ۲۵ آیاتونو ته شاملیږي. د هیواد ټول دیپلوماسی امور د نړۍ له ټولو هیوادونو سره د اسلامي حکومت د روابطو په هکله دسولې او جنګ مسایل، ددیپلوماتانو (مستأمنین) د ژوند تامین او پردې خلک چې د اسلامی قانون مطابق یو هیواد ته داخلیږی بیان شوي دي.

**۷– اقتصادی قانون:**

د اسلامي دولت د اقتصادي قوانینو، وارداتو، مصارفو، تجارت، سرمایه لګول اقتصادی مشروعیت او د هغه عدم مشروعیت په هکله قرانی ایاتونه نازل شوی دي. چې په مشخص ډول د اقتصاد په هکله لس ایاتو نه هغه بیانوی.

همدارنګه په قرآن عظیم الشان کې د مختلفو مطالبو اړوند قوانین او ارشادات شته دي چې د هغې مفصله تقسیم بندي زیات وخت سره نیسی. چې له هغې جملې څخه په اجمالي ډول سره کولي شو لاندې قوانینو څخه یادونه وکړو:

- دانسان د شخصیت او د انسان د حقوقو په هکله قوانین.
- د ښځې د شخصیت اود ښځې دحقوقو په هکله قوانین.
- د ماشوم د حقوقو او د هغه دساتنې او رعایت په هکله قوانین
- د تعلیم او تربیې په هکله قوانین.
- د اجتماعی ادابو د کورنۍ حقوق، فامیل، او همسایه ګانو په هکله قوانین.

– د شکاياتو او شهاداتو او غيره په هکله قوانين.

لنډه دا چې قران عظيم الشان بشري ټولنې ته داسلامي قانون په حيث په مختلفو ځانګو کې قوانين بيان کړي دي چې د نړۍ مسلمانان قرانی اياتونو ته په استناد سره خپل قانونی ژوند عيار وي.

**۲- د رسول اللهﷺ سنت د قانون (اسلامی شريعت) دويم مصدر:**

د اچې ولې مسلمانانو د قانون يا اسلامی شريعت دويم مصدر د رسول الله سنت ګرځولي دي؟ دليل يې قران کريم دي. ځکه قرآن عظيم الشان محمدصلیاللهعليهوسلم د الله استازی معرفی کړی دی، هغه دی چې د قران کريم اياتونه يې په حديث شريفو سره تشريح، توضيح او بيان کړی دی.

قرآنی آياتونه په صراحت سره امر کوي چې مسلمانان له رسول الله څخه په پيروۍ باندې مکلف دي. ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلْأَمْرِ مِنكُمْۖ فَإِن تَنَٰزَعْتُمْ فِي شَيْءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيْرٞ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ٥٩﴾ [النساء: ٥٩]

«مومنانو د الله تعالی پيروی وکړي او د رسول الله پيروی وکړی او د خپلو حاکمانو اطاعت وکړي او که څه شي کې مو اختلاف وکړ نو هغه الله تعالی او د هغه رسول ته وروګرځوی که تاسې په الله تعالی او د آخرت په ورځ باندې ايمان لری دا ښه او غوره تأويل دی». ﴿مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ ٱللَّهَۖ﴾ [النساء: ٨٠] «څوک چې د رسول الله اطاعت وکړی نو يقينا چې دالله تعالی اطاعت يی کړی دی».

﴿وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ ٱللَّهِۚ﴾ [النساء: ٦٤] «او مونږ ندی راليږلی هيڅ رسول مګر دا چې د الله تعالی په امر د هغه اطاعت يې وشی»: ﴿قُلْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَۖ﴾ [آل عمران: ٣٢] «ووايه دالله تعالی او د هغه د رسول پيروي وکړي»: ﴿قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ ٱللَّهُ﴾ [آل عمران: ٣١] «ووايه که تاسې له الله تعالی سره محبت لری نو زما پيروی وکړي الله تعالی به تاسې سره محبت وکړی».

﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ﴾ [الأحزاب: ٣٦] «او نشته هیڅ نارینه او ښځینه مومن لره چې کله الله تعالی او د هغه رسول د څه کار فیصله وکړي چې دوی ته وي د خپل کار څه اختیار»: ﴿وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُوا۟﴾ [الحشر: ٧] «او څه چې درکړ تاسې ته رسول الله نو هغه واخلی او د څه نه يي چې منع کړي نو منع شي». ﴿فَإِن تَنَٰزَعْتُمْ فِى شَىْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ﴾ «نو که څه شي کې مو اختلاف وکړ نو هغه الله تعالی او رسول الله ته وګرځوي» او د ایې ونه ویل چې د خپل حاکم لور ته یې ویسی ځکه د اسلام مقدس دین کې منبع او مصدر قران کریم او د پیغمبر صحیح سنت دي.

ددغو قرانی ایاتونو مطابق د اسلام د پیغمبر سنت د اسلامی شریعت په مصادرو کې له قرآن کریم څخه وروسته یو مصدر دی. چې له هغه څخه پیروي د هر مسلمان وجیبه ده.

صحابه کرامو د رسول الله په ژوند کې او د هغه له وفاته وروسته د رسول الله له سنتو څخه پیروي د شریعت له اساسي مصادرو څخه ګڼلی وه، هغه څه به چې رسول الله ورته ویل د هغه پیروی یې کوله ځکه د رسول الله پیروی د قران کریم په اساس باندې لازم او واجب ده. او د اسلام د رسول له وفات څخه وروسته به یې چې کله دکومې موضوع حکم په قران کریم کې پیدا نکړ نو د رسول الله ﷺ سنتو ته به یې مراجعه کوله اود اسلام علما د قیامت تر ورځې د هغه په پیروی باندې مکلف دی.

ایا در سول الله ﷺ ټول اقوال او افعال قانون (شریعت) ګڼل کیږی؟ په دې ځای کې د اسلام علما و د رسول الله اقوال او افعال په څو ډولونو باندې ویشلي دي.

لومړی قسم: د پیغمبر ځینې افعال چې د هغه بشری روشونه و، لکه رنګ، څیره يي، د بدن فیزیکی ساختمان، د ځینو خوراکونو سره علاقمندی او نور، علما وایې هغه څه چې د رسول الله بشري خواصو سره مربوط و په قانون یا تشریع کې نه شاملیږي.

دویم قسم: ځینې افعال د انحضرت له ځانګړو خصایصو څخه و لکه له څلورو ښځو څخه له زیاتو امهات المومنین سره ازدواج، پرله پسې روزه نیول، هغه باندې د تهجدو واجب والی بناء داد تشریع مربوط ندی ځکه چې انحضرت پورې خاص و.

دریم قسم: د هغه ځینې افعال د هغه د ژوند د خاصو تجاربو مطابق و لکه تجارت، زراعت، د عسکرو تنظیم او غیره او شخصا رسول ﷺ دغه امور د شریعت برخه نه وه ګڼلې. مثلا یوه ورځ یې یوه صحابی ته د ونو د اصلاح په هکله څه وویل او کله یې چې سیې حاصل ورنکړو له خپل نظر څخه واوښت او ورته یې وویل چې «انتم اعلم بامور دنیاکم» تاسې دخپلې دنیا په کارونو باندې ښه پوهیږي. او یا د اچې کله د بدر غزا کې د اسلام رسول د لښکر لپاره یو مشخص ځای تعین کړ، د هغه له صحابه و څخه یو تن وپوښتل چې ایا دا ځای درته الله انتخاب کړی دي؟ او یا دا چې جنګي مسایلو کې ستاسې خپل نظر دي؟ د اسلام رسول وفرمایل: بلکې د جنګ اړوند خپل نظر دی، نو هغه صحابی ورته دبل ځای مشوره ورکړه او د اسلام رسول هم پدې برخه کې دغه مشوره ومنله.

څلورم قسم: د قرآن کریم، تعلیم او ارشاد په هکله د اسلام د پیغمبر اقوال او افعال او تقریرونه دی چې د اسلامی شریعت دویم مصدر دی، مثلا د اسلام رسول فرمایی: «صلوا كما رأيتموني أصلي»[1] داسی لمونځ وکړی لکه

---

۱- عن مالك بن الحويرث قال: أتينا رسول الله صلى الله عليه وسلم ونحن شببة متقاربون فأقمنا عنده عشرين ليلة فظن أنا قد اشتقنا إلى أهلينا سألنا عمن تركنا في أهلنا فأخبرناه وكا رسول الله صلى الله عليه وسلم رحيما رفيقا فقال: «ارجعوا إلى أهليكم فعلموهم ومروهم وصلوا كما رأيتموني أصلي فإذا حضرت الصلاة فليؤذن أحدكم وليؤمكم أكبركم» حديث نمبر ۲۱۳۱ – صحيح ابن حبان قال شعيب الأرنؤوط: إسناده صحيح على شرط البخاري

ځرنګه چی ما وینی چې لمونځ کوم «خذو عنی مناسککم»[1] له ما څخه خپل مناسک واخلی.

**د فقهاوو په نزد د سنتو تعریف:**

سنت په لغت کې د طریقي عادت، سیرت او روش په معنی راځي او جمع يي سنن (سنتونه) دي.

سنت دفقهاوو په اصطلاح کې: په دین کې هغه روش ده چي فرض او واجب نه وي. همدارنګه هغه فعل ته وايي چي نبی کریمﷺ هغه باندې مواظبت کړی وي او د هغه په واجبوالي باندې کوم دلیل نه وي.

بناء سنت یو تکلیفی حکم دي چې د هغې مقابل کې واجب، فرض او حرام، مکروه او مباح استعمالیږي.

د اصول فقهی د علماو په نزد د سنتو تعریف: د اصول فقهی علما وایی: چي سنت د رسول اللهﷺ له فعل قول او تقریر څخه عبارت دي.

له قولی سنتو منظور د رسول اللهﷺ خبرې دي.

له فعلی سنتو څخه منظور د رسول اللهﷺ افعال او اعمال دي.

له تقریری سنتو څخه منظور د رسول اللهﷺ هغه ویناوې یا هغه اعمال دي چي درسول اللهﷺ پر وړاندې صحابه و کړي وي او رسول اللهﷺ تائید کړې وي او یا پرې غلی شوی او سکوت یي کړی وي.

سنت د احنافو د فقهی معنا له مخې دوه قسمه دي:

**۱- موکد سنتونه:**

---

۱- حدثنا مسدد حدثنا يحي عن سعيد بن أبي عروبة عن قتادة عن الحسن عن حطان بن عبد الله الرقاشي عن عبادة بن الصامت قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم خذوا عني خذوا عني قد جعل الله لهن سبيلا الثيب بالثيب جلد مائة ورمي بالحجارة والبكر بالبكر جلد مائة ونفي سنة. ٤٤١٥ تحقيق الألباني: صحيح ابن ماجة (٢٥٥٠) صحيح وضعيف سنن أبي داود تاليف محمد ناصر الدين الألباني ٤١٥/٩

دا هغه سنتونه دي چې پيغمبرﷺ په هغه باندې دسنتوالی په اساس مواظبت کړي وي. او د هغې ترک د کراهت او نافرمانۍ سبب ګرځي. لکه د جماعت لمونځ، اذان، اقامت او غيره.

**۲– زوايد سنت:**

د پيغمبر روشونه دي چې دعادت په ډول سره يي ترسره کړي دي، د هغه ترسره کول ښه کار دی، لکه د پيغمبرﷺ روشونه په ناسته کې ولاړه کې، خوړل، اغوستل او غيره[۱].

**۳– دامت اجماع د قانون (اسلامی شريعت) دريم مصدر دی، چې اجماع په لغت کې د عزم، قصد او اتفاق په معنی ده:**

اجماع په اصطلاح کې: په يوه شرعي موضوع کې د رسول اللهﷺ وفات څخه وروسته په يو وخت او زمانه کې د اسلامي امت د ټولو مجتهدينو اتفاق څخه عبارت ده، په ډيرو حالاتو کې اسلامی امت پخپلو کې سره په ډيرو مسايلو اجماع کړيده لکه لمونځ، روژه، حج او زکات د مسلمانانو په اجماع سره فرض دي.

اسلامی امت اجماع وکړه چې اسلامي کلونه دې د اسلام د رسول اللهﷺ د هجرت په اساس ونيول شي او د اچي قمري مياشتې په عباداتو کې خپل نقش لري بناء اسلامی کلونه يې هجری قمري کلونه ونومول چې د هغه مياشتې:

۱- محرم الحرام

۲- صفرالمظفر

۳- ربيع الاول

٤- ربيع الآخر

٥- جمادي الاولي

٦- جمادي الاخره

۷- رجب المرجب

---

۱- الموسوعة الفقهية الكويتية تاليف وزارة الأوقاف و الشؤون الإسلامية بالكويت، ۸۹۲۷/۲

۸- شعبان المعظم

۹- رمضان المبارک

۱۰- شوال المکرم

۱۱- ذو القعدة الحرام

۱۲- ذو الحجة الحرام

**۴- قیاس د قانون (اسلامی شریعت) مصدر:**

قیاس په لغت له یو شي سره د بل شي اندازه کولو ته وایي، مثلا وایي فلانی له فلاني شخص سره نه قیاس کیږي، یعنی له هغه سره مساوی ندی، قیاس په اصطلاح کې: د یو فرعی شی مساوی کول دي له یو اصلي شی سره خو په دواړو کې دیو مشترک علت وجود شرط دی.

**د قیاس ارکان:**

قیاس څلور ارکان لري:

الف: د اصل موجودیت چې له هغه سره تشبیه کیږي (مشبه به)

ب: د فرع موجودیت چي هغه فرع بیا له اصل سره تشبیه کوي (مشبه)

ج: د حکم موجودیت لکه د شرابو حراموالی.

د: علت: او دا هغه صفت دې چې فرع او اصل یو بل سره جمع کوي.

مثال: د رسول اللهﷺ په عصر کې شراب چي خمر نومیده، غالبا له انګورو څخه جوړیده، او شراب (خمر) د قران کریم دایاتونو او د اسلام د رسول د سنتو په واسطه حرام پیژندل شوی دي، او د اسلام ټولو علماو اجماع کړیده چې شراب حرام دي. اما په وروستیو وختونو کې بل رنګ څښونکی مواد جوړ شوي دي، چې د انګور ندي، بلکې له نورو شیانو څخه جوړیدل، بناء د اسلام پوهانو الکول څښونکی مواد په شرابو قیاس کړي او حرام یې ګڼلې دي ځکه هغوی وایي:

الف: د اصل موجودیت چې له هغه سره تشبیه کیږي (مشبه به) شراب (خمر) دي.

ب: د فرع موجودیت چې دغه فرع له اصل سره تشبیه کیږي (مشبه) چې هغه الکول څښونکي مواد دي.

ج: د حکم موجودیت لکه د شرابو حراموالی.

د: علت: او دا هغه صفت دی چې اصل او فرع یو بل سره جمع کوي، په صفت کې یې وویل چې شراب (خمر) ددې علت له مخې حرام شوي دي، چې هغې کې تیت وه بناء که دغه علت په بل هر څښونکی مواد کې ولیدل شي، په هماغه شرابو باندی قیاسیږي.

**وضعی قانون:**

له وضعي قوانینو څخه مراد هغه قوانین دي چې متخصص انسانان د خپلو تخصصونو مطابق په مختلفو ځانګو کې هغه په داسې ډول سره تصویبوي چې د قران کریم او رسول اللهﷺ د سنتو پوښښ لاندې وي، او یا له هغو سره مخالفت ونلري، لکه د تحصیلاتو قانون، د معارف قانون، د انرژی او برق وزارت قانون – د ښار دجوړونی قانون، د کورنو تهیه د کلیو پراختیا، بانکداري او تجارت او غیره.

مثلا د تحصیلات عالی په قانون کې: د اسلام مقدس دین کې دتعلم او تربیې متخصصین حق لري چې د عالی تحصیلاتو لپاره یو قانون جوړ کړي، چې د هغه مطابق د پوهنتونونو، او عالي تحصیلاتو موسسو اجراءات ترسره شي. همدارنګه مختلفی لایحې لکه کادر علمی کې دشمولیت لایحه، د امتحاناتو لایحه، د محصلینو دمنلو لایحه او غیره.

ولې د هغې دموادو په هکله حتما باید اسلامی قوانین په نظر کې وي. بناء که د تحصیلاتو عالی قانون نجونو ته د بی حجابی اجازه ورکوي نو دا قانون د قران کریم مخالف دي، او قانون ایښودونکي داسې حق نلري چې دغه رنګ قانون جوړ کړي.

# دریم فصل:
# د عباداتو مختلفې فلسفې

**دې فصل کې شاملې موضوع ګانی:**

۱- د اسلام مقدس دين کې د ۲۴ ساعته عبادت فلسفه.

۲- د عبادت او معرفت ترمنځ د رابطی فلسفه.

۳- دعبادت د قبولی اورد فلسفه.

٤- د علم، تعليم او الله د ذکر د مجلسونو فلسفه.

٥- د الله عبادت کې دحسابی ورکولو فلسفه.

٦- د ګټو د جلب فلسفه.

۷- دشکر (شکر د حق پيژندني مهمترين مظهر) فلسفه.

۸- د احوالو او اعمالو د مطابقت فلسفه.

۹- د عبادتونو د زوال فلسفه.

۱۰- په عبادت کې داتقان فلسفه.

۱۱- دنيا د آخرت کښت دی، ددې فلسفه.

۱۲- دعبادت پوره پيژندنی فلسفه.

۱۳- داسلام مقدس دين او ټولو دينونو کې د عبادت اختلاف فلسفه.

١٤- دعباداتو د حکمت فلسفه.

۱٥- د درې ګونو اړيکو فلسفه.

۱٦- د عبادت ګټه خپله بنده ته ده، ددې فلسفه.

۱۷- دعبادت پريښودل د شيطان لخوا د انسان تسخيريدل دي، ددې فلسفه.

۱۸- د اخلاص فلسفه.

۱۹- ددنیا د ترک، رهبانیت (ګوښه کیناستنې) فلسفه.

۲۰- د دعوت او عبادت لپاره له تکنالوژي وسایلو څخه استفاده.

۲۱- د ویرې او محبت فلسفه.

عبادات د اسلام مقدس دین کې مختلفې فلسفې لري، چې دې بحث کې د اسلام مقدس دین کې د عباداتو ځینې مهمترینې فلسفې د کره کتنې او تحقیق لاندې نیسو:

## ۱- د اسلام مقدس دین کې د ۲۴ ساعته عباداتو فلسفه:

عبادت د اسلام مقدس دین کې لکه څرنګه چې مخکې یاده شوه د ژوند په ۲۴ ساعتونو کې ادا کیږي. ددې عبادتونو د فلسفې په هکله یو تن له یو مسلمان عالم څخه وپوښتل چې تاسې څه وخت عبادت کوئ؟ هغه وویل مونږ مسلمانان د خپل عمر په ۲۴ ساعتونو کې عبادت کوو.

هغه سړي وویل خیر نو تاسې هیڅ خوب نکوئ؟ مسلمان عالم وویل کله چې مونږ خپل خوب د حضرت محمد ﷺ په طریقې سره ترسره کړو بناء زمونږه خوب هم په عبادت کې محاسبه کیږي.

ددغه عالم خبره د اسلام مقدس دین کې دعبادت حقیقي فلسفه بیانوي ځکه د اسلام مقدس دین کې دیو مسلمان ټول اعمال د الهي احکامو مطابق وي، ځکه:

- هر کله چې څوک د اسلام مقدس دین د احکامو مطابق ازدواج وکړي نو عبادت یې کړی دی.
- هر کله چې څوک د اسلام مقدس دین د احکامو مطابق تجارت وکړی نو عبادت یې کړی دی.
- هر کله چې څوک د اسلام مقدس دین د احکامو مطابق یو دعوت برابر کړي نو عبادت یې کړی دی.
- هر کله چې څوک د اسلام مقدس دین د احکامو مطابق ډوډۍ وخوري

- هر کله چې څوک د اسلام مقدس دین د احکامو مطابق له خپلې ښځې او د خپل کور له اعضاو سره ښه اخلاق وکړي نو عبادت یې کړی دی.
- هر کله چې څوک د اسلام مقدس دین د احکامو مطابق خپل ځان او خپل فامیل ته دحلالې نفقې دلاسته راوړلو لپاره کوشش وکړي نو عبادت یې کړی دی.
- موټر کې سپور شي او په موټر کې د کیناستلو اخلاقي اداب مراعات کړي نو عبادت یې کړی دی.
- هر کله چې څوک د اسلام مقدس دین د احکامو مطابق له خپلو همسایه ګانو سره ښه معامله وکړي نو عبادت یې کړی دی.
- هر کله چې څوک د اسلام مقدس دین د احکامو مطابق له خپلو دوستانو سره تګ را تګ وکړي نو عبادت یې کړی دی.
- هر کله چې څوک د اسلام مقدس دین د احکامو مطابق خبرې وکړي نو عبادت یي کړی دی.
- هر کله چې څوک د اسلام مقدس دین د احکامو مطابق ناسته ولاړه وکړي نو عبادت یې کړی دی.
- هر کله چې څوک د اسلام مقدس دین د احکامو مطابق خپلو والدینو ته احترام وکړي نو عبادت یې کړی دی.
- هر کله چې څوک د اسلام مقدس دین د احکامو مطابق لباس واغوندي نو عبادت یې کړی دی.
- هر کله چې څوک د اسلام مقدس دین د احکامو مطابق د ماشومانو د راوړلو پر وخت ورته اسلامي نومونه اختیار کړي نو عبادت یې کړی دی.
- هر کله چې څوک د اسلام مقدس دین د احکامو مطابق د خپل اولاد په تربیه کې هڅه او کوشش وکړي نو عبادت یې کړی دی.
- هر کله چې څوک د اسلام مقدس دین د احکامو مطابق په مجلسونو کې برخه واخلي میلمستیا وکړي، ټول په عبادت کې حسابیږي. ځکه

دغو ټولو امورو ته د اسلام مقدس دین کې احکام او قوانین وجود لري چې ددغو اعمال مطابق د اسلام مقدس دین له احکامو سره عبادت ګڼل کیږي.

د یو حقیقی مسلمان وظیفه ده چې همیشه د اسلام مقدس د احکامو، او د پیغمبر د طریقي اوسنت پوهیدلو ته هڅه او کوشش وکړي. ځکه ددې ټولو پوهه انسان په هغو باندې عمل کولو ته اماده کوي.

## ۲– د عبادت او معرفت ترمنځ د اړیکو فلسفه:

د الله ﷻ د معرفت اثر په عبادت باندې هومره زیات دی چې ددغه عبادت ثواب له یو چند څخه اوه سوه چنده ته ارتقا ورکوي. مثلا یو ځوان چې نوم یې خالد دی. هغه د یوې ترافیکې حادثې په اثر کې خپلې سترګی له لاسه ورکړې. دا چې نه یې شو کولی خپلو درسونو ته دوام ورکړي هغه له پوهنتون څخه اخراج شو، د هغه نامزادې هم دده د مشکل په خاطر له ده سره اړیکی پرې کړې، او په هغه دفتر کی یې چې کار کو هم ددغې ستونزې په خاطر یې قرار داد ورسره قطع کړی شو، ځکه هغه نشو کولی ددغه دفتر کمپیوتري کارونه ترسره کړي.

خالد ژوند څخه مایوس کیږي، او یو دوست یې ورته وایي چې امکان لري ستاسې سترګی عملیات شي، او ستاسې ددې سترګو په عوض کې کیدای شي نوې سترګې او یا هم مصنوعی سترګې ورته نصب کړی شي، ولې د هغې مصارف له ۲۰ زرو ډالرو هم زیاد دی. هغه بیا هم مایوسه کیږي، ځکه هغه دومره پیسې نلري، او نه څوک اماده کیږي چې ده ته قرض ورکړي، ځکه هر سړی شک کوي چې ایا دده عملیات به مثبت اجرا شي او که نه شي، چې دده پیسې به هم ضایع شي او خالد به یې د قرض اداکولو توانایي هم نلري، په هر حال خالد یو مسلمان دوست لري چې غواړي له ده سره کمک وکړي بالاخره دواړه د یو داکټر خوا ته ځي، او د خالد ملګری اماده کیږی چې خپله یوه سترګه خالد ته ورکړي او خپله له یوې سترګې سره ژوند وکړي. عملیات ترسره کیږي، اوس خالد له یوې سترګې سره دوباره خپلو درسونو ته دوام

ورکوي، نامزاد یې هم ورسره بېرته اړیکې نیسي، او په دفتر کې هم دوباره خپل کارونه بیا را نیسي، او پدې ډول سره یې ژوند په نور مال شکل سره په مخ ځي. اوس خالد د خپل هغه دوست مقابل کې چې دغسي خدمت یې ورته کړی دی څه عکس العمل ترسره کوي، خالد خپل دوست ته وایي چې زه ستاسې احسان په ژوند کې نشم هیرولی، او زه به په ژوند کې ستا دیو خدمتګار په ډول اوسم، هر څه چې وغواړې درته یې کوم، او که دوست یې هر وخت ورته ووایي چې هره ورځ پنځه ځله زما لیدلو ته راشه، خالد پرته له کومه شکه دده دغه تقاضا قبلوي.

ایا خالد دده دغه تقاضا د محبت په اساس ومنله او که د ویرې په اساس؟ پرته له شکه د ډیر زیات محبت په اساس... ځکه خالد پوهیږي چې دغه شخص دده په ژوند کې دده یواځنی مرستندوی دی. هغه وخت چې ټولو دی پریښود هغه دوست یې له ده سره همکاري وکړه، او دی یې د ژوند له ستونزو څخه خلاص کړ اوس نو باید تصور وکړو چې د یوې سترګې لپاره د یو چا خدمت کې ټول عمر اوسو، دهغه چا په هکله څه باید ووایو چې مونږ ته یې دوه رڼې سترګې له پیله را کړې دي، مونږ ته یې سالم زړه ښکلی ګردې، او بالاخره کله چې د بدن ټول اعضا محاسبه کړو او د هغې په قیمت پوه شو، پرته له شکه چې زمونږ د بدن ټول اعضا په ملیونونو ډالره ارزښت لري، او دا ټول الله ﷻ مونږ ته په مفته را کړې دي.

دغه مسلمان پوهیالی پوهیږي چې الله ﷻ ده ته څه نعمتونه ورکړي دي، چې ټول مفته او بی بیې دي، بناء دغه شخص د منني د ترسره کونې لپاره خپل پنځه وخته لمونځ په ډیر محبت باندې الله ﷻ ته ادا کوي. او هر کله چې دوه رکعته لمونځ کوي په حقیقت کې د ټولو همغو نعمتونو شکر ادا کوي چې الله ﷻ ورته ورکړې دي. همدارنګه پوهیږي چې د طبیعت ټول موجودات دده په خدمت کې دي، شاعر وایي:

ابروبادومه‌وخورشیدوفلک‌درکارند تاتوناني‌به‌کف‌آری‌وبه‌غفلت‌نخوری

همه از بهر تو سرگشته و فرمان‌بردار شرط انصاف نباشدکه توفرمان نبری

او هر کله چې ددغسې معرفت سره اللهﷻ ته عبادت وشي نو دغه شخص بيا خپل دوه رکعته لمونځ په لس دقيقو کې ادا کوي، ولې کيداى شي داسې شخص وي چې دغه ټول نعمتونه هير کړي او هيڅکله د اللهﷻ مننه ونکړي او له لمانځه کولو، خبرو کولو او اللهﷻ نه د منني کولو څخه ځان لرې وساتى، نو ګوره د لارې فاصله له کوم ځايه تر کوم ځايه ده؟

## ۳– د عبادت د قبولۍ اورد فلسفه:




د مؤمن عبادت هغه وخت قبليږي چې د عبادت منلو درې اساسي شرطونه په هغه کې موجود وي، چې دغه شرطونه عبارت دي له:

**د پاکۍ په اساس وي:**

او له هغه موضوع چې دلته بايد ورته پاملرنه وکړو داده چې د پاکۍ او ناپاکۍ معيار د اسلام مقدس دين کې د اللهﷻ د حکم په اساس وي، پاک د مسلمان په نزد هغه څه ته ويل کيږي چې اللهﷻ هغه پاک ګڼلى دى، او مردار او ناپاک هغه شى دى چې، اللهﷻ هغه حرام او ناپاک ګرځولى دى، او پيغمبر هغه تشريح او توضيح کړې دي.

د اللهﷻ په نزد د طاعت او عبادت د قبليدو مهمترين اساس د هغه عبادت د وسايلو پاکي او صفايي ده، چې اللهﷻ ته د قبليدو لپاره تقديميږي، اللهﷻ پاک دى او پاک شيان دوست لري، او ناپاک او مردار شيان پخپل دربار کې نه قبلوي، په حديث شريف کې دي چې «إن الله طيب لا يقبل إلا طيبا»[1] الله تعالى پاک دي او نه قبلوي مګر پاک شى او نه يې د منلو وړ ګرځي.

---

١– «عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ يَسَارٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَصَدَّقَ أَحَدٌ بِصَدَقَةٍ مِنْ طَيِّبٍ وَلَا يَقْبَلُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا الطَّيِّبَ إِلَّا أَخَذَهَا الرَّحْمَنُ عَزَّ وَجَلَّ

هر کله چې تاسې ته د ولږې او یا تندې پر وخت ډیره ښه غذا او اویا یخې اوبه راوړل شي او ورته ووایي چې دغې غذا کې ډیره کمه اندازه کثافت غورځیدلي دي او یا ستاسې اوبو کې یوه قطره مرداري غورځیدلی دی، ایا تاسې دغه غذا خوري؟ او یا هم دغه اوبه څښئ؟ طبیعی ده چې نه خیر.

ولې؟ ددې لپاره چې د انسان طبیعت او شخصیت د کثیفه شیانو له استعمال څخه متنفره وي، انسان یو باکرامته مخلوق دی، باید له غوره خوراکونو چې ډیر زیات پاک وي استفاده وکړي، هر کله انسان چې یو مخلوق دی پاک شیان خوښوي او له کثیف لباس، نجس ځای او مکروبی خوراک څخه نفرت لري.

دالله ذات چې د هغه پاکی له ټولو څخه برتره ده، هیڅکله هغه عبادت چې مادي او معنوی کثافت ولري نه قبلوي.

پدې اساس د اسلام مقدس دین کې د هر عبادت لپاره معنوي او مادی پاکی شرط ده..




د مادی پاکۍ څخه هدف: هرکله چې لباس، ځای او یا څه شي په عبادت کې استعمالوو لازمه ده چې له مادي اړخه هم پاک وي، بناء په لمانځه کې شرط ده چې د لمونځ کوونکی لباس، او هغه ځای چې هلته لمونځ ادا کوي نجس نه وي.

د معنوی پاکۍ څخه هدف: په معنوی پاکۍ کې د درې شیانو مراعات ضروری ده.

**۱– هغه پاکي چې یو شي ذات سره تعلق لري:**

بِيَمِينِهِ وَإِنْ كَانَتْ تَمْرَةً فَتَرْبُو فِي كَفِّ الرَّحْمَنِ حَتَّى تَكُونَ أَعْظَمَ مِنْ الْجَبَلِ كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ أَوْ فَصِيلَهُ» حديث نمبر۲٤٧٨ كتاب الزكاة سنن النسائي.

هغه وخت يو شي ته پاک وايو چی د الهی حکم په اساس هغه پاک ثابت شوی وي، مثلا لمونځ کول دخنزير په پوستکی باندې جايز ندی، ځکه چې خنزير پخپل ذات کې حرام دی.

**۲– هغه پاکی چې د استفادې له اسلوب سره تعلق لري:**

د پاکۍ دويم شکل د هغه شي څخه د استفادې اسلوب پوري تعلق لري، مثلا کله چې مونږ غواړو د حلال حيوان له غوښي څخه استفاده وکړو لازمه ده چې د هغې ذبحه به اسلامی اسلوب سره وي. او هر وخت چې يو پاک پسه داسلامی احکامو مطابق ذبح شوی نه وي، د هغه د غوښې خوړل جايز او حلال ندی. همدارنګه مونږ پيسې لرو چې له حلالی لارې زمونږ لاس ته راغلې دي، ولې له دغو پيسو څخه استفاده يو مسلمان ته يوائی په جايزو کارونو کې ورکړل شوې ده.

**۳– هغه پاکي چې د يو شي له قيمت او د لاسته راوړلو څرنګوالي پورې تعلق لري**

هغه وخت کولی شو يو شی ته پاک ووايو چې له حلالو او مشروع پيسو لاس ته راغلی وي. مثلا د حلال شوي پسه غوښه هغه وخت مونږ ته حلاليږي چې هغه د حلالو پيسو څخه لاس ته راوړې وي.

بناء له هر شي څخه استفاده کول ۴ شرطونه لري:

**اول شرط: د هغه شي په ذات کې د پاکۍ او د استفادې د قابليت شرط**

په اسلامي شريعت کې ډير شيان دي چې له هغه څخه ذاتا استفاده ناجايز او سمه نده، مثلا د الکولی مشروباتو له ذات څخه استفاده حرامه ده، او يا هم دخنزير (وينه، غوښه پوستکې، شحم (چربی) ټول حرام دي.

**دويم شرط: اسلوب کې دپاکۍ شرط**

د اسلوب پاکي درې نوعه ده:

**الف: د لاسته راوړلو اسلوب**

د هر شی دلاسته راوړلو لپاره په قرآنی قوانینو کې ځانګړی اسلوب وجود لري، هرکله چي له اسلامی شرایطو سره وي حلال وي، پرته له هغه حرام او ناجایز دي.

د یو شي لاس ته راوړل د غلا، سرقت، اختلاس، رشوت، سود او فریب کاری له لارې حرام، ناجایز او ممنوع کارونه دي.

**ب: دتیارولو اسلوب**

په ډیري امورو کې له استفادې کولو څخه د هغه د تیارولو ډول هم شرط وي مثلا د پسه غوښه خوړل هغه وخت جایز ده چې په اسلامي اسلوب سره ذبح شوي وي. او هر کله هغه پسه چې د غوښې خوړل یې حلال دي په اسلامي اسلوب سره حلال شوي نه وي. بیاهم ورته حلال نه ویل کیږي. په غربی هیوادونو کې چرګ، پسه، غوا او غیره حیوانات د برق په واسطه په ځانګړي اسلوب سره تباه کوي، چې هغې کې د اسلامي ذبحی شرایط نه مراعات کیږي. ددغو حیواناتو د غوښې خوړل ناجایز دي.

او یا دا چي د شیرینی بابو غذایي موادو او غیره تیارولو کې د خنزیر له شحم او چربو څخه استفاده کیږي او په ډیرو مشروباتو کې یې الکول موجود دي.

**ج: د استعمال او مصرف کولو اسلوب**

ډیر وخت د یو چا مال حلال وي ولې هغه په منفی ډول سره استعمالوي، بناء پاک مال باید په پاکو امورو کې استعمال شي، هغه محفلونه چې سیالۍ، ځان ښودنې، رقاصه ووته د پیسو ورکول او مبتذله موسیقی ماران، د مخدراتو څکل، د فلمونو لیدل لپاره را ټولیدل بی حیا تیاترونه او غیره هغه محفلونه دي چې د اسلامي شریعت له نظره د پیسو مصرفول په هغه شي کې جایز نه دي اویا هم د پیسو مصرفول په هغه څه کې چا د مصرف اجازه نلري صورت ونیسی.

**دریم شرط: دقیمت د پاکۍ شرط**

مومن انسان عقیده لری چې له حلالی لارې دمال لاسته راوړل د هر شی د حلال والي لپاره یو مهم شرط دی هر کله چې څوک یو شی له حرامو پیسو څخه لاس ته راوړي، د هغه شي خوړل ورته جایز نه وي.

**څلورم شرط: په استفاده کوونکی شخص کې د پاکی شرط**

په اسلامي شریعت کې داسي شیان شته چې ځینو اشخاصو ته حلال او ځینو ته حرام وي لکه د طلا او وریښمو استعمال ښځو او نجلکیانو ته حلال او جایز ده اما سړیانو او هلکانو ته حرام او ناروا دی.

له دغلو څلور شرطونو سره مطابق چې کله څوک لمونځ کوي لازمه ده ترڅو د لمانځه ځای، د لمونځ کوونکی لباس، او جسم یې له مادی او معنوی نجاست څخه پاک وي. د لمانځه ځای او لباس یې باید له حلالو پیسو څخه خریداري شوي وي، او بدن یې هم له حلالو پیسو تغذیه شوی وي. همدارنګه لازمه ده، چې له مادي نجاستونو لکه بول، غایطه، وینې، زوې او غیره څخه پاک وي، او له اوداسه سره خپل لمونځ ادا کړي.

په همدې ډول هر کله چې څوک روزه نیسي لازمه ده ترڅو د روژې نیولو پر وخت په سحري کې حلاله غذا وخوري، او دافطار پر وخت هم په حلاله غذا باندې خپله روزه ماته کړي.

همدارنګه که کله څوک حج ته ځي باید د حج پیسي یي له حلالې او مشروع لارې څخه وي، د مسلمانانو له بیت المال څخه د غلا او رشوت په پیسو، په تجارت او اخیستلو او خرڅولو کې فریب کاری، د لورګانو او خورګانو ولور د غصب اموال او غیره باندې حج کول هیڅ فایده نلري.

دحرام خوړلو نتایج: هر کله چې څوک پخپلو عباداتو کې حرام او حلال مراعات نکړي او دې کار ته څه پاملرنه ونلري له حرامو څخه استفاده ورته لاندې نتایج راوړي:

**الف: دیوې حرامې مړۍ په خوړلو سره د څلوېښت ورځو عبادت نه قبلیدل**

مهمترینه نقطه چې پوهیدل یي په هر مسلمان باندي لازم دي. د پیغمبرعليه‌السلام دا خبره ده، چې فرمایلي یې دی: «والذي نفس محمد بیده إن الرجل لیقذف اللقمة

الحرام في جوفه ما يتقبل منه أربعين يوما»[۱]: قسم په هغه ذات چې د محمد روح د هغه په لاس کې دی هغه سړی چې يوه حرامه مړۍ خيټې ته ښکته کوي، څلويښت ورځې د هغه نيک اعمال نه قبليږي.

**ب: د حرام خور دعا نه قبليږي**

په حديث شريف کې د پيغمبرعليه السلام په شهادت د حرامخور انسان دعا هيڅکله نه قبليږي. هغه حرام خور چې خوراک، څښاک، او لباس يي له حرام مال څخه وي. او بيا خپل لاسونه د پروردګار دربار ته نيسي او دعا کوي.

غوره ده چې دغه حديث د پيغمبرعليه السلام له ژبې څخه را نقل او زده کړو: حضرت ابوهريره فرمايي چې رسول اللهﷺ وفرمايل: ای خلکو! اللهجل جلاله پاک دي او نه قبلوي مګر پاک شيان، اللهجل جلاله مومنانو ته د هغه څه امر کړی دی چې پيغمبرانو ته يې د هغي امر کړی دی، فرمايي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُواْ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعۡمَلُواْ صَٰلِحًاۖ إِنِّي بِمَا تَعۡمَلُونَ عَلِيمٞ ٥١﴾ [المؤمنون: ۵۱] «ای پيغمبرانو وخوری له پاکو څخه او نيک عملونه کوی زه ستاسې په کړنو پوه يم» همدرانګه يې فرمايلی دي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡ﴾ [البقرة: ۱۷۲] «ای مسلمانانو وخوري له هغو پاکو شيانو څخه چې ما تاسې ته رزق درکړی دی».

بيا پيغمبر ﷺ وفرمايل: يوتن اوږد سفر کوي، پخپلو جړو او ګرد وهلو ويښتانو سره لاسونه اسمان ته پورته کوي او وايي: ای پرودګاره! ای پرودګاره! داسې حال کې چې خوراک يې حرام دی، څښاک يې حرام دی او لباس يې حرام دی او په حرامو تغذيه شوی دی نو کله به يې دعا قبوله شي[۲].

---

۱- والذى نفس محمد بيده إن العبد ليقذف اللقمة الحرام فى جوفه ما يتقبل منه عمل أربعين يوماً (الطبرانى فى الصغير عن ابن عباس) [المناوى] أخرجه الطبرانى كما فى مجمع الزوائد (۱۰/ ۲۹۱) قال الهيثمى: فيه من لم أعرفهم. وأخرجه أيضاً: الطبرانى فى الأوسط (٦/ ٣١٠، رقم ٦٤٩٥).

۲- «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ اللَّهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا وَإِنَّ اللَّهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ فَقَالَ يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنْ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ وَقَالَ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ

**ج: هغه جسم چې له حرامو تغذیه شی د دوزخ په اور سوزیږي**

ابن کثیر له حضرت عبد الله بن عباس څخه روایت کوي چې ما دا آیات شریف د پیغمبرﷺ ترمخ تلاوت کړ ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ حَلَٰلٗا طَيِّبٗا﴾ [البقرة: ۱٦۸] «ای خلکو وخوری له هغه څه نه چې ځمکه کې دي حلال او پاک» حضرت سعد بن ابی وقاص عرض وکړ: ای رسول اللهﷺ ماته دعا وکړه چې اللهﷻ ما مستجاب الدعا (هغه څوک چې دعا یې قبلیږی) وګرځوي، پیغمبرﷺ وویل: ای سعده غذا دې پاکه کړه، قسم په هغه ذات چې د محمدﷺ نفس د هغه په لاس کې ده هغه څوک چې یوه حرامه مړۍ خیټې ته ښکته کوي څلویښت ورځې د هغه نیک اعمال نه قبلیږي، او د هر چا بدن چې له حرامو او سود څخه تغذیه شوی وي د دوزخ اور ورته ډېر غوره دی[1].

هر کله چې ددغه حدیث شریف معنی ته متوجه شو، وینو چې هغه خلک چې له حرامو پیسو څخه یې استفاده کړې او په عبادت مشغولیږي په حقیقیت کې یې عبادت قبول شوی ندی. د پیغمبرﷺ له دی حدیث څخه په صراحت باندې معلومیږی چې د هغه انسان چی خوراک، څښاک او لباس یې حرام وی او یا یې جسم له حرامو څخه تغذیه شي، هر څومره د اللهﷻ دربار ته دعا وکړي دعا یې نه قبلیږي.

**د: دیو خرما په اندازه حلاله صدقه د غره په شان ګرځي**

---

أَشْعَثَ أَغْبَرَ يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ يَا رَبِّ يَا رَبِّ وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ» حديث ۷۹۹۸ مسند امام احمد.

۱- عن ابن عباس قال: تليت هذه الآية عند النبي صلى الله عليه وسلم ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي ٱلۡأَرۡضِ حَلَٰلٗا طَيِّبٗا﴾ فقام سعد بن أبي وقاص فقال يا رسول الله ادع الله أن يجعلني مستجاب الدعوة فقال «يا سعد أطب مطعمك تكن مستجاب الدعوة والذي نفس محمد بيده إن الرجل ليقذف اللقمة الحرام في جوفه ما يتقبل منه أربعين يوما وأيما عبد نبت لحمه من السحت والربا فالنار أولى به».

برعکس هر کله چې يو مخلص مسلمان له خپل حلال مال څخه ديو خرما په اندازه د الله‌ﷻ په لار کې مصرفوي الله‌ﷻ دده همدغه کم مال د غرونو په اندازه ګرځوي، او ورته اجر ورکوي، حضرت ابوهريره‌رضي الله عنه فرمايي چې پيغمبر وفرمايل: «هر کله چې څوک د يو خرما په اندازه له حلال مال څخه صدقه ورکړي داسې حال کې چې الله‌ﷻ پرته له پاکو شيانو بل څه نه قبلوي بيا الله‌ﷻ دغه پاک مال ته نمو ورکوي ترڅو چې دغه پاک مال د يو غره په اندازه ګرځی»[1].

**هـ: هغه امور چې هغې کی شک دی انسان په حرامو کې مبتلا کوي**

حضرت نعمان بن بشير فرمايي چې له محمدص څخه مې واوريده چې ويل يې حلال ښکاره دي، او حرام هم ښکاره دي، د حلالو او حرامو ترمنځ داسې امور دي چې هغې کی شک او شبهه پرته ده، او پدې باندې ډير خلک نه پوهيږي هر څوک چې له هغو کارو ځان وساتي چې هغي کې شک او شبه ده، نو خپل ځانته يي په دين کې پاکي غوره کړه، او هر څوک چې شبهاتو کې واقع شي. لکه د هغه چا په شان چې د نورو د ځمکې ترڅنګ خپل مال څروي او ډير زر به يي حيوانات د بل چا پټيو کې داخل شي، خبر اوسی چې هر پاچا خپل حريم لري، او الهی حريم په الهي زمکه د هغه محرمات (حرام امور) دي، خبر اوسی چې د انسان په بدن کې يوه د وينې ټوټه ده، هر کله چې دغه د وينې ټوټه اصلاح شوه، ټول جسد اصلاح کيږي او هر کله چې فاسده شوه ټول بدن فاسديږي، او هغه د وينی ټوټه زړه دي[2].

الله‌ﷻ فرمايي: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِى ٱلْأَرْضِ حَلَـٰلًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَـٰنِ ۚ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿١٦٨﴾﴾ [البقرة: ١٦٨] «ای خلکو وخوري له هغه څه چې په ځمکه کې دي حلال او پاک او پيروی مه کوی د شيطان د قدمونو بی‌شکه هغه تاسې ته ښکاره دښمن دی».

---

۱- حديث ۱۳۲۱ کتاب زکات بخاري شريف

۲- حديث نمبر (۵۰) کتاب الإيمان، بخاري شريف

**نجات په څه کې دي:**

د قرطبی تفسیر وايي: حلالو ته حلال وايي ځکه د خطر غوټه د هغه په واسطه خلاصيږي، او حضرت سهل بن عبداللهﷺ فرمايي نجات په درې شيانو کې نغښتی دی:

**الف: حلال خوراک**

دنجات اساس حلال خوراک دی، ځکه د حرامو خوړل سبب کيږي چې د انسان ټول وسايل مردار شي او هر عبادت چې په حرامو وسايلو سره ترسره شي د قبليدو کوم ځای نه نيسي. او کله چې عبادت قبول نشي مشکله ده چې انسان نجات ومومي.

**ب: د فرايضو ادا**

هغه څه چې اللهﷻ فرض کړي د قيامت په ورځ محاسبه کيږي او هغه انسان چې په فرايضو کې بی‌تفاوتی کوي حتما له زياتو ستونزو سره مخ کيږي.

**ج: د نبی کريمﷺ پيروي**

له ټولو لوی نجات در سول اللهﷺ په پيروۍ کې دی، ځکه هغو خلکو چې د پيغمبر خبرې پرې ايښې دي او د هغو نور خلکو خبرې يې منلې دي چې د پيغمبر د خبرو په خلاف خبرې کوي، د قيامت په ورځ به له زياتو ستونزو سره مخ کيږی او نجات به يې ډير مشکل وي.

عقبه بن عامر وايي: ما وويل ای د اللهﷻ رسوله نجات په څه کې دی؟ هغه وفرمايل: ژبه دې وساته، کور دې درته پراخ وي او پخپلو ګناهونو وژاړه.

**د اخلاص په اساس وي**

اللهﷻ ډیر قدرت لرونکی ذات دی، هیڅکله هم هغه عمل نه قبلوی چې له ده سره څوک شریک کړی شي.

هر کله چې څوک داللهﷻ عبادت کې ۱٪ بل څوک شریک کړي اللهﷻ ۹۹٪ هم هغه شخص ته ورکوي او د هغه هیڅ برخه نه قبلوي، پدې اساس لازمه ده چې انسان پخپل عبادت کې له اللهﷻ سره څوک شریک نکړي، همیشه متوجه وي چې هغه څه چې عبادت نومیږي خاص د اللهﷻ د ذات لپاره ادا شي.

مثلا څوک غواړي چې صدقه وکړي، له هغه پوښتو: تاسې ولې دومره مصرف تحمل کړ؟ هر کله چې د هغه هدف اللهﷻ وي وایي: د اللهﷻ د رضایت لپاره مې دا کار وکړ، او یا هغه انسان خپله صدقه داسې په خفیه ډول مستحقینو ته ورکوي چې هیڅوک له هغې څخه نه خبریږي، اما که له ریا کار شخص څخه وپوښتو تاسې ولې دومره مصرف وکړ؟ وایي: ددې لپاره چې خلک را باندې تبصره ونکړي ونه خاندي، او ونه وایي چې هیڅ مصرف یې ونکړ، او یا دا زمونږ قومی رواج ده، او مونږ باید د هغه مطابق عمل وکړو بناء په هر با ایمانه مسلمان لازمه ده چې عبادت کې اخلاص په نظر کې ونیسي او همیشه یې توجه یو اللهﷻ ته وي او که نه نو عبادت یې نه قبلیږي.

**د قرآن او سنتو مطابق وي**

عبادت په اسلام کې دادی چې ددغه عبادت په هکله په قران عظیم الشان او د پیغمبر ﷺ په سنتو کې یادونه راغلي وي لکه لمونځ، روزه، زکات، حج، صله رحمی، د والدینو احترام، ذکر، اسلام ته دعوت له مقدساتو څخه ددفاع لپاره جهاد او غیره عبادات چې د نبوت په عصر کې د عباداتو په ډول منل شوي دي.

ځینې خلک نیک اعمال ترسره کوي، اخلاص هم لري، مادي او معنوي پاکې هم په نظر کې لري، ولې اعمال یې د پیغمبر ﷺ له سنتو سره مطابقت نلري، هغوی ځینې اعمال د خپلو غوښتنو مطابق او یا له ځینو نورو ادیانو څخه نقل کړي او پرې متوصل کیږي.

بناء په هر مسلمان باندې فرض ده ددې لپاره چې یو عمل ته د عبادت نوم ورکړي د هغه عبادت اصل په قرآن او سنت کې ولټوي.

ځکه چې د اسلام مقدس دین د حضرت محمدﷺ په زمانه کې تکمیل شوی دی. او د ﴿ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ﴾ آیات نازل شو چې دین تکمیل شوی دی.

او د عبادت قبلیدو معیار هغه ده چې اصل یې په قرآن او سنت کې وي او دا عبادت په داسې ډول سره وشي څرنګه چې رسول اللهﷺ هغه ترسره کړی وي.

## ۴- د علم دتعلیم او د الله د ذکر د مجلسونو فلسفه:

ځینې ګمان کوي چې د علم او پوهې په هغو مجلسونو کې ناسته چې هلته د الله تعالی ذات یادیږی احکام یې بیانیږي، او پدغسې مجلسونو کې په ناسته د انسان ایمان ورځ په ورځ تقویه کیږي، شاید یو نوعه عادي مجلسونه وي، پداسې حال کې چې حقیقت ددې پر عکس دي. ځکه چې مجلسونه یو رنګ ځانګړتیاوې لري چې غوره ده د هغې کیفیت د پیغمبرعلیه السلام له ژبې واورو. حضرت ابوهریرهرضي الله عنه او ابوسعید خدری له پیغمبر څخه روایت کوي چې ویې فرمایل: هر کله چې یوه ډله کوم ځای کې کیني او د اللهجل جلاله په یاد باندې مشغوله شي، ملایک په هغوی باندې را ټولیږي الهی رحمت هغوی پوښي دوی ته سکون او راحت حاصلیږي، او اللهجل جلاله دوی د هغو خلکو ترمنځ یادوي چې دده په دربار کې حضور لري[1].

دعلم او پوهی مجلسونه چې په هغه کې د اللهجل جلاله یاد کیږي او د پروردګار حکم پکې بیانیږی لاندې ګټې لري:

---

۱- «عَنْ الْأَغَرِّ أَبِي مُسْلِمٍ أَنَّهُ قَالَ أَشْهَدُ عَلَى أَبِي هُرَيْرَةَ وَأَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّهُمَا شَهِدَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لَا يَقْعُدُ قَوْمٌ يَذْكُرُونَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا حَفَّتْهُمْ الْمَلَائِكَةُ وَغَشِيَتْهُمْ الرَّحْمَةُ وَنَزَلَتْ عَلَيْهِمْ السَّكِينَةُ وَذَكَرَهُمْ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَه» مسلم شریف / کتاب الذکر والدعا والتوبة والاستعفار حدیث نمبر (٤٨٦٨)

**الف: ملایک د هغوی ترځنګ را ټولیږي**

دغه مجلس په یو روحانی مجلس باندې بدلیږي، علاوه پدې دغه فرشتې د قیامت په ورځ شاهدي ورکوي چې دغه الهی بندګان چې مونږ د انسان په لومړي پیدایښت کې فکر کو په ګناه مشغولیږي، زمونږ د تفکیر بر عکس د اللهﷻ په عبادت باندې مشغول دي، او دا د انسان لپاره سعادت دی چې ملایک دده په ښه والی باندې شاهد شي.

**ب: پدغسي مجلس کې الهی رحمت ددې مجلس ټول اشتراک کوونکی پوښي**

الهی رحمت چې ثمره یې الهی جنت دی په هغه چا باندې نازلیږي چې اللهﷻ له هغوی څخه راضی وي. د علم او پوهی مجلسونه چې همیش د اللهﷻ په یاد باندې اخته وي د الهی رحمت سبب ګرځي، او ددې مجلس اشتراک کوونکی په نهایت کې د اللهﷻ جنت ته رسیږي.

**ج: پدغسي علمی مجلسونو کې د شرکت کوونکو لپاره یو رنګ قلبی راحت او سکون حاصلیږي**

چې دغه قلبی راحت ډیرو ثروتمندانو او د قدرت خاوندانو ته د ملیونونو په مصرفولو سره هم نه حاصلیږي.

**د: د دغسې مجلسونو لوی شرف د اللهﷻ په نزد ددغو اشخاصو یادیدل دي، او هغه هم د اللهﷻ په ژبه**

اللهﷻ فرمایي: چې تاسې ما یاد کړي ترڅو زه تاسي یاد کړم ﴿فَٱذۡكُرُونِيٓ أَذۡكُرۡكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لِي وَلَا تَكۡفُرُونِ ١٥٢﴾.

هر کله چې یو بنده د ځوانۍ، قدرت، پولدارۍ او غیره حالاتو کې چې ځینی جاهلان پکې په نفس پرستۍ باندې اخته وي اللهﷻ یاد کړي، الله هغه په عالی ملکوتی مقام د خپلو مقربو ملایکو ترمنځ یادوي، او د الله یادونه

مغفرت، رحمت او خوشبختی ده، او له دې سعادته په بل کوم لوی سعادت وي چی الله ﷻ یو انسان په عالی مقامونو کې یاد کړي.

**۵– د الله ﷻ عبادت کې د حساب ورکولو فلسفه:**

د اسلام مقدس دین کې د عبادت یوه مهمه فلسفه داده چي د قیامت په ورځ انسان ته د الله د عبادت له لحظاتو څخه ګټل کیږی. ولې هغه لحظات چې پرته له عبادته تیروو مونږ مجبور یو چې د هغې حسابی الله ﷻ ته ورکړو دا دوه نقطې ډیرې مهمې دي ځکه انسان د قیامت په ورځ د ټولو نعمتونو جواب ورکوي او د خپل عمر د هرې لحظې جوابګوی به وي، ولې خوشبختي د هغو په نصیب کیږي چي هغوی ددی په ځای چي د خپلو اعمالو جواب ورکړي د الله ﷻ د رضایت په اساس عوضونه اخلي او د خپل هر نیک عمل مقابل کې د اخروي نعمتونو خاوندان ګرځي ﴿فَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ خَيۡرٗا يَرَهُۥ ۝٧﴾ «هر څوک چې د یوې زرې په اندازه نیک عمل هم وکړي نو ويني به يي» یعنی عوض به یې د قیامت په ورځ ترلاسه کوي.

**۶– د منفعتو د جلبولو فلسفه:**

هر کله چې د اسلام مقدس دین کې د ټولو عباداتو حقیقت تر مطالعې لاندې ونیسو نو په ښه ډول سره درک کولي شو چې اسلامی عبادت د څه امورو ترسره کولو لکه (فرض، واجب، مستحب، مباح) او د څه امورو ترک لکه (حرام، مکروه، مفسد) ته شاملیږي.

پدې عباداتو کې دبندګانو مصلحت دی، بناء د بندګانو د مصلحت لپاره عبادات لازم او ضروري ګڼل شوی دی، د مثال په ډول په لمانځه روزه حج زکات قربانۍ جهاد دعوت نیک اخلاق اسلامی نظام او غیره امورو کې چې د عبادت جز دي زیاتی ګټې نغښتې دي. چي ددې ټولو ګټه د یو فرد او ټولنې د نظم او د انسان د فکری اموراتو په معنوي او مادی اړخونو باندې ډیر زیات مهم تاثیر لري.

ځکه د اسلام مقدس دين په مادی اړخ کې انسان ته مثبته لارښوونه کوي، چې ددنيا او آخرت سعادت سره را نيسی، او په معنوی اړخ کې د الله له ذات سره قوی او محکمه رابطه قايموي او مستحکموي چې د هغه نتيجه قلبی، روانی او د خيال راحت ګرځي.

ددې امورو په خلاف په نامشروع کارونو کې لکه حرام او مکروه يو سلسله مفاسد او بدي ګاڼي لري چې د اسلام مقدس دين له دغو مفاسدو او بديګانو څخه د انسان دلري والي لپاره محرمات او مکروهات منع کړي دي. او د هرې ورځې په تيريدو سره انسان د هغې عيبونه کشفوي. او د هريو حکمت د علمي وسايلو په پرمختګ سره هره ورځ ثابتيږي. مسلمان پخوا په الهی احکامو د عمل کولو لپاره له زنا څخه ځان ساته ولې دغه مسلمان پوهيږي چې د زنا انتشار په ځينو هيوادونو کې د مختلفو اجتماعي او جسمی مرضونو د بروز سبب ګرځي چې د هريو کشف د الهی احکامو تصديق ته منجر کيږي.

يادونه: واقعی مسلمانان په الهی احکامو مجرد پوهيدلو سره عمل کوي او هر کله چې څه شی منع شوی وي فورا هغه ترک کوي، برابره ده د هغې په علت او يا سبب باندې پوه شي او که پوه نشي. ځکه مسلمان الهی حکم ته نسبت خپل عقل ته ترجيح ورکوي، په ډيرو حالاتو کې انسان د زياتو احکامو حکمت نشي درک کولی، ولې دا چې په الله‌ﷻ ايمان لري پرته له شکه يقين لري چې دغه الهی حکم دده په ګټه ده، بناء د هغه په ادا کولو کې هيڅ وخت شک او ترديد ته ځای نه ورکوي.

## ٧– د شکر فلسفه (شکر د حق شناسی مهمترين مظهر):

مخکی مو ولوستل چې مومن انسان دټولو الهی نعمتونو په مقابل کې شکر ادا کوي، اوس پوښتنه مطرح کيږي چې مونږ څرنګه کولی شو ددغو نعمتونو شکر ادا کړو؟ ددغې پوښتنې ځواب ډير ساده او اسانه ده او هغه دا چې مومن انسان ددغو نعمتونو له پوهيدلو وروسته د خپل بدن هره عضوه په داسې کارونو مصروفوی چې په هغې کې د الله‌ﷻ رضايت وي، او همدغه اندام له

هغه کار څخه چې د الله ﷻ د قهر او غضب سبب کیږي ساتی نو ددغه اندام د نعمت شکر یې ادا کړی دی.

لکه:

**الف: د ژبې د شکر ادا کونې لپاره**

لازمه ده چې خپله ژبه د الله ﷻ په یاد باندې مصروفه کړو، ژبه د حق په ویلو، ربنتیا، د انسانیت خدمت باندې مشغوله کړو، او له داسې کارونو لکه: دروغ، غیبت، خبرلوڅی، کنځل، بی ځایه او بی کاره ټوقې، عیب لټونه، پرزه وینه، نیش وهل اوریشخند او غیره ناجایزو امورو څخه وساتې.

**ب: د فکر د شکر ادا کونی لپاره**

لازمه ده چې خبل فکر داسې امورو کې لکه: ځان پیژندنه دالله په وړاندې د خپلو مسولیتونو پیژندنه او هم د ټولنې او خلکو او وطن او ټول انسانیت په وړاندې مصرف کړو.

**ج: د لاسونو د شکر اداکونې لپاره**

لازمه ده ترڅو خپل لاسونه په داسې مثبتو کارونو کې مشغول کړو چې د الله ﷻ د رضایت سبب ګرځي او په هغې کې د انسانی ټولنی ګټه وي.

**د: د پښو د شکر اداکونی لپاره**

لازمه ده چي خپل قدمونه په داسې مثبتو کارونو کې چې د الله ﷻ رضایت او د ټولنې منفعت پکي وي په کار واچوو.

**ه: دسترګو د شکر ادا کونی لپاره**

لازمه ده ترڅو خپلي سترګی په مثبت ډول استعمال کړو، او له هغه امورو څخه چې د الله ﷻ د غضب سبب ګرځي ځانونه وساتو په همدې ډول مومن انسان د خپل بدن ټول اندامونه په هغه څه مشغولوي چې نتیجه یې د الله ﷻ رضایت وي او پدي روش سره توانیدلی دی چې ددې اندامونه شکر په ځای کړي.

## ۸- د احوالو او اعمالو د مطابقت فلسفه:

هر کله چي يو محصل روزانه خپل درس په سيي ډول سره وايي، په معين وخت او زمان کې صنف ته راځي، نوټونه يې مکمل دي، او په کور کې يي د درس لوستلو او د خپلي کورنۍ وظيفي لپاره منظم تقسيم اوقات ترتيب کړی دی، د امتحان پر وخت پوښتنو ته په منظم او سيي ډول سره له ژورې پوهی ځواب وايي، بناء ددغو اعمالو مطابق ورته د نتيجې دلاسته راوړلو پر وخت ورته ښه حالات راځي. څکه کله چې دده د امتحان پارچه او عملی او نظري کارونه د امتحان د هيت د ارزيابی لاندې راځي ده ته عالي نمرې ورکوي.

په همدې ډول کله چې يو مامور په خپله اداره کې محوله وظايف په منظم ډول سره ترسره کوي او د خپلو کارونو په ادا کولو کې يي هڅه او کوشش کړی وي، کله چې دده د وظايفو راپور لوړو مقامونو ته رسيږي، په مقابل کې ترفيع، تقدير نامه، افتخاری معاشونه او غيره ورته ورکول کيږي.

بناء د خپلو نيکو اعمالو په اساس محصل يا مامور و چي مثبت او خوشالوونکی احوال ورته پيدا کيږي.

بالمقابل کله چي يو محصل صنف ته راتلو کې کسالت کوي او د خپلو درسونو د مراجعی لپاره تقسيم اوقات ونلري او دده نظري او عملی کارونه هم په لابراتوارونو او مقالو کې ضعيف وي، حتما نهايت کې منفی نتيجه ترلاسه کوي، او هغه مامور چي خپل وظايف يي په سيي ډول سره نه وي ادا کړي د فريبکاريو لپاره په رشوت، د دولتی اموالو اختلاس او کاغذ پرانی ګانو باندې لاس پورې کوي. وظيفه پيژندونکی نه وي. کله يي چي آمر له دروازی ووځي دی لکه کړکۍ ووځي او بالاخره د خپلو اعمالو نتيجه لاس ته راوړي، څکه له تفتيش او دده د اعمالو له مراقبت سره بالاخر د قانون منګولو ته غورځيږي او نصيب ذلت، قيد او بند ګرځي.

بناء دده د بدو عملونو په سبب ده باندې هم بد او منفی حالات نازل شو، په همدې ډول کله چي څوک خپل ژوند کې د الهی احکامو مطابق خپل ورځنی امور تقسيم بندي کړي په هر کار کې د پروردګار رضايت او د پيغمبر

له طریقې سره ددغه عمل موافقت ته متوجه کیږي، او هره ورځ دده اعمال الهی دربار ته وړاندې کیږي، ددغو نیکو اعمالو مطابق چې بره تللی دي پده باندې هم مثبت احوال نازلیږي عبادات د الهی رحمت د کسب سبب ګرځی او ګناهنونه د پروردګار دغضب دنزول سبب ګرځي.

اللهﷻ فرمايي: ﴿وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا﴾ «او څوک چي زما له یاده مخ واړوي نو هغه لره ده تنګ ژوند» ﴿وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ ١٢٤﴾ «او راپورته کوو به یي د قیامت په ورځ وړوند» ﴿قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرۡتَنِيٓ أَعۡمَىٰ وَقَدۡ كُنتُ بَصِيرٗا ١٢٥﴾ «وایي به ربه ولې دې زه را پورته کړم وړوند او زه خو بینا وم» بلا فاصله ځواب اوری ﴿قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتۡكَ ءَايَٰتُنَا فَنَسِيتَهَاۖ وَكَذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمَ تُنسَىٰ ١٢٦﴾ «وایي به همدارنګه راغلی وتاته زمونږ ایاتونه نو تاهیر کړل نو همدغه رنګ ته هم نن هیریږی». به پای کې د جمع بندۍ او نتیجه ګیری په ډول د موضوع اړوند اخري ایت کې وایي ﴿وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي مَنۡ أَسۡرَفَ وَلَمۡ يُؤۡمِنۢ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦۚ﴾ «او دغه رنګ جزا ورکوو هغه ته چي اسراف وکړي او د رب په آیاتونو ایمان رانه وړي». ﴿وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَشَدُّ وَأَبۡقَىٰٓ ١٢٧﴾ «او عذاب د آخرت خامخا سخت او دوامدار دی»، د المیزان تفسیر خاوند د ضنکا په هکله د آیات شریف په تفسیر داسې فرمایلي دي: هغه څوک چې زما له ذکر نه اعراض کوي تنګ ژوند به ولري، د همدې لپاره د چې څوک اللهﷻ هیر کړي او هغه سره رابطه قطع کړي نور نو پرته له دنیا بل څه نه پاتې کیږي چي دی هغه باندې زړه وتړي. او هغه خپل یواځني مطلوب وګرځوي په نتیجه کې خپل کوششونه هغه کې منحصر کړي او فقط ددنیوي ژوند په اصلاح کې راونښلي، او ورځ په ورځ هغه ته زیاته توسعه ورکوي او له هغې نه په خوند اخیستلو سره ګرم شي خو دغه ژوند هغه ارام کولی نشي، که کم وي او که زیات، ددې لپاره چې هرڅومره لاس ته راوړی هغې قانع کوونکی حد نلري او په هغه نه راضی کیږي. او همیشه له دې نه زیات باندې سترګې تړي. پرته له دې چې دغه حرص او تنده یي کوم ځای پای ته ورسیږي، نو دغسي شخص د ایما په تنګۍ او فقر کې په سر وړي، او همیشه یي زړه داسې شي سره علاقمند وي چې نه یې لري، صرف نظر له هغه

غم او خفګان اضطراب او ویرې څخه چې د افتونو دنازلیدلو او ناملایماتو له مخکونی او د مرګ او مرض له رارسیدني یې لري. او صرف نظر له هغه اضطرابه چې د حسودانو له شر او ددښنانو له کیده یې لري. نو دې علی الدوام دلاسته نه راغلو هیلو او د هغه څخه چې لاسته راغلي ترمنځ په ویره کې ژوند تیروي، پداسې حالکې که خپل پروردګار مقام یې پیژندلې او هغه یي په یاد واي، او هغه یې هیر کړی نه واي، نو یقین به یي درلود چې د خپل پروردګار په وړاندې داسې ژوند لري چې له مرګ سره تړاو نلري، او داسې پاچا یي لری چې زوال ته قبلوي، او داسې عزت لري چې ذلت ورته نشي رسیدلي، او داسې خوشالي او سرور او رفعت او کرامت لري چې هیڅ مقیاس نشي کولی چې انداې یي تعین کړي، او یایي له سر څخه تر پایه ورسوي، او هم یقین کوي چې دنیا مجازی ځای دی، او ددنیا ژوند او حیات د آخرت په مقابل کې ډیر کم شی دی. که هغه پدې پوه شي نو زړه به یي په هغه څه چې الله ﷻ یي نصیب کړي قانع کیږي، او ژوند یي که هر څه وي ورته پراخیږي نور نو تنګی نه وینی.

لنډه دا چې مومن انسان د یوی ستونزې سره د مخامخ کیدو پر وخت خپلو اعمالو ته متوجه کیږی او فکر کوي چې ما څه بد کار کړی دي، چې دا مصیبت را باندې راغی، ځکه د انسان د اعمالو مطابق چې د اسمانونو په طرف ځی په انسان باندې مختلف احوال نازلیږي.

## ٩– د عباداتو د زوال فلسفه:

مومن انسان دښکلې میوې غوندې ده چې د هغه لذت طعم ذایقه او نکهت ټول په طاعت او عبادت کې متصور دي.

او هر کله چې کوم مومن له کوم عبادت څخه لري شي. د هغه عالی او ښکلی صفتونه هم له منځه ځی. او د ګنده شوې میوې غوندې کیږي.

په هماغه ډول چې میوه یا له داخله او یا له بهر څخه ګنده کیږي په همدې رنګ د انسان اعمال هم یا له داخله او یا هم له وجوده بهره څخه له منځه ځي. او هماغه رنګ چې د میوې ونه په خرابه ځمکه کې نمونه کوي په

نادرسته شرایطو کې بی میوې پاتي کیږي، چي دا مطلب کولی شو په لاندې ټکو کې تشریح کړو.

**الف: د میوې د خارجی برخې ګنده کیدل**

د انسان اعمال چي ظاهری شکل یي د الهی احکامو مطابق نه وي، بلکه اضافه امور وي ې د اسلام شریعت کې د بدعتونو په نوم سره یادیږي د انسان د عبادت د زوال باعث ګرځي، ځکه عبادت هماغه کار ده چې د الله ﷻ لخوا پیغمبر ته د وحی به شکل بیان شوی وي او مومنان د هغه په ادا کولو سره مکلف شوی دي، او هر کله چې پیغمبر څه شی بیان کړی نه وي او هغه عمل د عبادت او ثواب په نوم سره ترسره شی بدعت ګڼل کیږی د هغه فایده له منځه وړي همدارنګه د انسان اعمال که څه هم د پیغمبر په سنتو او طریقو باندې وي ولې په هغه کې ریا وشي هم بده نتیجه لري علاوه پدې د انسان عبادت د بی توجهی بی تفاوتۍ په پای کې بی فایدې وي، مثلا د هغه عمل شرایط د اداکولو پر وخت نه ترسره کول.

**ب: د میوې دداخلی برخی ګنده کیدل**

ځینې وخت د میوي ظاهری شکل کاملا ښایسته وي چې انسان په ډیر ارام خیال سره هغه پلوري ولې کله چې میوه پوسته کړو وینو چي داخل یي ګنده ده، او د خوړلو قابل نده، د انسان اعمال هم هغه وخت له داخل څخه فاسد او ګنده کیږي چې یو شی د (عجب) په نوم سره، له خپل ځانه خوښیدل د انسان زړه کې پیدا شي ځکه شیطان وسوسه کوي چې ته د نیکو اعمالو په ترسره کولو سره نسبت نورو ته برتریت لرې، او هر کله چي څوک د شیطان په وینا عمل وکړي اود اسلام د څو عملونو ترسره کولو سره ورته عجیب پیدا شي نو خپل اعمال یي له داخله خراب کړي دي.

بناء په هر با اخلاصه مسلمان باندې لازم دي چې د خپلو عبادتونو د ترسره کولو په وخت کې له ریا او عجب (له خپل ځانه خوښیدو) څخه اجتناب وکړي.

بله نقطه داده چي د انسان ډیر اعمال هغه وخت له منځه ځي چې مونږ د هغو په ادا کولو کې الهی احکام مراعات نکړو، مثلا د صدقاتو او زکات ثواب په مسکینانو باندې له منت ګذارۍ سره له منځه ځي، د لمونځ اجر او ثواب په لمانځه کې د خشوع، تواضع، فکر او انګیرنی په عدم موجودیت سره له منځه ځي، له یو مسلمان سره اضافه له درې ورځو خفه کیدل ددې سبب کیږي چې زمونږ نیک اعمال‌ﷻ د قبول وړ ونه ګرځي.

## ۱۰– د عبادت د اتقان فلسفه:

اتقان په عربی ژبه کې د یو کار په ترسره کولو کې مهارت ته وایي هر کله چې څوک غواړي خپل عبادت داسې ادا کړي چې د الله دربار کې د قبول وړ وګرځي لازمه ده چې د حضرت محمدﷺ دا حدیث په یاد ولري چې فرمایلي يې دي «ان الله يحب اذا عمل احدکم عملا ان يتقنه» بی‌شکه الله خوښوي چې کله یو ستاسو څخه څه کار کوي چې په ښه ډول له اقتان سره وکړي، له اتقان څخه منظور د هغه عبادت د حقیقت شرایطو او احکامو پیژندنه او له همدغو شرایطو سره د هغه ادا کونه ده، ډیر خلک نیک اعمال په داسې ډول سره ادا کوي چې د الله نه خوښیږي، مثلا لمونځ په ډیره عجله او سرعت سره کوي، په حج کې ضعیفان پښو لاندې کوي، د خپلو مالونو زکات له خرابو مالونو څخه ورکوي، په دیر خشونت او بد اخلاقۍ سره فقیرانو ته زکات ورکوي.

## ۱۱– دنیا د اخرت کښت دی ددې فلسفه:

هر کله چې وایو پوهنتون زمونږ ددنیوی ژوند لپاره کښت دی، تهول هغه په ښه ډول سره منی ځکه هغه ځوان چې څلور پنځه کاله او هم خپل زیات عمر په پوهنتون کې تیروی په حقیقت کې د خپل پوهنتون د درس هره ورځ د فراغت پر وخت د سعادت د ترلاسه کولو لپاره مصرفوي، تاسې ښه متوجه اوسی چې دغه ځوان د خپل اینده هدف لرلو سره شپې سبا کوي او په درس

لوستلو مصروف دی، همیشه په معین وخت صنف ته د ټولو هغو ستونزو د مقابلې سره حاضرېږی چې د تحصیل په جریان کې ورسره مخ کیږي، دغه ځوان پۀ بای کې خپل هدف ته رسیږي او سعادت یې ترلاسه کوي، د یو مومن انسان لباره ددنیا ژوند د یو پوهنتون غوندې ده. هه زحمت باسي اود ژوند د ټولو ګډوډیو په مقابل کې هڅه او کوشش کوي او په پای کې کله چې د اللهﷻ مقابل د امتحان لپاره حاضرېږي ښه نتیجه ترلاسه کوي هیره نکړی هغه ځوان چی پوهنتون کې سیی درس وایي دنیا یي ترک کړې نده، بلکې خوري، څښي، او ښه لباس اغوندي ولې د خپل وخت له هرې لحظې څخه مثبته استفاده کوي، همدارنګه مومن انسان ددنیا په ژوند کې دنیا نه ترک کوي بلکې له الهی نعمتونو څخه په استفادې سره د هغی شکر پر ځای کوي، او ددنیا ژوند د خپل آخرت لپاره کښت ګڼي، بر عکس هغه ځوان چي تعلیم او تحصیل ته نه حاضرېږي، او خپل څو ورځنی ژوند په خوښۍ سره تیروی په حقیقت کې یي خپل ځان ته فریب ورکړي ځکه له څه وخت تیریدلو وروسته هغه په خپل ژوند کې له زیاتو ستونزو سره مخ کیږي ځکه څه کښت یي ندی کړي چي هغه لوکړي او حاصل یي واخلي.

په همدی ډول هغه انسان چې دنیا کې په ګناهونو او بدبختیو مبتلا وي او آخرت ته یي څه کښت نه وي کړی د آخرت په ورځ به په ډیرو دردونو او رنجونو مبتلا شي.

## ۱۲– د کاملې عبادت پیژندنې فلسفه:

د ځینو خلکو ستونزه داده چې اسلامی عبادات په څو نقطو کې خلاصه کوي او فکر کوي چې تنها لمونځ کول، یا تنها روژه نیول او یا هم حج ته تلل، ټول عبادات دي او د دوی مسولیت رفع کیږي، داسې حال کې چې خبره داسي نده.

په قرآن كريم كې لولو چې الله ﷻ مسلمانانو ته داسې خطاب كوي ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱدۡخُلُواْ فِي ٱلسِّلۡمِ كَآفَّةٗ وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ٢٠٨﴾ «اى مومنانو داخل شى په اسلام كې ټول او پيروى مه كوى د شيطان د قدمونو بې‌شكه هغه ستاسې ښكاره دښمن دى».

هر كله چې په غور سره دغه آيات ته نظر وكړو وينو چې دغه الهى خطاب مسلمانانو ته متوجه ده، نو لازمه ده له ځانه وپوښتو: دغه الهى خطاب كې څه حكمت دى؟ د كامل اسلام د لازياتې توضيح لپاره حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چې پيغمبر وفرمايل: ايمان څو اويا برخې يا شعبى لري چې د ايمان غوره شعبه د (لااله الا الله) ويل دي او ښكته مرتبه يې د خلكو له لارې څخه د يو ضرر ناک شي لرى كول دي او حيا دايمان يوه برخه ده[١].

دغه حديث شريف د كامل دين غوره شرحه ده، ځكه هر انسان د قيامت په ورځ يوه شهادتنامه ترلاسه كوي او له دينوى كړو څخه ګټه اخلي او كه د آخرت د شهادتنامو توزيع د پوهنتون د شهادتنامو له توزيع سره مقايسه كړو نو په ښه دول سره پوهيږو چى يو مصحل بايد د څلور درسى كلونو په طول كې بايد شپيته الى اويا مضمونو نه چې په اتو يا لس سمسترونو كې تنظيم شوي په ښه توګه امتحان وركړي او د هر مضمون نمرې هم بايد له پنځوسو څخه كمې نه وي، او كه دغه محصل په ټولو مضمونونو كې نمرې واخلې ولې په يو يا دوه مضمونو كې صفر واخلى دكاميابۍ د شهادتنامې مستحق كيږى نه، او لازمه ده د كال په تكرار سره او يا هم په نورو چانسونو كې كوشش وكړي چې حد اقل د كاميابۍ نمره پنځوس درجې ترلاسه كړي، په همدې ډول يو مسلمان بايد چې د ايمان څو اويا شعبى كاملا درک كړي او د هرې برخې حق چې څرنګه لازمه ادا كړي، او كه دغه مسلمان د اسلام په يوه يا څو برخو اكتفا وكړي او د اسلام نور ټول احكام هير كړي اود اسلام په ډيرو احكامو

---

١- «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ أَوْ بِضْعٌ وَسِتُّونَ شُعْبَةً فَأَفْضَلُهَا قَوْلُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الْأَذَى عَنْ الطَّرِيقِ وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنْ الْإِيمَانِ» صحيح مسلم، كتاب الإيمان حديث نمبر٥١

کې له نیک اخلاق، د مشرانو احترام، د بی وزلو لاس نیوي، په ماشومانو باندې شفقت، ستر عورت، د حجاب اغوستل، له بیهوده خبرو څخه د ژبی ساتل، اود اسلام نور احکام او امور د صفر مستحق کیږي، د آخرت په ورځ په هغه لوی امتحان کې چې د الله تعالی په وړاندیې ترمخ لري هلته به ناکام وي، او متاسفانه چې بل چانس به هم نلری.

ځکه ټول کافران د ملک الموت د روح ویستلو عذاب، د قبر عذاب، د قیامت د ورځې مشکلات، جنت او دوزخ په لیدلو سره یو الله ته تسلمیږي، او غواړي دنیا ته وګرځي او مسلمان شي، لکه څرنګه چې فرعون د ربوبیت دعوه کوله او خپل ځان یې لوی خدای ګڼه او ویلي یې ﴿أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلۡأَعۡلَىٰ ﴿٢٤﴾﴾ «زه ستاسې لوی رب یم»، خو په مجرد د حضرت عزرایل په لیدلو باندې یې د غرقیدو پر وخت چیغې کړي «آمنت برب موسی وهارون» د موسی او هارون په رب مې ایمان راوړی دی، ولې ځواب کې یې وویل شو ﴿ءَآلۡـَٔـٰنَ وَقَدۡ عَصَيۡتَ﴾ «اوس او پخوا دې انکار کو»، ددین په اړه همدغه ناقص فهم سبب شو چې مسلمانان ددې په ځای چې د نړۍ فکری رهبران اود تکنالوژی وسایلو لومړني مخترعین شی د بشري ژوند اخري خط کې پاتې دي او کله خو ان د نورو اوږو بار ګرځیدلی دي.

او د نورو دلاس له ګټو څخه استفاده کوي او یا هم غواړي د هیواد اقتصاد د نورو کمک او خیرات له لارې تقویه کړي.

الهی کتاب چې د نړۍ ملیونونه تجزی پوهان یې سیرابه کړي دي او زرګونه ستونزې یې په اسانۍ سره حال کړي دي، ولې د هغه پیروان سره له دې چې په حقانیت باندې یې اعتراف لري، دغه قیمتی کتاب یې په څو ټوټو کی پوښلی او د خپلو کورونو په تاقچو کی یې داسې هیر کړی ایښی دی چې کله د ضرورت لپاره پکار شي څو د قیقې یې ګردونه او خاور یې پاکی کړي او هغه تلاوت کړي.

یو پوهیالی وایي: هر کله چې ستاسې یو دوست تاسې ته یو لیک په بله ژبه لکه فرانسوي، المانی، عربی، روسي او غیره باندې راولیږي چې تاسې په هغې

نه پوهیږي، ستاسې دریځ په ددې لیک په وړاندې لیک په وړاندې څه رنګه وي؟ ایا دغه لیک په یو پوښ کې تاووی او د کور په الماریۍ کې یي ساتی او یا هم دغه لیک پرته د معنی له پوهیدلو لولی او بیا یي یو حای کې ږدی، او یا هم دا چې یو قدم زحمت باسی او دیو ژب پوه خوا ته ورځی او د هغه لیک په مفهوم باندې ځان پوهوي، او بیا د خپل دوست په غوښتنو ځای ښه خبروی او بیا ورته د عمل جامې اغوندی؟ په ځواب کې وایو: حتما لیک هغه ژب پوه ته وړو او په مطالبو یي ځان پوهوو ځکه امکان لري زمونږ هغه دوست څه تقاضا ولري، چې باید عملي شي، او که لیک یي په ښایسته ټوټو و پوښو اود کور الماریۍ کی یې وساتو زمونږ هغه دوست به له دغې کار څه ارضی نشی ځکه دلیک ساتل اساسی شرط نه و، بلکې د هغه د محتوا پوهیدل اهمیت درلود.

او د هغه د مفاهیمو په پوهیدلو په هغه باندې عمل کول او هغه ته ځواب ورکول شرط دی.

په همدې شکل مونږ ټول مسلمانان چې الله ﷻ خپل دوست ګڼو او پدې خبره معتقدین یو له خپل ځانه باید وپوښتو چې ددغه الهی لیک قران عظیم الشان مقابل کې څه مسولیت لرو.

ولې مو دا په سلګونو پوښونو کې ساتلی دي، صحابه کرامو قران کریم لوسته په هغه یي عمل کو، حضرت عمر بن خطاب به خلکو ته ویل: «کنا رعاة الغنم فأصبحنا بالقرآن قادة العالم» مونږ رمه څروونکی وو خو په قران کریم سره د نړۍ مشران شو، بیا به یي ویل: «کنا اذلاء قوم فاعزنا الله بالاسلام ولو طلبنا العزة بغیر الاسلام اذلنا الله» مونږ یو ذلیل قوم و خو الله تعالی په اسلام سره عزت را کړ او که مونږ پرته له اسلامه عزت وغواړو الله به مو ذلیل کړی حضرت عمر پوهیده چې په قران کریم باندې عمل اود اسلام مقدس دین ته احترام کول، پداسې ډول چې الله تعالی امر کړی دی د انسان ددنیا او آخرت د کامیابۍ سبب ګرځي، ولې پوښتنه داده چې مونږ ولې ددې په عکس یو؟ په ځواب کې سعدی صیب وایي:

باران که درلطافت طبعش خلاف نیست　　　در دشت لاله روید ودرشوره زار خس

بناء لازمه ده چې لومړی په دغه الهی ليک باندې ځان ښه پوه کړو، او بيا هم په پوره ډول هغه باندې عمل وکړو ترڅو زمونږ ددې بزرګوار دوست رضايت حاصل شي، او مونږ هم ددنيا او هم د آخرت سعادت حاصل کړو.

ددې اصولو له مخی کامل مسلمان هغه ده چې د الهی ارشاداتو مطابق چې قرآن کريم اود اسلام پيغمبر په سنتو کې بيان شوی دي، ددغو مسايلو په مراعات سره ديو الله تعالى عبادت په کامل ډول سره ادا کړي.

## ۱۳– د اسلام مقدس دين او نورو ټولو دينونو کې د عباداتو د اختلاف فلسفه:

عبادت په هر دين کې د خلکو د عقيدې له مطابقت سره فرق کوي، هندوان خپل عبادت په درمسال (مندر) کې کوي، ځکه دهغوی معبود په هماغه درمسال کې وي، او مسيحيان د عبادت مخصوص ځای ته کليسا وايي ځکه د دوی په عقيده د عيسى مسيح مجسمه په کليسا کې وي، او بايد دغی مجسمي ته د سجدې کولو لپاره کليسا ته ولاړ شو ترڅو هلته عبادت وکړو، او غالبا هغوی ددين او دولت جدايي د همدې عقيدې په اساس مني، ځکه د دوی په نظر د عبادت مسايل چې کليسا کې ترسره کيږي معبود پورې خاص دي، اما ټول دنيوی کارونه، دين سره کومه رابطه نلري بناء د انسان عقل د هغې ترتيب او تنظيم نيسي ولی عبادت د اسلام مقدس دين کې نسبت نورو اديانو ته پوره تفاوت لري.

۱– مسلمانان عقيده لري، چې الله تعالى په ټولو حالاتو کې د انسان مراقبت کوي، او مومن انسان هر حالت کې چې وي الله تعالى د خپلو اعمالو شاهد ګڼی، ﴿إِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ﴾ «کله چې زما بندګان تا نه زما پوښتنه وکړی نو زه نزدې يم» په بل ايت شريف کې وايي: (چې الله تعالى د انسان له شاه رګ څخه هم هغه ته نزدې دی ﴿أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ ٱلْوَرِيدِ ۝١٦﴾.

۲- د مسلمانانو د عبادت ځای کوم خاص ځاې کې خلاصه شوی ندي، بلکه پیغمبر ﷺ فرمایي چې ټوله ځمکه ماته مسجد دي، اود حضرت محمد امت کولی شي په هر ځای کې لمونځ وکړي.

۳- عبادت په اسلام کې صرف په ځینو عباداتو کې خلاصه شوي ندي، بلکه عبادت د اسلام مقدس دین کې په مختلفو برخو کې تقسیم شوی دی، چې عبارت دی له: فکري، عقیدتی، اجتماعی، فردی، اقتصادی، سیاسی او غیره عبادتونو څخه.

٤- د عبادت وخت: اګر چې د مختلفو عباداتو لپاره مختلف وختونه تعین شوی دي مثلا لمونځ په مختلفو وختو کې وي، او حج د ذی الحجی په میاشت کې ترسره کیږي، روزه هم د رمضان مبارکه میشات کې فرض ده، ولې په کلی ډول سره عبادت په کوم دقیق وخت کې نه خلاصه کیږي، چې وویل شي پلانی ساعت د عبادت لپاره دی او پلانی ساعت له عبادت نه غیر د څه لپاره، بلکې عبادت د اسلام مقدس دین کې ۲۴ ساعته وي.

۵- مومن انسان ته په ژوند کې صرف دوه حالته وجود لري، د پروردګار د اطاعت او عبادت حالت اویا هم د معصیت او ګناه حالت د مومن په ژوند کې دریم حالت وجود نلري، دغه شخص یا خپل ټول افعال او حرکات د پیغمبر له اخلاقو او سنتو سره عیار وي چې دده په نیکو اعمالو کې محاسبه کیږي، او یا هم خپل اعمال د پیغمبر د طریقې خلاف ترسره کوي چې ورته ګناه او معصیت نوشته کیږي.

## ۱۴- دعباداتو د حکمت فلسفه:

دې بحث کې لازمه ده چې د الهی احکامو او عباداتو په دلیل باندې پوه شو، دغه دلایل په مختلفو انواعو تقسمیږي:

### الف: د فطری امورو دلیل

ځینی فطري امورو وجود لري چې اصلاً دلیل ته ضرورت نلري، ځکه انسانان فطرتا هغه ته تسلیم دي. مثلا انسان خوراک، څښاک او ازدواج کوي، کور جوړوي، لباس غوندی دا ټول فطري امور دي، چې اصلاً هیڅکله یي ثوک ددلیل پوښتنه نه کوي، او هر کله چې لږ فکر وکړو دلیل یي ښه درک کولی شو، ولې دومره یي بیا څوک ددلیل په هکله ځان نه مصروفوي.

**ب: د یقین په اساس د څه امورو دلیل**

ځینې امور وجود لری چې انسان پرته له دلیل غوښتلو هغه ته تسلمیږي، مثلا هر کله چې داکتر کوم انسان ته امر وکړي چې د یو مرض د علاج لپاره دغه شربت روزانه درې ځلې استعمال کړه پدی اساس چې مونږ دډاکتر دعلمیت په حقانیت یقین لرو دلیل یي نه پوښتو، په همدې رنګ هغه خلک چې اللهﷻ د خپلو ټولو ستونزو طبیب ګڼي نو ټول الهی احکام دخپل یقین او باور په اساس منی او د همدغی عقیدی او کامل یقین په اساس د الهی احکامو عملی کولو ته همیشه مبادرت کوي. ټول دوستان او د بشریت وګړي هغه ته رابلي.

ځکه دده په عقیده دبشریت دنجات یواځنۍ لاره د الهی احکامو په تطبیق کې نغښتې ده.

**ج: د عقل سره موافقو امورو دلیل**

ځینې امور وجود لري چې اصلا د عقل مخالف ندي، ولې مونږ هغه ته کوم دلیل نلرو، ولې دا چې زمونږ له عقل سره څه مخالفت نلري، بناء مونږ د هغه د معقولیت په اساس د هغه ددلیل له پوښتلو څخه صرف نظر کووو، ځکه پوهیږو چې کیدای شي دغه کار څه دلیل ولري چې مونږ پرې نه پوهیږو، اوشاید هغه خلک چې علم یي پر مختلل دي د هغه دلایل په ښه ډول سره درک کړي، مثلا کله چې کوم ډاکټر یو مریض ته د دوا توصیه کوي نوکله چې ټول مریضان د علت پوهیدو په هدف دوا ونخوري شاید ملیونونه مریضان هلاک شي، ولې د معقولیت په اساس د طب په نظام کې ډیر دواګانې ددلیل د

نلرلو سره خورو، ځکه د داکتر نسخه که څه هم مونږ ته پرته له دلیله بیان شوې ده، خو داکتر یي خپله په دلیل باندې پوهیږي.

اوس باید د عباداتو په موضوع کې هم پوه چې دغه درې نقطې مراعات شوي دي

## ۱۵– د دری ګونو اړیکو فلسفه:

مومن انسان په خپلو ټولو عباداتو کې هڅه او کوشش کوي ترڅو درې ډوله ارتباط مستحکم کړي:

### الف: له خالق سره د انسان ارتباط

د اسلام مقدس دین کې یو مومن لومړی خپل ارتباط له خپل خالق سره مستحکموي، او د غه ارتباط د الله ﷻ په وجود په حقیقي ایمان، د الله په وحدانیت ایمان، الله ته د عبادت خاص کول، له شرک څخه لرې والی، د نیت تصحیح، د اسلام کامل نظام باندې باور لرل، او بیا د الله طاعت او عبادت او د اوامرو په تطبیق او د نواهیو څخه په لری والی سره ترسره.

### ب: له خپل ځان سره د انسان ارتباط

مومن انسان د خپل ځان احترام هم کوي، بناء خپل ځانته د احترام په خاطر خپل شخصیت ساتی، او له هغو کارو څخه مخنیوی کوي چې دده شخصیت تر پوښتنې لاندې راولي.

### ج: له ټولنې سره دانسان ارتباط

مومن انسان د بشري ټولنې له افرادو سره قوی ارتباط لري او اسلامی اخلاق په ټولو ساحو کې تطبیقوي.

## ۱۶– بنده ته د عبادت د منفعت فلسفه:

الله ﷻ د چا عبادت ته احتیاج نلري او هر کله چې څوک سره د ټولو الهی لارښوونو او نبوی ارشاداتو بیا هم خپل ځان بی لارې کړي او له شیطان سره هم غږی شي د شیطان دغه دوستی به دې په جهنم کې له شیطان سره یو ځای

کړي.

هر کله چې مونږ انسانان د خپل وجود حقيقت ته توجه وکړو په ښه ډول پوهيږو، چې مونږ لمر ته ضرورت او لمر مونږ ته هيڅ ضرورت نلرى، هرکله چې څوک لمر ته مخ کړى او يا هم شا ورته واړوى نو ددغه کار ګټه او تاوان يې خپل ځان ته ورګرځي او د لمر په رڼا، روښتايي، حجم او نرو صفاتو کې هيڅ تاثير نشي کولى.

په همدې رنګه الله ﷻ هم د چا عبادت ته ضرورت نلرى، د عمل ښه او بد خپله انسان ته ورګرځي، ﴿مَّنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ أَسَآءَ فَعَلَيْهَا ۗ﴾ «چا ښه وکړه نو خپل ځان ته يې دي، او که چا بد وکړوه نو په هغه دي».

هر کله چې يو استاذ خپلو شاګرداتو ته د درس توصيه وکړي د شاګرد دغه رحمتکش د استاذ په ګټه نه بلکې د هغي نتيجه خپل شاګرد تر لاسه کوي.

هر کله چې څوک پخپله حويلۍ کې د ګلانو يوه باغچه جوړوي، هميشه ددغو ګلانو ښه بوى دده پزې ته ورځي، د سهار په وخت خپله حويلۍ کې کشت او ګذار کوي اود ګلانو ترمنځ کولى شي مطالعه وکړي، کيني، او برعکس هر کله چې د خپلي حويلۍ منځ کې بيت الخلاء جوړ کړي او دکثافت لاره يې هم د ناستي کوټو خوا ته کړ نو ددغه بدعمل بدبوى به هميشه خپله مدته سرايت کوي همدارنګه د انسان هر نيک او بد عمل بالاخره خپله همدغه انسان ته رسيږي هغه دهقان چې غنم کري، د حاصل د اخيستلو پر وخت غنم لو کوي، او مقابل کې چې څوک اوربشې کري، و حاصل به يې هماغه اوربشې وي.

از مکافات عمل غافل مشو  گندم از گندم بروى جو ز جو

يو شاعر په پښتو ژبه وايي:

ګلان وکره چي سيمه دې ګلزار شي  اغزيمه‌کړه‌چې پښوکې به‌دې‌خارشي

## ۱۷- د عبادت ترک د انسان د تسخيرولو لپاره د شيطان وسيله ده، ددې فلسفه:

کله چې الله ﷻ آدم ؑ پيدا کړ شيطان د انسان د پيدايښت له پيله خپله دښمنی له حضرت آدم ؑ سره پيل کړه، ځکه الله آدم ؑ او د هغه اولادې ته د عزت او کرامت وربښلو لپاره هغه ته علم ورزده کړ او ملايکو ته يې د هغه د احترام په خاطر د احترام د سجدې امر وکړ، شيطان چې له ملايکو څخه نه، بلکې اصلاً له جنياتو څخه و او ملايکو کې داخل شوی و او ادعايې کوله چې دی به هم د هغوی غوندې مطيع او فرمانبردار وي، الله ﷻ نورو ته د حقيقت د روښانه کولو لپاره ټول امتحان کړل شيطان له هغه تکبر سره چې لره يې له هماغی اولې ورځې خپل مخالفت د انسان پر ضد پيل کړ، دده دغه تکبر سبب شو چې نافرمانی وکړي او د ملعونانو په جمله کې راشي. الله ﷻ د شيطان ددې متکبرانه موقف قصه داسې بيانوي. ﴿فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِى فَقَعُوا۟ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ﴿٧٢﴾﴾ «کله مې چې برابر کړ او په هغه کې مې خپل ورح پوه کړ نو ولويږي هغه ته په سجده باندې»، نو دغه وخت ملايکو پرته له استثنا څخه سجده وکړه ﴿فَسَجَدَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ ﴿٧٣﴾﴾ «نو سجده وکړه ملايکو ټولو په شريکه».

اما تنها هغه چا چې سجده ونکړه ابلس و تکبر يې وکړ او تمرد يې او سرکشي يې وکړه او په همدې دليل يې له خپل لوړ مقام څخه سقوط وکړ، او د کافرانو په صفت کې و ﴿إِلَّآ إِبْلِيسَ أَبَىٰ وَٱسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٣٤﴾﴾ «مګر ابليس تکبر وکړ او له کافرانو څخه و». الله ﷻ ورته وويل: ﴿يَٰٓإِبْلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَىَّ﴾ «اى ابليس څه شي منع کړې چې سجده وکړې هغه څه ته چې ما پخپلو لاسو پيدا کړی دی» بيا الله د شيطان دداخلي او حقيقی يليتی د واضح کولو لپاره او پخپله ژبه د ابليس د اعتراف لپاره له هغه نه وپوښتل ﴿أَسْتَكْبَرْتَ أَمْ كُنتَ مِنَ ٱلْعَالِينَ ﴿٧٥﴾﴾ «تکبر دې وکړ او که له دې بورته وي چې تاته د سجدې امر وشي». شيطان وويل ﴿قَالَ أَنَا۠ خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِى مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُۥ مِن

طِينٍ ﴿٧٦﴾ «ويې وويل زه له هغه څخه غوره يم زه دې له اور څخه پيدا کړی يم او هغه دې له خټې څخه پيدا کړی دی» نو اللهﷻ ورته وويل: ﴿وَإِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِيٓ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلدِّينِ ﴿٧٨﴾﴾ «او په تا باندې دی زما لعنت د قيامت تر ورځې پورې». شيطان عرض وکړ ﴿قَالَ رَبِّ فَأَنظِرْنِيٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿٧٩﴾﴾ «ای ربه نو ماته مهلت راکړه تر هغې ورځې چې بيا را ژوندي کيږي». الله ورته وويل ﴿فَإِنَّكَ مِنَ ٱلْمُنظَرِينَ ﴿٨٠﴾ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْوَقْتِ ٱلْمَعْلُومِ ﴿٨١﴾﴾ «نو ته له مهلت ورکړی شوو څخه يې د يو معينې زمانی تر ورځې پورې».

شيطان له هماغه وخته انسان سره خپله دښمني اعلان کړه او ويې ويل ﴿قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٨٢﴾﴾ «ستا په عزت قسم چې ټول به بې لارې کوم» ولې شيطان انسانانو ته يو هلاره هم بيان کړه چې د هغې لارې پيروی کولی شي انسان ته د شيطان له شر څخه نجات ورکړي، داد الله رحمت ده چې پخپله د شيطان له ژبې د شيطان له شر څخه د خلاصون وسيله بيانوی.

شيطان وويل ﴿إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿٨٣﴾﴾ «مګر له دوی څخه ستا مخلص بندګان» يعنی زه نشم کولی چې پخپلو ټولو شيطانی وسوسو او دسيسو د الله مخلص بندګان چې خپل اعمال خاص د الله د رضا لپاره ترسره کوي ګمراه کړم.

اللهﷻ د شيطان ددې دښمنۍ د اعلان مقابل کې خپل حکم داسې بيان کړ ﴿قَالَ فَٱلْحَقُّ وَٱلْحَقَّ أَقُولُ ﴿٨٤﴾﴾ «قسم په حق او حق وايم» ﴿لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكَ وَمِمَّن تَبِعَكَ مِنْهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٨٥﴾﴾ «خامخا به جهنم ډکوم له تا او له ټولو هغو خلکو چې ستا پيروي کوی له دوی څخه».

بناء اللهﷻ شيطان پوه کړ چې زه هم په مقابل سره له دې چې د خير او سعادت لاره مې بيان کړې، او په دنيا کې مې ورته ټول نعمتونه او د بدن ټول اعضا پيدا کړی دي پيغمبران مې راليږل، اسمانی کتابونه په ترتيب سره نازلوم ترڅو هغوی د طاعت او عبادت لپاره زيات امکانات پيدا کړي، نو که هر څوک سره له دې ټولو دلايلو او مادي او معنوي امکاناتو بيا هم د شيطان

پيروي وکړي هغه له شيطان سره يو ځای کوم او د دوزخ په اور کې يې اچوم، هر کله چې دغو قرانی اياتونو کې په دقت سره فکر وکړو نو لاندې درسونه پکې نغښتي وي:

۱- د متکبرانو نتيجه او اخر دکار بدبختی او لعنت دی، انسان وي که جن.

۲- شرف له اور يا خاورو څخه پيدايښت کې نده، قوم، ژبه، قريه، چوکۍ، قدرت او صلاحيت لرل چا ته برتری نه ورکوي، او هغه چې خپل ځانته په نورو باندې برتری ورکوي لکه شيطان غوندې دي، چې ويې ويل ﴿أَنَاْ خَيْرٌ مِّنْهُ﴾ «زه له هغه نه غوره يم».

۳- د شيطان دښمنی د انسان د عمر د اخری لحظاتو پوري دوام لري، بايد د انسانی او جنی شيطانانو مقابل کې خپل ځان په نيکو اعمالو سره وقايه کړو.

٤- شيطان د انسان د دښمنۍ لپاره ملاتړلې ده او د جنګ اعلان يې ورسره کړی ده ولې د شيطان دغه جنګ، فکري جنګ او له فريبکاريو سره ده وسوسه کوي، فريب ورکوي، خونهايي هدف يې د انسان ګمراهی ده.

٥- شيطان د انسان د ګمراهۍ لپاره له مختلفو وسايلو څخه استفاده کوي، د انسان وجود کې چې هره خلا پيدا شوه، فورا شيطان له هغی خلا څخه استفاده کوي څوک مغرور کوي، څوک قوم پرست، چا ته په لمانځه کولو او د الله طاعت کې مانع ګرځي، څوک دالکولو، مخدرات او سګرت او نصوار استعمال ته سوق کوي څوک بی حيايي او بی حجابی ته سوق کوي، څوک د حرامو په خوړلو او د مال په لاس ته راوړلو کې په بی پروا يي سره ګمراه کوي، مال د اران په نامشروعو لارو کې د مال مصرفولو ته رسوي، او څوک په سياليو، ځان جوړونی، او قومی عاداتو څخه په پيروۍ باندې مبتلا کوي. دوی له مستقيمې الهی لارې څخه لرې کوي، پوهان وايي چې د جاهل شيژان جاهل وی او د عالم شيطآن عالم وی هغه ته په عقل او فکر کې دلايل پر ځای کوي ترڅو په دغو منح خالی دلايلو سره هغه دحق له لارې منصرف

کړي ولې یواځې هغه څوک چې د شیطان له شر څخه نجات پیدا کولی شی هه څوک دی چې په اخلاص سره د الهی احکامو پیروي وکړي او هدف یي تنها د الله جل جلاله رضایت وي او د الهی لارې په پیروی کې دهی]ا له ملامتی څخه ویره او ډار ونلري.

ځینې ګنګار انسانان چې زړونه یي په ګناه سره تور شوي وي د شیطان د نمایندګانو په ډول کار کوي دغه رنګ انسانی شیطانان کوشش کوي چې په مسخرو، او نیش وهلو سره مومنان له طاعت او عبادت څخه لرې کړي او کله هم د دوست په لباس کې د نورو په ګمراهی کې قدم اخلي، ولې مخلص مسلمان چې خپل دوستان یي د الله جل جلاله د محبت په اساس تعین کړي دي د انس او جنی شیطانانو له شر څخه نجات مومي. ای پروردګاره اخالص موږ نصیب کړه او موږ ته د نیکو اعمالو توفیق را کړه.

## ۱۸ – د اخلاص فلسفه:

په عمل کې اخلاص د شیطان له شر څخه د نجات یواځنی وسیله ده، ځکه هغه خلک چې خپل اعمال مخلصانه د پروردګار متعال درضا په خاطر ترسره کوی، په حقیقت کې یي د خپل ځان لپاره دشیطان له لاس وروړلو څخه یو تیاره قوی وقایه لیدلې ده، برعکس هغه خلک چې په ریا کاریو باندې خپل اعمال داغداره کوي خپل ځان باندې د شیطان د تسلط لاره هموار وي. دنمونی تفسیر خاوند لیکی: اخلاص هغه ده چې د انسان محرک له هر رنګه الهی شایبې څخه پاک وي، او کولی شو نوم یي د نیت توحید کیږدو یعنی په ټولو برنامو کې تنها پروردګار او د هغه د رضا انګیرنه.

د پاملرنی وړ خبره داده چې د پورته آیات په شان نزول کې له پیغمبر علیه السلام څخه داسې نقل دي چې یو څوک یي حضور ته راغی او عرض یي وکړ: ای رسول الله زه د الله په لاره کې مصرف کوم، او صله رحمی کوم او دغه کارونه فقط د الله جل جلاله لپاره ترسره کوم خو کله چې خلک زما له دغو عملونو څخه خبرې کوی او ستاینه کوي زه خوښ او خوشالیږم زما دغه عملونه څرنګه دي؟ پیغمبر علیه السلام غلی شو او څه یي ونه ویل، ترڅو چي دا پورته آیات نازل شو او

دې پوښتنې ته يې ځواب ووايه (چې د خدای دربار کې يواځې هغه عمل قبول ده چې له پوره اخلاص سره يو ځای وي) پرته له شکه له دې روايت څخه منظور هغه د غير اختاری خوښۍ حالت نه دي، بلکې هغه حالت دی چې د انسان د عمل لامل وګرځی او يا دنيت له عدم خلوص څخه حکايت وکړي.

علم خالص په اسلام کې تر هغه حده اهميت لری چې در سول اله به يو حديث کی لولو: «من اخلص لله اربعين يوما فجر الله ينابيع الحکمه من قلبه على لسانه» څوک چې څلويښت ورځې د اللهﷻ لپاره اخالص وکړی نو اللهﷻ به يې له زړه څخه په خوله باندې د حکمت چينې روانې کړي.

هر کله چې څوک مخلصانه عبادت وکړي ژبه يې لکه پاک زړه غوندې د الهی احکامو مطابق په حرکت راځي، هيڅکله يې له ژبی داسې خبره نه خارجيږي چې دالهی قهر او غضب سبب وګرځي. او مونږ پوهيږو چې دروغ، غيبت خبر لوځي، بی ځايه ټوقې، مبتذله موسيقی او ټول ناجايز الفاظ د اللهﷻ د غضب سبب ګرځي.

## ۱۹– د دنيا د ترک، رهبانيت او ګوښه کيناستني فلسفه:

د اسلام مقدس دين تنها فرد پورې تړل دين نه بلکی د ټولني او ډلې دين دی. ددين اغلبه احکام په اجتماعی امورو پورې تعلق لري. او له ټولنې سره د انسان ارتباط تحکيموی او تقويه کوي، حدود او ځينې جزاګانې هم د ټولنې د امنيت ساتنی لپاره ايښودل شوي دي.

د توحيد کلمی له ويلو څخه وروسته چې هدف يې د ټولو ملتونو توحيد او يو لاس کول دي، هيڅ مسلمان حق نلري چې صرف خپل ځان ته دعا وکړي، په پنځه ګونو لمنځونو کې د اللهﷻ امر دی چې مونږ صرف خپل ځان ته نه، بلکې ټولو مومنانو ته دعا وکړو او داسې ووايو ﴿إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ۝٥﴾ «خاص ستا عبادت کوو او خاص تا نه مرسته غواړو» ﴿ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ۝٦﴾ «راوښيه مونږ ته نيغه لاره».

په خپلو دعاګانو کې هم یو مومن د الهی امر په اساس ټولو مومنانو ته دعا کوی نه یواځې ځان ته: ﴿رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِى ٱلْـَٔاخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿٢٠١﴾﴾ «ای ربه راکړی مونږ ته په دنیا کې ښه او به آخرت کې ښه او وساتی مونږ د اور له عذاب نه» د جماعت لمونځ له خالق ذات سره د انسان د ارتباط لپاره د خلکو د ځو لویو صفونو په منځ کې وي. او د جماعت د لمانځه فضیلت نسبت نورو لمنځونو ته د پیغمبرﷺ د حدیث په اساس ۲۵ - ۲۷ درجې دي، ځکه په جماعت کې د لمانځه کول مومنان یو د بل له حال ځخه خبروی او هغوی له یو بل سره اشنا کوي او بلدوی.

مومن انسان تنها د ځو کورونو په حد کې همسایه نه پاتې کیږي بلکې د جمعي لمونځ د منطقی په جامع مسجد کې ادا کوي چې دده ارتباط له هغوی سره تامینوي، او د اختر لمونځ د ښار په عمومي عیدګاه کې ادا کوي، ترڅو ټول یو بل سره مینه پیدا کړي او د خوښۍ ورځ سره ولمانځي.

همدارنګه زکات چې د اسلام بل رکن دی د هغه اساس د انسانی ټولنې په اعضاو باندی شفقت تشکیلوی خصوصا په فقیرو او مسکینو خلکو روزه هم دانسا ارتباط له خالق او هم له نورو مخلوقاتو سره مستحکموی، ډلییز روزه ماتی، تراویح، او د تراویح په لمونځ کې په ډلییز ډول سره د قرآن کریم ختم د انسان قوی ارتباط له خپلو ورونو سره نور هم زیاتوي. مومن انسان تنها د خپل هیواد په حدودو کې منحصر نه وي، بلکی له دې هم وړاندې قدم ږدي او د نړۍ له ټولو مومنانو سره د ارتباط او اړیکو نیولو لپاره د بیت الله شریف حج ته ځی. د عرفې په ورح له میلونو سور پوستو، سپین پوستو، تور پوستو، زیړ پوستو، او مختلفو خیرو او ژبو والا مسلمانانو سره د «لبیك اللهم لبیك» تابعدار یو ای الله تاته تابعدار یو — یوه کله په ژبه باندې راوړي.

اسلام جدا د دنیا پریښودلو مخالف دی او پیغمبرﷺ فرمایی «لا رهبانیه فی الاسلام» به اسلام کې ګوښه ناستی نشته ځکه دغسې ګوښه ناستی د اسلام د اساس سره چې د انسانیت ترمنځ ارتباط ورکول دي منافی دی. د درې ځوانانو حدیث چې د پیغمبر کور ته راغلی و هغه مشهور ترینه حدیث دی چې د اسلام

مقدس دین کې دعبادت د اجتماعي فلسفی حقیقت بیانوي، بخاری شریف له حضرت انسؓ څخه رویات کوی دری تنه د نبی کریم کور ته راغلل اود حضرت محمدﷺ د عبادت په هکله یي وپوښتل، کله مي چې ورته پدي هلکه خبر ورکړ لکه دوی چې دا عبادت کم ګڼلی وي، ویې ویل: مونږ له پیغمبر سره فرق لرو ځکه د هغه مخکنیي او وروستنی عبادتونه ببنل شوی دي.

یوه یي وویل: زه به د همیش لپاره ټوله شپه لمونځ کوم.

بل وویل: زه به ټول عمر روژه نیسم او هیڅکله به یي نه ماتوم.

دریم وویل: زه به له ښحو لرې کیږم او هیڅ واده نه کوم.

پیغمبرعليه السلام دوی ته راغی او ورته یي وویل: تاسې هماغه خلک یاست چې داسې خبرې مو کړي دي؟ قسم په اللهﷻ چې زه نسبت تاسې ته له الله څخه زیات ویریږم، او نسبت تاسې ته زیات متقی هم یم، خو زه روزه هم نیسم، او افطار هم کومو لمونځ هم کوم، او ویده کیږمه هم، او نکاح هم کوم، او هر څوک چې زما له سنتو څخه بې رغبت شي نو زما له امت څخه نده[1].

پدې حدیث کې محمد لاندې امورو ته اشاره کوي:

الف: عبادت دا ندې چې انسان خپل ځان په لمانځه کولو او روزه باندې مصروف کړي بلکې عبادت د اسلام مقدس دین کې مختلفو برخو ته شاملیږي.

ب: استراحت، غذا خوړل، او ازدواج په عبادت کې شامل دي. پدې شرط چې د حضرت محمد له طریقې سره مطابق وشي.

---

۱- «حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ أَخْبَرَنَا حُمَيْدُ بْنُ أَبِي حُمَيْدٍ الطَّوِيلُ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ جَاءَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ إِلَى بُيُوتِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُونَ عَنْ عِبَادَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا أُخْبِرُوا كَأَنَّهُمْ تَقَالُّوهَا فَقَالُوا وَأَيْنَ نَحْنُ مِنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ قَالَ أَحَدُهُمْ أَمَّا أَنَا فَإِنِّي أُصَلِّي اللَّيْلَ أَبَدًا وَقَالَ آخَرُ أَنَا أَصُومُ الدَّهْرَ وَلَا أُفْطِرُ وَقَالَ آخَرُ أَنَا أَعْتَزِلُ النِّسَاءَ فَلَا أَتَزَوَّجُ أَبَدًا فَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ فَقَالَ أَنْتُمْ الَّذِينَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا أَمَا وَاللَّهِ إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ لِلَّهِ وَأَتْقَاكُمْ لَهُ لَكِنِّي أَصُومُ وَأُفْطِرُ وَأُصَلِّي وَأَرْقُدُ وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي» (رواه البخاري).

ج: د دنیا ترک، ازدواج نکول، همیشه په عمري ډول سره روزه نیول، ټوله شپه پرته له خوبه په همیشه ډول سره لمونځ کول، د پیغمبرﷺ دسنتو او د اسلام د احکامو مخالف دی، ځکه د اسلام دین کې د وسطیت قانون همیش مراعات شوی دی.

د: هغو خلکو چې ازدواج ترک کړی دي، خپل روابې یې له نورو سره قطع کړي دي. دغه کار ددنیا ترک په نوم سره تر سره کوي او فکر کوي چې عبادت یې کړی دی، په حقیقت کې یې د پیغمبرﷺ د سنتو مخالفت یې کړی، خپل ځانونه یې د پیغمبر له امت څخه خارج کړي دي.

وایي: یو شخص ابوسعید ابو الخیر ته چې یو اسلامي پوهیالی و، وویل: فلانی سړی د اوبو پهب سر ځي.

شیخ وویل: ماهیان او بقې هم د اوبو په سر ځي.

هغه وویل: داسې خلک پیژنم چې په ذکر ویلو سره په هوا ځیږ.

شیخ وویل: الوتونکی او مچان هم په هوا کې الوځي.

هغه وویل: پلانی سړی په یوه لحظه کې له یوه ښار څخه بل ښار ته ځي.

شیخ وویل: شیطان هم په یو نفس له مشرق څخه مغرب ته ځي.

نو دغسې شیان څه قیمت نلري، بنده هغه ده چې د خلکو سره کیني او ولاړ شي، وخوري او وڅښي او پلورل او پیرودل کوي او بازار کې له خلکو سره را کړه ورکړه ولري ازدواج وکړي دنیا ته اولاد راوړي ولې یوه لحظه همد اللهﷻ له یاده غافل نه ویږ.

## ۲۰– له تکنالوژی وسایلو څخه ددعوت او عبادت لپاره استفاده:

د اسلام مقدس دین چې د تمدن او پرمختګ دین دی، او کله چې پیغمبر اکرمﷺ له مکې مکرمې څخه د یثرب ښار ته سفر وکړ، نو خلکو دا ښار د مدینه الرسول په نوم سره ونوموله، ځکه رسول اللهﷺ د مدنیت لومړی تهداب هلته کیښود، او دمدینې د کلې اصلي معنی له تمدن سره ارتباط لري. او

مسلمانانو لږ څنډ وروسته وکولی شو چې اسلامي مدنيت سرترسره نړۍ ته انتقال کړي.

دغه حقيقت نه يوازې دا چې د اسلامی تاريخ په صفحاتو کې مطالعه کوو، بلکی د غرب تاريخ پوهانو چي هم کله غوښتي چې د نړۍ تاريخ پرته له تعصب څخه نړيوالو ته وړاندې کړي نوپه دغه اسلامي تمدن يی اعتراف کړی دي، مشهور فرانسوی مورخ ګوستاف لوبون ليکی: د اسلام دسياسی تمدن اثر واقعا حيرت انګيز دی، د عربستان هيواد د جاهليت پر وخت عبادت و له څو وړو ولايتونو او يو عدد خپلو سرو قبيلو څخه چې هميشه پخپلو کې په کورنيو جنګونو، قتل او غارت ګرۍ باندې مشغول و، ولې د اسلام دپيغمبر د ظهور جريان په يو قرن کې دغه دين د سند له دريا به تر اندلس پوې وسعت پيدا کړ او پدې ټولو مملکتونو کې چې د اسلام بيرغ په اهتزاز و له هر اړخه چې پر مختګو نه پيدا شو، په حقيقت کې حيرانوونکی و، او ددې لوی علت داو چې د اسلام عقايد کاملا له طبيعی اصولو او قواعدو سره موافق دي، او ددې عقايدو ځانګړتيا داده چې عمومي اخلاق اصلاح کړي عدل، احسان او مذهبی تساهل پکي پيدا کړي هغه زياتوی: هغه تمدن چې د اسلام خليفه ګانو تاسيس کړ، را پور يي هماغه د نورو تمدنونو را پور دی چې د زمانې په اختلاف سره دنيا کې پيدا شوی دي، يعنی دا تمدن هم لکه د هغو غوندې وجود ته راغی او کمال ته ورسيد[۱]. د اسلام مقدس دين ددعوت او عبادت لپاره نوي علمی او تکنالوژی وسايل تاييد کړي دي[۲].

او د اسلام له ليو افتخاراتو څخه يو هم د قران کريم علمی اعجاز ديو چې هره ورځ له ساينس او تکنالوژۍ له پرمختګ سره کشف کيږي او د نړۍ د لويو پوهانو د اسلام سبب ګرځي [۳].

---

۱- تمدن اسلام وعـرب، تاليف دكتورگوستاولوبون فرانسوي، ترجمهء سيد محمد تقي فخرداعي گيلاني، څلورم چاپ، ايران: بنگاه مطبوعاتي علي اكبر علمي، ۱۳۳٤ شمسي، ص: ۱٤٤

۲- مرجع سابق، ص: ۱٤٥

۳- تاسو کولای شی په دغه زمينه کې اعجاز علمی قران ليکلی ده ددغه کتاب مولف ده کولای جی ولولی.

مسلمانان باید د اسلامي د ساتیرو مطابق له ټولو لاس لاندې وسایلو څخه د اسلام مقدس دین د نشر او تبلیغ لپاره استفاده وکړي.

دعبادت د وسایلو تغیر داسلام مقدس دین داحکامو دبهترې ادا کوي لپاره بدعت نه ګڼل کیږي، مثلاً اذان د پیغمبر پر وخت پرته له لودسپیکر څخه ادا کیده، او دا چې هغه وخت دا وسیله موجوده نه وه نو له دې څخه استفاده نده شوېو ولې اوس داذان دغږ درسیدو لپاره له پرمختللو وسایلو څخه استفاده کیږي، او کله کله موجودې وای نو مسلمانانو به حتما دحق غږ درسولو لپاره له هغه نه استفاده کوله

به همدې ډول استفادله له سی دی ګانو و ویدګانو، کمپیوتری وسایلوو انترنت، فلمونو او غیره پر مختللو وسایلو څخه د اسلام مقدس دین ته ددعوت لپاره نه تنها بدعت نده بلکی د اسلام مقدس دین له دغسی وسایلو څخه استفاده تشویقوي او لازم یې بولي.

په حدیث شریف کې له پیغمبر څخه روایت شوی دی چې انحضرت ﷺ وفرمایل: «زینوا القران باصواتکم» تاسې قرآن کریم په خپلو ښو اوازونو سره مزین کړي. قران عظیم الشان چې مقدس کتاب او ښایسته ترین کتاب دی د نورو غږونو ته څه ضرورت لري. دا حدیث ددې مطالبو بیانوونکی دی چې د قرآن کریم د ښایست سره سره ښایسته غږ په زړونو کې زیات اثر لري پدې اساس پیغمبر ﷺ مومنانو ته امر وکړ چې پخپلو ښایسته غږونو د خلکو په زړونو کې د قران کریم ښایست او تاثیر اچونه زیاته کړي ځکه غږ یوه وسیله ده چې د قران کریم د تاثیر په ښه والي کې مهم رول لري. او هره وسیله چې دغسې تاثیر ولري هغه په عبادت کې موثر وي.

د ازهر پوهنتون پوهانو هم اجازه ورکړه ترڅو د اسلامی تاریخ، اسلامی شخصیتونو او حتا صحابه کرامو فلمونه جوړ شي، او څومره ښه ده چې د اسلام مقدس دین د خپرولو لپاره تلویزونی چینلونه په مختلفو ژبو سره ولرو. د پر مختللو وسایلو د تاثیر په هکله کولی شو د تدریس یو مثال ورکړو، مثلا یو معلم د قرون وسطی په اسلوب باندې هغو شاګردانو ته چې په یوسشتم

قرن کې ژوند کوي تدريس وکړي، هيڅکله به دده تدريس موثر نه وي، او شاګردان به له ده څخه مثبته فايده ونکړي ولې هغه معلم چې د نوې تکنالوژۍ وسايلو څخه د خپل تدريس په سيستم کې استفاده کوي، دده د درس اثر په ټولو شاګردانو باندې ښه او مثبت تلقی کيږي، او هغه معلم به د خپل تدريس سيستم کې کامياب وي، په همدې ډول يو پرستې اوسيي عبادت ته ددعوت لپاره هم له تکنالوژي وسايلو څخه استفاده کاملا تاثير لري. او له دې وسايلو څخه استفاده د اسلام مقدس دين دښو رسولو لپارهد تمجيد او در دانۍ قابل ده.

## ۲۱– د ويرې او محبت فلسفه:

ځينې خلک داسې انګيري چې د اسلام مقدس دين کې د عبادت اساس ويره او خوف ده، پداسې حال کې چې د عبادت اساسی فلسفه خوف او ويره نده، بلکې هر مومن د هغه قوی محبت په اساس چې اللهﷻ سره يې لري د پروردګار عبادت ته مبادرت کوي ﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِۗ﴾ «او مسلمانان سخت محبت لري الله سره» پارسې ژبی شاعر خپل محبت د پروردګار په هکله اسې بيانوي.

آنکس‌که تورا شناخت جان‌راچی‌کند    فرزند و عيال و خانمان را چی کند
ديوانه کنی هردو جهانش بخشی    ديوانهء تو هردو جهان را چی کند

پدې اساس مومنان چې د پروردګار متعال ذات عاشقان دی له قوی عشق او محبت چې اللهﷻ سره يې لري د خپل خدای په عبادت باندې مشغول وي. او دا چې الله هغه ذات ګڼی چې ټول نعمتونه دوی ته تقديم کړي دي. ښايسته سترګی، جسمی توانايې او دجهان ټول نعمتونه يې ورته ورکړي دی، لمر، سپوږمۍ، غرونه دريابونه، او ټول مخلوقات يې د انسانانو خادمان ګرځولي دي. ﴿وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ﴾ او مسخر کړي يې دي تاسې ته لمر او سپوږمۍ پدې اساس دغه مقدس ذات د شکر اد اکونی په خاطر، د منني تندی الهی دربار ته ږدي، او له نعمتونو يې مننه کوي.

ترڅو وي چې دغه عمل يې د پروردګار رضايت حاصل کړي، داسې حال کې چې نشو کولی ددغو ټولو نعمتونو شکر په کامل ډول سره ادا کړو ځکه الهی نعمتونه دومره دي چې د هغې مننه يو شکر ويستونکی سړي ته مشکل دی. خو دا چې الهی رحمت حد او حصر نلري، بناء پدغه محبت سره عبادت کوو ترڅو په احد اقل سره مو کړي وي چې خپل ځان له غفلت څخه وساتو.

# څلورم فصل:
# لمونځ پېژندنه

**دې فصل کې شاملې موضوع ګانې:**

۱- د لمانځه مفهوم

۲- د لمانځه فلسفې

۳- د حضرت محمد د لمانځه ځانګړتیاوې

٤- د بې لمانځو جزا

## لمونځ په لغت او اصطلاح کې

لمونځ ته په عربی ژبه کې (صلاة) وایي، او صلاة په عربی ژبه کې ددعا په معنی راغلی ده «وَصَلِّ عَلَيْهِمْ» او دعا وکړه دوی ته[۱].

---

۱- دا کلمه عربی ژبه کې په درې معناګانو راغلی ده:

۱) صلات د صلی له ریشې څخه اخیستل شوی او مفهوم یې یو کوږ شی ته ګرمی او حرارت ورکول دی ترڅو سم شي، او لمونځ ته حلات وایي ځکه انسان د نفس او نفسی خواهشاتو په نیولو سره په کوږ والي باندې مبتلا کیږي. او لمونځ هغه د پروردګار عظمت ته متوجه کوي په زړه کې یې حرارت راولي او د انسان د استقامت لامل ګرځی ﴿إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ﴾ لمونځ انسان له ګناهونو او بدکاریو څخه منع کوي چې د کوږ نفس اماره سره نیول شوی ترڅو د لمانځه په وسیله هغه حرارت ګرمی او د الله عظمت ته ورسیږي او کوږ والی یې لرې شي.

۲) صلات د (صلت) له اصل څخه اخیستل شوی دی، چې د تعلق او رابطې په معنی ده، او صلات (لمونځ) د انسان رابطه له الله تعالی مخلوق او همنوعاتو سره مستحکموي، ځکه بې لمونځه انسان د عالمیانو په پروردګار سره رابطه قطع کړی ده او بیرته لمانځه ته را ګرځیدو سره له الله تعالی سره خپل رابطه بیا مستحکموي.

لمونځ د شریعت په اصطلاح کې: عبارت له هغه مخصوص عمل څخه ده چې د الله اکبر په لفظ سره شروع او د السلام علیکم ورحمة الله په لفظ سره پای ته رسیږی او د خاصو ارکانو او شرایطو درلودونکی دی.

## اسلام کې د لمانځه مرتبه:

لمونځ د اسلام مقدس دین کې زیات ارزښت لري او د هغو فرایضو له جملي څخه ده چې د شهادت له کلمي وروسته ورباندې زیات تاکید شوی دی، لمونځ د اسلام له پنځو رکنونو څخه یو دی. رسول اکرم ﷺ د لمانځه ترک کوونکی کفر ته نسبت کړی دی «ان بين الرجل وبين الشرك والكفر ترك الصلاة» پرته له شکه د سړی او شرک او کفر ترمنځ د لمانځه پریښودل دي. عبد الله د عقیلی ورور وایي چې د رسول الله ﷺ اصحابو د هیڅ عمل ترک کفرنه ګڼه مګر د لمانځه.

اولین هغه شی چې د قیامت په ورځ یې محاسبه کیږی لمونځ دی رسول الله ﷺ فرمایي: «اول ما يحاسب عليه العبد يوم القيامة الصلاة، فان صلحت فقد افلح وان فسدت فقد خاب وخسر» اولین شی چې بنده پرې د قیامت په ورځ محاسبه کیږی لمونځ دی نو که سم و پس کامیاب شو او که خراب ونو هلاک او تاوانی شو. د رسول الله ﷺ اخری وصیت هم لمونځ و، کله چې وفات کیده نو داسې وصیت یې وکړ «الصلاة وما ملكت ايمانكم» په لمانځه او لاس لاندې خلکو باندی محافظت وکړي.

## د لمانځه حقیقت:

لمونځ دوه حقیقته لري

۱ - ظاهری صورت.

---

۳) صلاة د تحیت احترام دعا او سلام په معنی هم راغلی ده ځکه یو پالونکی مومنان خپل ټول احترامات په خپل لمانځه کی خپل پوردګار ته وړاندې کوی او په لمانځه کې الهی دربار ته عرض او نیاز کوی او له پروردګار سره په خبرو کولو خپله دعا هم ورته تقدیموی.

۲- باطنی معني.

**ظاهری حقیقت:**

د لمانځه ظاهر یو سلسله حرکات، تلاوتونه، ذکرونه، دعاګانی او غیره اعمال دی چې هر یو یې الهی احکامو ته د انسان هر اندام د تسلیمیدو ممثل دی، ځکه دغه ټول حرکات دقرانی دساتیرو او نبوی سنتو مطابق ترسره کیږی چې د بدن ټول اندامونه د پروردګار په وړاندې لکه د متحرک قران غوندې تمثیل کوي، د زړه، ژبی، لاسونو، پښو، سترګو او د بدن د ټولو اندامونو خپلمنځي ارتباط په متحدانه شکل سره دا لله‎ﷻ په غوښتنو باندې مشغولیږي او دا هغه حالت دی چې انسان له خپل عادی حالت څخه ووځي او لکه د پیغمبر غوندې د معراج په طرف په حرکت کې کیږی «ان تعبد ربك كانك تراه فان لم تكن تراه فانه يراك» د الله داسې عبادت وکړه لکه ته یې چې وینې او که ته یې نه وینې نو هغه خود ې ویني.

**د لمانځه د روح حقیقت:**

د لمانځه روح مومن له عادی حالت او له دنیوی اړیکو څخه د الله خوا ته پورته کوي، او ټولې فاصلی چې د الله او بنده ترمنځ وجود لري په لمانځه کې له منځه ځی. بنده مستقیما له الله سره خبرې کوي، او هغه لحظه ده چې الله د خپل بنده خبرې اوري، او د هرې کلمې په مقابل کې یې ملایکو ته د انسان دبرتریت او شخصیت او له الله سره د هغه له اړیکو څخه یادونه کوي.

حضرت ابوهریره‎رضي الله عنه فرمایي «له رسول الله څخه مې واوریدل چې ویې فرمایل: لمونځ د خپل ځان او بنده ترمنځ تقسیم کړی دی اوبنده ته مې هغه څه ورکول کیږی چې غواړي یې:

هر کله چې بنده ووایي: ﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٢﴾.

اللَّهُ تَعَالَى وایي زما بنده زما حمد ووایه

کله چې بنده ووايي: ﴿ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ٣﴾.

اللَّهُ تَعَالَى وايي: زما بنده زما ثنا وويله.

کله چې بنده ووايي: ﴿مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ٤﴾.

الله تعالی وايي: زما بنده زه تمجيد کړم، او کله وايي: بنده مې خپل کارونه ماته وسپارل.

کله چې ووايي: ﴿إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ٥﴾.

**الله تعالی وايي: دا خبره زما او د بنده ترمنځ ده او بنده ته مې هغه څه ورکول کېږي چې ويې غواړی کله چې ووايي: ﴿ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ٦ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ٧﴾.**

**الله تعالی وايي: دا مې د بنده دي او بنده ته مې هغه څه دی چې هغه غوښتی دی»[1].**

---

۱- «سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى قَسَمْتُ الصَّلَاةَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي نِصْفَيْنِ وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ فَإِذَا قَالَ الْعَبْدُ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى حَمِدَنِي عَبْدِي وَإِذَا قَالَ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى أَثْنَى عَلَيَّ عَبْدِي وَإِذَا قَالَ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ قَالَ مَجَّدَنِي عَبْدِي وَقَالَ مَرَّةً فَوَّضَ إِلَيَّ عَبْدِي فَإِذَا قَالَ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ قَالَ هَذَا بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ فَإِذَا قَالَ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ قَالَ هَذَا لِعَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ قَالَ سُفْيَانُ حَدَّثَنِي بِهِ الْعَلَاءُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَعْقُوبَ دَخَلْتُ عَلَيْهِ وَهُوَ مَرِيضٌ فِي بَيْتِهِ فَسَأَلْتُهُ أَنَا عَنْهُ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ عَنْ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا السَّائِبِ مَوْلَى هِشَامِ بْنِ زُهْرَةَ يَقُولُ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ح وحَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ أَخْبَرَنِي الْعَلَاءُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَعْقُوبَ أَنَّ أَبَا السَّائِبِ مَوْلَى بَنِي عَبْدِ اللَّهِ بْنِ هِشَامِ بْنِ زُهْرَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى صَلَاةً فَلَمْ يَقْرَأْ فِيهَا بِأُمِّ الْقُرْآنِ بِمِثْلِ حَدِيثِ سُفْيَانَ وَفِي حَدِيثِهِمَا قَالَ اللَّهُ تَعَالَى قَسَمْتُ الصَّلَاةَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي نِصْفَيْنِ فَنِصْفُهَا لِي وَنِصْفُهَا لِعَبْدِي حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ جَعْفَرٍ الْمَعْقِرِيُّ حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا أَبُو أُوَيْسٍ أَخْبَرَنِي الْعَلَاءُ قَالَ سَمِعْتُ مِنْ أَبِي وَمِنْ أَبِي السَّائِبِ وَكَانَا جَلِيسَيْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَا قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

**دلمانځه د فرضیت دلایل:**

د لمانځه فرضیت په قران سنت او اجماع سره ثابت دی د قران کریم دلایل: ﴿وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ﴾ «او لمونځ قایم کړی»، ﴿إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ كَانَتۡ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ كِتَٰبٗا مَّوۡقُوتٗا ١٠٣﴾ بی‌شکه لمونځ په مسلمانانو فرض شوی وخت په وخت. ﴿حَٰفِظُواْ عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ وَٱلصَّلَوٰةِ ٱلۡوُسۡطَىٰ﴾ ساتنه وکړی د لمانځه او د منځنی لمانځه ﴿وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِ﴾ قایم کړه لمونځ د ورځی په دوه طرفونو او د شپې یوه برخه کې پدې آیات شریف کې پنځه ګونی لمونځونه بیان شوی دي، ځکه د سهار لمونځ د ورځې په یو طرف او د ماسپښین او مازدیګر لمونځونه یې په بل طرف کې ادا کیږي ځکه ورځ دوه برخې لري (غداه) د ورځې داول برخې نوم (زوال تر وخته وي، او بیا له هغه وروسته (عشی) ده بناء د ورځې دوه طرفو کې دری لمنځونه داخل شو، او پدې آیات شریف کې چې (وزلفا من اللیل) د ماښام او ماسختن لمونځونه داخلیږی. ﴿أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمۡسِ إِلَىٰ غَسَقِ ٱلَّيۡلِ وَقُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِۖ إِنَّ قُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِ كَانَ مَشۡهُودٗا ٧٨﴾ لمونځ قایم کړه د لمر د زوال پر وخت او د شپې په اوله تیاره کې، علما وایي: د لوک الشمس د لمر زوال ته وایي او غسق اللیل د شپې اولې تیاری ته وایي، چې ددې آیات شریف په اساس د ماسپښین او مازدیګر لمونځ ثابتیږي، او منظور (القران الفجر) څخه د فجر (سهار) لمونځ دی.

**له سنتو څخه دلیل:**

---

صَلَّى صَلاَةً لَمْ يَقْرَأْ فِيهَا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَهِيَ الله (جل جلاله) يَقُولُهَا ثَلاَثًا بِمِثْلِ حَدِيثِهِمْ». مسلم شریف حدیث نمبر(۵۹۸)

ابو امامه باهلیؓ وايي له رسول الله ﷺ څخه مې په حجه الوداع کې واوريدل چې ويل يې: «اعبدوا ربكم وصلوا خمسكم وصوموا شهركم وأدوا زكاة أموالكم وأطيعوا ذا أمركم تدخلوا جنة ربكم»[(۱)] د خپل پروردګار عبادت وکړی خپل پنځه لمنځونه وکړي، او د خپلې مياشت روژه ونيسی او د خپلو مالونو زکات ورکړي او د خپل ولی الامر اطاعت وکړی نو د خپل رب جنت ته به داخل شی.

**له اجماع څخه دليل:**

د اسلام امت ټولو علماو د پنځه ګونو لمنځونو په فرض والی اجماع کړی ده.

## د لمانځه ترک کوونکی حکم:

د لمانځه ترک په دوه ډوله صورت نيسی.

اول: د لمانځه ترک د فرضيت له انکار سره: هر کله چې څوک لمونځ بيهوده وګڼي او يا يې له فرض والي څخه انکار وکړي هغه شخص کافر کيږي.

دويم: هر کله چې څوک لمونځ له کسالت او تنبلۍ څخه ترک کړي دې صورت کې د کبيره ګناه مرتکب شوی دی. ولې دې برخه کې چې څوک لمونځ پرته له انکار څخه ترک کړي کافر کيږی او که خير، دلته څو روايتونه را نقلوو چې پدې هکله مختلف نظريات وجود لري:

عن بريدة، عن النبي صلى الله عليه وسلم، قال: «بكروا بالصلاة في يوم الغيم، فإنه من ترك الصلاة فقد كفر»[(۲)].

---

۱- هذا حديث صحيح على شرط مسلم ولا نعرف له علة ولم يخرجاه وقد احتج البخاري ومسلم بأحاديث سليم بن عامر وسائر رواته متفق عليهم. المستدرك على الصحيحين تاليف محمد بن عبدالله أبو عبدالله الحاكم النيسابوري، بيروت: دار الكتب العلمية — ط۱، (۱٤۱۱ — ۱۹۹۰) ۱/ ٥۲

۲- حديث نمبر ۱٤۸٥ — صحيح ابن حبان ٦/ ٤۳۰

له بریده له نبیﷺ څخه روایت دی فرمایي چې: د وریځ په ورځ لمنځونه وخته وکړي، بیشکه چا چې لمونځ پریښود نو کافر شو ابو حاتمؓ وایي: دلته مصطفیﷺ د لمانځه په ترک کوونکی باندې دکفر اطلاق کړیدی، ځکه د لمانځه ترک د کفر پیل دی، ځکه هغه څوک چې لمونځ ترک کوي او د لمانځه له ترک سره عادت کیږي، نو نور فرایض هم ترک کوي، بناء پیغمبرﷺ د ددې کار د پای نوم ورته اخیستی دی، ځکه چې کفر اخرینه برخه ده، چې اوله برخه یې د لمانځه ترک دی[1].

په صحیح مسلم کې له جابرؓ څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ وفرمایل: «بین الرجل وبین الشرك والکفر ترك الصلاه» د سړی او شرک او کفر ترمنځ فاصله د لمانځه پریښودل[2] یعنی هر کله چې لمونځ ترک کړي دا فاصله له منځه ځي.

حضرت بریدهؓ وایي چې رسول اللهﷺ وفرمایل چې زمونږ او هغوی ترمنځ عهد او پیمان چې دی هغه لمونځ دی، او هر څوک چې هغه ترک کړي کافر کیږي[3].

د عمده القاری شرح صحیح البخاری صاحب وایي دا خبره توبیخا د لمانځه ترک کوونکی ته ویل شوې ده، او ددې لپاره چې هغه له کفر څخه وویروي، ځکه دده دغه کار چې د لمانځه په هکله بی تفاوته وي دی د کفر خوا ته کشوي، خو د لمانځه په ترک سره له دین څخه خارجیدل ندي راغلی[4].

د فتح الباری صاحب وایي: «ډیر اهل حدیث علما د لمانځه ترک کوونکی ته کافر واي» هغه زیاتوي: «چې عطا، او نافع د عبد الله بن عمر مولی کله چې

---

١- صحیح ابن حبان ٤٣٠/٦

٢- مسلم (٨٢)

٣- وخرج النسائي والترمذي وابن ماجه من حديث بريدة، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال «العهد الذي بيننا وبينهم: الصلاة، فمن تركها فقد كفر »(٢). و صححه الترمذي وغيره.

٤- عمدة القاري شرح صحيح البخاري تاليف بدر الدين العيني الحنفي ٢٦٣/٩

د ملائځه د ترک کوونکی په هکله وپوښتل شو ویې ویل هغه کفار دی» او همدارنګه امام احمد په همدې نظر دی چې د لمانځه ترک کوونکی کافر دی[۱].

عبد الله بن شفیق وایي چې د رسول اللهﷺ ملګرو هیڅ عمل ترک کفر نه ګڼه مګر لمونځ[۲].

مګر ځینو نورو علماو د لمانځه ترک کوونکی په هغې اصلي معنی سره کافر نه بلکې هغه یې فقط د کفران نعمت په معنی سره ژباړلی دی، یعنی هغه څوک چې لمونځ ترک کوي، له هغو نعمتونو څخه چې اللهﷻ ورته ورکړي دي انکار کوي، داسې فکر کوي چې د بدن د اندامونو ټول نعمتونه، هغه نعمتونه چې دده په اختیار کې ورکړل شوي دي، د ټولو کفران یې کړی دی او نه غواړي ددغو نعمتونو مقابل کې الله ته شکر وباسي او دغه شکر د لمانځه کولو په واسطي سره ادا کړي.

## د مومنانو د لمانځه فلسفه

لمونځ د اسلام مقدس دین کې د زیات ارزښت خاوند دي، او حتی په حدیث شریف کې د مسلمان او کافر ترمنځ فرق د لمانځه په ادا کې بیان شوی دی، د اسلام مقدس دین کې د لمانځه د نقش پیژندلو لپاره لازمه ده پدې بحث کې د لمانځه د فلسفې په هکله څه مطالب بیان کړو:

### ۱- له پروردګار متعال سره د خبرو کولو فلسفه:

د لمانځه لومړی فلسفه له اللهﷻ سره په خبرو کولو کې بیان شویده، ځکه کله چې څوک غواړي له اللهﷻ سره خبرې وکړي باید لمونځ وکړي، او هر کله چې غواړي اللهﷻ له ده سره خبرې وکړي نو قران کریم دې تلاوت کړي.

۱- فتح الباري لابن رجب ۹/۱

۲- فتح الباري لابن رجب ۱۰/۱

متدينه او با عقيده مسلمان ددې لپاره چې خپل پروردګار سره رابطه ولري او د الهی هدايت مطابق هره ورځ پنځه ځلي له خپل پروردګار سره د خبرو کولو له لارې عرض او نياز وکړي نو د خپل لمانځه ادا کولو ته پوره متوجه وي، او مخ په قبله د اللهﷻ په وړاندې د جسم، لباس او مکان له مادي او معنوی پاکی، د لمانځه د ټولو احکامو مراعات، له خشوع (دزړه، فکر او انګيرنې حضور) او تواضع (عاجزی او ماتوالي) سره ولاړ وي اود اللهﷻ دعبادت له لارې د فرض، سنت، واجب، او نفل لمنځونو ادا کولو له لارې خپل د زړه مطالب، او خپلي حياتی او اخروي ارزوګانې اللهﷻ ته بيانوي.

دغه مومن پوهيږي چې لمونځ له پروردګار سره خبرې کول دي، انسان هميشه له خپل دوست سره خبرې کوي، خپل دوست ته خپل رازونه وايي، له خپل دوست څخه کمک غواړي، د خپل دوست کور ته ورځي او هڅه کوي د دوست رضايت حاصل کړي. داسې عمل نه ترسره کوي چې دده ددوست د ناخوښی لامل ګرځي. او د اچې دا مومن پوهيږي چې ﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَشَدُّ حُبّٗا لِّلَّهِۗ﴾ «هغه خلک چې ايمان لري الله سره سخت محبت لري»، بناء خپل دغه محبت له اللهﷻ سره هره ورځ د خپل پروردګار د عبادت او هغه سره د لمانځه له لارې په خبرو کولو سره زياتوي.

خود لمانځه ترک پدې معنا ده چې له اللهﷻ سره غصه او خفه دی، نه غواړي له اللهﷻ سره خبرې وکړي، نو لازمه ده دغه انسان دوباره له اللهﷻ سره پخلا شي او لمونځ وکړي، که د لمانځه مفهوم له اللهﷻ سره خبرې کول وي، نود لمانځه نه کول له اللهﷻ سره د خبرو ترک کولو په مفهوم سره دي.

تاسې فکر وکړي چې خبل عادي ژوند کې له کومو اشخاصو سره خبرې نه کوي؟

اول: څوک نه پيژنی بناء له يو پردي سړی سره خبرې نه کوي.

دويم: څوک مونه خوښيږي، بناء سره له دې چې هغه پيژنی ولی نه غواړی هغه سره خبرې وکړی.

دریم: له چا سره غصه خفه او جوړ یاست نو نه غواړی هغه سره خبرې وکړي.

څلورم: له چا سره خبرې کول بېفایدې او بیارزشه تلقی کوي، بناء له هغه سره د خبرو کولو ضرورت نه احساسوی.

پنځم: چا له تاسې سره بد کړي دي، او اوس د هغه د بدیو لپاره نه غواړی له هغه سره خبرې وکړي.

شپږم: څوک دې چې ډاریږی که کله هم هغه سره خبرې وکړي د هغه بد او خراب عادت به تاسې ته سرایت وکړي ځکه نو هغه سره خبرې نکوي.

اوم: چا سره د ښمني لری بناء هغه سره دا خپله دښمني د اړیکو د شکولو له لارې چې سر کې یې د خبرو نه کول دي څرګندوي.

اتم: چا چې ستاسې حق تلف کړی دی، او یا یې هم د حقوقو د توزیع پر وخت ستاسې په حق کې ظلم کړی دی.

اوس نو چې څوک لمونځ نکوي هغه حقیقت کې نه غواړي له اللهﷻ سره خبرې وکړي، او دلیل یې کولی شي له دغو پورته ټکو څخه یو وګڼي:

اول: اللهﷻ نه پیژني، هغه باندې د پردي فکر کوي او نه غواړي هغه سره خبرې وکړي.

دویم: اللهﷻ یې نه خوښیږي (العیاذ بالله) او نه غواړي هغه سره خبرې وکړي (العیاذ بالله).

دریم: اللهﷻ سره جنګی دی، چې دې صورت کې اشتي کیدلو ته ضورت لري، ترڅو دوباره په لمانځه راشي.

څلورم: لمونځ کول (له الله سره) خبرې بی ارزښته او بی ګټې تلقی کوي.

پنځم: فکر کوي چې اللهﷻ له دې ټولو نعمتونو سره چې ده ته ورکړي دي، له ده سره هیڅ نیکی نده کړي.

شپږم: ایمان او عقیدې ته د یو بد شي فکر کوي، بناء لمونځ کول د یندار کوي او دی نه غواړي چې دینداره شي.

اووم: له اللهﷻ سره دښمني لري، هغه ته د خپل دښمن فکر کوي او نه غواړي خبرې ورسره وکړي.

اتم: ګمان کوي دغه نعمتونه چې دنيا کې دي اللهﷻ يي يو هم ده ته ندی ورکړی، بناء نه غواړي هغه سره د لمانځه له لارې خبرې وکړي.

دغه اته اساسي دليلونه دي چې سړی د لمانځه ترک کولو ته هڅوي، او که څوک وايي چې نه داسې نده نو بيا د لمانځه د ترک کولو لپاره څه دليل لري؟

هغه خلک چې خپل ځان مومنان ګڼی او د اسلام ادعا کوي خو لمونځ نکوي لازمه ده ترڅو دوباره الهی دربار ته رجوع وکړي اللهﷻ سره پخلا شي او خپله دغه اشتي او پخلاينه د لمانځه په کولو سره اعلان کړي.

دا چې لمونځ له اللهﷻ سره خبرې کول دي، هر کله که څوک له لمانځه وروسته قسم وخوري چې اللهﷻ سره مې خبرې وکړي، حانث او يا ګنهګاريږي نه، او قسم يي سيي دی دا چې لمونځ له اللهﷻ سره خبرې کول دي او بنده د خپل اللهﷻ سره ملاقات کوي، نو پدې بنده باندې لازمه ده چې د خپل بدن او لباس پاکی ته متوجه وي اللهﷻ فرمايي «خذوا زينتکم عن کل مسجد» يعنې هر چيرته چې لمونځ کوی نو مزين اوسي، صحابه کرام به چې کله مسجد ته تلل نوپاک لباس يي اغوسته، عطر به يي وهل، او ويل به يي مونږ د اللهﷻ ملاقت ته ورځو.

کله چې اللهﷻ خپلو بندګانو ته امر کړی دي، چې هر ه ورځ پنځه وخته د هغه دربار ته رجوع وکړي او د هغه د ذات مقابل کې پنځه ځله ودريږي او له الله سره خپله بندګی او محبت ثابت کړي، نو ددې امر مخالف پرته له دې بل تفسير نلري چې دغه کس نه غواړي له اللهﷻ سره خبرې ولري. ځينې خلک شته چې لمونځ ترک کوي ولې د اللهﷻ رحمت بی نهايته زيات دی بيا هم هغوی ته وخت ورکوي چې د حقيقت له پوهيدلو سره دوباره رجوع وکړي، او پخواني اشتباهات د قضايی لمنځونو په کولو سره جبران کړي، خو هغه څوک چې له اللهﷻ سره خپله رابطه اونی، مياشتې او بالاخر کلونه قطع کړي معنا يې همدا ده چې هغه په قطعي ډول سره خپله دښمنی له اللهﷻ سره

اعلان کړې ده. ځکه ددنيا په ژوند کې مو ليدلي دي چې څوک له خپل يو تن دوست سره خفه شي بالاخره له يو اونۍ دو اونۍ تيريدو وروسته پښيمانيږي، دوباره بيا يو بل سره خبرې کوي، ولې څوک چې له چا سره مياشتې او کلونه خبرې نکوی پدې معنې ده چې دی قطعا له هغه سره دوستی نلري او نه غواړي له ده سره په ټول ژوند کې دوستي وکړي.

اوس هغه خلک چې لمونځ ترک کوي له الله ﷻ سره خبرې کول مياشتې او کلونه پريږدي په حقيقت کې يې خپله دوستي پريښې ده، او ددې کار دوام د الله ﷻ د غضب سبب کيږي، د لمانځه ترک کول يو خطرناک کار دی، ځکه دا کار د الله ﷻ د غضب سبب کيږي او د قيامت په ورځ هغه وخت چې د الله ﷻ په مخکې حاضريږي نو الله ﷻ به له دوی سره خبرې ونکړي.

او د الله ﷻ غضب دوزخ ته د داخليدو لامل ګرځي ﴿مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ ۝٤٢ قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ ۝٤٣﴾ «څه شي دوزخ کې واچولي، دوی به وايي: مونږ له لمونځ کوونکو څخه نه وو».

**۲- لمونځ له الله ﷻ سره د مخلوق دارتباط دوام:**

ډير خلک الله ﷻ پيژني په هغه ايمان لري، ولې هغه سره ارتباې نلري دوی د لمانځه په ترک سره خپل ارتباط له الله ﷻ سره قطع کړی دی، د لمانځه بله فلسفه داده چې لمونځ د انسان ارتباط له خالق سره په دوامدار ډول تضمينوي مومن انسان د عمر په ۲۴ ساعتو کې پنځه ځلې پخپل تقسيم اوقات کې له خپل پروردګار سره ملاقات کوي، خبرې کوي، خپل مشکلات بيانوي، او ۱۲۸ ځلې سجده کوي چې دا سجدې هغه لحظې دي چې مخلوق له خپل خالق سره ډير نزدې کوي.

بر عکس هغه انسان چې لمونځ ترک کوي خپل ارتباط يې له خپل خالق سره قطع کړی دی، او خپل خالق يې هير کړی دی، او که بالفرض روزه هم ونيسی نو له يو کال څخه وروسته يې خپل پروردګار را په ياد کړی دی، ولې د لمونح کوونکی بنده ارتباط له الله ﷻ سره هميشه ثابت او مستحکم دی.

ځکه چې څوک هره ورځ پنځه ځلې له خپل دوست سره ملاقات وکړي، کور ته يي ورشي هغه ياد کړي نو ارتباط يې ډير محکم کيږي.

لمونځ په لومړۍ پايه کې د الله ﷻ په طرف د بنده د مخ راوړلو سبب ګرځي، او په دويمه مرحله کې ددی لامل کيږي چې منان ذات د خپل بنده مخ ومنی.

هر کله چې بنده الهی دربار ته مخ اړوي نو الله ﷻ هم هغه يادوي، او لمونځ ددغې يادونې لوی ممثل دي، الله ﷻ فرمايي: ﴿فَٱذۡكُرُونِيٓ أَذۡكُرۡكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لِي وَلَا تَكۡفُرُونِ ١٥٢﴾ [البقرة: ۱۵۲] «نو ما ياد کړی چې تاسې هم ياد کړم او زما منښه کوی او ناشکري مې مه کوي» حضرت زيد بن اسلم رضی الله فرمايي: چې موسی عليه السلام وويل ای ربه څرنګه دې شکر ادا کړم؟ الله ﷻ وويل: ما ياد لره، دا زما شکر ادا کونه ده، او هر کله چې دې زه هير کړم نو زما د نعمتونو کفران دې وکړ.

څرنګه کولی شو چې الله ﷻ ياد ولرو پرته له شکه چې لمونځ د الله ﷻ لويه يادونه ده، امام ابن کثير په خپل تفسير کې ليکی: په صحيح حديث کې روايت شوی دي چې الله ﷻ فرمايي هر چا چې زه خپل ځان سره ياد کړم زه هغه هم له خپل ځان سره يادوم، او هر کله چې چازه د خلکو په يوه ډله کې ياد کړم زه هم هغه په يوه غوره ډله کې يادوم.

دغه ټولې معناګانی په منفردانه او جماعت لمانځه کې په ښه ډول سره حاصليږي، ځکه بنده لومړی الله ﷻ پخپل لمانځه کې يادوي او الله ﷻ هغه يادوي او د هغه پرمخ خپلې در حمت دروازې خلاصوي.

**۳- له الله ﷻ سره دعهد او پيمان تجديد:**

د لمانځه يوه فلسفه داده چې مومن انسان هره ورځ ۳۲ ځلې له الله ﷻ سره عهد کوي چې:

ټوله ثنا او صفت خاص الله لره ده چې د مخلوقاتو رب دی — الحمدلله رب العالمين ډير ښښونکی او مهربان دی، او مونږ د رحمت په سوری کې ژوند

کوو- الرحمن الرحیم د آخرت د ورځې مالک دی، او ده پورې ارتباط لري او ټول به ستا مخ کې خالي لاس ولاړ وي پرته له هغو عملونو چې ستا رضایت يې حاصل کړی وي — مالک یوم الدین ای اللهﷻ خاص تاته عبادت کوو، او هر شی چې عبادت نومیږی خاص ستا لپاره ترسره کوو او د بل چا نوم عبادت کې نه شاملوو: ایاک نعبد ای الله خاص له تانه مرسته او استعانت غواړو، او د دردونو او مصیبتونو پر وخت به زمونږ په ژبه خاص ستا نوم وي او همیشه وایو (یا الله یا الله یا الله) ځکه یواځې ته د مشکل خلاصوونکی او د حاجت پوره کوونکی یي، تنها ته یي چې مشکلاتو کې له مونږ سره کومک کوې، - وایاک نستعین. ای الله مونږهڅه او کوشش کوو چې پخپل ۲۴ ساعته عمر کې په سمه لاره لاړ شو خو تقاضا کوو چې مونږ د احکامو د تطبیق په لور هدایت کړه او مونږ ته توفیق راکړه چې له خپل ایمان او عبادت سره په هماغه سیده خط باندې ولاړ شو چې ستا پیغمبرﷺ ورباندې تللو — اهدنا الصراط المستقیم.

ای اللهﷻ مونږ هڅه او کوشش کوو چې د پیغمبرانو، رښتینو، شهیدانو او نیکانو په لاره ولاړ شو، ولې پدې لاره تګ پرته ستا له توفیق څخه نه میسر کیږي مونږ ته توفیق راکړه چې د هغوی لاره تعقیب کړو — صراط الذین انعمت علیهم الهی مونږ نه غواړو چې د هغو خلکو په لاره لاړ شو چې د هغو صفاتو په نسبت کولو سره چې ستا د مقدس ذات لایق ندي خپل ځانونه يې د غضب لاندې راوستلي وي، بناء مونږ ته توفیق را نصیب کړه چې د هغوی لاره تعقیب نکړو- غیر المغضوب علیهم الهی مونږ نه غواړو د هغو ګمراهانو په لاره لاړ شو چې د ایمان لرلو ددعوې له وجود سره يې د حق لاره پریښې ده، د ګمراهانو په لاره تللی دي او د دینداری له وجود سره يې هغه پیغمبر چې انسان دی ستا په ځای ګڼي، او عبادت يې کوي او د هغه تصویرپخپلو معبدونو کې بردي، مونږ ته توفیق را نصیب کړه چې زمونږ زړه یواځې له تاسره وي او یواځې ستا عبادت وکړو، او د ګمراهانو له لارې څخه لری اوسو ولاالضالین الهی ته یواځنی ذات يي شریک او سیال نلرې او مونږ تعهد کوو چې یواځې تا په یووالي سره وپیژنو او په یواځي والي ستا عبادت وکړو — قل

هو الله احد ای ربه ته بې اړتیا ذات یي ریس دفتر، سکرتر، بادیګارد وزیر او همکار ته ضرورت نلرې، چې د هغوی له لارې تاته راشو، بناء مستقیم ستا دربار ته رجوع کوو، او مستقیما له تا نه مرسته غواړو- الله الصمد ای اللهﷻ ته هغه ذات یي چې ځوی، ښځې او والدینو ته څه ضرورت نلري او مونږ انسانان یو چې دغو امورو ته اړتیا لرو، بناء ستا یووالی په همدې سبب ده چې د ځوی، شریک او والدینو له لرلو څخه پاک او منزه یي او مونږ تا نه د عدد له لارې بلکې له همدې لارې په وحدانیت سره پیژنو — لم یلد ولم یولد ولم یکن له کفوا احد.

ای الله ته عظمت والا ذات یي او عظمت او لوی والی یواځې ستا لایق ده، بناء د تعظیم سر یواځې ستا دربار ته ښکته کوو- سبحان ربی العظیم

الهی یواځې ته عالي مقام ذات یي بناء خپل تندی چې زمونږ د بدن بهترین او عالیترین اندام دی یواځې تاته په ځمکه ږدو، او یواځې ستا دربار ته د عاجزۍ سر لکوو او تا په لویۍ سره یادوو- سبحان ربی الاعلی

الهی ټول احترامات یواځې ستا د ذات لایق دي، او مونږ ستا په وړاندې کینو، ا وستا دربار ته د احترام اظهار کوو- التحیات لله

الهی ټول لمنځونه او دعاګانې یواځې ستا ذات ته لایقې دي او مونږ دغه امور یواځې تاته ادا کوو- والصلوات

ای ربه پاکي ټوله ستا لایق ده، تعهد کوو چې تا په پاکۍ سره یاد کړو، او له ټولو صفتونو څخه چې ستا د ذات لایق ندي خپل زړه او ژبه لرې وساتو- والطیبات

الهی شاهدی ورکوو چې هیڅوک پرته له تا څخه د عبادت لایق ندی، او پخپل د بی شهادت باندې متعهد یو، او همدرانګه محمد ﷺ ستا بنده او رسول ګڼو- اشهد ان لااله الا الله واشهد ان محمدا عبده ورسوله

ای الله ددنیا او آخرت نیکیانې زمونږ نصیب کړه، او مونږ تعهد کوو چې دنیا کې دنیکانو په لاره لاړ شو او ستا له نعمتونو څخه د خیر په امورو کې استفاده کړو او په انساني ټولنه کې په ژوند کولو سره ستا د نعمتونو شکر ادا

کړو، او په آخرت کې هم د آخرت نیکیانې چې ستا رضایت دی، ستا جنت دی، د قبر له عذاب څخه د محشر د ورځې له سختیانو او ستا دوزخ څخه نجات زمونږ نصیب کړه پدې اساس یو مومن انسان پخپل هر لمانځه کې له خپل پروردګار سره دغسې تعهدات کوي او څوک چې دغسې متعهد وي او هم چې اللهﷻ مومنانو ته د څه شي وعده کړې ده، نصیب کوي یې.

**۴– لمونځ الهی دربار ته د عاجزۍ او بنده ګۍ اظهار:**

د لمانځه له حکمتونو څخه یو داده چې مومن انسان پخپل ۲۴ ساعته ژوند کې څو ساعته د اللهﷻ په وړاندې دریږي، او د اللهﷻ دربار ته د عاجزۍ او بندګۍ اظهار کوي، او دغه د بندګۍ اظهار له عاجزۍ او خشوع څخه ډک زړه باندې کیږي، دهمدې علت له مخی د لمانځه اساسي شرط قلبی حضور دی- یعنی قلبا په لمانځه کې له خپل پروردګار سره اوسو، پرته له دې ظاهري حرکتونه له ټولو اندامونو سره د زړه سمون څخه بغیر هغه عظمت چې لمونځ یې لرې له منځه وړي، حضرت نبی کریمﷺ فرمایي «لا صلات الا بحضور القلب» د زړه له حضور څخه پرته لمونځ نشته، له قلبی حضور څخه منظور داده چې انسان ټول هوش او فکر د لمانځه کولو پر وخت د اللهﷻ ذات ته متوجه وي د اللهﷻ له یو دوست څخه وپوښتل شو: تاسې څرنګه لمونځ کوي؟ ویې ویل: کله چې زه لمونځ کوم فکرکوم چې دا زما د ژوند اخري لمونځ دی. اللهﷻ پوهیږي چې بل لمانځه ته فرصت پیدا کړم او یا به مې عزرایل روح قبض کړي، کله چې لمونځ کوم فکر کوم چې کعبه شریفه مې په مخ کې، جنت مې ښي خوا ته، دوزخ مې چپې خوا ته او اللهﷻ په سر قرار لری او پدې فکر سره لمونځ کوم.

هر کله چې انسان د اللهﷻ ددغه دوست غوندې لمونځ وکړي حقیقتا په لمانځه کې یې خشوع تواضع، بیچاره ګی، عجز او نیاز پیدا کیږي، اللهﷻ فرمایي ﴿قَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ۝١ ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي صَلَاتِهِمۡ خَٰشِعُونَ ۝٢﴾ «په تحقیق سره کامیاب شو هغه مومنان، چې هغوی په خپل لمانځه کې خشوع کوي».

امام قرطبی ددې آیات شریف د تفسیر لاندې فرمايي: د خشوع محل زړه وي او هر کله چې د انسان زړه له خشوع سره شو، نو د بدن ټول اعضا هم له خشوع سره کیږي په حدیث شریف کې دي چې رسول اللهﷺ ولیدل چې یو سړي په لمانځه کې له خپلې ږیرې سره لوبی کوي، انحضرتﷺ وفرمایل: که په زړه کې یي خشوع وه نو په اندامونو کې به یې هم خشوع وه «لو خشع قلب هذا الخشعت جوارحه» لازمه ده چې لمونځ کوونکی پخپل لمانځه کې قلبی حضور ولري، په حدیث کې دي «لا صلات الا بحضور القلب» د زړه له حضوره پرته لمونځ نشته همدارنګه یوآځې هغه اندازه لمونځ د پروردګار حضور ته د قبولیت لپاره وړاندې کیږی چې هغه کې قلبی حضور وجود ولري، کله چې له پروردګار سره قلبی حضور وي زړه له نورو سره د مشغولیت نه منصرف کیږي یواځې اقدس ذات سره کیږی. انسان پخپل دغه حالت کې د خپل خالق په مخ کې قرار لري هغه ته خطاب کوي او له هغه سره مناجات کوي، او کله چې دغسې حالت خپل ځان کې پیدا کړي نوی لوی سعادت دده په نصیب کیږي.

خو هغه خلک چې لمونځ پرته له قلبی حضور څخه ادا کوي، هغه لکه د یو قرض غوندي په ډیر سرعت سره ادا کوي، او د لمانځه لذت نه حاصلوي، د محبوب محبت هلته حاصلیږي چې هغه سره له زړه نه راز او نیاز وکړو.

په روایاتو کې راغلي دي چې اصحاب کرام به د لمانځه پر وخت د وچو ونو غوندي کیدل، چې ځینو حالاتو کې به یي الوتونکی به سر باندې کیناستل او احساس یې نکو چې دوی ژوندي دي. وایي چې د حضرت علیؓ په پښه کې یو غشې ازغی لاړ چې د هغه ویستل ورته ډیر سخت و، ټول حیران و چې څه وکړي... یو تن د هغوی خوا ته راغی او ورته یي وءویل: دوتسانو تاسې دی په رښتیا سره نه پیژني دی د لمانځه په وخت داسې د اللهﷻ په یاد او محبت کې غرقیږي او د اللهﷻ عظمت ته داسې په خپل زړه کې ځای ورکوي چې هر کله یي یو غشي هم په بدن کې چوخ شي نو خبر به نشی، بناء هغوی پریښود چې لمانځه ته ولاړ شي، اود سجدې پر وخت یي ورته اغزی له پیښې څخه وویست او هغه هیڅ احساس نکړه.

**۵– الله ﷻ مخ اړول:**

او د الله ﷻ قبول لمونځ په لومړي قدم کې ددي سبب کیږی چي بنده الله ﷻ ته مخ واړوي، او په دویم قدم کې ددې لامل ګرځي چې منان ذات بنده ومنی کله چې بنده الهی دربار ته مخ واړوي الله ﷻ هم هغه یادوي، او لمونځ ددغې یادونی لوی ممثل دی الله ﷻ فرمایي: ﴿فَٱذۡكُرُونِيٓ أَذۡكُرۡكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لِي وَلَا تَكۡفُرُونِ ۝١٥٢﴾ [البقرة: ۱۵۲] «نو ما یاد کړي زه به تاسې یاد کړم او زما مننه وکړي او کفران مې مه کوي» یو مخلص مسلمان هره ورځ پنځه ځله الهی دربار ته رجوع کوي، او خپل ټول رازونه او نیازونه الله ﷻ ته بیانوي، او پخپل دې کار سره الهی رحمت ځانته را جلبوي.

**۶– په فحشا او منکر باندې له مبتلا کیدو څخه د ساتنې فلسفه:**

الله ﷻ په قرآن عظیم الشان کې د لمانځه لویه فلسفه بیانوي، چې ﴿إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِۗ﴾ «بی‌شکه لمونځ منعه کوي له فحشا او منکر څخه»، څه وخت چې یو مومن له محبته ډک زړه، او د الهی عدالت له ویرې اغیزلي زړه الهی دربار ته دریږي، او دخپل بدن ټول اعضا د الهی اوامرو مطابق په حرکت راولي، د لمانځه معنی یادوي، او د الله ﷻ سره دزیاتو اولا زیاتو تعهداتو سره خپل ځان او ټولو مومنانو ته د هدایت دعا کوي. تعهد کوي چې بدیمانیې به پریږدي، او د هدایت او انسانیت لاره به مخکې نیسي، پرته له شکه دده دغه لمونځ دده په شخصیت کې مثبت تاثیر کوي، او له لمانځه نه بهر له فحشا او منکر څخه دده مانع ګرځي، او کهل چې هم کومې ګناه ته مخه کړي او څو لمنځونه قضا کړي، د تقصیر احساس کوي او داسې انګیرې چې لمونځ قضا شو او یا هم لمونځ قضا کیږي، او کله چې اودس وکړي او لمونځ وکړی او الهی دربار ته په دریدلو سره خپل ندامت اعلانوي، الهی دربار ته د توبی لاس جګوي، او دوباره رجوع کوي، چې نیکو عملونو ته درا ګرځیدلو او

له بدیو څخه توبه د لمونځ کوونکو مومنانو نصیب ګرځی. برعکس هغه انسان چې لمونځ نکوي د زیاتو ګناهونو په ارتکاب سره د تقصیر احساس نکوي، ځکه دی د لمانځه په ترک سره له اللهﷻ سره کم ارتباط نلري، او شیطان لا هم دی د بدیو خوا ته تشویقوي ترڅو له ده نه انسانی شیطان جوړ کړي چې غالبا انسانی شیطانان د جنی شیطانانو خدمت کې وي. ځینی پوښتنی چې داسې دوستان لرو چې لمونځ هم کوي خو بیا هم په بدو کارونو مبتلا وي، نو دغه پورته آیات څرنګه په دوی باندې تطبیقیږي؟ حقیقت دادې چې د قران کریم ایاتونه یو بل تفسیروي او توضیح کوي، بل آیات شریف وایي ﴿قَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ۝١ ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي صَلَاتِهِمۡ خَٰشِعُونَ ۝٢﴾ «او کامیابي د هغو مومنانو په نصیب کیږي چې هغو خپلو لمنځونو کې خشوع کوي».

دغه خشوع په لمانځه کې پدې معنی ده چې لمونځ کول د ملانځه د معنی له پوهیدلو سره او ددې احساس چې اللهﷻ یي مخ ته ولاړ ده، او لمونځ د زړه له حضور سره ادا کوي هغه لمونځ چې دوه رکعته لمونځ یي په پنځو الی لس دقیقو کې ادا شي، د انسان شخصیت کې مثبت تاثیر لري. خو عاجل او فوري لمنځونه چې هغه کې د لمانځه احکام نه مراعات کیږي، بلکې یو ډله بی معنا فی زیکی حرکتونه دي. چې هیڅکله خپل تاثیرونه نلري، هغه لمونځ تاثیر لري چې د پیغمبرﷺ او صحابه غوندې ادا کړی شي. صحابه کرامو به چې کله لمونځ کو زړونه به یې له محبت، ویرې او عشق او صفا څخه ډک و او له پوره فکر سره به یي دهرې کلمی په معنی بانې دقت کو، د ویرې په ایاتونو کې به یي ژړلې، او د رحمت په ایاتونو کې به یې د رحمت تقاضا کوله.

زمونږ لمنځونه چې زمونږ په شخصیت کې تاثیر نکوي او مونږ ته له فحشا او منکر څخه مانع نه ګرځي، ددې اساسی علت دادي چې زمونږ زیات خلک د لمانځه معنی باندې نه پوهیږو او نه پوهیږو چې د اللهﷻ مقابل کې ولاړ یو او څه وایو، په لمانځه کې با فکر لمونح نشو ادا کولی ځکه هغه څوک کولی شي له زړه سره لمونځ وکړي چې د خپلو خبرو په معنی باندې پوه شي او هغه ته فکر وکړي لمونځ په ډیره عجله کوو، او د چالاکۍ او عجلې لمونځ د هغي

تاثیر له منځه وړي، په لمانځه کې په نورو فکرونو مبتلایو، او دغه افکار مونږ د لمانځه حقیقت څخه لرې کوي.

**۷– د متحرک قران فلسفه او له لمانحه سره د هغه ارتباط:**

د لمانځه فلسفه داده چې مومن انسان د لمانځه څخه بهر ژوند د لمانځه دننه ژوند سره برابروی. هر کله چې د لمانځه په وخت کېد یو انسان ټولو حرکتونو ته متوجه شو، نو وبه وینو چې مومن وګړی د خپل بدن ټول اندامونه په لمانځه کې د قرانی احاکمو مطابق استعمالوي. لاسونه یې، سترګی یې، ژبه یې، زړه یې، هو او فکرئ ټول حواس یې د پروردګار په لور وي، او په ډیر احتیاط سره د خپل بدن اعضا د الهی ارشاداتو مطابق په کار اچوي، دده دغه کړنه له ده نه یو متحرک قران کریم جوړوي، ځکه د خپل بدن ټول اعضا د قرانی احکامو مطابق عیار وي، زړه، فکر او انګیرنه یې هم دالهی احکامو مطابق په فکر او ذکر باندې مشغولیږي، او هر کله چې دغه لمونځ کوونکی د لمانځه څخه بهر هم عادت وي، د خپل بدن اعضا د الهی احکامو مطابق په حرکت راولي او حقیقتا پّیو متحرک قران باندې بدلیږي.

لمونځ ددې لپاره یو تمرین دی چې انسان د ژوند په ټولو حالاتو کې یو متحرک قرآن وګرځي.

**۸– لمونځ په غیبو باندې له ایمان څخه وروسته د متقیانو اساسی صفت او د دین عملی بنیاد دي:**

هغه لوی صفت چې په اللهﷻ له ایمان څخه وروسته انسان د یو حقیقی مومن په ډول ټولنې ته معرفی کوی لمونځ دی، اللهﷻ فرمایي چې قران کریم د متقیانو لپاره هدایت دی، هغه خلک چې په غیبو ایمان لری او لمونځ کوي او هغه څه چې مونږ ورته ورکړي دي نفقه کوي ﴿ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡغَيۡبِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ٣﴾ [البقرة: ۳]

ددې آیات شریف مطابق له غیبو څخه په ایما نباندې وروسته د مسلمانانو اساسی صفت لمونځ دی، ځکه چې لمونځ ددین عملي بنیاد دي.

څرنګه چې د عقایدو باب کې د الله ﷻ په وحدانیت باندې ایمان ددین سرچینه، او محور، او د ټولو موضوعاتو محور دی په همدې ترتیب د اعمالو په برخه کې لمونځ ددین عملی بنیاد دی، او له همدې لامله په قران کریم کې په لمانځه باندې ډیر تاکید شوی دی تردې اندازې چې لمونځ ددین عملي اساس او محور ګڼل شوی دی.

**۹– لمونځ د څو الهی او امرو فرمانبرداري:**

هر کهل چې د لمانځه حقیقت ته نظر واچو وینو چې لمانځه کې مختلف ارکان وجود لري، چې الله ﷻ په هر یوه باندې په جداګانه ډول سره امر کړی دی، بناء د لمانځه اداکول څو الهی اوامرو ته لبیک ویل دي، لکه:

۱ – ﴿وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ﴾ «او لمونځ وکړی».

۲ – ﴿وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ۝٤٣﴾ «او رکوع وکړي له رکوع کوونکو سره».

۳– ﴿وَٱسۡجُدۡ وَٱقۡتَرِب۩ ۝١٩﴾ «او سجده وکړه او ځان نزدې کړه».

٤ – ﴿ٱلَّذِينَ يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمٗا وَقُعُودٗا﴾ «هغه چې یادوی الله تعالی په ولاړه او په ناسته».

٥ – ﴿فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ﴾ «د رب په ثنا سره تسبیح ووایه».

٦– په حدیث شریف کې دي «عظموا ربکم» خپل رب په عظمت سره یاد کړي.

**۱۰– لمونځ د رب د شکر ګذارۍ نمونه:**

هر کله چې کوم انسان مونږ ته څه تحفه را کړي د هغه شخص دریغ ته د ارزښت ورکونی لپاره د منتې، تشکر او خوښۍ اظهار کوو، ځکه زمونږ دغه منته د هغه د رضایت سبب کیږي. او به انیده کې هم مونږ ته دغسي کارونه ترسره کوي. الله تعالی چې لوی او مهربانه ذات دي، او انسان ته یې زیات قیمتی نعمونه ورکړي دي. که هر کله وغواړو چې دغه نعمتونه محاسبه کړو، نو مونږ ته به ي محاسبه مشکله وي ﴿وَإِن تَعُدُّواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحۡصُوهَآۗ﴾ نو په

مونږ باندې لازمه ده چې د الهی دربار څخه دمنني لپاره لمونځ وکړو. ځکه لمونځ دالهی نعمتونو شکر دي له یو پوهیالی څخه یي وپوښتل چې څرنګه خپل زامن لمانځه ته سوق کړو، هغه وویل: دوی ته د اللهﷻ نمتونه باین کړي، هغوی ددغو نعمتونو په پیژندلو سره حتما الهی دربار ته د شکر ګذارۍ سر ښکته کوي.

**۱۱– لمونځ د رشد او کمال علامه:**

لمونځ د انسان جوړونی یو ماشین غوندي ده، یو ماشوم چې د خپلې مور شیدې خورې نو حقیقت کې یي یوه کامله غذا خوړلې ده، او دغه کامله غذا د هغه د وجود ټول ضرورتونه تکمیلوی او کیدای شي ددې ماشوم مور عادي غذا خوړل وي، ولی اللهﷻ ددغه ماشوم لپاره له هماغه عادي غذا څخه داسې شیدې تیاروي چې د ماشوم د وجود ټول ضرورتونه لکه ویتامینونه، کلسیم، اوبه، فسفور، پروتین او ددغه ماشوم غیره ضروریات ښه بوره کوي.

اللهﷻ د انسان لپاره په لمانځه کې د معنویت او شخصیت د کمال ډېر اثار ایښي دي، ادب، تواضع، انتخابات، امتیازات، دکیناستلو اسلوب، ولاړهو پاڅیدل، ښکته کیدلو صحی امادګی، د لباس بدن زړه او ځای پاکی ټول په لمانځه کې دي. او دغه ټول صفتونه د انسان د شخصیت دکمال لپاره په مادي او معنوي بعدونو کې نهایت مهم تاثیر لری.

یو پوهیالی لیکی: ددې امر د اثبات لپاره باید په خلاصه ډول د کمال په مفهوم باندې پوه شو، کمال د انحطاط، ټیټوالی، رکود او ماتی مقابل ټکی دی د یو موجود تکامل او استکمال حرکت له هغو تدریجی تغیراتو څخه عبادت دی چې هغه ته حاصلیږي، او د هغې په اثر هغه استعداد چې د یو وجود کمال صفت د رسیدو لپاره شته دی فضیلت ته رسیږي چې د اللهﷻ ته درسیدو موجب کیږی.

**۱۲– د لمانځه په واسطه له اللهﷻ سره انس حاصلیږي:**

هر کله چې په دقیق صورت د لمانځه په حقیقت باندې فکر وکړو نو پوه به شو چې لمونځ کول له اللهﷻ سره انس کول دی، ځکه د پنځه ګونو

لمنځونو کول مومن انسان خپل پروردګار ته ورنزدې کوي. او هميشه يې د هغه په ياد کې لري. الله‌ﷻ موسی‌﵇ ته وفرمايل ﴿أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ﴾ «لمونځ قايم کړه» او دليل يې هم بيان کړ ﴿لِذِكۡرِيٓ﴾ «زما د ياد لپاره» او هر کله چې انسان په لمانځه کې د الله‌ﷻ په ياد باندې مشغول دی له الله‌ﷻ سره يې اړيکې کلکيږي او قلبی اطمينان ورته حاصليږي.

او ددې په عوض هغه خلک چې د الله‌ﷻ په ذکر باندې له مشغوليدو څخه د هندوانو او بت پرستانو د سريالونو په ليدلو مصروف وي بالاخره هم خپله او هم يې د کورنۍ دغړو انس او محبت له بت پرستانو سره پيداکيږي او د قيامت په ورځ انسان له هغه چا سره حشر کيږي چې هغه سره انس ولري.

له الله‌ﷻ سره انس د هغه د رحمت د سوري لاندې ژوند دی.

او د الله‌ﷻ له دښمنانو سره انس د الهی رحمت څخه محروميت دی.

### ۱۳- په لمانځه سره د الله ﷻ د قرب حصول:

د يو مومن فرد عالی هدف الهی دربار قرب ته رسيدل دي، دغه مسلمانان هڅه کوي ترڅو خپل ځان الله‌ﷻ ته نزدې کړي او د هغه در دربار قرب حاصل کړي او هر کله چې څوک خپل پنځه وخته لمونځ په وخت سره ادا کړي دې هدف ته رسيږي، او د الله‌ﷻ قرب او نزديوالی ورته حاصليږي الله‌ﷻ فرمايي: ﴿وَٱسۡجُدۡ وَٱقۡتَرِب۩ ١٩﴾ «سجده وکړه او نژدې شه»، هغه مهمترينه حالت چې انسان پکې الله‌ﷻ ته نزدی وي سجده، چې د لمانځه پر وخت کيږي. په حديث شريف کې دي چې بنده هغه وخت الله‌ﷻ ته زيات نزدې وي چې هغه ته سجده وکړي.

### ۱۴- لمونځ د معنوي روحيې تقويت:

لمونځ يو مسلمان ته د هغه د معنوی قوې د تقويت سبب ګرځي. او هغه د ژوند په مختلفو ساحو کې قوی او زورور معنويت ته کشوي.

مسلمانانو د اسلام د ظهور پر وخت او وروستيو پيړيو کې ددغه قوی معنويت په اساس وکولی شو د اسلام دايرې ته بی نهايته وسعت ورکړي او

دغه معنوي او روحی قوت د دوی په مادی پرمختګ کې هم مهم اثر درلورد، ولې د مسلمانانو د معنویت کمزورتیا ددې سبب شوه چې ترڅو خپل منځ کې پارچه پارچه او بالاخره د استعماری قوتونو په وړاندې هم ضعیف شو.

ددی لپاره چې د مسلمانانو دغه روح یو ځل بیا په الوتلو باندې پیل وکړی لازمه ده چې یو ځل بیا د عبادت مفهوم د مسلمانانی نظر کې وځلیږي ټول پدې باندې متفق دي چې د مسلمانانو د ذلت او خوارۍ اصلی عامل د معنوي روحیي په کمزورتیا او تفرقه کې دی، او لمونځ توانایي لري چې دغه ورد دوا کړي خو اللهﷻ له مسلمانانو څخه څرنګه لمونح غوښتی دی؟ داسې لمونځ غواړي چې داسی روح باندې مشتمل وي چې د لمانځه حقیقی معنی پکې تحقق ولري.

**۱۵– لمونځ د وخت پیژنه او وسیله:**

وخت د انسان لویه پانګه ده، او متمدن انسانان همیشه یو مهال ویش لري او هر کله چې د لمانځه د وختونو ته دقیقا متوجه شو لمونځ انسان د وخت پیژندنې او د وخت ارزښت ته متوجه کوي، د مسلمان لمونځ ۲۴ ساعته نه ده بلکی په شپه او ورځ کې د فرض لمنځونو لپاره دقیق وخت ټاکل شوی دی لمونځ کوونکی مسلمانان د لمانځه دغه مهال ویش په خپلو ټولو عملونو کې تطبیقوي، د خپل هر عمل لپاره مهال ویش لري، ترڅو یي امور منظم شي او هر څوک چې دخپلو وظیفو ادا کولو لپاره دغسي تقسیم اوقات ولري لکه د لمانځه تقسیم اوقات برته له شکه چې د خپلو هم قطارانو په صف کې په اوله درجه وي ځکه د ځوانانو محصلینو او ټوکار کوونکی بدبختي همداده چې د ژوند لپاره کومه برنامه او د عملي کارونو لپاره کوم تقسیم اوقات نلري.

او پدې سبب د هغوی وخت ضایع کیږي او بالاخره د دوی د ناکامۍ او وروسته پاتې والی لامل ګرځي.

ای کاش چې زمونږ مسلمان ملت دغه ایمانی درسونه نظر کې ونیسی او د هیواد د پرمختګ لپاره مفیده واقع شي.

**۱۶– لمونځ ددین ستنه ده:**

لمونځ د اسلام مقدس دین مهم اصل دی چې د کلمې طیبي څخه وروسته د اسلام اساسی بناګانو کې قرار لري ا وپه حدیث شریف کې حضرت پیغمبر ﷺ لمونح ددین ستنه ګڼل ده.

هر کله که اسلام ته د یو تعمیر په نظر وګورو او هغه په خپل ذهن کې مجسم کړو نو اساسی ترینه بنیادي لمونځ دی، چې ټول عبادات تقویه کوي، بنا پردې هر کله چې څوک غواړي اسلام ودانی یې اماده وي ن ولمونح دې وکړي ځکه د لمانځه ترک د هغه ددین اساسي ستنه ورانوي.

**۱۷– د محمد ﷺ پیژندل له قبرو څخه:**

د قیامت په ورځ چې کله ټول بشریت مومن او کافر د حساب ورکولو او پوښتلو لپاره د پروردګار ذات په وړاندې حاضریږي او هر سړی د خپلې عملنامې اخیستلو ته منتظر وي پدې ورځ به پیغمبر ﷺ د خپل امت شفاعت کوي، خو پوښتنه دا مطرح کیږي چې انحضرت ﷺ به خپل امت څرنګه پیژني؟ حضرت پیغمبر ﷺ به خپل امت له هغوی له څیرو څخه پیژنی ځکه ټول خلک به دقیامت په ورځ د هغې د حرارت له شدت او سختۍ څخه خپل اصلی رنګ له لاسه ورکوي او ټول به توریږي، یواځې د پیغمبر ﷺ د امت د لمونځ کوونکو څیرې لاسونه وپښې به چې د اوداسه پرو خت یې مینځلي دي سپینی وي، ځکه هغو ځایونو ته چې د اوداسه اوبه رسیدلې وي، د قایمت لمر یې نشي تورولي، دغه لمونځ کوونکی اشخاص له لرې د څیرو، مخ او لاسونو او پښو په سپینوالی باندې پیژندل کیږي. او پیغمبر به هم دوی په همدي خیرو باندې پیژنی او د دوی شفاعت به کوي.

لنډه دا چې د لمانځه نور هم په دنیا او هم په آخرت د لمونځ کوونکي په څیره کې وي، او بی لمانځه هم پدې دنیا د ایمان له نور څخه محروموي، او هم په آخرت لکه د بې ایمانه انسانو غوندې د ایمان له تور څخه محروم ویو او په څیرو کې به یې د آخرت پیغمبر د امت اثار نه لیدل کیږي.

**۱۸– لمونځ مومنانو ته یو لوی الهی نعمت:**

هر کله چې د لمانځه حقيقت او فلسفې ته پاملرنه وکړو، پوهيږو چې لمونځ د بنده داسې يو فرصت دی ترڅو دغه بنده له خپل رب سره عرض او نياز سره عرض کړي هغه سره خبرې وکړي، له اللهﷻ سره د ملاقات فرض دي، تاسې فکر وکړي چې هر کله يو ريس جمهور چاته بلنه ورکړي، چې له ده سره ملاقات وکړی هغه به څومره خوشاليږي چې فلانی ريس جمهور له ما مسکين سره ملاقات کوي، پداسې حال کې چې جمهور ريسان غالبا له بيچاره خلکو سره ملاقات نکوي، او ډير وخت جمهور ريسان او پادشاهان چې له کومو لارو ځي څوک په هغې لاره تګ ته هم نه پريږدي، خو راځی وګورو چې د مخلوقاتو پروردګار چې ﴿مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ۝٤﴾ هم دی نه تنها د ځمکې حاکم بلکې د آسمانونو او ټولو سماوی اجرامو حاکم او ټولو مخلوقاتو حاکم هم دی، بلکې د قيامت د ورځې حقيقی حاکم هم دی چې هغه ورځ به بادشاها او جمهور ريسان هم عادی بندګان وي دغه د دوه جهانو پروردګار يو بنده ته چې کيدای شي ډير فقير هم وي څرنګه فرصت ورکوي چې له ده سره ملاقات وکړي خبرې وکړي او خپل دردونه ورته ووايي.

بناء لمونځ يو لوی نعمت دی چې الهی بندګانو ته ورکړل شوی دی، او هغه تن بايد خوښ وي چې له دې فرصت څخه يې استفاده کړې خپله عريضه يې پرودګار ته وړاندې کړې او پروردګار هم د هغه عريضه قبوله کړيده او ددنيا او آخرت سعادت يې ورته نصيب کړي.

**۱۹– لمونځ مومنانو ته د الهی غيبی خزانو افتتاحيه ده:**

هر کله چې انسان د لمانځه عظمت ته به دقيق ډول سره فکر وکړي پوهيږی د الهی رحمت دروازی هغه وخت انسان ته خلاصيږي چې انسان د لمانځه او الهی دربار ته د رجوع په حالت کې وي.

هر کله چې يو معتقد مومن ته ستونزه پيدا شي اود حل لاره ونلري او يا په يو مرض مبتلا شي فورا لمانځه ته رجوع کوي، او خپل عرض او نياز پروردګار ته وړاندې کوي، او احساسوي چې الله يې مشکل ور اسانه کړ، د الهی رحمت او غيبي خزانو دروازې يي پرمخ خلاصې شوي اللهﷻ حقيقی

طبیب دی، او د انسان د مشکلاتو دوایې په لمانځه کې بیان کړې ده، کله چې انسان په څه ستونزه کې ګیر شي نو دخپل مشکل د حل لپاره طبیب ته ورځې ترڅو دوا ورکړي او علاج یې وشي، په ډیرو حالاتو کې ډاکتران نشی کولی مریض سره مرسته وکړي، الله‌ﷻ انسان ته د علاج او تداوی لار بیان کړې ده، دغه د مشکلاتو الهی علاج په لمانځه کې دی، ﴿وَٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ﴾ «په صبر او لمانځه سره مرسته وغواړي»، او پیغمبرﷺ به هم د ستونزو پر وخت لمانځه ته رجوع کوله، ځکه د لمانځه پر وخت ټولې پردې پورته کیږي او د بنده او رب ترمنځ هیڅ مانع نه وي، دا بنده کولی شي د لمانځه پر وخت خپل ستونزې پروردګار ذات ته وړاندې کړي له هغه مرسته وغواړیو او د خپل مشکل د حل لاره له هغه نه وغواړي.

**۲۰- لمونځ انسان خپلې ټولنې سره کړي:**

یو بل اثر چې لمونځ یې د مسلمانانو په ژوند کوي دادي چې د عین الهی قرب سره هغه له ټولنی سره هم تړي، او نسبت ټولو انسانانو، بلکه همغو ولو که غیر مسلمان هم وي، له ده څخه یو مسول فرد جوړوي او د لمانځه او د الله‌ﷻ د عبادت روح دی چې هیڅکله نه پریږدي چې یو فرد د الله‌ﷻ له مخلوق څخه بی تفاوته شي، او د اجتماعی مسولیت احساس ونلري.

پس لمانځه کې دوه لوی اثرونه دي: الف: فردی اثر چې الله‌ﷻ ته دده د نزدیوالی سبب ګرځي. ب: اجتماعی اثر، چې دی په ټولنه کې یو ټولنیز شخص ګرځوي.

یعنی نشی کیدل چې څوک دې عبادت او لمونځ کوونکی وي او په عین حال کې دی نسبت بشري ټولنې او خپلو همنوعاتو ته د هیڅ وظیفې او مسولیت احساس نکوي، او دغه د بشر دوستی احساس هغه وخت لا تقویت پیدا کوي چې انسان مجسد د الله‌ﷻ کور ته روان شی. او هلته له ټولو مسلمانانو سره ملاقات وکړي، په یو صف کې له هغوی سره لمونځ وکړي، او پدې شکل ټوله قریه د یو کور په شکل د یو بل له مشکل څخه خبر شي، او یو بل سره مرسته او کمک وکړي.

**۲۱– لمونځ د پیغمبر ﷺ اخري وصیت:**

حضرت رسول الله ﷺ به د لمانځه په هکله ډیر زیات تاکید کو او د پیغمبر ﷺ اخری خبرې همداوي چې «الصلاة الصلاة وما ملکت ایمانکم» لمانځه او بیا هم لمانځه او خپلو لاس لاندې ته پاملرنه کوي.

**۲۲– لمونځ یواځنی او همیشنی عبادت:**

لمونځ یوائنی او همیشنی فرض دی چې په ټولو باندې فرض دی نور عبادات په خاصو خلکو او خاصو وختونو کې وي مثلا حج او زکات یواځې په ثروتمند او سرمایه دارو مسلمانانو باندې فرض دی، روزه هر کال یو میاشت ده، خو لمونځ یواحنی عبادت دی چې له ایمان راوړلو وروسته پرته له هیڅ شرطه د هغه ادا کول په هر عاقل او بالغ مسلمان باندی فرض ده نر وي او که ښځه مسافر وي که تعقلیم غنی وي که فقیر، روغ ویا که مریض، هره ورح پنځه وخته لمونځ باید وکړي، او یواځې استثناد ښځینه و لپاره د حیض او نفاس حالت کې ده.

**۲۳– په خاص ځای کې د لمانځه د فرضیت فلسفه:**

هر وخت چې لمونځ له نورو عباداتو سره مقایسه کړو نو په لومړۍ مرتبه کې ټول عبادتونه پر ځمکه خو لمونځ هغه وخت چې رسول الله ﷺ اسمانونو ته عروج وکړ هغه په سدرة المنتهی کې هغه ځای چې الهی لوی دعوت پیغمبر ته ورکړ شوی و فرض شو، په دغسې ځای کې د ملانځه فرضیت د لمانځه منزلت ښه واضح کوي، او دا چې رسول الله ﷺ د معراج پر وخت دغسې تحفه تر لاسه کړه بناء هغه لوړ مقام د الهی دربار ته چې د هر مومن تقاضا ده لمونځ د هر مومن معراج دي. لمونځ مومن انسان د عسادتونو د حاصلولو لوړ مقام او پروردګار سره خبرو کولو ته کشوي. او هغه له ټیټو منزلو څخه هغه لوړو منزلو ته رسوي.

**۲۴– لمونح د ټولو پرښتو د عبادت خلاصه:**

څه وخت چې رسول الله ﷺ له اسمانونو تيريده او پرښتې يې ليدلې چې په مختلفو ډولونو د الله ﷻ په عبادت باندې مشغولې دي. يوه ډله د قيام په حالت، بله د قعدې په حالت بله د رکوع او بله هم د سجدې په حالت. دغه ښايسته منظر د رسول الله ﷺ زړه هم د يو ذات عبادت ته لکه پرښتو غوندې کش کړ، او دلته يې هيله وکړه چې کاش د هغو غوندې د الله ﷻ په عبادت باندې پداسې ډولونو سره مشغول وي، او کاش د غير چانس دده امت ته هم ميسره شوی و، هماغه و چې الله ﷻ يې دغه غوښتنه داسې ومنله چې پده باندې د لمانځه په هکله الهی حکم نازل شو، چې د مختلفو ملايکو د غو ټولو عبادتونو لکه قيام رکوع سجده او غيره ته شامليږي، او څوک چې لمونځ ادا کوي نو د ملايکو ټول اعمال يې ترسره کړي دي، او ځای يې له يو ملک نه بلکې له ټولو ملايکو سره يو رنګ کړی دی، او بدې اساس د ماديتله حالت نه وتلی او الهی دربار کې داسې معنوياتو سره تللی ته به وايې چه بی وزرو پرښته ده.

### ۲۵– لمونځ د مومنانو ترمنځ د عهد موجب دی:

په حديث شريف کې دي چې حضرت انس رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې زمونږ لمونځ کوي، او زمونږ قبلې ته مخ کوي او زمونږ په لاس ذبحه شوی حيوان خوري هغه له الله ﷻ او پيغمبر سره په عهد کې دی، بناء ددی عهد په ماتولو کې څه مه کوي – عن انس بن مالك قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «من صلى صلاتنا واستقبل...».

### ۲۶– لمونځ د توبی لار او نيکيو ته ګرځيدنه ده:

ګناه داسې شی ندی چې څو لحظو کې ترسره شي بلکې ګناه او معصيت د انسان زيات وخت نيسي او احيانا يوه ګناه ددې سبب کيږي چې د انسان زيات لمنځونه ترک او قضا شي.

هر کله چې څوک د لمانځه په اهميت پوه شوی وي، او هميشه خپل لمونځ په وخت ادا کړي او پوه شي چې پيغمبر فرمايلی دي «من ترك الصلاة فقد كفر» هر څوک چې لمونځ په قصد سره پريږدي کافر کيږي، او د علماو په وينا که حقيقی کافر نشي نو د کبيره ګناه مرتکب خو دي، او ځان يې کفر او د شيطان دوستۍ ته نزدی کړی دی، دغه مومن انسان که څه هم د شيطان وسوسو او نفسی غوښتنو په اساس يو هورځ د شيطان فريب خوړلی دی او د خپل ظالم نفس اژاعت يې کړی دي، او علاوه ل هدې معصيت څخه يې څو لمنځونه هم ترک کړي دي، خو ده ته ډيره لويه پښيمانی پيدا شويده، او فورا يې الهی دربار ته توجه کړيده، توبه کوي ژاړي او الله ﷻ څخه مغفرت غواړي او همدغه لمونځ سبب کيږی چې دی له دې ګناه څخه خپله پښيمانی اعلان کړي او د بيا لپاره تصميم نيسی چې بيا به دغی ګناه ته لاس نه اوږدوي.

ځکه دی بالاخره پوهيږي چې د يوې ګناه په ارتکاب سره د څو ګناهونو مرتکب شو او هم د خپل پروردګار له صحبت څخه محروم شو، ځکه ګناه باندې مشغوليت دده د دوست له ملاقات څخه مانع شو.

## ٢٧– لمونځ په ځوانۍ کې د الله ﷻ د دوستی لپاره يوه لاره ده:

له هيچا څخه پټه نده چې ځواني او بيا تنکۍ ځواني د يو انسان په ژوند کې اساسی او جوړوونکی مرحله ده، يو اروا پوهه وايي (په ځوانۍ کې د شخصيت او هويت مساله په پوره شدت سره نوې ميدان ته داخليږي، نو ځوانی او تنکۍ ځوانۍ د هستۍ يوه بارداره مرحله او مرتبه ده چې په هغې کې د لويو عمرونو شخصيت او هويت په قطعی ډول سره جوړيږي، او يا دوباره مطرح کيږي، د همدی هدف له مخی د اسلام مقدس دين لومړی د ځوانانو پاملرنه اعتقادی او اخلاقی باورونو ته سوق کوي، ترڅو ځوانان د خپل ژوند لومړۍ هستې هل معنوی باور او ارامتيا سره پيل کړي.

اکثره ځوانان دځوانۍ او تنکۍ ځوانۍ په حالت کې ډير دقيق او حساس وي، دوی غواړي په ټولنه او د نورو منځ کې دوستان ولري، او کله داسې هم کيږي چې دوی د يو ښّ دوست لپاره خپله ټوله هستي هيروي. او د خپل

دوست لپاره خپل روح ورکوي اصلا د دوست پیدا کولو عقلامندی ددی لپاره وي چې انسان په خپل ژوند کې یو راز دار ته ضرورت لري چې د دردونو، رنځونو، مشکلاتو او مصیبتونو ناکامیو او لغزشونو په وخت خپل دغه ګران دوست د خپلو رازونو محرم ګڼي او د خپل ژوند ټول اسرار هغه ته بیانوی. او دده دوست دده ټول مشکلات په حوصله مندۍ سره اوري او دده د ستونزو د حل لپاره ښه او ریښتینی مشاور وي. ولې ډیر داسې شوی دي چې مادی او مجازی دوتسان نه یوازې دا چې د مصیبتونو پر وخت د انسان یاور شوي ندي بلکې د ډیرو بدبختیو هغه چې په مخدراتو اخته شوی دي، علت یې د هغه مجلسونه او هغه دوستان دي چې یا په مخدراتو اخته و او یا د مخدراتو تاجران و. او هغه چې په اجتماعی جرمونو مبتلا شوي دی، علت یې هماغه د نا اهله دوستانو لارښوونې او مجلسونه و، چې ددې ځوانانو راتلونکی یې برباد کړ، او د هر جنایت تر شا د یو دوست لاس شته دی، دغه ځوان ډیر وخت ددغې ځوانۍ په اساس له خطرونو سره مخ شوی دي، چې پای کې نا امیده شوي دي او له ژوند او دوستانو څخه یې نفرت کړی دي خو هر کله چې یو ځوان له هماغه پیله د اللهﷻ سره معرفت پیدا کړي، خپل خالق وپیژنی او هغه خپل دوست وګڼی او له اللهﷻ سره شدید محبت وکړي نو دده دغه محبت او دوستی له پروردګار سره دی د نیوی سعادتونو او اخروی نیکیو ته رسوي، هر کله چې غواړي خپله دغه دوست سره خبرې وکړي لمانځه ته ځي، اود سجدې پر وخت خپل ټول مشکلات هغه ته بیانوي، او کله چې غواړي دوست یې له ده سره خبرې وکړي، قران عظیم الشان د معنیله پوهیدلو سره وایي او درک کوي چې په هره ستونزه کې دغه دوست له ده سره دی، یو قوي، توانا، قادر، انتقام ګیر، مشکل کشا او مرسته کوونکی دوست دی.

دغه د پروردګار دوستی دی له ډیرو مجازی دوستانو څخه مستغنی کوي هه کولی شي د الهی دربار سوري کې خپلو ټولو مقاصدو ته ورسیږي. شاعر وایي:

آنکس‌که‌تورا شناخت جان‌را چی‌کنـد　　فرزند و عیال و خانمان را چی کند؟

دیوانـه کنـی هـردو جهـانش بخشـی      دیوانهٔ تو هردو جهان را چی کنـد؟

له همدی لامله هغه ځوان چې له پیله د اللهﷻ په یاد باندې مشغول وي، له اللهﷻ سره دوستی وکړي د قیامت په ورځ د لویې مرتبې او چوکۍ مستحق کیږي هغه ورځ چې پنحوس زره کاله ده پدې ورځ به دغه شخص د الهی رحمت د سوري لاندې وي.

**۲۸– رکوع د پروردګار د تعظیم سر:**

شیطان همیش هڅه او کوشش کوي چې د مخلقو عظمت د انسان په زړه کې راولي او بنده د اللهﷻ له یاد څخه لرې د مخلوق تعظیم ته کش کړي، رکوع په لمانځه کې د اللهﷻ د عظمت بیان دی، او لمونځ کوونکی انسان پنځه وخته د اللهﷻ پر عظمت اقرار کوي، او دا چې بت پرستان او مخلوق پرستان د باطلو معبودانو مخ کې دریږي او د تعظیم سر ښکته کوي د اللهﷻ مخلص بندګان د تعظیم سر صرف الهی دربار ته ښکته کوي او په هره رکوع کې وايي: سبحان ری العظیم (پاک دی زما با عظمته پروردګار) د رکوع د فلسفې خلاصه خبره داده چې هیڅ بنده اللهﷻ ته رکوع نشي کولی مګر دا چې اللهﷻ هغه په خپل نور سره ښایسته کړی وي او د خپلې کبر یا سوري ته یې راوستی او د خپلو غوره خلکو لباس یې ور اغوستی وي، رکوع اوله سجده دویمه مرحله ده هر څوک چې اوله پر ځای کړي د دویمې مستحق دي، نو رکوع باید پوره خشوع او خضوع وي ترڅو سجده هم پوره شي.

له ربیع بن خثیم څخه روایت کوي چې په یوې رکوع به یې شپه تیروله او چې کله به سهار شو وبه درید او ویل به یې اه مخلصان مخکی شو او مونږ لاره کې پاتې شو.

نو ای باوري مومنه خپله رکوع کامله کړه یعنی خپله د ملا تخته سمه کړه، او داسې وګڼه چې پخپل قدرت او همت سره د هغه خدمت کې ولاړ یې، او دا پرته د هغه له دوستۍ څخه نه ښایي. زړه د شیطان له وسوسو، فریبونو او چلونو څخه خلاص کړه، چې اللهﷻ هغه بندګان لوړ وي چې ده ته سرښکته

کوي، او هغه چې په هر اندازه د دوی باطن کې د اللهﷻ عظمت پیدا شي د عاجزۍ حقیقت ته رسوي او د خپلې لارې هدایت ورته کوي.

او په رکوع کې د غاړې اړدولو معنی داده چې اللهﷻ باندې ایمان لرم که څه هم غاړه مې وهل کیږي، او له رکوع څخه د سر پورته کولو او «سمع الله لمن حمده» ویلو معنی داده چې هر مسلمان پدې عقیده دی چې د اللهﷻ ذات زموږ حمد او ثنا اوري. کله مو چې دده دربار ته د تعظیم سر ښکته کړ او ژبه مو د هغه په عظمت خلاصه کړه نو ټول اوري او پخپله د هر حمد عوض را کوي او دا د اللهﷻ په حمدیت باندې عملي اقرار دي، او هیڅکله دغه انسان چاته نه ورځي او له واسطي څخه صرف نظر کوی بلکي خپل نیک اعمال الهی دربار ته د تقرب وسیله ګرځوي.

**۲۹– سجده د کمال بندګی نښه:**

سجده د ربوبی قدسیت سوری لاندې سر راوستل دي، او له خپله ځانه سترګی پټول، د بدن لوی موقیعت چې دی، هغه پخ خاورو ایښودل او ځان کم شمیرل دي. د سجدې روح له مادی او فانی امورو څخه د زړه خلاصول، او له دینوی علایقو څخه د علاقې قطع کول دي. د سجدې حیقت له معبود سره اتصال دي، او په مقام محمود کې له پروردګار سره د بنده وصال دی. اللهﷻ ته د قرب غوره حالت دی، چې ذات اقدس پدې هکله فرمایي ﴿وَٱسۡجُدۡ وَٱقۡتَرِب۩ ١٩﴾ «سجده وکړه او نزدي شه» ځکه چې قرب په سجده کې پت دی په همدې دلیل کولی شو ادعا وکړو چې د بندګۍ د کمال نښه په سجده کې ده. او په روایت کې راغلي دي چې اللهﷻ ابراهیم؈ د لویو سجدو په واسطه خپل خلیل وګرځو. او په روایاتو کې د سجدی سردار غلی چې انسان د هر ننګ تکبر او ځان غوښتنی خیال له ځان څخه نفی کوي او ټول عظمت او کبریا د هغه ګنی.

وايی چې يو سړی رسول اللهﷺ ته راغی او ويې ويل ای رسول اللهﷺ: زما ګناه وې ډېرې زياتی دي، او نيک عمل می کم، پيغمبر ورته وفرمايل زياتی سجدې کوه ځکه سجده ګناه له منځه وړي، لکه باد چې د ونې پاڼی وړي.

لنډه دا چې علیؓ د سجدې په هکله د پوښتنې په ځواب کې وايي: لومړی سجده دا معنی لری چې اللهﷻ مونږ له خاورې څخه پيدا کړي يو، او سجدې څخه د سر پورته کولو معنی داده چې ای الله تا مونږ له خاوری څخه پيدا کړي يو، او د دويمې سجدې معنی داده چې ای الله مونږ بيا خاورې ته بيايي، او له دويمې سجدې د سر پورته کولو معنی داده چې ای الله د قيامت کې به مو بيا له خاورې څخه را پورته کوي.

**۳۰- تشهد د اللهﷻ په وړاندې ناسته:**

باطل پرستان هر ځاني د باطلو معبودانو په وړاندې کيني ټول احترامات، پاکی و خپل عبادت هغوی ته تر سره کوي، ولې حقيقي مومنان هيڅوک له اللهﷻ سره نه شريکوي. بلکې د خپل پروردګار مقابل کې په نهايت احترام سره کينی او ټول احترامات پاکي او درودونه پروردګار ذات پورې مخصوص ګڼی او په هغی اقرار کوي. مومن بنده دا الفاظ په يو والی او د حضرت محمدﷺ په رسالت باندې د شهادت تکرار او تجديد دي، چې هغه د اللهﷻ بنده او رسول ګڼي چې واقع کې په اسلام او ايمان باندې تاکيد دی.

بنده لکه څرنګه چې د ونيا او قول په مقام کې د بندګۍ اظهار کوي بايد ددغه کلام معنی ته هم د ضمير له صفا سره پيوند ورکړي او په ټول وجود د اللهﷻ بندګی وکړي. ځکه هغه بايد پوه شي چې ټول امور د هغه په لاس کې دي، او هيڅ اراده پرته د هغه له ارادې او غوښتنې د هستۍ په نظام کېد هيڅ کار په کولو قادره نده.

لنډه دا چې د تشهد له مهمو اسرارور څخه يو داده چې بنده دپروردګار مقابل کې ناست دي او اوس ته يو نوی حالت سره د احترام تجديد او الهی دربار ته د بندګۍ اظهار کوي.

بنده ژبه له زړه سره، او دنيا له كردار سره هماهنګ كوي او عبوديت له كثرت پرستۍ څخه د توحيد او يو پرستۍ نظام ته انتقالوي همدارنګه دا بنده په رسول كريمﷺ باندې درود او سلام استوي، او له الهي درباره هغه ته د زيات رحمت غوښتنه كوي.

همدارنګه په دريم مرحله كې خپل ځان او نيک بندګان هم په ياد لري هغوی ته هم د سلامتې او الهي رحمت غوښتنه كوي.

د شهادت كلمې سره عبادات الله‌ﷻ پورې خاص كوي، او محمدﷺ ته د الله‌ﷻ بنده او رسول وايي او هر چاته د خپل مقام او منزلت مطابق احترام كوي، الهي مقام د عبوديت مقام دی او د پيغمبر مقام د بندګۍ او رسالت مقام دی.

او د لمانځه په پای كې د تشهد معنی دخپل ژوند سر مشق ګرځوي چې عبارت دي له:

۱- التحيات لله — ټول قولي عبادتونه خاص الله‌ﷻ لره دي.

۲- والطيبات — ټول مالي عبادتونه خاص الله‌ﷻ لره دی.

۳- والصلوات — ټول بدني عبادتونه خاص الله لره دی.

٤- درود او سلام په الهي استازی.

٥- خپل ځان او ټولو مومنانو ته د سلامتۍ دعا.

٦- يواځې الهي دربار ته د عبادت په تخصيص اعتراف.

۷- د حضرت محمدﷺ په رسالت او بندګی اعتراف.

## د لمانځه د الفاظو معنا

كله چې يو مسلمان د ذو الجلال ذات په وړاندې دريږي په حقيقت كې له خپل پروردګار سره خبرې كوي بناء هغه چې په لمانځه نه پوهيږي نو د لمانځه لذت هم نشي درک كولی پدې ځای كې د لمانځه د معنی سيي پوهيدلو لپاره مو د لمانځه د معنی په هكله يو بحث غوره كړ.

الله اكبر، الله‌ﷻ لوی دی

ددې لپاره چې مومن انسان خپل لمونځ قلبی حضور او د اللهﷻ مقابل کې د تواضع عاجزۍ او خشوع اظهار وکړي د لمانځه په پیل کې د اللهﷻ لویوالی او عظمت ته پخپل زړه کې ځای ورکوي او وایي الله اکبر، الله لوی دی. د لمانځه پیل کې د اللهﷻ پاکی وایي حمد او ثنا وراستوي د نوم برکت یې په ژبه راولي د هغه عالی مقام او منزلت یادوی او اعتراف کوی چې پرته له اللهﷻ بل معبود د عبادت وړ ندی دا معانی په دی الفاظو کې رائحي.

| | |
|---|---|
| الله اکبر | اللهﷻ لوی دی |

ددې لپاره چې مومن انسان خپل لمونځ قلبی حضور او د اللهﷻ مقابل کې د تواضع عاجزۍ او خشوع اظهار وکړي د لمانځه په پیل کې د اللهﷻ لویوالی او عظمت ته پخپل زړه کې حای ورکوي او وایي الله اکبر، اللهﷻ لوی دی. د لمانځه پیل کې د اللهﷻ پاکی وایي حمد او ثنا وراستوي د نوم برکت یې په ژبه راولي د هغه عالی مقام او منزلت یادوي او اعتراف کوي چې پرته له اللهﷻ بل معبود د عبادت وړ ندي دا معانی په دې الفاظو کۍ رائحي.

| | |
|---|---|
| سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ | تا لره پاکی ده ای الله |
| وَبِحَمْدِكَ | او ثنا او صفت تالره دي. |
| وَتَبَارَكَ اسْمُكَ | او با برکته دی ستا نوم. |
| وَتَعَالَى | او ډیره لویه دی. |
| جَدُّكَ[۱]. | ستا لویي. |
| وَلاَ إِلَهَ | او نشته هیڅ بر حقه معبود |

۱- والجَدُّ، لله تبارك وتعالى: العَظَمَةُ. ومنه حديث أَنَس: «كان الرجل منّا إذا حفظ البقرةَ وآلَ عمران جَدَّ فينا»، أي عَظُمَ في أعيننا. (معجم جمهرة اللغة)

| | |
|---|---|
| غَيْرُكَ | پرته له تا څخه |

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلاَإِلَهَ غَيْرُكَ

پاکی ده تالره ای الله او ثنا او صفت تالره دی او بابرکته دی ستا نوم او ډیره لویه ده ستا لویي او نشته هیڅ برحقه معبود پرته له تا څخه.

بیا دغه مومن د شیطان له وسوسو اولاس وهنو څخه اللهﷻ ته پناه وړي او خپل لمونځ د هغه پروردګار په نوم سره پیل کوي چې ښښونکی او مهربان دی.

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ

پناه وړم اللهﷻ ته د رټل شوي شیطان څخه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيمِ

شروع کوم د اللهﷻ په نوم سره چې ښښونکی او مهربان دی.

| | |
|---|---|
| ﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝٢﴾ | ثنا او صفت خاص الله لره ده چې د مخلوقاتو رب دی |
| ﴿ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝٣﴾ | زیات ښښونکی او زیات مهربان دی |
| ﴿مَٰلِكِ يَوْمِ ٱلدِّينِ ۝٤﴾ | مالک د ورځې د آخرت دی |
| ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝٥﴾ | خاص تاته عبادت کوو او خاص له تا مرسته غواړو |
| ﴿ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ۝٦﴾ | هدیات وکړه مونږ ته د نیغی لارې |
| ﴿صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ | لار د هغو خلکو چې تا نعمت کړی په هغوی |
| غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ | غضب دې ندی کړي په هغوی باندې |
| وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ۝٧﴾ | او ګمراهان دي |

د سورة الناس معنی

| | |
|---|---|
| ﴿ قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ١﴾ |ووایه پناه وړم د خلکو رب ته |
| ﴿مَلِكِ ٱلنَّاسِ ٢﴾ | دخلکو پادشاه ته |
| ﴿إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ٣﴾ | دخلکو اله ته |
| ﴿مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ ٤﴾ | له شر د وسوسه اچوونکی او پټیدونکی |
| ﴿ ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ ٥﴾ | هغه چي وسوسه اچوي په سینو د خلکو کې |
| ﴿مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ٦﴾ | له پیریانو او له خلکو څخه |

## دسورت الفلق معنی

| | |
|---|---|
| ﴿ قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ١﴾ | ووایه پناه وړم د سهار رب ته |
| ﴿مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ٢﴾ | له شر د هغه څه چي پیدا کړي یي دي |
| ﴿وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ٣﴾ | او له شر د تیارې کله چې خپره شي |
| ﴿وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ ٤﴾ | او له شر د پوکوونکو ښځو په غوټو کې |
| ﴿وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ٥﴾ | او له شر د حسد کوونکی کله چې حسد کوي |

## دسورت اخلاص معنی

| | |
|---|---|
| ﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١﴾ | ووایه هغه یو الله دی |
| ﴿ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ٢﴾ | الله بی نیازه ده |
| ﴿لَمۡ يَلِدۡ | ځوک له ده نه ندي بیدا شوي |
| وَلَمۡ يُولَدۡ ٣﴾ | او نه دی له چا نه بیدا شوی دی |
| ﴿وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ٤﴾ | او نشته ده لره سیال هیڅوک |

## دسورت لهب معنی

| | |
|---|---|
| ﴿ تَبَّتۡ يَدَآ أَبِي لَهَبٍ | هلاک دې وي دواړه لاسونه د ابولهب |
| وَتَبَّ ١﴾ | او تباه دې وي |
| ﴿مَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُ مَالُهُۥ | فايده ونکړه ده ته مال دده |
| وَمَا كَسَبَ ٢﴾ | او هغه څه چې كسب يې كړی دی |
| ﴿سَيَصۡلَىٰ نَارًا | زرده چې داخل به شي اور ته |
| ذَاتَ لَهَبٍ ٣﴾ | خاوند د لمبو |
| ﴿وَٱمۡرَأَتُهُۥ | او ښځه دده |
| حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ ٤﴾ | کشوونکی د لرګيو |
| ﴿فِي جِيدِهَا | په غاړه کې يې |
| حَبۡلٌ | رسۍ ده |
| مِّن مَّسَدِۭ ٥﴾ | دخرما له پوستکی |

## د سورت النصر معنی

| | |
|---|---|
| ﴿ إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ | کله چی راشی د الله مرسته |
| وَٱلۡفَتۡحُ ١﴾ | او کاميابی |
| ﴿وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ | او ووينې خلک |
| يَدۡخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفۡوَاجًا ٢﴾ | چې داخليږي د الله په دين کې ډلې ډلې |
| ﴿فَسَبِّحۡ | نو تسبيح ووايه |
| بِحَمۡدِ رَبِّكَ | ستا د رب په ثنا سره |
| وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ | او طلب د مغفرت وکړه |

| | |
|---|---|
| إِنَّهُۥ | بی‌شکه ده هغه |
| كَانَ تَوَّابَۢا ﴿٣﴾ | ډیر توبه قبلوونکی |

د سورت الکافرون معنی

| | |
|---|---|
| ﴿قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿١﴾ | ووایه ای کافرانو |
| ﴿لَآ أَعۡبُدُ | زه عبادت نکوم |
| مَا تَعۡبُدُونَ ﴿٢﴾ | د هغه څه چې تاسې عبادت کوي |
| ﴿وَلَآ أَنتُمۡ | او نه تاسې |
| عَٰبِدُونَ | دعبادت کوي |
| مَآ أَعۡبُدُ ﴿٣﴾ | دهغه څه چې زه عبادت کوم |
| ﴿وَلَآ أَنَا۠ | او نه زه |
| عَابِدٞ | عبادت کوم |
| مَّا عَبَدتُّمۡ ﴿٤﴾ | د هغه څه چې تاسې عبادت کوي |
| ﴿وَلَآ أَنتُمۡ | او نه تاسې |
| عَٰبِدُونَ | عبادت کوی |
| مَآ أَعۡبُدُ ﴿٥﴾ | د هغه څه چې زه عبادت کوم |
| ﴿لَكُمۡ | تاسې ته |
| دِينُكُمۡ | ستاسی دین دی |
| وَلِيَ | او ماته |
| دِينِ ﴿٦﴾ | زما دین دی |

## د سورت الکوثر معنی

| | |
|---|---|
| ﴿إِنَّآ أَعۡطَيۡنَٰكَ ٱلۡكَوۡثَرَ ١﴾ | حقیقتا مونږ درکړی تاته کوثر |
| ﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ | نو لمونځ وکړه خپل رب ته |
| وَٱنۡحَرۡ ٢﴾ | او قربانی وکړه |
| ﴿إِنَّ شَانِئَكَ | بی شکه ستا دښمن |
| هُوَ ٱلۡأَبۡتَرُ ٣﴾ | هغه بی پریکړی شوی دی |

## د سورت الماعون معنی

| | |
|---|---|
| ﴿أَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ ١﴾ | آیا لیدلی دي د هغه‌کس چې په دین دروغ تړی |
| ﴿فَذَٰلِكَ ٱلَّذِي يَدُعُّ ٱلۡيَتِيمَ ٢﴾ | او هغ کس چې یتیمان تېل وهی |
| ﴿وَلَا يَحُضُّ | او تشویق نکوي |
| عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ٣﴾ | په ډوډۍ د مسکینانو |
| ﴿فَوَيۡلٞ لِّلۡمُصَلِّينَ ٤﴾ | پس هلاکت دی لپاره د لمونځ کوونکو |
| ﴿ٱلَّذِينَ هُمۡ عَن صَلَاتِهِمۡ سَاهُونَ ٥﴾ | هغه چې هغوی له خپل لمانځه څخه غافله‌دي |
| ﴿ٱلَّذِينَ هُمۡ يُرَآءُونَ ٦﴾ | هغه چې هغوی ریا کار کوي |
| ﴿وَيَمۡنَعُونَ ٱلۡمَاعُونَ ٧﴾ | او منع کوي د کومک شیان |

## د سورت قریش معنی

| | |
|---|---|
| ﴿لِإِيلَٰفِ | دالفت د شکر اداکولو لپاره |
| قُرَيۡشٍ ١﴾ | د قریشو |

| | |
|---|---|
| ﴿إِۦلَٰفِهِمۡ | الفت د دوی له |
| رِحۡلَةَ | سفرونو |
| ٱلشِّتَآءِ | د ژمی |
| وَٱلصَّيۡفِ ۝٢﴾ | او ووړي سره |
| ﴿فَلۡيَعۡبُدُواْ | نو عبادت دې وکړي |
| رَبَّ | رب |
| هَٰذَا | ددغه |
| ٱلۡبَيۡتِ ۝٣﴾ | کور ته |
| ﴿ٱلَّذِيٓ | هغه ذات |
| أَطۡعَمَهُم | چې خوراک يې ورکړل دوی ته |
| مِّن جُوعٖ | له لوږې څخه |
| وَءَامَنَهُم | او امن يې ورکړ دوی ته |
| مِّنۡ خَوۡفِۭ ۝٤﴾ | له ويرې |

## د سورت الفيل معنی

| | |
|---|---|
| ﴿أَلَمۡ تَرَ | آيا ندې دی ليدلی |
| كَيۡفَ | چې څرنګه |
| فَعَلَ | کار وکړ |
| رَبُّكَ | رب ستا |
| بِأَصۡحَٰبِ ٱلۡفِيلِ ۝١﴾ | دفيل له خاوندانو سره |
| ﴿أَلَمۡ يَجۡعَلۡ | د دوی چل |

| | |
|---|---|
| كَيْدَهُمْ | او راويي ليږه |
| فِي تَضْلِيلٍ ﴿٢﴾ | مرغان |
| ﴿وَأَرْسَلَ | چې ولې دوی |
| عَلَيْهِمْ | د دوزخ |
| طَيْرًا | لکه وانبه |
| أَبَابِيلَ ﴿٣﴾ | ایا ویي نه ګرځو |
| ﴿تَرْمِيهِم | پی ګمراهی کې |
| بِحِجَارَةٍ | په دوی باندې |
| مِّن سِجِّيلٍ ﴿٤﴾ | د ابابیل |
| ﴿فَجَعَلَهُمْ | په تیګو |
| كَعَصْفٍ | نو ویي ګرځول |
| مَّأْكُولٍ ﴿٥﴾ | خوړل شوي |

## د سورت العصر معنی

| | |
|---|---|
| ﴿وَٱلْعَصْرِ ﴿١﴾ | قسم په زمانه |
| ﴿إِنَّ ٱلْإِنسَـٰنَ | په تحقیق چې انسان |
| لَفِى خُسْرٍ ﴿٢﴾ | په تاوان کی دي |
| ﴿إِلَّا ٱلَّذِينَ | مګر هغه خلک |
| ءَامَنُوا۟ | چي ایمان یي راوړی دی |

| | |
|---|---|
| وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ | او نیک عملونه یې کړي دي |
| وَتَوَاصَوۡاْ | او وصیت یي کړی دی |
| بِٱلۡحَقِّ | په حق سره |
| وَتَوَاصَوۡاْ | او وصیت یي کړي دی |
| بِٱلصَّبۡرِ ۝٣ | په صبر سره |

| | |
|---|---|
| سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْم | پاک دی زما لوی رب |

| | |
|---|---|
| سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهْ | الله اوري او قبلوی د هغه چا څخه چې د هغه حمد وايي |

| | |
|---|---|
| رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ | ای زمونږ ربه تنها تالره حمد |
| ربنا ولك الحمد حمداً كثيراً طيباً مباركاً فيه ملء السموات وملء الأرض وملء ما بينهما وملء ما شئت من شيء بعد. | |

ای زمونږ ربه تالره حمد دی ډیر زیات حمد پاک او مبارک، په ډکوالی د اسمانونو، ډکوالی دځمکې ډکوالی دمنح ددې دواړو او ډکوالی دخه شي چې ته غواړې وروسته له دینه

| | |
|---|---|
| سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلي | پاکی ده تالره ای زمونږ لويه ربه |

د جلسې د ناستي یعنی د دوه سجدو ترمنځ دي دا دعا ولولی

«رب اغفر لي وارحمني وعافني وارزقني واهدني واجبرني».

| | | |
|---|---|---|
| رب | اغفر لي | وارحمني |
| ای ربه | ماته مغفرت وکړه | او په ما رحم وکړه |

| | | |
|---|---|---|
| وعافني | وارزقني | واهدني |
| او ماته عافيت راکړه | او ماته رزق راکړه | او ما ته هدايت وکړه |

| | |
|---|---|
| واجبرني | او زما کمی جبران کړه |

| | |
|---|---|
| اَلتَّحِيَّاتُ | ټول تعظیمونه یا ژبنی عبادتونه |
| لِلّٰهِ | خاص الله لره دي |
| وَالصَّلَوَاتُ | او ټول لمنځونه یا بدنی عبادتونه |
| وَ الطَّيِّبَاتُ | او ټوله پاکی یا مالی عبادتونه |
| اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ | سلام په تا |
| اَيُّهَا النَّبِيُّ | ای پیغمبره |
| وَرَحْمَةُ اللّٰهِ | او رحمت د الله |
| وَ بَرَكَاتُهٗ | او برکات د هغه |
| اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا | او سلام دې وي پر مونږ |
| وَ عَلٰي عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ | او د الله په نيکو بندګانو |
| اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ | شاهدی ورکوم چی نشته حق معبود پرته له الله څخه |
| وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَ رَسُوْلُهٗ) | او شاهدی ورکوم چې محمد د هغه بنده او رسول دی |

| | |
|---|---|
| اَللّٰهُمَّ | ای خدایه |
| صَلِّ | درود او رحمت ولیږه |
| عَلٰی مُحَمَّدٍ | په محمد |
| وَ عَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ | او ال د محمد |
| کَمَا صَلَّیْتَ | لکه څرنګه چې دې درولیږلی |
| عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ | په ابراهیم |
| وَ عَلٰی آلِ اِبْرَاهِیْمَ | او ال د ابراهیم |
| اِنَّكَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ. | بی شکه ته ستایل شوی او لوی یې |

| | |
|---|---|
| اَللّٰهُمَّ | ای خدایه |
| بَارِكْ | برکت وکړه |
| عَلٰی مُحَمَّدٍ | په محمد |
| وَ عَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ | او ال د محمد |
| کَمَا بَارَکْتَ | لکه چې برکت دې کړي |
| عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ | په ابراهیم |
| وَ عَلٰی آلِ اِبْرَاهِیْمَ | او آل د ابراهیم |
| اِنَّكَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ. | بی شکه ته ستایل شوی او لوی یې |

| | |
|---|---|
| اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا | ای خدایه زمونږه ربه |
| آتِنَا | را کړه مونږ ته |

| | |
|---|---|
| فِي الدُّ نْيَا حَسَنَةً | په دنيا ښه |
| وَ فِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً | او په اختر ښه |
| وَ قِنَا | او وساته مونږه |
| عَذابَ النَّارِ | د اور له عذاب څخه |

| | |
|---|---|
| السلام عليكم ورحمة الله وبركاته | سلامتى دې وي په تاسې او د الله رحمت |

دعاى قنوت

| | |
|---|---|
| اَللّٰهُمَّ | اى الله |
| اِنَّا | مونږه |
| نَسْتَعِيْنُكَ | كومک غواړو تا نه |
| وَنَسْتَغْفِرُكَ | او ښښنه غواړو تا نه |
| وَنُؤْمِنُ بِكَ | او ايمان لرو په تا |
| وَ نَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ | او توكل كوو په تا |
| وَ نُثْنِيْ عَلَيْكَ الْخَيْرِ | او تا باندې نيكه ثنا استوو |
| وَ نَشْكُرُكَ | او ستا شكر وايو |
| وَ لَا نَكْفُرُكَ | او ستا كفران نه كوو |
| وَ نَخْلَعُ | او پرېږدو |
| وُ نَتْرُكُ | او خوشي كوو |

| | |
|---|---|
| مَن يَّفْجُرُكَ | څوک چې ستا نافرمانی کوي[1]. |
| اَللّـهُمَّ | ای الله |
| اِيَّـاكَ نَعْبُدُ | خاص ستا عبادت کوو |
| وَلَكَ نُصَلِّيْ | او تاته لمونځ کوو |
| وَنَسْجُدُ | او سجده کوو |
| وَاِلَيْكَ نَسْعي | او تاته هڅه کوو |
| وَنَحْفِدُ | او په منډه حاضرېږو |
| وَنَرْجُوْ رَحْمَتَكَ | او ستا د رحمت امید لرو |
| وَنَخْشي عَذَابَكَ | او ستا له عذاب وېرېږو |
| اِنَّ عَذَابَكَ | حقیقتا ستا عذاب |
| بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ. | په کافرانو نښتی دی |

## د جماعت لمونځ اود اسلامي ټولنې په جوړولو کې د هغې نقش:

﴿وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ۝٤٣﴾ [البقرة: ۴۳] «لمونځ وکړي، او زکات ورکړي او رکوع له رکوع کوونکو سره».

د اسلام مقدس دین د انسانی ټولنې دین دي، او احکام يې هم د ټولنې متعلق دي، او همیشه خلک په یو ځای کې ژوند کولو اود اجتماعی روابطو لرلو ته تشویقوي، ددې لپاره چې اسلامی ټولنه په هماغو اساسي ایمانیاتو تبارز وکړي لازم ده چې هر مومن فرد خپل ځان د اسلامي ټولنې جز وګڼي د ټولو د ارامش او د خلکو ترمنځ د ژوند لپاره هڅې او کوشش کوي.

---

۱- (فجر) فجرا وفجورا انبعث في المعاصي غير مكترث

د جماعت لمونځ يو له هغو اساساتو څخه ده چې دغه بنياد مستحکموي، او د مسلمانانو ترمنځ رابطه زياتوي او ښه کوي. او هر چيرته چې د جماعت کولو عدد زيات دی په هماغه اندازه ددغې منطقی د خلکو ترمنځ صميميت او دوستی زياتيږي، او چرته چې د جماعت کوونکو تعداد کم دی نو د دوی ترمنځ اجتماعی ارتباط سست او بی پايه دی.

هر کله چې ټولو قرآنی آياتونو مراجعه وکړي چې خالق ذات سره د انسان او اړيکي په ګوته کوي. که ديته نظر واچوو، نو هميشه داسې اصطلاح استعمال شوی دي چې د مسلمان ارتباط په درې اصولو باندې جوړ وي:

۱ - د انسان ارتباط له خالق سره.

۲ - د انسان ارتباط خپل ځان سره.

۳- د انسان ارتباط خپلې ټولنې سره.

له خلکو او ټولنی سره

د مسلمان دارتباط موضوع د اسلام مقدس دين يو مهم اساس دي، د اسلام اکثره احکام د انسان خلکو او ټولنې له ارتباطاتو پورې مربوط دي او هره دعا چې مسلمان کوي خپل ځان او نورو ته يې کوي اياک نعبد- خاص تاته عبادت کوو- واياک نستعين او خاص له تا مرسته غواړو ربنا اتنا فی الدنيا حسنه — ای الله‌ﷻ راکړې مونږ ته په دنيا کې نيک، .

دجماعت لمونځ هم يو له دغو عباداتو څخه دی چې د يو مومن له ارتباط لوموړی له خپل پروردګار سره بيا له خپل ځان او بيا ټولنې سره تامينوي.

پدې اساس دا ارتباط په لاندې ډول د مطالعې لاندې نيسو:



**۱- خالق ذات سره په رابطه پیدا کولو د لمانځه تاثیر:**

د جماعت لمونځ په لومړۍ مرحله کې د مسلمان ارتباط له خپل خالق سره تامینوي، چې مونږ پدې هکله مخکې هم د لمانځه فلسفې مفصلا بیان کړې، مونږ څرنګه کولی شو چا سره ارتباط ولرو خو کور ته یې نه ورځو، لمونځ چې د جماعت ادا کولو ځآی دی هغه یې د اللهﷻ د کور د عزت او احترام لپاره نومول دی پداسې حال کې چې اللهﷻ د کور له لرلو پاک او منزه دی، او د کور لرلو ته ضرورت نلری ولی مسجد د اللهﷻ د عبادت ځای دی، تاسې فکر وکړی چې یو دوست لری چې همیشه د دوستۍ ادعا کوی او عملا بیا د هر چا کورته ځي ستاسې همسایه کره هم ځي خو هیڅکله ستاسې کور ته نه راځي او سل ځلې ستاسې دکور مخې ته تیرېږي ولې ستاسې د کور دروازه نه ټکوي خو کله چې هغه سره ملاقات کوي وایي زه ستا دوست یم، ایا پدې دوستۍ به باور وکړي؟

پرته له شکه هغه ته یو فریبکار او دروغجن انسان وایي، ځکه د هغه عمل د هغه د وینا وخلاف دی او د هر چا عمل چې د وینا خلاف وي هغه ریښتینی انسان ندي، په همدې ډول د چا ارتباط چې له مسجد سره قطع وي.

**۲- د جماعت لمونځ تاثیر په فردي ژوند:**

د جماعت لمونځ د انسان فردی ژوند کې زیات مثبت تاثیرونه لري، چې کولی شو هر یو په لاندې ډول د مطالعې لاندې ونیسو:

**الف: له الله سره ملاقات**

مومن انسان له خپلو دوستانو سره ملاقاتونه لري، د هغوی کور ته ورځې هغوی سره راز او نیاز کوي او کله چې خپل دغه راز او نیازپه یو ځایی ډول سره ترسره کوي وینی چې ټول د پروردګار په وړاندې ولاړ دي او ددنیا او آخرت سعادت غواړي، او پروردګار هم د هغوی خبرې اوري او هغوی خپل کور کې نه محروموي.

**ب: د جماعت لمونځ د فرد او ټولنې ترمنځ پیوند**

کله چې مومن انسان د اللهﷻ په وړاندې ودریږي احساس کوي چې دی د یو نړۍ با تقوا انسانانو سره ارتباط لري، چې ټول په منظم ډول د یو اللهﷻ په وړاندې ولاړ دي، د جماعت لمونځ ده ته له ټولو هغو کسانو سره پیوند ورکوي چې ده سره صف کې ولاړ دي، او همدا ده چې لمونځ له اللهﷻ او د هغه له مخلوقاتو سره د ارتباط ښه وسیله ده چې نتیجه یې قلبی اطمینان دی.

**ج: د جماعت لمونځ د خدای د کور دعوت دي**

کله چې یو مسلمان د اللهﷻ کور ته ځي او دغه تګ د الهی ارشاد په اساس دی نو ده د پروردګار دعوت ته لبیک ویلی دی، او څوک چې د چا دعوت ته لبیک ووایي د کور خاوند هم د هغه ډیر زیات عزت او احترام کوي.

**د: د جماعت لمونځ د ژوند د تنظیم لار**

مومن انسان پوهیږي چې د پروردګار ملاقات ته تلل د یو منظم تقسیم اوقات له مخې دي چې روزانه پنځه وخته په مختلفو وختونو کې عملي کیږي او پدې اساس د ټولو مسلمانانو لپاهر درس دی ترڅو د ټولنې هر فرد له ټولو مومنانو سره یو ځای د منظم تقسیم اوقات له مخې خپل ټول د نیوي او اخروی امور تنظیم کړي.

**ه: د جماعت لمونځ د زیات ثواب لار**

هر مسلمان هڅه او کوشش کوي چې زیات ثواب ترلاسه کړي او دغه ثواب د الهی احکامو په تطبیق حاصلیږي بناء مومن انسان کولی شي جماعت کې په اشتراک سره کولی شی خپل ثواب ۲۵ یا ۲۷ درجې فضیلیت لري[۱].

او حضرت ابی سعید الخدری وایي له رسول اللهﷺ څخه مې واوریدل چې د جماعت لمونځ نسبت فردي لمونځ ته ۲۵ درجې فضیلت لري[۱].

---

۱- «عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلَاةَ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً» حدیث نمبر(۶۰۹) کتاب الاذان، بخاري شریف

**و: د جماعت لمونځ د الله ﷻ لاره کې د قدمونو زياتوالي**

د قيامت په ورځ ان د انسان قدمونه چې په کومه لاره تللی دی د اجر او ثواب لامل ګرځي کله چې مومن انسان مسجد ته د جماعت لمانځه ادا کولو لپاره ځي د هر قدم په عوض يې د الله ﷻ په وړاندې درجه پورته کيږي او يوه ګناه يې عفوره کيږي. ابوهريره رضی الله وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د يو تن د جماعت لمونځ نسبت د کور او يا بازار لمانځه ته ۲۵ درجې اجر لري او کهل چې څوک سيي اودس وکړي او بيا مجسد ته ولاړ شي چې د بل کار لپاره له کوره وتلی نه وي د هر قدم لره چې دی يې اخلی يوه درجه يې زياتيږي او يوه ګناه يې محوه کيږي کله چې لمونځ وکړي او تر هغه وخت چې دی دلته ناست دی ملايک ورته د رحمت دعا کوي او وايي ای الله پدې باندې رحمت وکړه او څوک چې د لمانځه په انتظار وي هغه په لمانځه کې دی[۲].

**۳– د جماعت لمانځه تاثير په اجتماعی ژوند:**

د جماعت لمونځ د مسلمانانو اجتماعی ژوند کې ډير ښکاره نقش لري چې کولی شو په لاندې ټکو کې يي خلاصه کړو:

**الف: د جماعت لمونځ د اجتماعي روابطو کلي**

انسان يو اجتماعی مخلوق دی، او لازم ده د خلکو منځ کې ژوند وکړي، دوستان ولری چې دوی سره خپل ژوند مخکې ويسي، ډير وخت د انسان خپلوان لرې منطقو کې اوسيږي او انسان نشي کولی هره لحظه له هغوی سره

---

۱- «عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلَاةَ الْفَذِّ بِخَمْسٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً» حديث نمبر(۶۱۰) کتاب الاذان، بخاري شريف

۲- «عن ابي هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي الْجَمَاعَةِ تُضَعَّفُ عَلَى صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ وَفِي سُوقِهِ خَمْسًا وَعِشْرِينَ ضِعْفًا وَذَلِكَ أَنَّهُ إِذَا تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الْمَسْجِدِ لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا الصَّلَاةُ لَمْ يَخْطُ خَطْوَةً إِلَّا رُفِعَتْ لَهُ بِهَا دَرَجَةٌ وَحُطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ فَإِذَا صَلَّى لَمْ تَزَلْ الْمَلَائِكَةُ تُصَلِّي عَلَيْهِ مَا دَامَ فِي مُصَلَّاهُ اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ وَلَا يَزَالُ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاةٍ مَا انْتَظَرَ الصَّلَاةَ» (۶۱۱) کتاب الاذان، بخاري شريف.

ناسته ولاړه ولري، ولې همسايه ګان د انسان غوره دوستان دي، چې دوی سره دوستی ناسته ولاړه همکاريا وصميمت د انسان اجتماعی ژوند کې ډير ښه تاثير لري دغه دوستی او صميمت هغه وخت محکميدلی شي چې دوه مومن انسانان د مسجد او پروردګار د عبادت له لارې سره اشنا شوي وي، هغوی کولی شي يو بل سره کيني او له اخلاص او ايمان سره صميمت وکړي.

کله چې ديو منطقی خلک جماعت ته نه راځي شايد کلونه يو ځای کې ژوند وکړي خو يو بل ونه پيژني او پدې ډول به د دوی ترمنځ دوستي او محبت نه وي. خو هغه خلک چې الهی احکام مراعات کوي او د جماعت لمانځه ترڅنګ د اسلام مقدس دين نور احکام هم مراعات کوی له ځان جوړوني، غيبت، تهمت او له نورو اجتماعی منفی کارونو ځان ساتی کولی شي ډير ښه دوستان پيدا کړي او يو بل سره په ډير محبت ژوند وکړي او بالاخره ددنيا او آخرت سعادت خپل کړي.

**ب: د جماعت لمونځ د مشکلاتو د حل وسيله**

انسان خپل ژوند کې له يو لړ مشکلاتو لکه مريضی، فقر، ناتوانی او نور اجتماعی ددونو سره مخ کيږي او يو همسايه د بل همسايه له حالته هغه وخت خبريږي او مريضۍ کې دده پوښتنه کوي او بل وخت له ده سره مرسته کوي چې هغه سړی د جماعت لمانځه کې حاضر وي، او کله چې يو وخت دوه وخته غير حاضر شي متوجه کيږي چې فلانی غير حاضر دی نو د حال پوښتنه يې کوي او پوهيږي چې هغه مريض دی او يا څه مشکل سره مخ شوی دي او دې صورت کې له هغه سره مرسته کوي ډير ليدل شوی چې څوک مريض وي او يا سفر ته تللی وی او کهل چې يوه مياشت وروسته هغه وينو ګيله کوي چې زه مريض وم او تاسې مې پوښتنې ته رانغلی او يا مسافروم زما پوښتنه مو ونکړه ښه ګرانه ورورو مونږ څه خبر چې ته مريض يې داسې حال کې چې کله صحتمندوې هم مونږ ته نه ليدلې.

**ج: د جماعت لمونځ دصميمت لار**

کله چې د جماعت لمونځ له هماغو شرايطو سره چې پيغمبر صلی‌الله‌علیه‌وسلم بيان کړيدی وشي او مسلمانان د ورګارتيا حالت کې له لمانځه د اللهﷻ د پيژندې او د اسلام د تعليم په حيث استفاده وکړي د جماعت لمونځ د صميمت او دوستۍ لپاره غوره وسيهل کيدلی شي کيدای شي پوښتنه وشي چې اوس دې شرايطو کې ځينې د جماعت لمونځ کوي خو د دوي ترمنځ صميمت وجود نلري حقيقت دادی چې دغه خلک لمونځ له هغې خشوع او خضوع سره چې بايد وشي نه کوي او ځينې وخت يواځې فضايلو ته فکر کوي چې يواځې جماعت کول د هغوی ټول انسان او ايمان حقوق پوره کړي دي، دغسې خلک د جماعت دفضيلت په اوريدلو خپل ځان هيروي، او د جماعت لمونځ لکه يو قرضداری ډير په عجله سره ادا کوي، او مجرد د لمانځه له ختم سره مسجد پريږدي، او له ټول هغه رول څخه چې يو مسجد او د جماعت لمونځ يې لري بې خبره وي. مسجد د اسلام مقدس دين زده کولو لپاره غوره ځای دي، او د مسجد امام د يو رهبر په حيث ټولو اجتماعی خلاګانو ته متوجه وي او د هر يو د حل لپاره يوه لار پيشنهاد او عمل کوي. خو د جماعت لمونځ يواځې د ثوابونو لپاره لکه د يو تجار غوندې ادا کول او له نورو اجتماعی کارونو بی خبرې او کمزورتيا نشي کولی د مسجد او جماعت اساسی نقش په ښه ډول ادا کړي.

**د: دټولو ترمنځ د مساوات اعلان پرته د وظيفو او ځيرو له نظر کې نيولو څخه**

د جماعت لمونځ د انسانانو ترمنځ د مساوات او برابرۍ يو درس دی ځکه کله چې مسجد ته د اخليږو، ټول مساويانه د لمانځه په صفونو کې دريږو، او ضعيف ترينه او فقير ترينه شخص حق لری د لمانځه اولصف کې ودريږي، او حتی لوی دولتی اشخاص د هغه تر شادريږي، او له دې ځايه ټولو ته درس ورکول کيږي، چې د اللهﷻ په وړاندې ټول مساوي دي، او هيڅوک په هيڅا باندې پرته له تقوا او اخلاص څخه برتريت نلري د جماعت لمانځه له دې مساوات څخه د ژوند د ټولو اړخونو لپاره درس اخيستل کيږي چې په هماغه ډول چې انسانان د اللهﷻ په وړاندې يو ډول دي، او د ژوند رتبی نشي کولي د اللهﷻ په وړاندې چاته برتريت ورکړي و بلکې ټول د هغه په وړاندی په يو

ډول سره درېږي، په همدی ډول نه باید د ژوند په نورو برخو کې هم له انسانوو سره د رتبو په سر معطله وشي، بلکې ټول انسانان یو رنګ دي، او د وظایفو تغیر نشي کولی د چا شخصیت کې تغیر راولي، او لکه څرنګه چې لمانځه کې شاید د یوتن ضعیف او ټیټ رتبه انسان لمونځ نسبت نورو ته زیات د اللهﷻ په وړاندې د قبول وړ وي په همدی شکل د ژوند په ټولو برخو کې د هر چا مسولیت د هغه د صلاحیت په اندازه وي، او انسانی ټولنه نشي کولی پرته له مختلفو او ښو، کارونو لرلو څخه حرکت وکړي. بناء هر چاته په هر کار کې چې وي احترام وکړو، او د هغوی شخصیت ته احترام وکړو.

### ۴– د جماعت د لمانځه صفونه د ملایکو د صفونو په شان دي:

کله چې لمونځ کوونکی د یو د بل ترڅنګ درېږي او صفونه منظموي او د اللهﷻ په وړاندې درېږي، د دوی صفونه د ملایکو د صفونو غوندې کېږي، او له بشري صفت څخه ملکوتی صفت ته انتقال کوي، او د دوی مقام د اللهﷻ په وړاندې د ملایکو غوندې کېږي او د دوی هره د عا خپل دبار کې قبلوي.

حضرت جابر بن سمره سوانی وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ولې د ملایکو صفونو غوندې د پروردګار په نزد صفونه نه جوړوي؟ وایي پوښتنه مو وکړه ملایکې څرنګه د پروردګار په وړاندې صفونه جوړوي؟ ویې فرمایل: لومړي صفونه تکمیلوي اوبه منظمو صفونو کې درېږي[١].

### ۵– د لمانځه د نظام تاثیر دسیاسي ژوند په تنظیم کې:

د جماعت لمونځ د ټولنې د سیاسي امورو په تنظیم کې مهم رول لري. او د مسلمانانو د سیاست ژوند د تربیت او تنظیم لپاره یو درس دي، د مثال په ډول:

#### الف: اسلام کې د رهبریت عالي صفات

---

١- «عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ السُّوَائِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا تَصُفُّونَ كَمَا تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهَا قَالَ قُلْنَا وَكَيْفَ تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهَا قَالَ يُتِمُّونَ الصُّفُوفَ الْأُوَلَ وَيَتَرَاصُّونَ فِي الصَّفِّ» ابن ماجه / كتاب إقامة الصلاة والسنة فيها حديث نمبر(٩٨٢)

کله چې هغه امام د امامت لپاره اختيارېږي چې د رهبريت نقش ترسره کوي، بايد يو سلسله عالي صفات ولري، چې ددغو صفاتو مهمترينه يې ايمان، بلوغ، عقل، علم، تقوا او ټول عالي صفات دي، امام ته لازمه ده چې نسبت نورو ته د اسلامي احکامو په تطبيق کې پيشقدمه وي او د اسلام احکام خپل ځان باندې په کامل ډول سره تطبيق کړي. په همدې اساس هغه شخص چې دولت کې دسياسي پوستونو د رهبريت لپاره مقررېږي هم بايد دغسې صفات ولري. او د اسلام له نظره هغه وخت څوک د امام په اطاعت باندې مکلفيږي چې امام د الله ﷻ او رسول اطاعت ولري ﴿أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ﴾ دلته ويل شوي دي چې د الله ﷻ اطاعت او د پيغمبر اطاعت وکړي او د ﴿وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ﴾ سره اطاعت ندی ويل شوی، ترڅو انسان د هغو رهبرانو اطاعت وکړي چې هغوی په اطاعت کې د الله ﷻ او رسول مراعات نکوي.

**ب: اصلاحي هيات**

د امام تر شا څو نفره علما او پوهان درېږي چې د اشتباهانو او غلطيو پر وخت هغه ته رهنمايي کوي، استباهات يې تصحيح کوي، او نور خلک هم د هغه اشتباهاتو ته متوجه وي، چې هر کله له امام نه څه اشتباه وشي او د غه پوهان ورته متوجه نه وي، هغه خپلې غلطۍ ته متوجه کوي او ټول خپل ځانونه مسول ګڼي ځکه د امام اشتباه ددې سبب کيږي چې د دوی لمنځونه هم فاسد شي. په همدې ډول د لمانځه دغه اسلوب په دولت دارۍ کې هم مهم درس دي، چې د حکومت د حل او عقد اعضا هغه اشخاص تشکيلوي چې داسې صفات ولري لکه علم، پوهه، تقوا ا وله امورو باخبر وي، دغه اشخاص د اشتباهاتو پر وخت د ټولنې رهبري هيات خپلو اشتباهاتو ته متوجه کوي او کله چې هغوی داسې ونکړي نو د ټولنې ټول افراد حق لري چې خپل رهبران پخپلو اشتباهاتو باندې پوه کړي، همدارنګه او څرنګه چې امام به جماعت په لمانځه کې د نورو له اصلاحاتو څخه استفاده کولی شي، او د لمانځه د تصحيح او سيي والي لپاره هڅه او کوښښ کوي، د اسلامي ټولنې

مشران هم د نورو مشورې، انتقادات او پیشنهادات په نظر کې نیسي او د هغې مطابق د خپلو اشتباهاتو په اصلاح کې هڅه او کوشش کوي. امام د جماعت لمانځه کې یقین لري چې دده مقتدیان دده د اصلاح لپاره نه د ځان غوښتنې لپاره بلکې د مسولیت د احساس لپاره هغه خپلو اشتباهاتو ته متوجه کوي، ځکه دده اشتباه دهغوی د عبادت د فساد لامل ګرځي. په همدی ډول د اسلامی ټولنې رهبران د نورو نظرونه او انتقادونه د ټولنې د بهبود لپاره مني.

**ج: اطاعت د الله ﷻ د اطاعت تر وخت**

مقتدیان د جماعت لمانځه کې تر هغه له امام څخه پیروي کوي، چې هغه د قراني هدایاتو او نبوی سنتو مطابق لمونځ ادا کوي او هر کله چې هغه څه غلطي وکړي، هغه متوجه کوي او د نه منلو پر وخت هغه له امامت څخه معزول او برطرفه کوي. بناء امام تر هغه وخته امام دی چې د الهی ارشاداتو او نبوی سنتو مطابق عمل وکړي. په همدې ډول مسلمانان په سیاسي نظام کې هم له خپل رهبر سره همدغسې روش لري. له خپل رهبره سره د اللهﷻ او رسول الله ﷺ په اطاعت باندې بیعت کوي او هر کله چې د دوی رهبر د الهی اوامرو او نبوی ارشاداتو مخالف کوم کار ترسره کړي، لومړي هغه متوجه کوي، او هر کله چې هغه قصد دغسي کارونه ترسره کړي، هغه عزل کیږی.

پدې اساس باید د ژوند ټول نظام د لمانځه په شکل جوړ شي، په همدې ډول باید د انسان ژوند کې اداري او اجرایوي رهبر وجود ولري. چې دغه رهبر د پوهانو او متخصصاتو په واسطه مراقبت لاندې وي، او ملت هم د اشتباهاتو د څرګندتیا په صورت د ونیا له ازادۍ څخه استفاده وکړي د هغوی اشتباهات ورته بیان کړي.

## د جماعت د لمانځه فضایل

د جماعت لمونځ یو سلسله فضایل لري چې عبادت دي له:

۱- د جماعت لمونځ نسبت ځانته لمانځه ته ۲۷ درجې فضیلت لري. بناء د جماعت لمانځه سره د یو مسلمان ۲۷ درجې لوړیږي حضرت عبد

الله بن عمر روايت کوي چې رسول کريمﷺ فرمايي: د جماعت لمونځ نسبت منفرد لمونځ ته ۲۷ مرتبی فضيلت لري[۱].

په بل روايت کې راغلي دي چې د جماعت لمونځ ۲۵ مرتبی نسبت منفرد لمانځه ته فضيلت لري. حضرت ابوسعيد خدری وايي چې د جماعت لمونځ نسبت منفرد لمانځه ته ۲۵ درجې فضيلت لري[۲].

**هغه قدمونه چې د جماعت خواته ځي**

د انسان بدن ټول اعضا به د قيامت په ورځ د خپلو عملونو ځواب وايي د انسان هغه قدمونه چې د ايمان پر خوا ځی له هغو قدمونو سره چې د شيطان په طرف په حرکت دي فرق لري، د لمانځه په وخت مسجد ته د جماعت لمانځه د اداکولو نيت د تللو لپاره د انسان هر قدم فضيلت او درجه لري حضرت ابوهريرهؓ واي چې رسول اللهﷺ وفرمايل: ستاسې د يو تن لمونح په جماعت کې نسبت کور او يا بازار کې د هغه لمانځه څخه څوويشت درجې فضيلت لري.

پداسي ډول چې کله څوک سيي اودس وکړي. بيا مجسد ته ولاړ شي او هدف يي تنها لمونح وي، او هغه د لمانځه د اداکولو لپاهر بل څه نه وي راوستلی نو هر ګام چې اخلي مقابل کې يي درجه پورته کيږي، او يا يې ګناه عفوه کيږي او ملايک ستاسې يو تن باندې تر هغه وخته د رحمت دعا استوي چې دغه شخص د خپل لمانځه حاي کې ناست وي وايي: پروردګاره ده باندې درود واستوه ده باندې رحمت واستوه، ترڅو چې هغه بې اودسه شوی نه وي. او يايې هم څوک اذيت کړي نه وي. همدارنګه انحضرت وويل: ترڅو

---

۱- «عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلَاةَ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً» حديث نمبر(۶۰۹) کتاب الآذان، صحيح البخاري

۲- «عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلَاةَ الْفَذِّ بِخَمْسٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً» حديث نمبر(۶۱۰) کتاب الاذان، صحيح البخاري

پوري چې کوم شخص لمانځه مشغول کړی وي هغه شخص لمانځه کې دی[(۱)].

له دې حدیث شریف څخه لاندې درسونه اخیستل کیږي:

الف: د جماعت لمونځ نسبت د کور او بازار لمانځه ته څو ویشت درجې فضیلت لري.

ب: دا فضیلت هغه چاته حاصلیږی چې اودس یي هم سیي ترسره شي، ځکه ډې خلک د اوداسه پر وخت سستی کوي، چې له اوداسه څخه دغه بې خبری ددې باعث کیږي چې لباس یي ناپاک او احیانا اودس یې هم غلط وي.

ج: دا فضیلت د هغه چا نصیب کیږي چې یواځې د لمانځه د اداکولو لپاره مسجد ته ځي. او بله هدف نلري، ځکه شته داسې خلک چې مسجد ته د نورو اهدافو لکه کیسي، غیبت په مجلسونو او محفلونو کې اشتراک او غیره لپاره ځي، چې له دې فضیلت څخه محرومیږي.

د: د هر قدم په واسطه چې د مسجد په لور اخیستل کیږي یاد مسلمان درجه لوړیږي او یا یې هم یوه ګناه ببښل کیږي.

هـ: ملایک په هغه چا باندې چې له لمانځه وروسته همغلته کینی ذکر کوي او یا هم د خالق ذات په فکر کې وي درود او رحمت استوي، پدې شرط چې بی اودسه نشي، او یا هم نورو لمونځ کوونکو ته د اذیت لامل نشي، خو هغه خلک چې مسجد کې کیني او کیسي کوي، او خبرې کوي او د نورو لمانځه کې تشویش پیدا کوي له دې رحمت څخه محرومیږي.

---

۱- «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةُ أَحَدِكُمْ فِي جَمَاعَةٍ تَزِيدُ عَلَى صَلَاتِهِ فِي سُوقِهِ وَبَيْتِهِ بِضْعًا وَعِشْرِينَ دَرَجَةً وَذَلِكَ بِأَنَّهُ إِذَا تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ أَتَى الْمَسْجِدَ لَا يُرِيدُ إِلَّا الصَّلَاةَ لَا يَنْهَزُهُ إِلَّا الصَّلَاةُ لَمْ يَخْطُ خَطْوَةً إِلَّا رُفِعَ بِهَا دَرَجَةً أَوْ حُطَّتْ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ وَالْمَلَائِكَةُ تُصَلِّي عَلَى أَحَدِكُمْ مَا دَامَ فِي مُصَلَّاهُ الَّذِي يُصَلِّي فِيهِ اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ مَا لَمْ يُحْدِثْ فِيهِ مَا لَمْ يُؤْذِ فِيهِ وَقَالَ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاةٍ مَا كَانَتْ الصَّلَاةُ تَحْبِسُهُ» حدیث نمبر (۱۹۷٦) کتاب البیوع صحیح البخاري

و: هر وخت چې څوک مسجد ته د جماعت لمانځه د ادا کولو لپاره ځي، او څو دقيقې منتظر پاتې کيږي، دغه انتظار يې هم لمانځه کې نوشته کيږي، او ورته د لمانځه ثواب ورکول کيږي.

د هغه شخص په حال خوښي ده چې له دغسې فضيلت څخه استفاده کوي او د هغه شخص په حال خواشيني ده چې دغسې نعمتونو څخه محروميږي.

**د جماعت د لمانځه تاثير د پل صراط په تيريدلو کې**

د قيامت په ورځ چې کله لمونځ کوونکو ته جنت ته د تللو حکم ورکول کيږي او مخکې له ټولو يوه ډله جنت ته ځي چې څيرې به يې لکه لمر غوندې نوراني وي، ملايک له هغوی پوښتي چې تاسې څوک ياست او په دنيا کې مو څه کارونه ترسره کول؟ دغه خلک ځواب کې وايي: مونږ مسلمانان يو، چې دنيا کې مو خپل لمونځ باندې پابندي کوله ملايک پوښتی: څرنګه مو خپل لمونځ باندې پابندي کوله؟

دوي په ځواب کې وايي: مونږ به هميشه له پنځه وخته لمونځه مخکې اودس کؤ مسجد ته به راتلوو او هلته د مسجد له رعايت سره کيناستلو، او بيا به د لمانځه انتظار وو.

له دې وروسته يوه بله ډله، له پل صراط څخه تيريږي چې څيرې به يې د څوارلسمي شپې سپوږمۍ غوندې نوراني وي. ملايک به له هغوی څخه پوښتي، تاسې څوک ياست؟ او دنيا کې مو څه عمل درلود؟

دوی په ځواب کې وايي: مونږ مسلمانان او د لمانځه ساتونکی يو.

ملايک پوښتي: څرنګه مو لمونځ ساته؟ دوی وايي: مونږ له اذانه مخکی اودس کؤ کور کې کيناستلو، کله به مو چې د اذان غږ واوريده مسجد ته تللو، او بيا مو لمونځ کولو.

بيا دريمه ډله له پل صراط څخه تيريږي چې څير يې به يې لکه ستورو غوندې ځليږي، ملايک له دوی څخه پوښتی: تاسې دنيا کې څه کار کو؟ دوی وايي: مونږ د اذان له اورديدو سره فورا اودس کو مسجد ته د لمانځه لپاره تللو، او هميشه مو د لمانځه لومړي تکبير رانيو.

**د لمانځه نه قبلیدل**

څوک چې د اذان غږ اوري او په کور کې لمونځ کوي.

کله چې یو مسلمان کوم نیک عمل ترسره کوي هڅه او کوشش په دوه نقطو کې دي.

الف: په سیي ډول سره د هغه عمل او کول ترڅو یې لمونځ سیي شي.

ب: په داسې شکل د عمل ادا کول چې د الله ﷻ د قبول وړ وګرځی. او خپل لمنځونه خپلو کورنو کې کوي ددغسي اشخاصو که څه هم لمنځونه سیي کیږي د الله ﷻ د قبول وړ نګرځی.

د څو تنو اصحابو کرامو څخه روایت شوی دی چې وایي هر څوک چې د اذان غږ واوري او د هغه اجابت ونکړي (یعنې مسجد ته ولاړ نشي) هغه هیڅ لمونځ نلري — امام بخاری وایي ځینې اهل علم وایي چې دا خبره د تندۍ او شدت په اساس ویل شویده، او هیچا ته پرته له عذر څخه د جماعت لمانځه د ترک اجازه نشته[۱].

له دې حدیث شریف څخه ثابتیږي چې کله څوک د جماعت لمونځ ترک کړي لمونځ یي نه قبلیږي او هیچا ته اجازه نشته چې پرته له عذره جماعت ترک کړي.

**دوزخ ته د تارک جماعت داخلیدل**

دا یو واضح او ښکاره حقیقت دي، چې دوزخ د کافرانو، منافقانو، مرتدو اشخاصو بی دینه خلکو او ګنهګارو مسلمانانو لپاره جوړ شوی دی او هر څوک د خپل جرم په اندازه دوزخ ته داخلیږي، او اوږده کلونه به هلته وي.

از مکافات عمل غافل مشو گندم از گندم بروید جز ز جو

---

۱ - «قَدْ رُوِيَ عَنْ غَيْرِ وَاحِدٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُمْ قَالُوا مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَمْ يُجِبْ فَلَا صَلَاةَ لَهُ وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ هَذَا عَلَى التَّغْلِيظِ وَالتَّشْدِيدِ وَلَا رُخْصَةَ لِأَحَدٍ فِي تَرْكِ الْجَمَاعَةِ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ» حدیث نمبر(۲۰۱) کتاب الصلاة، ترمذي شریف

هغه خلک چې جماعت ترک کوي د خپل خالق له کور سره یې خپله رابطه قطع کړیده او الهی فرمان په اساس باید شپه ورځ کې پنځه ځله د رب العالمین کور ته تللی و او له نورو مسملانانو سره د ملایکو په شان الهی دربار ته د سجدې سر کیږدي ولې شته دي داسې خلک چې سره د ایمان او تقوا له ادعا نه بیا هم مسجد ته په جماعت سره د لمانځه د ادا کولو لپاره تګ کې سستي او تنبلي کوي او حتی د ورځې یو ځل هم مسجد ته نه ځي، او مسجد یواځې د فاتحې اخیستلو او د دنیوي ناستو لپاره استعمالوي. ولې د جماعت ته حاضریدلو هیڅ اثر یې نه لیدل کیږي، ترمذی شریف یو روایت نقل کړی دي، چې د جماعت تارکینو ته یې سخته جزا بیان کړیده. مجاهد ویلي دي چې له حضرت عبد الله بن عباس څخه د هغه شخص په هکله چې ټوله ورځ روزه نیسي او د شپي هم په عبادت ولاړ وي، ولې د جمعې او جماعت لمنځونو ته نه حاضریږي، هغه وویل: دی دوزخ کې دی، مجاهد وایي: د حدیث معنی داده چې دا شخص د جمعي او جماعت لمانځه ته د بې رغبتۍ او هغه ته په نه ارزښت قایلیدو سره او د تنبلۍ او سستۍ له مخی نه حاضریږي[1].

هغه درس چې د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما له دې وینا څخه استنباط کیږی داده چې حضرت عبد الله بن عباس د هغو خلکو له ډلې څخه و چې د رسول کریم ﷺ په شهادت د قران کریم مفسر و د عالی شخصیتونو او پیغمبر له مبارکو صحابه و څخه و، هغه داسې وویل چې د جماعت په هکله بی تفاوته اشخاص که څه هم د تقوا ادعا وکړي، او یا هم هره ورځ روزه ونیسي، او شپه په قیام او عبادت کې رنه کړي بیا به هم دوی د رسول الله ﷺ د عملي سنتو د مخالف په خاطر دوزخ ته ځي.

---

۱ - «قَالَ مُجَاهِدٌ وَسُئِلَ ابْنُ عَبَّاسٍ عَنْ رَجُلٍ يَصُومُ النَّهَارَ وَيَقُومُ اللَّيْلَ لَا يَشْهَدُ جُمْعَةً وَلَا جَمَاعَةً قَالَ هُوَ فِي النَّارِ قَالَ حَدَّثَنَا بِذَلِكَ هَنَّادٌ حَدَّثَنَا الْمُحَارِبِيُّ عَنْ لَيْثٍ عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ وَمَعْنَى الْحَدِيثِ أَنْ لَا يَشْهَدَ الْجَمَاعَةَ وَالْجُمُعَةَ رَغْبَةً عَنْهَا وَاسْتِخْفَافًا بِحَقِّهَا وَتَهَاوُنًا بِهَا» حدیث نمبر(۲۰۲) کتاب الصلاة، سنن الترمذي

ځکه ډیر خلک د خپل تکبراو ځان غوښتنې په اساس مسجد ته نه ځي، او یا هم ځانته برتریت ورکوي او ډیرو خلکو پسې لمونځ نکوي، او یا هم مسجد او د اللهﷻ کور ته تګ کې ډیر بې اعتنا وي. دغه رنګ اشخاص باید پوه شي چې حضرت پیغمبر د خپل ژوند په وروستیو ورځو کې خپل لاسونه د خپلو دوو مبارکو صحابه و په اوګو ایښي و، او سره له دې چې پښې یې په ځمکه کشیدلې بیا هم مسجد ته تللو، او خپل لمونځ یې جماعت سره کړ ایا داسې څوک پیدا کیږي چې د هغه مقام د حضرت محمدﷺ له مقام څخه لوړ وي، او د جماعت له لمانځه څخه معاف شي «تعالی شانه عما یصفون».

تنها انسان زر د شیطان تر تاثیر لاندې راځي:

شیطان د هغه لیوه په څیر دي چې همیشه هڅه او کوشش کوي چې یوه میږه له رمې څخه لیرې پیدا ښکار او خپل خوراک کړي. بناء هغه افراد چې له جماعت څخه لرې پاتې دي په سادګۍ سره ښکار کولي شي، پدې هکله حدیث شریف کې داسې لولو: حضرت ابی در داءرضي الله عنه داسې وایي چې له رسول کریمﷺ مې اوریدلي چې فرمایل یي: کله چي په کلي کې داسې دوه درې تنه ژوند کوي چې هغوی په جماعت لمونځ نکوي شیطان وربانديې مسلط کیږي، بناء په تا لازم دي ترڅو له جماعت سره اوسې، ځکه لیوه له رمې څخه لرې میره خوري، او له جماعت څخه هدف په جماعت سره لمونځ کول دي[1].

حضرت عبد الله بن عمررضي الله عنهما وایي چې حضرت عمر مونبږ ته خطبه را کوله ویې ویل: ای خلکو زه اوسې تاسې کی داسې ولاړ یم لکه پیغمبرعلیه السلام چې مونږ کې ولاړ و، او ویې ویل: تاسې ته د خپلو اصحابو په هکله نصیحت کوم له دوی وروسته د هغو خلکو په هکله چې دوی پسې راځي، او بیا د هغو خلکو په هکله چې هغوی پسي راځي، بیا به د خلکو ترمنځ دروغ خپریږي،

---

۱ - «عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ ثَلَاثَةٍ فِي قَرْيَةٍ وَلَا بَدْوٍ لَا تُقَامُ فِيهِمْ الصَّلَاةُ إِلَّا قَدْ اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمْ الشَّيْطَانُ فَعَلَيْكَ بِالْجَمَاعَةِ فَإِنَّمَا يَأْكُلُ الذِّئْبُ الْقَاصِيَةَ قَالَ زَائِدَةُ قَالَ السَّائِبُ يَعْنِي بِالْجَمَاعَةِ الصَّلَاةَ فِي الْجَمَاعَةِ» حدیث نمبر (٤٦٠) کتاب الصلاة، سنن ابي داوود

حتى تر دې چې شهادت تر ې وغوښتل شي شهادت ورکوي، خبر دار اوسي چې يو سړی بايد له نامحرمې ښځې سره خلوت ونکړي، ځکه دريم يې شيطان دي، خپل ځان جماعت سره پابند کړي او له تفرقې څخه ځانې وساتي، ځکه شيطان د تنها يي اشخاصو سره وي، او له دوه تنو ډير لرې وي، هر څوک چې د جنت راحت غواړي، نو له جماعت سره اوسي، هر څوک چې خپلو نيکيو خوشاله کړ او خپلو بد يو غمګينه کړ حقيقتا يو مومن فرد دی[۱].

له دې حديث شريف څخه لاندې درسونه اخيستل کيږي:

۱- په هر مومن فرد لازم دی ترڅو اصحاب کرام، تابعين او تبع تابعينو ته خاص احترام ولري، او هيڅ وخت د هغوی مقابل کې بده ژبه خلاصه نکړي، ځکه داد پيغمبر اکرم ﷺ وصيت دي، او هر څوک چې پيغمبر رضا کوي نو په خبر ويې بايد عمل وکړي.

۲- د دروغو انتشار، قسم خوړل پرته له ضرور ته شاهدی ورکول پرته له ضرورته ټول د بدبختۍ علايم دي، چې مومن انسان بايد له هغو ټولو پرهيز وکړي.

۳- مسلمان نارينه نه بايد له نامحرمې ښځې سره خلوت وکړي، او يو ځای کې تنها شي ځکه دريم يې شيطان وي، او هر کله چې څوک له کومې نامحرمې ښځې سره داسې تنها ځای کې چې هلته څوک نه وي ناسته

---

۱- «عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ خَطَبَنَا عُمَرُ بِالْجَابِيَةِ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي قُمْتُ فِيكُمْ كَمَقَامِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِينَا فَقَالَ أُوصِيكُمْ بِأَصْحَابِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ يَفْشُو الْكَذِبُ حَتَّى يَحْلِفَ الرَّجُلُ وَلَا يُسْتَحْلَفُ وَيَشْهَدَ الشَّاهِدُ وَلَا يُسْتَشْهَدُ أَلَا لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلَّا كَانَ ثَالِثَهُمَا الشَّيْطَانُ عَلَيْكُمْ بِالْجَمَاعَةِ وَإِيَّاكُمْ وَالْفُرْقَةَ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ مَعَ الْوَاحِدِ وَهُوَ مِنْ الِاثْنَيْنِ أَبْعَدُ مَنْ أَرَادَ بُحْبُوحَةَ الْجَنَّةِ فَلْيَلْزَمْ الْجَمَاعَةَ مَنْ سَرَّتْهُ حَسَنَتُهُ وَسَاءَتْهُ سَيِّئَتُهُ فَذَلِكُمْ الْمُؤْمِنُ قَالَ أَبُو عِيسَى هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ وَقَدْ رَوَاهُ ابْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سُوقَةَ وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ عُمَرَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» حديث نمبر (۲۰۹۱) کتاب الفتن ، سنن الترمذي

ولاړه وکړي حتما یوه ورځ شیطان هغوی بی لارې کوي او ګمراهۍ ته کشوي.

٤- د مسلمان مشارکت خلکو سره په نیکیو کې ضروری دي، او ددې لپاره چې اسلامي ټولنه مستحکمه وی لازمه ده چې همیشه جماعت کې اوسو، هغه د لمانځه جماعت وي او یا د درس، تعلیم، جهاد، دعوت او غیره اسلامي امورو.

٥- تفرقه او بدبیني هغه بد اعمال دي چې مسلمان ته پکار دی له تفرقې، بدبینۍ، ګوښه ګیرۍ او ترک دنیا څخه پرهیز وکړي.

٦- د حقیقی مسلمان علامه داده چې خپلو نیکو اعمالو کې خوښ وي، او هغو بدو عملو کې چې اشتباها ترې صادریږي غمګین وي، او کله چې په بدیو غمګینیږي د هغې څخه لرې والي کې هڅه او کوښښ کوي.

اما بر عکس هغه خلک چې غافله دي، روزانه سل ګونه ګناوې کوي ولې پدې هکله بی تفاوتۍ ته لا ادامه ورکوي.

**دماسختن او سهار جماعت د ټولې شپې عبادت دی**

مومن انسان هڅه او کوشش کوي چې دده ۲۴ ساعت عمر د اللهﷻ په عبادت کې تیرشي او کله چې یو اسلامی عالم څخه وپوښتل شو چې تاسې ۲۴ ساعتو کې څو ساعته عبادت کوي؟ ویویلي ۲۴ ساعته، هغه شخص وپوښتل: نو هیڅ خوب نکوي؟ ویویلي: نخیر خوب هم د پیغمبرؑ په طریقه کوو او دا هم عبادت دی د اللهﷻ رحمت ډیر زیات دي، او مومن انسان ته زیات سهولتونه شته چې کولی شي ۲۴ ساعته عمر په عبادت تیر کړي، له هغې جملی څخه یو داده چې د ماسختن او سهار لمونځ په جماعت سره وکړي، او د ټولې شپې عبادت د فضیلت مستحق شي حضرت عثمان بن عفانؓ وایي چی رسول کریم وفرمایل: کله چې څوک د ماسختن جماعت ته حاضر شی نو د نیمي شپې عبادت اجر ورته ورکول کیږي، او کله څوک د

ماسختن اوسهار لمونځ په جماعت وکړي داسې ده لکه ټوله شپه يې چې عبادت کړی وي(۱).

۱- «عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ شَهِدَ الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ كَانَ لَهُ قِيَامُ نِصْفِ لَيْلَةٍ وَمَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ وَالْفَجْرَ فِي جَمَاعَةٍ كَانَ لَهُ كَقِيَامِ لَيْلَةٍ» حديث نمبر(۲۰۵)كتاب الصلاة، سنن الترمذي

# پنځم فصل:
# رمضان

**فصل کې شاملې موضوع ګانې:**

**۱- د روژې او رمضان مفهوم**

**۲- د فرد او جامعې جوړونه کې د روژې او رمضان نقش**

**الف: د فرد جوړولو کې د روزی نقش**

**ب: د جامعې جوړولو کې د روزی نقش**

**۳- د روژې او رمضان فلسفه**

**٤- د رمضان مبارکې میاشت فضایل**

**٥- د روزی او رمضان احکام**

## رمضان په لغت او د اسلامی شریعت اصطلاح کې

### رمضان په لغت کې:

رمضان د — رمضاء — له کلمې څخه اخیستل شوی دی، چې د حرارت د شدت په معنی سره دی، عربان وایي: رمض الیوم نن ورځ ګرمی شدت واخیست، همدارنګه وایي رمض النصل توره یې د دوه تیګو ترمنځ اواره کیښوده، بیا یې ښه وسولوله ترڅو ښه اواره شوه[۱].

د رمضان د تسمیې علت اسلامی پوهان د هغې معنی ته سوق کوي، او وایي چې دا میاشت یې رمضان ونوموله ځکه چې «لانه یرمض الذنوب ای یحرقها بالاعمال الصالحة» دا ګناهونه په نیکو عملونو سره سوځوي، او ځینې وایي چې

---

۱- المحیط المحیط، معلم بطرس البستانی، بیروت: مکتبة لبنان، (۱۹۸۷م) ص: ۳۵۱

زړونه د ارشاداتو او موعظو په اوریدلو سره داسې نیول کیږي او ګرمیږي لکه ځرنګه چي شګه او تیګي د ګرمۍ په وخت قوی حرارت لري، او ځینې وایي د رمضان کلمه د — رمضت الشئ — څخه اخیستل شوې ده، یعنې یو شی چې د دوه تیګو ترمنځ کیښودل شي، پدي معنی چي د انسان ګناهنونه د صالحه اعمالو ترمنځ زیاد مبتلا شي کیږي او له منځه ځي.

**رمضان د اسلامی شریعت په اصطلاح کې:**

رمضان د قمري کال له میاشتو څخه نهمه مبارکه میشات ده، چي د شعبان او شوال میاشتو ترمنځ واقع ده، او بدې کې روزه نیول په هر پالونکي مومن باندې فرض ده. د قران د نزول میاشت او په هغه شپه کې ده چې له زرو میاشتو عبادت څخه برتریت لري، دا میشات د ګناهونو د ښنلو او الهی عذاب څخه د ګنهګارانو د خلاصون مایشت ده.

**صوم (روزه) په لغت کې:**

صوم په لغت کې د یو کار له کولو څخه غلي کیدلو او منع کیدلو ته وایي. او همدارنګه له خوراک، څښاک، نکاح، تګ، خبرواو غیره څخه منع کیدلو ته هم استعمال شوي ده.

امام قرطبی وایي چې معنی یې امساک د ځان ساتنه — او له یو حالت څخه بل حالت ته د انتقال ترک دي، او دارنګه خاموشۍ ته هم صوم وایي ځکه له خبرو د ژبې خاموشه کول دي.

آیت شریف د مریمؑ په هکله وایي ﴿إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا﴾ [مریم: ۲۶] «ما د الله لپاره روزه نیولې» یعنی له خبرو کولو څخه مې سکوت اختبار کړی دی.

صوم (روزه د اسلامی شریعت اصطلاح کې) عبارت دی له خوراک څښاک شهوانی خواهشاتو، او منفی اخلاقی امورو څخه د ځان ساتلو نه چې په نیت سره له سهار ختو نه د لمر تر غروبه دوام لري. کامله روزه هغه روزه ده چې د بدن ټول اعضا له ټولو منفی او ناروا امورو څخه محافظت شي، ځکه

چې پیغمبرﷺ فرمايي: چې هر څوک بده خبره او بد عمل پرې نه ږدي، اللهﷻ دده خوراک او څښاک پرېښودلو ته ضرورت نلري، «من لم يدع قول الزور والعمل به فليس لله حاجة في أن يدع طعامه وشرابه».

**رمضان د قران عظيم الشان د نزول مياشت**

د رمضان مبارکه مياشت د قران کريم د نزول مياشت ده، د بشريت دهدايت لپاره لويه الهی تحفه په همدې مياشت کې نازله شويده — اللهﷻ فرمايي: ﴿شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ﴾ «د رمضان مياشت هغه مياشت ده چې ديکې قران کريم د خلکو لپاره او د هدايات واضح دلايل او فرق کوونکی نازل شوی دي» امام احمد د واثله بن الاصقع په روايت سره وايي چې رسول اللهﷺ وفرمايل: د ابراهيمؑ صحيفی، تورات او انجيل ټول د رمضان مبارکه ميشات کې نازل شوي دي علامه ابن کثير د ﴿شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ﴾ په تفسير کې وايي: الله نسبت نورو مياشتو ته د رمضان مياشت توصيف کړيده ځکه چې قران عظيم الشان پدې مياشت کې نازل شوی دی، او څرنګه چې دا مياشت د قران کريم د نزول لپاره غوره شويده د نورو الهی کتابونو نزول ته هم غوره شويده ولې فرق صرف همدا دی چې د تورات انجيل او زبور صحيفی يو ځل نازل شوی دي ولې قران عظيم الشان د رمضان مبارکه مياشت په کامل ډول ددنيا اسمان کې بيت العزه ته نازل شو، چې دغه د نزول شپه د رمضان مبارکه مياشت کې د قدر شپه وه، اللهﷻ فرمايي: ﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ ۝١﴾ او فرمايي: ﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ ۝١﴾ بيا د ۲۳ کلو په موده کې په متفرق ډول سره دواقعاتو مطابق په پيغمبر باندې نازل شوی دي.

## د فرد او جامعې په جوړولو کې د روژې نقش

د قرانی ارشاداتو او نبوی احاديثو څخه په استفاده د رمضان د مبارکې مياشت روژه د اسلام مقدس دين يو اساسی رکن دي، چې د اسلام د پنځو ارکانو له جملې څخه دريم رکن دی. د رمضان د مبارکې مياشت روژه که څه

هم په ظاهره له خوراک څښاک او شهوت رانۍ څخه د بدن د اعضاو ساتل دي. خو کله چې د هغي مفاهیمو ته عمیق شو، او پدی هکله له حقیقی فلسفي لید څخه دغه اسلامي حکم کې فکر وکړو رمضان او روزه نیول پدي میاشت کې یو لړ مهم مزایا لري چې کولی شو هغه په لاندې ټکو کې مطالعه کړو:




د رمضان مبارکې میاشت روزه او نورې واجب او سنت روزې د نورو اسلامي احکامو او دستوراتو په څیر د مومن انسان ژوند کې مهم نقش لري. چې دغه نقشونه هم د شخصیت په جوړولو کې له مادي او معنوي اړخه او هم له اجتماعی اړخه مهم تاثیر پر ځای پریږدي. چې دې بحث کې دغه مطالب مطالعې لاندې نیسو.

**د انسان فردی شخصیت جوړولو کې د روزې نقش:**

روزه د مومن فرد په شخصیت جوړولو کې ډیر مهم نقش لري، او انسان د یو مومن فرد په حیث په دوه مادي او معنوی بخشونو کې تربیت کوي.

**الف: معنوي بخش کې**

هر یو پالونکي مومن ته لازمه ده چې د خپل معنویت د سطحې د ارتقا لپاره همیشه هڅه او کوشش وکړي. ځکه د اسلامی مقدس دین اساس په معنویت ایښودل شوي دي، او یو حقیقی مومن خپل ټول ژوند د معنوی معیارونو په اساس جوړوي.

الله ﷻ د مومنانو د معنوی سطحو د رشد لپاره ډیرې لارې بیان کړې دي ترڅو مومن انسان د خپل وجود په مادي اړخ کې او له مادیاتو څخه په معنویاتو کې په ګټه اخیستنی سره پیش ګام وي. د رمضان د مبارکې میاشت

روزه د مومنانو د معنویت د رشد یوه لاره ده. او دا امر کولی شو لاندې ټکو کې بیان کړو:

**۱– د تقوا حاصلول:**

د روژې له مهمترینو اثرونو څخه یو هم د بندګانو متقی جوړول بیان شوی دي ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴿١٨٣﴾﴾ [البقرة: ۱۸۳] «ای مومنانو فرض شویده په تاسې روژه لکه څرنګه چې فرض شوې وه په هغو خلکو چې له تاسې مخکې و ترڅو تقوادار شي».

د رمضان مبارکه میاشت کې مومن انسان ډیر هغه شیان چې ورته حلال و ترک کوي حلال خواړه، څښل، له ښځو سره جنسي ارتباطات چې ټول ورته حلال و فقط د الله ﷻ د رضایت لپاره ترک کیږي پدې صورت دغه مومن انسان د تقوا خاوند ګرځي. دغه تقوا د رمضان میاشت کې لکه د تقوا د تربیتی عملی کورس غوندې ده چې د هغې اثار په نورو یوولسو میاشتو کې د روزه دار انسان وجود کې باقي پاتې کیږی او وروسته له دې چې دغه مومن انسان له تقوا سره عادت شي له رمضان څخه وروسته میاشتې په تقوا سره تیروي.

اصلاً روزه دار د الهی احکامو او نبوی ارشاداتو مطابق هڅه او کوشش کوي چې ټول الهی احکام په کامل ډول سره ترسره کړي، له ټولو هغه امورو چې الله ﷻ منع کړی دی ځان وساتي حتی هغه خلک چې له رمضان څخه مخکی په یو سلسله ګناهونو مبتلا ونشي کولي دې میشات کې خپلو ګناهونو ته دوام ورکړي ځکه د هرې ګناه په ارتکاب سره دده روزه د فساد خوا ته ځي. هغه مجبور دی چې خپل پخوانی عادات ترک کړي. دفسق او فساد مجالس دعبادت په مجالسو بدل کړي، د فساد ډیر ځایونه پدې میاشت کې بندیږي، څوک چې حقیقتا له خپلو پخوانیو بدو اعمالو څخه پیښمانه ورکولی شي د یو

میاشت په اوږدو کې خپل ځان په نیکیو عادت کړي، او له دې مبارکې میاشتي په استفادې سره خپل ځان متقي کړي.

**۲- روحی تربیت:**

ننۍ ټولنه کې کې د خلکو لوی مشکل د انسانانو د روحی او معنوی بخش ضعف دي. دغه د معنویت ضعف ډ دیرو بدبختیو سبب ګرځي. او بالاخره انسان په یو شکوونکی حیوان سره بدلوي چي یو انسان ښکار کوي په قتل رسوي له وجود اوشرمایی څخه یی استفاده کوی اوفقط دخپل ځان په هکله فکر کوی درمضان مبارکې میاشت روزه د انسان روح تقویه کوي، او د انسان وجود کې روحانیت او معنویت ژوندي کوي. مومن انسان له خالق سره قوی ارتباط حاصولي. دغه روحانی قوت سبب کیږي چي د فقیرانو فکر کې شي هغوی سره کمک وکړي او د هغو کسانو د پخلا کولو په هکله فکر کوي چې ده سره یي مخالف درلود، د نورو په فکر کې کیږي د حرامو له خوړلو ځان ساتي، او له دې ټولو ارتباطاتو سره چې له خالق او مخلوقاتو سره یي پیدا کوي دغه مومن انسان ته یو نوع معنوي راحت پیدا کیږي چې د نړۍ ټول اروا پوهان ددغې روحی ارامتیا پسې سرګردانه دي.

**۳- اخلاقی تربیت:**

یو اخلاقی معنویت یا د اخلاقی سطحي ارتقا خپل عالیترین مقام ته: اسلامی اخلاق هغو اخلاقو ته وایي چې له اسلامی احکامو او ارشاداتو سره مطابقات ولري. که څه هم هر مومن فرد د خپلي اخلاقی سطحي لوړولو کې همیش هڅه او کوشش کوي او له اسلامی ارشاداتو څخه ددې هدف لپاره استفاده کوي، خو هغه خلک چي خپل ځانونه ٪۱۰۰ په اسلامی اخلاقو سمبالوي اخلاقی مراحل هم نظر کې نیسي او هڅه کوي چي هماغې عالي مرحلې ته ځان ورسوي، د رمضان مبارک میاشت یوه هغه لاره ده چي دغې مرحلې ته د رسیدو لپاره مومن انسان اماده کوي.

اوس لازمه ده چې لومړي دغه مراحل مطالعې لاندې ونیسو او بیا پدیکې د رمضان د مبارکې میاشت نقش ارزیابي کړو:

**ښه اخلاق:**

هغه اخلاق دي چې خپله انسان د عالي اخلاقو صفاتو خاوند وي.

**عالی اخلاق:**

هغه اخلاق دي چې سره له دې چې خپله انسان په عالی اخلاقی اوصفاتو سمبال وي خو بل چا ته یې ضرر هم نه رسیږي، او هیڅکله د خلکو مقابله کې بل چا ته تاوان نه اړوي. ډیرو حالاتو کې دي هغه خلک چې نیک اخلاق لري او الهی احکام او ارشادات په ځان باندې ښه تطبیقوي ولې نورو سره په معامله کې ځینې امور هیروي.

**عالی (ممتاز) اخلاق:**

هغو اخلاقو ته وایي چې سره له دې چې خپله د عالی صفاتو خاوند دی او نورو ته هم ضرر نه رسوي بلکه د نورو د ضرر رسولو په وخت هم منفی عکس العمل نلري او څرنګه چې د رمضان مبارکه میاشت کې انسان عالیترین اخلاقی مقام ته رسیږي چې: «فان شاتمه احد او قاتله فلیقل انی صائم» څوک ورته کنځل وکړی او یایي د وژلو قصد وکړي نو ودې وایي چې زه روزه داریم.

د انسان قوت او توانایي په ټولنه کې هغه وخت ثابتیږي چې هغه د قدرت پر وخت الله تعالی هیر نکړي او خپل اخلاق عالی معیار ته ورسوي، انسان هغه وخت د ډیرو عالی اخلاقو خاوند وي چې دغضب پر وخت خپله غصه د خپل عقل لاندې راولي او غصه نشي او هغه وخت عالي اخلاقی مراحلو ته رسیږي چې د نورو د جنګ او کنځلو پر وخت صبر وکړي خپله ژبه د بدو خبرو ویلو څخه وساتی او د هغه شخص مقابل کې فیزیکی عکس العمل ښکاره نکړي. بلکې همدغو سختو او تنګو لحظو کې چې ډیرو ضعیف الاخلاقه انسانانو ته مشکله وي ولې هغه چې اخلاق یي د رسول الله ﷺ اخلاقو غوندې شوي دي دغه عملکرد ته د رمضان مبارکه میاشت کې د عمل جا مې اغوندې او خپل ځان دغو عالی اخلاقو ته د رسیدو لپاره عادت کوي.

حضرت أَبِي هُرَيْرَةَ (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) وایي چې رَسُولَ اللَّهِ (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ). روزه ډال دي، روزه دار انسان باید نه بدیو ته مخه کړي او نه ګناه ته

وړاندې شي، او که څوک ورسره جنګ وکړی او یا ورته کنځل وکړي دوه ځلې دې ورته ووايي: زه روزه‌دار یم. عنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الصِّيَامُ جُنَّةٌ فَلَا يَرْفُثْ وَلَا يَجْهَلْ وَإِنْ امْرُؤٌ قَاتَلَهُ أَوْ شَاتَمَهُ فَلْيَقُلْ إِنِّي صَائِمٌ مَرَّتَيْنِ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللَّهِ تَعَالَى مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ يَتْرُكُ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ وَشَهْوَتَهُ مِنْ أَجْلِي الصِّيَامُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا»[1].

قسم په هغه ذات چې د محمد نفس د هغه په لاس کې دي چې د روزه دار د خولې بوی د الله‌ﷻ په وړاندې د مشکو څخه غوره دي. هغه خپل خوراک څښاک او شهوت زما لپاره پریږدي روزه زما ده او زه یې بدله ورکوم او یوه نیکی په لس چنده ده.

**۴- د نفس تربیه او نفس مطمینه ته د هغه ارتقا:**

د رمضان مبارکې میاشت روزه د انسان د نفس د تربیې لپاره یو تربیوی سیستم دی، حقیقت کې دا انسان له فاسد محیط او ګمراه دوستانو او نورو خواهشاتو سره په ارتباط په نفس الامارة بالسوء - باندې بدلیږي، دغه نفس انسان همیشه دبدیو خوا ته سوقوی، هغه د عبادت له حقیقت څخه لرې کوي، ولې مومن انسان کوشش کوي چې خپل دغه منفی سیستم د پرله پسې عبادتونو په واسطه له ګناه سره د علاقمندۍ له حالت څخه په (نفس لوامه) باندې بدل کړي. دی له نفس څخه ملامتوی او ورته وايي چې اشتباه کې دی پدې معنی چې وژدان یې ژوندي کوي، د ګناه د ارتکاب او یا نزدیکت په حالت کې د ملامتۍ او شرم احساس کوي.

مومن انسان بیا هم له ډیرو عبادتونو سره کوشش کوي ترڅو خپل نفس هغو عالی مرحلو ته ورسوي او په نفس مطمینه یې بدل کړي نفس مطمینه هغه دی چې د ژوند د حقیقت په درک او د یو خالق په ارتباط سره کاملا مطمینه ژوند کوي هغه پوهیږی چې لوی ذات له ده سره دی او ټولو مشکلاتو

---

۱- البخاري / حدیث ۱۷٦۱

کې ورسره مرسته کوي او د جهان له خالق سره دغه ارتباط ده ته دا اطمینان ورنصیب کړي دي چې ډیر بی دینه انسانان یې په ملیونونو هم نشي ترلاسه کولی نفس مطمینه هماغه نفس دی چې دقیامت په ورځ به ورته خطاب کیږی ﴿يَـٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفْسُ ٱلْمُطْمَئِنَّةُ ۝٢٧ ٱرْجِعِىٓ إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ۝٢٨ فَٱدْخُلِى فِى عِبَـٰدِى ۝٢٩ وَٱدْخُلِى جَنَّتِى ۝٣٠﴾ «ای مطمینه نفسه وګرځه خپل رب ته خوښ او خوشحاله او ننوځه زما بندګانو کې او ننوځه زما جنت ته».

**٥- ١٠٠٪ درجې ته د ایمان ارتقا:**

د رمضان مبارکه میاشت کې د ایمان قوت هومره لوړیږي او رمضان هر چا ته ثابته یې چې دی څومره خدای پیژندونکی دی ځکه د ورځې په لحظاتو کې چې انسان کله د یخچال مخې ته دریږي چې بل هیڅ انسان هم ورسره نشته هغه کولی شي وغواړي خوراک وکړي ولی دغه انسان پدې عقیده ده چې دلته یو مراقب وجود لري چې د الله‎ﷻ ذات دی چې زما مراقبت کوی هغه له تنهایې سره بیا هم خپله د الله‎ﷻ په مراقبت باندې پوهیږی له خوراک او څښاک څخه ځان ساتي.

قوی ترینه ایمان همدا دی چې انسان خپله الله‎ﷻ مراقب وګڼي او له ګناهونو او اشتباهاتو سره د مخ کیدو پر وخت هغه په یاد راوړي او له ګناه څخه ځان وساتي، الله‎ﷻ فرمایي: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا ۝١﴾ [النساء: ١] «الله تعالی ستاسې مراقبت کوونکی دی» د ایمان دغه قوت هر روزه دار کې پیدا کیږي او ځکه خو الله‎ﷻ فرمایي: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا ۝١﴾ [النساء: ١] «الله تعالی ستاسې مراقبت کوونکی دی» د ایمان دغه قوت هر روزه دار کې پیدا کیږي او ځکه خو الله‎ﷻ فرمایي «الصِّيَامُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ»[١] روژه زما ده اوزه پردې سره بدله ورکوم.

**٦- د خواهشاتو د مبارزې لپاره امادګي:**

---

١- البخاري / حديث ١٧٦١

د رمضان مبارکه میاشت انسان ته قدرت ورکوي چې د نفساني او شهواني خواهشاتو په ضد مبارزې ته اماده شي.

حضرت علقمهؓ وايي چې رسول الله وفرمایل: «يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنْ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ» ای د ځوانانو ډلې څوک چې له تاسې قدرت لري نو واده دې وکړي او که څوک يې نشي کولی نو هغه دې روژه ونیسي ځکه دا هغه ته وقايه وده. د روزي نيولو سره انسان ته تقوا حاصلیږي او تقوا د نفساني خواهشاتو سره د مبارزې یوائځنی لاره ده. دپیغمبرﷺ دغه حدیث د نفلی روزې په هکله هغو ځوانانو ته ده چې د واده د مصرف او نفقی توانایی نلري، او لازمه ده چي روزه ونیسي ترڅو ګناهونو څخه وقایه شي، ولې د رمضان مبارکی میاشت روزه هم ددې لپاره ده چې انسان بخپل نفس باندې حاکمیت ولري ځکه روزه دی تربیه کوي چې دې میاشتو کې له حلالو هم ځان ساتلی نورو میشاتو کې یوائځې له حلالو استفاده وکړي..[1].

**۷– د کادر جوړولو لپاره ذوب کول:**

د اسلامي نړۍ لید درسونو کې مو ولوستل چې مومن انسان د عباداتو په واسطه ذوب کیږي ترڅو یو یو داسې پرچه ترې جوړه شي چې د یوې مکملې اسلامي جامعې د جوړولو لپاره اماده وي، د رمضان مبارکې میاشت روزه د کار جوړیدو لپاره د انسان ذوب کولو کې نهایت مهم رول لري. او کله چې څو د رمضان مبارکې میاشت روزه هماغو حقیقی شرایطو سره ونیسي له ده څخه یو با ایمانه کادر جوړیږي چې انسان تړلني ته د خدمت کولو لپاره به هره لحظه اماده وي.

---

۱- «عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ كُنْتُ مَعَ عَبْدِ اللَّهِ فَلَقِيَهُ عُثْمَانُ بِمِنًى فَقَالَ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ إِنَّ لِي إِلَيْكَ حَاجَةً فَخَلَوَا فَقَالَ عُثْمَانُ هَلْ لَكَ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ فِي أَنْ نُزَوِّجَكَ بِكْرًا تُذَكِّرُكَ مَا كُنْتَ تَعْهَدُ فَلَمَّا رَأَى عَبْدُ اللَّهِ أَنْ لَيْسَ لَهُ حَاجَةٌ إِلَى هَذَا أَشَارَ إِلَيَّ فَقَالَ يَا عَلْقَمَةُ فَانْتَهَيْتُ إِلَيْهِ وَهُوَ يَقُولُ أَمَا لَئِنْ قُلْتَ ذَلِكَ لَقَدْ قَالَ لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنْ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ» حديث نمبر ٤٦٧٧ كتاب النكاح، صحيح البخارى

**ب: په جسمي برخه کې**

مسلمان ډاکتران او اطبا د انسان په جسم او صحت کې د رمضان د مادي اثر په هکله ډېر جالب بحثونه لري، چی غوره ده پدې هکله له هغو مسلمانو ډاکترانو سره چې پدی اړوند یي تحقیقات ترسره کړي بحثونه وشي.

**د ټولنې په جوړولوکی درمضان نقش**

د رمضان مبارکې میاشت روژه د انسانی ټولنې په جوړولو کې اساسی نقش لري چې دغه نقشونه په لاندې ټکو کې مطالعي لاندی نیسو:




**۱–اجتماعی برخه کې:**

الف: ننی عصر کې زیات داسې خلک شته چې حقوق د انسان او حقوق بشر لافې وهی ولې د ضرورت پر وخت سره د ډېر قدرت نه د دوی عملی ګامونه ډېر ضعیف وی اساسی علت یي همدا دی چې انسان نشی کولی هغه درد احساس کړي چې کله پرې خپله اخته شوی نه وي. هغه انسان چې خپل ژوند کې کله نه وږی شوی او نه تږی شوی وي. څرنګه کولی شي د وچکالۍ او جنګونو پر وخت د هغه چا لوږه احساس کړي چې په ورځو او په هفتو څه نه پیدا کوی او په میاشتو له تندې څخه ځوریږي، د رمضان مبارکې میاشت روزه دغه احساس د انسان په وجود کې ژوندی کوي.

ب: بل هغه مشکل چې ننۍ ټولنه ورڅخه ستړې ده کور سوزونکی جنګونه دي، چې حتی پر مختللی تکنالوژی هم د بشری منفعت پر ځای په شر باندې بدله شوی ده، د رمضان روزه انسان په اخلاقی مرحله کې تربیه کوي او د انسان وجود کې د انسان دوستۍ حس پیدا کوي او پوهوی یي چې بی هدفه جنګونه او یو بل ته کنځل کول د یو مومن انسان سره نه ښایي او حتی که څوک ورته کنځل وکړي او جنګ او بد اخلاقۍ ته یي دعوت کړي ورته وایي

زه روژه یم او دغه شخصیت جوړونه په رمضان کې یو تمرین دی د وروسته میاشتو لپاره.

**۲– سیاسي برخه کې:**

د رمضان مبارکه میاشت مسلمانانو ته ایماني تقویت ورکوي او دوی د اسلام مقدس دین د کامل تطبیق د خدمت لپاره هڅوي کله چې مسلمانان له نفس سره جهاد تمرین کړي او پدې کې غالب شي نو ددین اووطن له دښمنانو سره جهاد هم په ښه ډول سره کولی شي د اسلام تاریخ او دنبوت عصر ددی حقیقت غوره نمونه ده د نبوت د عصر لوی عسکری او سیاسی حادثات د رمضان مبارکه میاشت کې شوی دي د بدر غزا چې الله‌ﷻ د الیوم الفرقان (د حق ا وباطل ترمنځ جدا یی) په نوم سره یاد کړی ده او د مسلمانانو لپاره لویه کامیابی وه او ویې کولی شو د اسلامي حکومت لومړی پایه د تجاوز ګرانو مقابل کې مستحکمه کړي د رمضان المبارک همدې میاشت کې وه، د مکی فتحه چې دجزیرة العرب په سطحه لویه فتحه وه او نړیوالو ته د اسلام د انتقال یو لار شوه د رمضان المبارک میاشت کې ترسره شوه. همدغه د مومنانو قوی ایمانی قوت و چې د رمضان المبارک میاشت کې یې هغوی دغسې کامیابیو ته ورسول او اسلامی حکومت او مدنیت نشی کولی چې یو هیواد کې تر هغه وخته مستحکم شي ترڅو پورې چې د هغوی د معنویت پایې ضعیفی وي.

**۳– اقتصادي برخه کې:**

د رمضان مبارکه میاشت د مسلمانانو په ژوند کې د اقتصاد او عدم اسراف لپاره یو ښه اسلوب دی کله چې مسلمانان د رمضان مبارکې میاشت روزه د الهی احکامو مطابق په هماغه کیفیت او اصلیت سره ونیسي چې پیغمبر‌علیه السلام نیوله نو دا په متوسط او میانه اقتصاد باندې د نفس د تربیت لپاره ښه فرصت دی او کله چې ددی عمل ترسره کولو سره خپلو مالونو کې د فقیرانو او مسکینانو په حق باندې قایله شي، او هغوی ته د مرستو رسولو لپاره څه

موسسې جوړې کړي او هغوی ته دکار زمینه برابره کړي په حقیقت کې دفقر لمنه له اسلامي ټولنې څخه پوره ټولیږي.

ولې متاسفانه نني عصر کې داسې خلک شته دي چې ددې پر ځای چې د رمضان المبارک میاشت کې دکور مصارف نیم کړي بلکې نفسانی خواهشاتو ته د تسلیمۍ او په عاداتو باندې دعباداتو بد لیدلو له مخې د کورونو مصارف درې او څلور چنده زیاتیږي او ددې په ځای چې رمضان د بیدارۍ او مبارزې میاشت وي لکه د مکي فتح او د بدر غزا چې دې میاشت کې ترسره شوې در مضان میاشت د خوب استراحت او بیکارۍ په میاشت بدلیږي.

**۴- فرهنګی برخه کې:**

د رمضان مبارکه میاشت مسلمانان د شیطانی او جاهلی فرهنګونو له پیروۍ څخه د اسلامی فرهنګ پیروی ته را کشوي له اللهﷻ سره د مومنانو ارتباط لا قوی کوي، او د دوی محبت له مهربان پروردګار سره لازیاتیږي، د جاهلی فرهنګو پیروي ددې فرهنګو د محبت په اساس کیږي، او کله چې د انسان زړه الهی محبت ته زیات تمایل پیدا کړي په همغه اندازه د ایمانی فرهنګ تطبیق د انسان د وجود په داخل او خارج کې قوی کیږي.

## د روژې او رمضان فلسفی

**۱- د فرصتونو فلسفه:**

د رمضان المبارک میاشت د فرصتونو میاشت ده په حقیقت کې دټولو لپاره ښه چانسونه دي، د رحمتونو د نزول فرصت، د شیطان له شره د نجات فرصت، الهی دربار ته د ګرځیدلو او توبې فرصت، له ګناه څخه د لرې والی فرصت، د نورو د خدمت فرصت، د عملونو د زیاتوالی فرصت، د لیلة القدر فرصت، د جنت د دروازو د خلاصوالی فرصت، د دوزخ د دروازو د بندوالی فرصت، د جنی شیطانانو د بندی کیدلو فرصت، د فرضو په اندازه د نفلونو د حساب پورته تللو فرصت، او یا چند ته د فرضو د حساب د لوړوالی فرصت.

**۲- د رمضان د ثواب فلسفه:**

د روژی ثواب لکه د نورو عباداتو له ۱۰ څخه تر ۷۰ پوری نده بلکې د ثواب اندازه یې الله ﷻ ځانته پرې ایښې ده چې زه د غه ثواب خپلو بندګانو ته ورکوم، امام قرطبی پدې هکله وایي: د رمضان المبارک میاشت فضیلت ډیر زیات اولا هم زیات ثواب لري، ددې میاشتې په فضیلت کې کافی ده چې الله ﷻ دغه میاشت ځانته پرې ایښې ده، لکه حدیث شریف کې چې راځې رسول الله ﷺ فرمایي: «یقول الله تبارك وتعالى كل عمل بن ادم له الا الصوم فانه لی وانا اجزی به» الله تبارک وتعالی فرمایي د انسان هر عمل د هغه ده مګر روژه هغه زما ده او زه یې عوض ورکوم.

ځکه د رمضان روزه دوه ځانګړتیاوې لري.

الف: روزه د انسان لپاره له نفسانی او شهوانی لذتونو څخه مانع ګرځي. چې نور عبادات نشي کولی دغسې مانع ایجاد کړي.

ب: روزه د بنده او رب ترمنځ یو راز دي، چې پدې اسرارو پرته له الله ﷻ څخه بل څوک نه پوهیږي. بناء روزه الله ﷻ ته خاص ده، او نور عبادات په ظاهره او ښکاره وي چې د ریا او خلکو غولونی امکان لري ولی روزه کې هیڅ نوع ریا نه راځي.

**۳– د درې ګونو اړیکو کلکولو فلسفه:**

حقیقی ایمان درې ډوله ارتباطات تامینوی (د انسان ارتباط له خپل ځان، خالق او ټولنې سره) د رمضان مبارکه میاشت دغه ارتباطات نسبت پخوا ته لا محکم او قوی کوي. روزه دار انسان لومړي د خپل بدن د اعضاو سره ارتباط کې هڅه کوي چې ټول مثبت استعمال کړي بیا خپل ارتباط له خالق ذات سره مستحکموي او هیڅکله داسې کار نکوي چې د الهی اوامرو مخالف وي. او په دریمه مرحله کې خپل روابط له ټولنې سره په انسانی او اخلاقی ډول سره تامینوي.

**۴– د انسان جوړونی د کورس فلسفه:**

د ټولو رشتو پوهان د خپلو لاس لاندې خلکو لپاره کلنۍ عملی کورسونه جوړوي چې ددې رشتی متخصصین له دې کورسونو څخه په استفادې سره د خپل مسلک د تقویت لپاره پکې برخه اخلی، او دغه د مسلک تقویه د دوی لپاره په پاتی کال کې د ښه رشد او عالی خدمت زمینه جوړوي. د رمضان مبارکه میاشت د انسان جوړونی لپاره یو عملی کورس دي. ځکه مومن انسان پدې میاشت کې دبدن ټول اعضا د الهی احکامو مطابق جوړوی او حتی داسې حالاتو کی چې تنها وی او له خوړلو، څښلو او شهوت څخه د استفادی ټول امکانات ورته برابر وی خو بیا هم د خالق ذات به یاد لرلو سره ځان له دغو اشتباهاتو څخه ساتی. د جنګ او نورو اشتباهاتو پر وخت فورا جانب مقابل ته چې ده ته یي کنځا کړې وایي زه روزه یم، پدي میاشت کې حقیقی مسلمانان د حلالو خوړلو او څښلو څخه هم ځان ساتی او له رمضان څخه وروسته پدې فکر وي چې مادې میاشت کې له حلالو څخه ځان وساته نو نورو میاشتو کې کوشش کوي له حرامو څخه هم ځان وساتي.

**۵- د کاملې روژې فلسفه:**

د رمضان مبارک د میاشتې د روژې یو شرط د انسان بدن د ټولو اعضاو روزه کیدل دي. ځکه رسول اللهﷺ فرمایي: څوک چې بدې خبرې او بدکارونه پرې نږدي نو اللهﷻ د هغه خوراک او څښاک پریښودلو ته ضرورت نلري. مسلمان انسان کوشش کوي چې د رمضان مبارکه میاشت کې دبدن ټولو اعضاو سره د اللهﷻ عبادت وکړي.

**الف: روزه لرونکی غوږ**

د الهی ارشاداتو او نبوی سنتو په اساس روزه لرونکی انسان خپل غوږ هم روزه کوي. او د ټولو هغه امورو له اوریدلو چې د اللهﷻ رضایت پکې نه وي څخه اجتناب کوي. او خپل غوږونه د قران کریم د تلاوت، الهی احکامو، نصیحتونو او ټولو مثبتو امورو په اوریدو باندې مشغولوي.

**ب: روزه لرونکی ژبه**

مسلمان پښپله ژبه روزه نیسی، خپله ژبه بدو خبرولکه غیب، خبر لوځي، بی ځایه ټوقې، زیاتی خبرې کول، په نورو له ریشخند وهلو څخه ساتی. ترڅو یي ژبه له بدیو څخه په عادت کیدو باندې ساتل شوې او د رمضان د مبارکې میاشتې د روژې په برکت په نورو میشاتو کې هم خپله ژبه د الله ﷻ په عبادت باندې عادت کړي روزه لرونکی شخص نه تنها دا چې خپله په چا تجاوز او یا چا سره جنګ او بی ادبی نکوي بلکي حتی کله چي نورو ورته اذیت ورسوي او یا ورته کنځل وکړي. هم صبر کوي، حضرت رسول الله ﷺ فرمايي چې کله څوک له روزه لرونکی سره جنګ وکړي او یا هغه ته کنځل وکړي دی ورته وايي زه روزه لرم.

**ج: روزه لرونکی سترګي**

روزه لرونکی هڅه او کوشش کوي ترڅو خپلي سترګې د محارمو له لیدلو څخه حفظ کړي او هره لحظه خپلي سترګي د قران کریم په لیدلو د کتابونو په مطالعه او نیکانو سره په ناسته او هغو پوهانو سره عادت کړي چې دی نیکیو ته تشویقوي.

**د: روزه لرونکی زړه**

د انسان زړه هغه وخت روزه لرونکی وي چي فکر او انګیرنه یې د نیکیو خوا ته وي. دی هیڅکله بدیو ته فکر نکوي بلکی کوشش کوي چې د روزې په لرلو سره خپل فکر مثبت اړخ ته متوجه کړي. د نورو له هغو اشتباهاتو څخه چې دده حق کې یې کړې دي تیریږي او ځان د نورو سره د محبت او امادګی لپاره تیاروي.

**هـ: روزه لرونکی نفس**

روزه لرونکی انسان کوشش کوي چې خپل نفس تربیه کړي او هغه له نفس اماره بالسوء څخه په نفس لوامه باندې بدل کړي او له هغې وروسته یې په نفس مطمئنه باندې واړوي چې مخکی مو تشریح کړ.

**و: روزه لرونکی نفس**

هغه وخت چې څوک خپل لاسونه په نیکۍ عادت کړي او فقیرانو ته یي په لاس اوږدولو مصروف کړي او د مظلومو انسانانو د رفع کولو لپاره هڅه او کوشش کوي.

**۶– د دوزخ د دروازو او شیطان تړلو فلسفه:**

د رمضان مبارکه میاشت کې شیطان په زنځیرونو باندې تړل کیږی او دا یو نوع الهی رحمت دی چې هغه جني شیطان چي هره لحظه انسانان ګناهونو او د الهی احکامو نافرمانی ته هڅوي او نه پریږدي چې انسان د نیکیو په لور حرکت وکړي د رمضان مبارکې میاشت په برکت سره دغه شیطانان تړل کیږي، او مومن انسان ته فرصت وي چې ځان د شیطان په مقابل کې تقویه کړي او په نیکیو قدم ایښودلو سره نورو میشاتو کې هم دغسې مقاومت ولري، چی ان جنی شیطانان ونشي کولی دی وسوسه کړي. او پدي ډول مطمینه نفس یي هره لحظه له اللهﷻ سره ارتباط ولري او څوک چې له اللهﷻ سره ارتباط ولري شیطان ورڅخه تښتي. ځیني خلک ټوله ملامتی په شیطان اچوي او وایي دا شیطان زموږ ترمنځ خنډ دی ولې اوس دغه بهانه هم له منځه ځي ځکه شیطان وسوسه نشي کولي.

دلته یوه پوښتنه مطرح کیږي چې کله شیطانان تړلي دي نو ولې یو تعداد خلک د رمضان مبارکه میاشت کې ګناه کوي؟

ددې پوښتنې ځواب کې لومړی باید یوه مهمه موضوع را یاده کړو او هغه دا چې څوک ګناه وکړي نو په زړه یي تور داغ لګیږي چې د زړه معنویت یي داغ دار کوي خو که توبه وکړي او نیکیو خوا ته راشي دغه تور داغ یي له زړه څخه پاکیږي ځکه الله فرمایي ﴿إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ﴾ «بی‌شکه نیکیانی بدیانی وړي».

پدی شکل سره ویلی شو چي هره نیکی بد اعمال نابود او Delete کوي او د انسان زړه د وباره پاک اوصاف کوي، ولې هغه خلک چې همیشه ګناه کوی او همیشه د اللهﷻ په نافرمانۍ باندې مشغول دی او هیڅکله د توبي او بازګشت په فکر کې ندي دغه تور داغ د هري ګناه په کولو سره زیاتیږي او

بالاخره د انسان ټول زړه تورشی او کله چې څوک پدغسی معنوی قلبی مرض باندې مبتلا شي شیطان دده زړه په لاس کی راوړی وي، او هغه یې په انسانی شیطان بدل کړي وي. او داسې یې د خپل تاثیر لاندی راوستی وي چې هره نیکی ورته بدی او هره بدی ورته نیکی ښکاري، او کله چې شیطان چا باندې حاکمیت پیدا کړي هغه خپل پیرو ګرځوي او یوه شیطانی وظیفه ورته سپاری اوس نو دا شخص خپله شیطان شوی دی او کله چې دا مخکی حدیث لولو چې جنی شیطانانان تړل شوی دی نو نه باید هیر کړو چې هغه انسانانو چې خپل ځانونه د بدو اعمالو په کولو سره د انسان لباس کې په شیطانانو بدل کړی دي، او د دوی نفسونه (اماره بالسوء) ګرځیدلی دی، سره له دی چې جنی شیطانان تړلی دي دده دغه شیطانی نفس هر وخت هغه بدۍ ته کشوي حتی د رمضان مبارکه میاشت کې د الهی رحمت په اساس دغو خلکو ته هم فرصت دی چې دوباره رجوع وکړي او مخکی له دې چې عزرائیل سره ملاقت وکړي او د مغفرت او توبی دروازې یې پر مخ بندې شي فورا د نیکیو خوا ته لاړ شي او د ر مضان المبارک او د رحمت د نزول دمیاشتې له فرصت څخه چې د ټولو لپاره دی استفاده وکړي ځکه رمضان کې د رحمت مغفرت او له دوزخ څخه د ازادۍ دروازۍ ټولو ته خلاصې دي. او د توبی دروازه یې هم په مخ باندې داسې خلاصه ده چې د رمضان په هره لحظه کې کولی شي توبه وکړي او ځان د نیکانو په صف کې شامل کړي.

**۷– د رحمت د لسو (۱۰) ورځو فلسفه:**

د اسلام پیغمبر د رمضان مبارکه میاشت په درې لسیزو ویشلي ده او اولې لس ورځ یې د رحمت په نوم نومولې دي. ځکه دغو لس ورځو کې د انسانی ټولنې ټول اطراف الهی رحمت نیولی وي او لوی رحمت هغه فرصت دي چې ګنهګارو انسانانو ته ورکول کیږي چې د رمضان مبارک میاشت څخه په استفاده خپل ځان له هلاکت څخه خلاص کړي. او هغو خلکو سره یو ځای شي چې الهی رحمت کې داخل او د جنتیانو په صفونو کې دي.

د رمضان میاشت حقیقت کې الهی رحمت ته بیا ګرځیدل دي. او مونږ هغه انسانان یو چې اشتباهات را څخه صادریږي، او مومن انسان کولی شي دعفوې له دغه الهی فرمان څخه په استفاده سره خپل ځان د نبیانو، صدیقینو، شهیدانو اوصالحینو قطار کې راولي.

**۸– د مغفرت د لسیزې فلسفه:**

ډیر خلک داسې فکر کوي چې دڅه ګناهونو په ارتکاب سره اوس د شرمنده او تور مخ په ډله کې راغلي دي او هیڅ لاره نشته چې د نیکانو په صف کې داخل شي. اوس د رمضان دویمه لسیزه ده چې مغفرت نومیږي او دا ددغسې خلکو لپاره فرصت ده چې راشي او خپلو تیرو ګناهونو څخه که هر څومره زیات هم وی توبه وکړي ځکه د مغفرت او بښنی دروازه ټولو ته خلاصه ده.

**۹– دوزخ څخه د ازادۍ دلسیزې فلسفه:**

ټولو ته واضحه ده چې ډیر جمهور رئیسان اداری دولتی شخصیتونه او شاهان د اختر، د استقلال او ازادۍ جشن او نورو د خوښیو په ورځو کې زرګونه بندیانو ته عفوه کوي او هغه ازاد وي، د رمضان مبارکه میاشت کې دځینو هغو خلکو لپاره چې څه اشتباهات او ګناه یې کړې او د دوزخ مستحق شوی دي او د دوزخیانو په لست کې یې نوم راغلی دی فرصت ورکول کیږي ترڅو له الهی رحمت څخه په استفادې سره دوباره د هدایت لاره خپله کړي او د رمضان المبارک میاشت په استفادی سره چې د رحمت د نزول میاشت ده په اوله لسیزه کې چې د رحمت لسیزه ده دنیکانو صف کې داخل شي او دویمه لسیزده کې چې د مغفرت لسیزده ده ځان د عفوه شوو صف کې داخل کړي اوپه دریمه لسیزه کې له دوزخ څخه د ازادو شوو په صف کې راشي.

**۱۰– د آسمان د دروازو خلاصیدلو فلسفه:**

امام مسلم له ابوهریرهﷺ څخه روایت کوي چې رسول الله فرمايي: «اذا جاء رمضان فتحت ابواب الرحمة وغلقت ابواب النار وصفدت الشياطين» وفی صحیح البستی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: «اذا كان رمضان فتحت له ابواب الرحمة وغلقت ابواب جهنم وسلسلت الشياطين» یعنی کله چې رمضان راشی د رحمت دروازې خلاصې شي او د دوزخ وتړل شي او شیطان هم په زنځیرونو کې وتړل شي.

**۱۱– د روزه لرونکی د خولې دبوی فلسفه:**

د روزه لرونکی د خولې بوی د اللهﷻ په وړاندې له مشکو څخه غوره ده که څه هم اللهﷻ انسانانو ته د نظافت او پاکۍ امر کړی دي او پیغمبرﷺ د خولې پاکوالی لپاره مسواک او د خوله وینځل سنت کړي دي، ترڅو د چا خوله مکروبی نشي او بدبوی ترې لاړ نشي، همدارنګه پیغمبر هغه خلک چې خامه اوږه او یا پیاز خوري مسجد ته له راتګ څخه منع کړي دي. ترڅو د دوی دخولې بدبوي د نورو د اذیت لامل ونه ګرځي، ولې د روژتی د خولې بوی شاید بد هم وی او کیدای شي ښه هم نه وي، خو د اللهﷻ په وړاندې بی نهایته قیمته دي، او له مشکو څخه غوره دي، ځکه ددې بوی علت په نظافت کې بی توجهی نه بلکی دالهی حکم مطابق روژه نیول دي[1].

**۱۲– د رمضان د عمرې فلسفه:**

د رمضان المبارک میاشت د قد سیت په خاطر دې میاشت کې دعمرې فضیلت هم زیاتیږي، او په روایت کې دي چې د رمضان عمره د فرضی حج سره مساوي ده.

---

۱- «حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الصِّيَامُ جُنَّةٌ فَلَا يَرْفُثْ وَلَا يَجْهَلْ وَإِنْ امْرُؤٌ قَاتَلَهُ أَوْ شَاتَمَهُ فَلْيَقُلْ إِنِّي صَائِمٌ مَرَّتَيْنِ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللَّهِ تَعَالَى مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ يَتْرُكُ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ وَشَهْوَتَهُ مِنْ أَجْلِي الصِّيَامُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا» البخاري / حديث ۱۷٦۱

**۱۳– دقدر د شپو فلسفه:**

کيدای شی يو مسلمان ته پوښتنه پيدا شي چې د مخکنيو پيغمبرانو امتونو زيات عمرونه لرل او کيدای شی هغوی نسبت دوی ته زيات عبادت کړي وی لکه د نوحعليه السلام پيروان چې له زرو کلونو زيات و، ولې زما عمر شايد له شپيتو اوياو څخه وانه وړي، نو که هر څومره عبادت وکړو د هغوی اندازی ته رسيدلی نشو، خو اللهﷻ د خپل رحمت په اساس د يوې شپې عبادت د زرو مياشتو د عبادت په اندازه بيان کړی دي ﴿لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ ۝٣﴾ «د قدر شپه له زرو مياشتو عبادت څخه غوره ده».

کله چې ۱۰۰۰ په ۱۲ مياشتو تقسيم کړو مساوی کيږي له ۸۳ و سره او چې څوک د خپل شپيته کلن عمر دقدر شپو کې عبادت وکړي او ۶۰ په ۸۳ کې ضرب کړو ۴۹۸۰ کلونه کيږي، چې د نوحعليه السلام د امت د عمر څلور چنده کيږی.

**۱۴– دريان فلسفه:**

ريان د، ری له کلمی څخه دسيرابه کيدلو په معنی ده، چې کله څوک د اللهﷻ د رضايت لپاره روزه نيسي او د تندې احساس کوي اللهﷻ ورته جنت کې يوه دروازه تخصيص کړې ده چې ريان نوميږي، يعنې دسيرابې دروازه، دا دروازه ځانته روزه دارانو ته ده، چې د تندې له لرلو سره د اللهﷻ د رضايت د کسب په خاطر ځانونه له څښلو څخه ساتلی دي او هغه وخت بيا څښل کوي چې د اذان غږ يې غوږ ته ورسيږي.

حضرت سهلرضي الله عنه وايي چې رسول اللهﷺ وفرمايل: جنت کې يوه دروازه ده چې ريان نوميږي، او د قيامت په ورځ له هغې څخه روژتيان جنت ته داخليږي، او پرته له دوی بل څوک ترې نشې داخليدلی. بيا به وويل شي روژتيان چيرې دي؟ پرته له دوی بل څوک ترې جنت ته نشي داخليدلي، او

کله چې جنت ته داخل شي هغه دروازه به بنده شي او هیڅوک پرته له دوی څخه داخلیدلی نشي[۱].

**۱۵– د قران کریم د نزول د شکر فلسفه:**

فعلا چې دنیا کې کوم قانون کوم سیاسی مکتب تطبیق کړی دی ندی توانیدلی چې خلک سره متحد کړي، بلکې د جنګ لمن او وحشت ورځ په ورځ زیاتیږي، ولې قرآن کریم د خپلو الهی احکامو سره وکولی شو چې ډیر تیاره او وحشي ملتونه یي د مدنیت خوا ته بوتلل، ګوستاولوبون اعتراف کوي چې الهی قانون وکولی شو چې عربی جزیرې چې وحشت کې ژوند کو متحده کړي.

هغه انسانان چې خپلې لونې یې ژوندې خښولې د قران له نزول څخه وروسته یې د لونو په محبت او د لونو په لرلو افتخار کول شروع کړ.

د رمضان میاشت د قران د نزول او انسانیت باندې د الهی رحمت د نزول میاشت ده او د رمضان المبارک میاشت روزه حقیقت کې بشریت باندې ددغه الهی رحمت دنزول شکر دی.

**۱۶– د روزې د کیدلو او قبول فلسفه:**

ډیر خلک پوښتنه کوي چې ایا د هغه شخص روزه سیي ده چې لمونځ نکوي، دلته لازمه ده چې دکیدلو او قبلیدلو ترمنځ فرق وکړو د بی لمانځه انسان روزه کیږي ولې مهمه پوښتنه داده چې ایا روزه یې دالله ﷻ دربار کې قبلیږي، روزه ددې لپاره ده چې انسان تقوا ته سوق کړي، او هغه وخت روژه قبلیږي چې دتقوا اثار دیو شخص په وجود کې ولیدل شي او بی لمانځه انسان هیڅکله با تقوا نه وي.

---

۱- «عَنْ سَهْلٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ بَابًا يُقَالُ لَهُ الرَّيَّانُ يَدْخُلُ مِنْهُ الصَّائِمُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ يُقَالُ أَيْنَ الصَّائِمُونَ فَيَقُومُونَ لَا يَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ فَإِذَا دَخَلُوا أُغْلِقَ فَلَمْ يَدْخُلْ مِنْهُ أَحَدٌ» البخاري.

بناء سره له دې چې فرض یې ادا شوي او روزه یې شوې ده ولې د اللهﷻ په وړاندې قبلیږي نه ځکه اللهﷻ دنیکانو روزه قبلوی او چا چې اللهﷻ سره خبرې قطع کړي او خبرې نکوي نیک کاره ندي، ځکه لمونځ له اللهﷻ سره خبرې کول دي او د لمانځه ترک له اللهﷻ سره د رابطې ترک دي.

**۱۷– د رمضان د حقیقت د درک فلسفه:**

کله چې غواړو د رمضان المبارک میاشت روزه ونیسو، نو دوه مهمې پوښتنې دی چې په دې هکله له خپله ځانه پوښتنه وکړو:

لومړۍ پوښتنه د رمضان لومړیو ورځو کې ځواب ته ضرورت لري، او دویمه پوښتنه د رمضان وروستیو ورځو اویا هم له ختم څخه وروسته لومړۍ پوښتنه: روزه د څه شرطونو سره الهی دربار کې د قبول وړ ګرځي.

دویمه پوښتنه: آیا زما روزه دې تولو مشقاتو ګاللو سره د اللهﷻ دربار کې قبوله شوې ده؟

د لومړۍ پوښتنې ځواب کې ویلی شو د اسلام مقدس دین کې دهر عمل قبول دری شرطونه لري چې دغه شرطونه باید د رمضان روزه کی هم وجود ولري.

لومړي شرط: د اخلاص موجودیت په عمل کې: کله چې دانسان عمل خاص د اللهﷻ د رضایت لپاره نه وي بلکې د انسانانو، مصلحتونو او نفسي خواهشاتو او غیره لپاره وي د انسان عمل الهی دربار کې نه قلیږي.

دویم شرط: ددغه نیک عمل مطابقت د رسول اللهﷺ له سنتو سره: کله چې کوم مسلمان څه نیک عمل وکړي ولې عمل کې د خپل فکر او انګیزني څه کار وکړي او د پیغمبرؑ خبرې خپل عمل کې مراعات نکړې دده دغه نیک عمل الهی دربار کې نه قبلیږي.

دریم شرط: له حلالو غذاګانو څخه د افطاری او سحری غذا خوړل.

**د رمضان مبارکې میاشت فضایل**

الله‎ﷻ د خپلو مخلوقاتو ترمنځ چاته ډیر زیات فضیلت ورکړي دي. لکه په ځایونو کې ډیر زیات فضیلت مکی مکرمې، اشخاصو کې زیات فضیلت پیغمبرانو ته، په کتابونو کې زیات فضیلت الهی کتابونو، په میاشتو کې ډیر زیات فضیلت د رمضان میاشت، په ورځو کې د جمعی ورځ او شپو کې زیات فضیلت شپه د قدرشپی ته ورکړي شوي دی.

الله‎ﷻ د رمضان میاشتې ته څه فضایل ورکړي دي چې نورو میاشتو کې نشته ده دغه فضایل یو مومن انسان ته رحمت دي ترڅو له ټولو استفاده وکړی له الهی عذاب څخه د ځان خلاصولو، الهی دربار ته د نزدې کیدلو، د جنت حصول، له دوزخ څخه د خلاصون لپاره هڅه او کوشش وکړي د هدایت لاره اختیار کړي له بدیو ځان وساتي.

د رمضان المبارک میاشت فواید کولی شو لاندې ټکو کې خلاصه کړو:

۱- دې میاشت کې دالهی رحمت دروازې خلاصیږي او هره شپه ملیونونه انسانان دوزخ څخه ازادیږي.

۲- دې میاشت کې دجنت دروازې خلاصیږي.

۳- دې میاشت کې د دوزخ دروازې بندیږي

٤- دې میاشت کې جنی شیطانان تړل کیږي ترڅو انسان تنها د نفس مقابله کې مشغول شي او وکولي شي سیي عبادت وکړي.

٥- هره ورځ او هره شپه مبارکه ده.

٦- یواځې ددې میاشت دقیقی نه بلکې ثانیي هم ډیر زیات ارزښت لري، چې هرې ثانیې څخه استفاده د نیکبختیو نصیب کیږي.

۷- فرض اعمال دې میاشت کې اویا مرتبې جګیږي.

۸- نفل اعمال د فرضو په ځای محاسبه کیږي.

۹- دی میاشت کې د روژه تی ټولې پخوانۍ او نوې ګناوي ښنل کیږي.

۱۰- دې میاشت کې عمره د حج معادله ده[۱].

## د روژې د احکامو په هکله پوښتنه

پوښتنه: د رمضان روژه څه حکم لري؟

جواب: د رمضان المبارک میاشت روزه په هر مسلمان باندې فرض عین دي.

پوښتنه: د رمضان دفرض والي دلیل څه شي دی؟

جواب: د رمضان المبارک میاشت روزه د قرانی ایاتونو، د رسول الله احادیثو او اسلامی امت اجماع په اساس فرض عین دي.

الف: له قران څخه د روژې د فرضیت دلیل: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ١٨٣﴾ دې آیت شریف کې ﴿كُتِبَ عَلَيۡكُمُ﴾: معنی ده په تاسې باندې فرض شوې ده، همدرانگه آیات شریف دی ﴿فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُ﴾.

ب: د حدیثو څخه دلیل: عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: اسلام په پنځو بناگانو بنا شوی دی، د لا الله الا الله وان محمدا رسول الله شهادت ورکول، لمونځ کولو، زکات ورکول، حج کول، او روزه نیول[۲].

د اسلامی امت اجماع پدې ده چې د رمضان روزه فرض ده او منکر یې کافر دی.

پوښتنه: د روزی حکمت کومې نقطې کې دي.

---

۱- وروی النسائي أيضا عن ابن عباس قال قال رسول الله)صلى الله عليه وسلم(لامرأة من الأنصار: «إذا كان رمضان فاعتمري فإن عمرة فيه تعدل حجة».

۲- فحديث ابن عمر رضي الله تعالى عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «بني الإسلام على خمس: شهادة أن لا إله إلاّ الله، وأنّ محمّداً رسول الله، وإقام الصّلاة، وإيتاء الزّكاة، والحجّ، وصوم رمضان».

جواب: د روژې حکمت لاندې نقطو کې دی.

۱- د روژې حکمت لاندې نقطو کې دی. ﴿وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ۝١٨٥﴾.

۲- د تقوا وسیله ده ﴿لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ۝١٨٣﴾.

۳- شهوانی خواهشاتو باندې د غلبې وسیله[1].

٤- په مسکینانو د عطف او رحمت موجب ده.

٥- له فقیرنو سره همدردی ده.

٦- د شیطان د لارې بندول دي. «إنّ الشّیطان لیجري من ابن آدم مجری الدّم، فضیّقوا مجاریه بالجوع» شیطان انسان سره لکه د وینې په شان ځي نو لارې یې په لوږې سره تنګې کړي.

پوښتنه: په کوموشرایطو چا باندې روزه فرض کیږي.

جواب: په لاندې شرایطو یو تن باندې روزه فرض کیږي.

۱- مسلمان وی په کافر روزه فرض نده.

۲- عقل ولري په لیونی روزه فرض نده.

۳- دبالغ وی په نابالغ ماشوم روزه فرض نده، اسلام مقدس دین کې بالغ کیدل د بلوغ دعلامت پّ اساس وي مشخص سن نلري حکه د ګرمۍ او یخنۍ او جغرافیایي وضعیت په تغیر سره په بلوغ کې تفاوتونه شته دي.

٤- د روژې په فرض والی علم ولري، او که څوک داسې منطقه کې وي چې له روژې څخه هیڅ خبر نه وي نو روزه ورباندې فرض نده، دا شرط پخوا وخت کې ممکن و، ولې ننی عصر کې چې ټولنیزې رسنۍ عامی دي هر سړي چې ددنیا هر کنج کې وي له روژې څخه خبریږي.

پوښتنه: په یو شخص باندې د روژې د وجوب شرایط څه دي؟

---

۱- «یا معشر الشّباب: من استطاع منکم الباءة فلیتزوّج، فإنّه أغضّ للبصر، وأحصن للفرج، ومن لم یستطع فعلیه ب روزه ، فإنّه له وجاء».

جواب: د روزی د وجوب ادا شرایط عبارت دي له:

۱- له مرض څخه روغ والی ﴿وَمَن كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾ «څوک چی مریض او یا مسافر و نو په همدې حساب له نورو ورځو څخه دي».

۲- مقیم والی یعنی مسافر نه وي، مسافر ته اجازه ده چې روزه ونه نیسي ولې که مسافر توان لري چې روزه ونیسي نو نیولی یې شي.

۳- د ښځې سالم والي له حیض (میاشتني عادت) او نفاس (له ولادته وروسته مریضی) څخه ښځې د حیض او نفاس پر حالت روزه نه نیسي بلکې افطار کوي او بیا بل وخت کې دغه روزې نیسي.

پوښتنه: د روزې د صحت شرطونه څه شي دي؟

جواب: د روزې دصحت شرطونه:

۱- له حیض او نفاس څخه پاکي: که ښځه د حیض او نفاس پر وخت روزه ونیسی روزه یي سیي نده.

۲- له همجنسی څخه اجتناب: که څوک همجنسي وکړی روزه یې فاسديږي.

۳- د روزې دنیت لرل: که څوک ټوله ورځ وږي وکرځي او د روزي نیت ونلري او ماښام افطاري وکړي دې ته روږه نه ویل کیږي.

٤- له خوراک او څښاک څخه اجتناب: که څوک قصدا خوراک یا څښاک وکړي روزه یې باطلیږي.

پوښتنه: کوم شیان روزه فاسدوي؟

جواب: هغه شیان چې روزه فاسدوي.

۱- خیټې ته د څه شي رسیدل خوراک څښاک دوا سګرت او غیره.

۲- همجنسي (جماع).

۳- په پوزه او یا غوږ کې د دوا اچول.

٤- ډکه خوله استفراغ.

۵ - مرتد کیدل.

٦ - حیض کیدل.

۷- نفاس کیدل.

پوښتنه: په روزه کې خوړل څښل او جنسی نزدې کیدل څو حالته لري؟

جواب: څلور حالته لري:

۱ - اول حالت: کفاره لازمیږي.

۲ - دویم حالت: تنها قضایي لازمیږي.

۳- دریم حالت: هیڅ شي نه لازمیږي.

٤ - څلورم حالت: فدیه لازمیږي.

پوښتنه: کفاره څه شي ده او څه وخت په روزه لرونکی کفاره لازمیږي.

جواب: کفاره دوه میاشتې پرله پسي روزه نیول دی او درې حالاتو کې لازمیږي.

A: قصدا د یو شي خوراک.

B: قصدا د څه شي څښل.

C: خاص عورت کې نزدیکت.

پوښتنه: تنها قضایي څه وخت لازمیږي؟

جواب ک تنها قضایي لاندې حالاتو کې لازمیږي.

۱ - کله چې څوک پرته له خاص عورت څخه په بل ډول ځان احتلام کړي.

۲ - کله چې څوک پرته له خاص عورت څخه بل ځای کې جنسي نزدیکت وکړي.

۳- د لمس یا مچي پر وخت احتلام شي.

٤ - له رمضان څخه پرته خاص عورت کې نزدیکت.

۵ - په پوزه او یا غوږ کې څه قطره اچول.

٦ - قصدا استفراق کول.

۷- دسر او خيټې د جراحي داسې تداوي چې خيټې يا د ماغو ته ورسيږي.

۸- دداسې شي خوړل چې غذا نه حسابيږي لکه وړې تيږې خاوره او..

۹- په ناپامۍ کې خوړل څښل لکه د اوداسه اوبه تيريدل يا له اذان اوريدو سره څښل يا خوړل.

۱۰- کله چې په زوره پرې څه کار وشي لکه په زوره خوراک څښاک يا جنسي نژديکت.

۱۱- په شرمګاه کې د دوا يا ګوتې داخلول.

۱۲- د نفلي روژې نيت کول او بيا خوړل.

۱۳- د سفر لپاره روژه خوړل.

۱٤- کومه ښځه د حيض او نفاس لپاره افطار وکړي.

۱۵- څوک د مريضی لپاره افطار وکړي.

۱٦- قصدا د دود داخلول حلقوم ته لکه د مشک او عنبر او غيره دود.

۱۷- کله چې حامله (ماشوم لرونکی) ښځه په ماشوم د ويرې له امله د يو مسلمان داکتر له مشوري وروسته روزه وخوري.

۱۸- شيدې ورکوونکي ښځه: کله چې يوه ښځه خپل ماشوم ته شيدې ورکوي او کوم مسلمان ډاکټر ورته توصيه کړې وي چې روزه دې وخوري.

پوښتنه: کومو حالاتو کې روزه لرونکی باندې قضايي او کفاره نشته؟

جواب: لاندې حالاتو کې نه کفاره شته او نه قضايي بلکې عفوه ده.

۱- په هيرې سره خوړل څښل يا جنسی نژديکت.

۲- په خوب کې احتلام.

۳- د مخ او پوستکی کريم وهل.

٤- د ضرورت او بی ضرورته غسل.

۵- رانجه کول.

٦- وینه ورکول.

۷- بی قصده مری ته د دود داخلیدل.

۸- بی قصده حلق ته دګرد داخلیدل.

۹- د لاړو او خولې کې دشته شیانو تیرول.

۱۰- سهوا غوړ کې اوبه ننول.

۱۱- دغاښونو منځ کې شي خوړل خو چې له نخود څخه کم وي.

۱۲- بی قصده استفراغ کول.

۱۳- د جنابت حالت کې د روزې شپه تیریدل او سهار کیدل.

۱٤- غیبت کول.

۱۵- په تیلو او یا غوړیو دبدن غوړول.

۱٦- د خولې وینځل.

۱۷- د پوزې وینځل.

۱۸- په کوم نم دار شي کې ځان تاوول.

پوښتنه: فدیه څه شي دي او څه وخت په روزه لرونکی لازمیږي:

جواب: فدیه خوردکم یو چارک غنم او یاد هغې معادل پیسي دې چې په هغه چا لازمیږي چې ټول عمر کې د روزې نیولو توانایي ونلري.

۱- څوک شیخ فانی وي.

۲- څوک داسې مریضي ولري چې قابل صحتمندی نه وي.

۳- چاچي د ټول عمر روزه نذر کړې وی او نیولي یي نشي.

پوښتنه: نفلي روزې کومې دي؟

جواب:

۱- د محرم الحرام میاشت نهمه اولسمه، ابی قتادهﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل امید لرم چې اللهﷻ د عاشورا په روژې سره د انسان یو

کال مخکې او يو کال وروسته ګناهونه معاف کړي[۱]. و عبدالله پسر عباسﷺ مىفرمايد: رسول اللهﷺ فرمود: «هرگاه تا سال گذشته زنده بمانم روز دهم محرم الحرام را نيز روزه مي گيرم»[۲].

۲- د هرې مياشتې څخه درې ورځې روزه ۱۳-۱۴-۱۵- د قمري مياشتې، رسول اللهﷺ مونږ ته امر وکړ چې د سپينو ورځو ۱۳-۱۴-۱۵ روژې ونيسي، او وويي ويل چې داد ټول عمر روژه غوندې ده[۳].

۳- د دوشنبي او پنجشنبې روزه: ابوهريرهﷺ روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د انسان اعمال اللهﷻ ته دوشنبى او پنجشنبى په ورځ تقديم کيږى او زه غواړم چې زما اعمال داسې وخت کې تقديم شي چې روزه ولرم[٤].

٤- د شوال د شپږ ورځو روزه: ابوايوب انصارىﷺ فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د رمضان مياشت روزه ونيسي اوبيا د شوال شپږ روزې ونيسي نو داسې ده لکه چې ټول عمر يي روژه نيولې وي[٥]. قاعده داده چې د مسلمان هر عمل ته په لس چنده ثواب ورکول کيږي، څوک چې د رمضان مياشت روزه ونيسي داسې شو لکه لس مياشتي

---

۱- الحرام أبي قتادة رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «صيام يوم عاشوراء أحتسب على الله أن يكفر السنة التي قبله» مسلم: ج ۲ / كتاب الصيام باب ۳٦ / ۱۹٦

۲- فحديث ابن عمر رضي الله تعالى عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «بني الإسلام على خمس: شهادة أن لا إله إلاّ الله، وأنّ محمّداً رسول الله، وإقام الصّلاة، وإيتاء الزّكاة، والحجّ، وصوم رمضان».

۳- «كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يأمرنا أن نصوم البيض: ثلاث عشرة وأربع عشرة وخمس عشرة قال: قال: هن كهيئة الدهر» أبو داود: ج ۲ / كتاب روزه باب ٦۸ / ۲٤٤۹

٤- روي عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «تعرض الأعمال يوم الاثنين والخميس فأحب أن يعرض عملي وأنا صائم» الترمذي: ج ۳ / كتاب روزه باب ٤٤ / ۷٤۷

٥- عن أبي أيوب الأنصاري رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «من صام رمضان ثم أتبعه ستا من شوال كان كصيام الدهر» مسلم: ج ۲ / كتاب الصيام باب ۳۹ / ۲۰٤

روزه يي چې نيولې وي، او څوک چې د شوال شپږ ورځې روزه ونيسي نو ۶* ۱۰ مساوی ۶۰ = دوه مياشتی او ۱۰ + ۲ = مياشتې

۵- د عرفی د ورځې روزه هغه چا ته چې عرفه کې نه وي، اوقتادهﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې د عرفې د ورځې روزی ته داسې اميدوار يم چې اللهﷻ په هغې سره ديو کال مخکې او وروسته گناه وبښي[1].

٦- د ذی الحجی مياشتې د لسو ورځو روزه، عبد الله بن عباس وايي رسول الله ﷺ فرمايي: هيڅ داسې ورځ نشته چې د انسان نيک اعمال پکې اللهﷻ ته ډير محبوب وي، نسبت له دغو لسگونو ورځو، ويي ويل: ای رسول الله ﷺ داد اللهﷻ لاره کې جهاد، ويي ويل: او نه هم د اله د لارې جهاد. مگر دا چې څوک له ځان او مال سره جهاد ته ځی او بيرته را نشي[2].

۷- د حرامو مياشتو (ذو العقده، ذی الحجه، محرم او رجب[3].

۸- د محرم الحرام مياشت روژه[4].

۹- د شعبان د مياشتې روژه[1].

---

١ - لحديث أبي قتادة رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «صيام يوم عرفة أحتسب على الله أن يكفر السنة التي قبله والسنة التي بعده» مسلم: ج ٢ / كتاب الصيام باب ٣٦ / ١٩٦

٢- لحديث ابن عباس رضي الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «ما من أيام العمل الصالح فيهن أحب إلى الله من هذه الأيام العشر فقالوا: يا رسول الله ولا الجهاد في سبيل الله ؟ فقال ولا الجهاد في سبيل الله إلا رجل خرج بنفسه وماله فلم يرجع من ذلك بشيء» الترمذي: ج ٣ / كتاب روزه باب ٥٢ / ٧٥٧

٣- أبو داود: ج ٣ / كتاب روزه باب ٥٤ / ٢٤٢٨

٤ - «أفضل الصيام بعد رمضان شهر الله المحرم وأفضل الصلاة بعد الفريضة صلاة الليل» مسلم: ج ٢ / كتاب الصيام باب ٣٨ / ٢٠٢

۱۰- يو ورځ روزه يو ورځ افطار[۲].

۱۱- مطلق نفل: هغه روزه ده چې مکروه والی يې ثابت نه وي، او وخت يې هم تعين شوی وي[۳].

پوښتنه: د کومو ورځو روزه نيول مکروه ده؟

جواب: مکروه روزه دوه قسمه دي، مکروه تنزيهی او مکروه، تحريمی مکروه تنزيهی.

۱- يوائې عاشورا روژه نيول پرته له نهې او يا يوولسمې.

۲- يوائې د جمعی ورځ[٤].

۳- يوائې دشنبی ورځ[٥].

٤- يوازې د نور ورځ.

٥- د مهرجان ورځ ورسره لمانځل.

٦- ابدي يا هميشه روزه..[۱].

---

۱- «عن عائشة رضي الله عنها قالت: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يصوم حتى نقول لا يفطر ويفطر حتى نقول لا يصوم فما رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم استكمل صيام شهر إلا رمضان وما رأيته أكثر صياما منه في شعبان» البخاري: ج ۲ / كتاب روزه باب ٥۱ /۱۸٦۸

۲- لحديث عبد الله بن عمر رضي الله عنهما قال: قال لي رسول الله صلى الله عليه وسلم: «فصم يوما وأفطر يوما فذلك صيام داود عليه السلام وهو أفضل الصيام» البخاري: ج ۲ / كتاب روزه باب ٥٥ / ۱۸۷٥

۳- لقوله صلى الله عليه وسلم فيما رواه أبو سعيد الخدري رضي الله عنه: «من صام يوما في سبيل الله باعد الله وجهه عن النار سبعين خريفا» مسلم: ج ۲ / كتاب الصيام باب ۳۱ / ۱٦۸

٤- عن أبي هريرة رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «لا تختصوا ليلة الجمعة بقيام من بين الليالي ولا تخصوا الجمعة بصيام من بين الأيام إلا أن يكون في صوم يصومه أحدكم» مسلم: ج ۲ / كتاب الصيام باب ۲٤ / ۱٤۸ وعنه أيضا قال: سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول: «لا يصومن أحدكم يوم الجمعة إلا يوما قبله أو بعده» البخاري: ج ۲ / كتاب روزه باب ٦۲ / ۱۸۸٤

٥- لـما روي عن عبد الله بن بسر عن أخته أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «لا تصوموا يوم السبت إلا فيما افترض الله عليكم» الترمذي: ج ۳ / كتاب روزه باب ٤۳ / ۷٤٤.

۷- د شک ورځې روزه.

۸- په مشکلاتو کې دمسافر روزه نیول[۲].

۹- د خاوند له اجازی پرته د ښځې نفل روژه نیول..[۳].

۱۰- د خاموشی (چوپ والی) روزه.

تحریمی مکروه: چې له ګناه او د اللهﷻ د حکم له مخالف څخه مشروع کیږي.

۱- هغه روزی چې له ګناه او یا اسلامي شریعت سره په خلاف شروع کیږي لکه:

الف: دواړه او غټ اختر ورځې[٤].

ب: د ایام تشریق روزه (۳ ورځې وروسته له لوی اختر څخه)[٥].

پوښتنه: روزه کې څه شی مستحب دی.

جواب: لاندې امور مستحب دي.

۱- په افطارکی عجله کول.

۲- په درې خرما و افطار کول.

۳- د افطاری پر وخت دعا کول.

---

۱- لحديث أبي قتادة رضي الله عنه وفيه: «فقال عمر: يا رسول الله كيف بمن يصوم الدهر كله ؟ قال: لا صام ولا أفطر» مسلم: ج ۲ / كتاب الصيام باب ۳٦ / ۱۹٦

۲- روي عن جابر بن عبد الله رضي الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «ليس من البر أن تصوموا في السفر» مسلم: ج ۲ / كتاب الصيام باب ۱٥ / ۹۲

۳- أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «لا تصوم المرأة وبعلها شاهد إلا بإذنه» البخاري: ج ٥ / كتاب النكاح باب ۸٤ / ٤۸۹٦

٤- عن ابي سعيد الخدري رضي الله عنه قال: «نهى النبي صلى الله عليه وسلم عن صوم يوم الفطر والنحر» البخاري: ج ۲ / كتاب روزه باب ٦٥ / ۱۸۹۰

٥- لحديث نبيشة الهذلي قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «أيام التشريق أيام أكل وشرب» مسلم: ج ۲ / كتاب الصيام باب ۲۳ / ۱٤٤

٤- سحري (پیشمنی) ته پاڅیدل.

٥- د قران کریم زیات تلاوت.

٦- په خپلو اولادونو رزق کې وسعت کول.

٧- زیاته صدقه ورکول.

٨- اعتکاف کیناستل.

٩- په استنشاق کې مبالغه کول.

# شپږم فصل:
# د زکات فلسفه

**فصل کې شاملې موضوع ګانې:**

**۱- د زکات مفهوم.**

**۲- د فرد او ټولنې جوړولو کې دزکات نقش.**

**الف: دفرد جوړولو کې د زکات نقش.**

**ب: دټولنې جوړولو کې د زکات نقش.**

**۳- د زکات فلسفه:**

## زکات د اسلامي شریعت په لغت او اصطلاح کې:

### زکات په لغت کې:

د نمو او زیاتیدلو په معنی ده حضرت علیؓ وايي چي «المالُ تنقُصه النَّفقة والعِلم يَزْكُو على الإِنْفاقِ»[1] ماله په مصرفولو باندې کمیږي او علم په مصرفولو باندې زیاتیږي همدارنګه د اصلاح په معنی سره هم راغلی دي، ﴿وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ مَا زَكَىٰ مِنكُم مِّنۡ أَحَدٍ أَبَدًا﴾ [النور: ۲۱] «او که د الله فضل او رحمت په تاسې باندې نه وی نو له تاسې نه به هیڅ یو اصلاح شوی نه و».

از هری په تهذیب اللغه کې وایی[2]. د مال زکات د هغه د پاکې په معنی سره ده او د فطر زکات د بدن د پاکۍ په معنی سره ده.

---

۱- لسان العرب تاليف محمد بن مكرم بن منظور الأفريقي المصري، بيروت: دار صادر ط ۱، ۳۵۸/۱٤.

۲- زكاة المال، وهو تطهيره، والفعل منه زكَّى يُزَكِّي تزكية، تهذيب اللغة تاليف الأزهري۳۹۵/۳

**زکات په اصطلاح کې:**

د هغه حق اداکول دي چې په مخصوص مال په مخصوص شکل د یو کال له تیریدو او د شرعی نصاب له پوره کیدو وروسته واجب شوی دی.

## د زکات حکم:

زکات د قرآن کریم، سنتو، او اسلامی امت داجماع په اساس باندې فرض دی.

﴿وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ﴾ «لمونځ وکړي او زکات ورکړي».

دسنتو دلیل: د نبی کریمﷺ حدیث دی: «قال رسول الله صلى الله عليه وسلم بني الإسلام على خمس شهادة أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله وإقام الصلاة وإيتاء الزكاة والحج وصوم رمضان» رسول اللهﷺ فرمايي چې اسلام په پنځو ستنو بنا شوی دی د لا اله الا الله محمد رسول الله شهادت، لمونځ کول، د زکات ورکول، حج او د رمضان المبارک میاشت روژه.

## د اجماع دلیل:

ټول اسلامي امت اجماع کړیده چې زکات یوه اسلامي فریضه ده.




## د زکات نقش:

زکات د اسلام مقدس دین یو مهم رکن دی چې په مالی او اقتصادی اړخ کې تطبیق کیږی او په فرد او ټولنه باندې خپل اثر پریږدي چې کولی شو په څو ټکو کې یې مطالعې لاندې ونیسو:

**۱– د زکات نقش دفرد په جوړولو کې:**

کله چې قرانی ایاتونه مسلمان انسان ته په زکات باندې امر کوي توجه و دقت ورته وکړی د هر قرانی آیات ترڅنګ د زکات یو حکم هم موجود دی، لمونځ چې د معنویت له اړخه له اللهﷻ سره د انسان رابطه مستحکموي، زکات دغه رابطه په مالی او مادی برخه کې مستحکموی ځکه هغه عیبونه چې د اللهﷻ او بنده ترمنځ فاصله راولی ډیر دی لکه د مال محبت بخیلی، غلا، لاره وهل، اختلاس، رشوت، او نور هغه خطرناک عیبونه چې د مالي نقطه له مخی د انسان وجود ته داخلیږي.

کله چې یو مسلمان الهی احکام مراعات کړي او د خپل حلال مال زکات ورکوی پدي ځای کې دی د مال له افراطي محبت څخه یو بل محبت ته انتقال کوي چې هغه د اللهﷻ محبت دی، دا مومن ثابتوی چې د اللهﷻ د رضایت لپاره له خپل مال څخه تیریږي او هغه د الله لاره کې مصرفوي، نو څرنګه حرام مال ته مخه کړي. د مال زکات د مومن ایمان ډیر قوی کوي ځکه ډیرو حالاتو کې انسانان ریا کاری کولی شي چې سلګونه رکعتونه وکړي اوریا وي او هره لحظه ریا کاری نفلونه کوی ولې ددې په عکس د اللهﷻ لاره کې مال مصرفول دا ښيي چې دا واقعا له اللهﷻ سره محبت لری او د خپل ژوند له قیمتی شي څخه د اللهﷻ د رضایت لپاره صرف نظر کوي، بناء زکات مومن انسان لاندې امورو ته را کاږي:

الف: د ایمان تقویت د الله لاره کې د مال په مصرفولو سره.

ب: له بخل څخه لری والی.

ج: د فقیرانو محبت.

د: د حرام مال له کسب څخه لرې والی.

**۲– د انسانی ټولنې جوړولو کې د زکات نقش:**

د انسانی ټولنې او د حیواناتو (ځنګل) ترمنځ فرق یو اساسي او مهمه نقطه کې ده هغه دا چې انسان د نورو او حیوان یوائې د ځان لپاره ژوند کوي.

دی‌شیخ باچراغ همی‌گشت گردشـهر کزدیوودملـولم وانسـانم ارزوسـت

کله چې په انساني ټولنه کې څوک د شخص منفعت لپاره هڅه او کوشش کوي او د نورو په بربادۍ اويابی توجهۍ مشغوله شي خپل انساني شخصيت له لاسه ورکوي، د اسلام مقدس دين د ټولنې د جوړولو لپاره زکات فرض کړی دی ترڅو انسان د نورو دخير غوښتنې لپاره خپل حلال مال مصرف کړي، او يو اندازه خپلې پيسی هغو خلکو ته ورکړي چې د مال له نعمت څخه محروم دي.

**الف: اجتماعی برخه کې**

کله چې يوه ټولنه کې د خلکو ترمنځ د همکاری او عاطفی احساس موجود وی غنيان د فقيرانو مشکلات په نظر کې ونيسي د هغوی د مشکلاتو د حل لارې وګوري، اود فقر اود فقر د نښو د ورکولو لپاره هڅه او کوشش وکړي، بې‌شکه چې دې جامعه کې د جرم او ګناه اثار او اسباب تر اخري حده کميږي ځکه په ډېرو زياتو ټولنو کې د جرمونو او جنايتونو اساسی علت بيکاری او فقر ښودل شوې ده. زکات د فقر د ورکولو او د فقيرانو او کمزورو د لاس نوی يوه مهمه وسيله ده، کله چې غني د خپل مال زکات به سيي او حقيق شکل د الهی احکامو مطابق اسلامی حکومت ته تقديم کړي، او حکومت له دې مالونو څخه د فقر او بيکاری ضد مبارزه کې استفاده وکړي دې ځای کې ټولنې ته څومره فايدې راځي.

- د غنيانو مقابل کې د فقيرانو د بدبينۍ حس له منځه ځي، ځکه هغوی پوهيږي چې دی ورسره کومک کيږی
- د فقر لمنه ورځ په ورځ ټوليږي او هر څوک خپل ژوند نور ماله تيرولی شي.
- کله چې دولت د زکات مال څخه تعليمی مرکزونو او د بی وزلو د سرپرستۍ مرکزونو کې استفاده وکړي بی کارۍ او بی سوادۍ له منځه ځی.
- د ټولنې د افرادو ترمنځ دوستی او محبت زياتيږي ځکه غنيان له فقيرانو سره همدردی کوي او د هغوی محبت ترلاسه کوي.

**ب: سیاسي برخه کې**

د حکومتونو یوه ستره ستونزه له فقر، بیکارۍ، بیسوادۍ، او بیچارګۍ سره مبارزه ده، دغه حکومتونه نشي کولی د خلکو ضرورتونه په پوره ډول سره مرفوع کړي او پدي شکل احیانا مجبوریږي له نورو څخه کمک واخلي چې دغه خارجي کومکونه ډیر وخت نړۍ استعمار ته کشوي او ددې په ځای چې ګټه وکړي خپل سیاسي سیادت له لاسه ورکوي، زکات د اسلامي حکومت لپاره بهترینه اقتصادي وسیله ده.

اسلامي حکومتونه کولی شي له دغه الهي قانون څخه په استفادي سره د غنیانو دمالو زکات راټول او د فقر، بیکارۍ، دیتیمانو بیسوادۍ، بې سرپرستۍ، کندو، د شهدا او معلولینو د وارثانو د مشکلاتو حل کې خپله مبارزه شروع کړي.

د اسلام مقدس دین کې اسلامي حکومت مکلفیت لري چې یوه اداره د زکات ټولولو په نامه سره تاسیس کړي دا اداره به خپل رعیت ته د دارایي د ثبت فورمه ترتیب کړي، او د هغې مطابق به کلنی د هغوی څخه د زکات مال راټولوي او د الهي احکامو مطابق به یي مصرفوي، چې د حکومت دا کار لاندې ګټې لري:

- کله چې حکومت د زکات مال رسما را ټول کړي، هیڅ سرمایه دار نشي کولی له دې څخه ځان خلاص کړي، بناء د فقیرانو حقوق ښه محفوظ کیږي.
- حکومت کولی شي په منظم ډول د فقر ضد مبارزه کې عملي برنامې ولري.
- حکومت کولی شي دبسوادۍ ضد مبارزه کې منظمي عملي برنامې ولري.
- حکومت به ډیره قوي مالي بودیجه ولري، د نورو څخه خیرات غوښتنې ته ضرورت نشته.

- کله چې حکومت وکولی شی د خپل رعیت مشکلات رفع کړي هلته امنیت او استقرار هم حاکمیږي.

**ج: اقتصادی برخه کې**

د نړۍ د ټولو هیوادونو اقتصادی مشکل په عایداتو او مصارفو کې دي، د نړۍ اقتصاد پوهان دې خبرې پسي دي چې لومړي د هیواد عایدات زیات کړي او همدارنګه د مصارفو په هکله هڅه کوي چې ترڅو بی ځایه مصارف دوی ته اقتصادی ضربه ورنکړي کله چې اسلامی هیوادونه د زکات قوانین د دولت د اقتصادی زیر بناء تقویی لپاره عملا تطبیق کړي دا به دوی ته لویه اقتصادی پشتوانه وي، او کله چې دمالونو مصارف د اسلامی احکامو مطابق اسلامی چوکاټ کې تثبیت کړي او د بی ځایه مصارفو مانع وګرځي پدې کار به هم د هیواد ملیونونه سرمایه په مبتذلو امورو، او بی ځایه فلمونو او سریالونو کې نه مصرفیږي.

**د عمر بن عبد العزیز ﷺ خلافت د اسلامي اقتصاد نمونه**

حضرت عمر بن عبد العزیز چې د اسلام پنځم خلیفه په نوم سره مشهور دي، د خپل حکومت اساس د تقوا او ټولو اسلامی احکامو د تطبیق په اساس سره کیښود هغه به ویل که په کوم غره کې کوم حیوان وغورځیږي، نو الله ﷻ به له ما څخه پوښتی چې ای عمره ولې دې ورته لاره نه وه جوړه کړې.

عمر بن عبدالعزیز د خپل خلافت په دوره کې د اسلامی اقتصاد قانون چې زکات یې یوه پایه ده تطبیق کړ، او نتیجه دا شوه چې دبیت المال (وزارت مالیې) مامورینو په ټولو ښارونو کې د فقیرانو په لټه کې ؤاو داسې فقیرنه پیدا کیده چې څه کومک ورسره وشي.

**د: فرهنګی برخه کې**

اسلامی فرهنګ د اخوت او ورور ولۍ فرهنګ دي، د اجتماعی تکافل فرهنګ دی، او د نورو مشکلاتو د حل لپاره هڅه او کوشش کوي

تو کز محنت دیگران بی‌غمی          نشاید که نامت نهند آدمی

زکات دغه اسلامی فرهنګ په عملی ډول سره د خلکو ترمنځ خپروی.

## د زکات فلسفې:

**۱- د غنیانو سره د مالونو دنه ذخیره کیدلو فلسفه:**

د اسلام مقدس دین کې مال او پیسي څه احکام لري. چې دغه اموال د الهی ارشاداتو په اساس یواځې د سرمایه دارانو لاس کې نه پاتې کیږي، بلکې غنی انسان مجبور دی چې کلنی ۵ / ۲ فیصده خپل مال فقیرانو ته ورکړي، دغه مال د ا سلامی دولت لخوا په قانونی او حتمی ډول له ده څخه اخیستل کیږی او په فقیرانو او مسکینانو باندې مصرفیږي کله چې یو تجار ملیاردونه ډالر ولري، او ددی زکات ترې اسلامی حکومت په رسمی ډول سره واخلي نو ټول مالونه د غنیانو لاس کې نه پاتې کیږي بلکې فقیرانو ته هم فرصت ورکول کیږي چې له دې څخه استفاده وکړي.

**۲- دبی وزلو د حقوقو د حفاظت فلسفه:**

د انسان لاس جوړوشوو نظامونو کې که څه هم د حقوق انسان او بشر دوستۍ ادعاګانی همیشه غوږ ونه کړنوی خود تطبیق په عملی ساحه کې بشریت تر اوسه هم په فقر او بی وزلۍ کې مبتلا دی، فقیران لا هم په غربت او بیچارګۍ اخته کیږي او مالداران نور هم د ملت وینې څښي، دغه نظامونه کله د سیوسیالزم او کمونیزم تر نوم لاندې سرمایه د دولت انحصار کې راولي، او د دولت رهبران د خپلو پلانونو مطابق ټوله سرمایه مصرفوي د ملت حق خوری او کله هم دغه بشري نظامونه د پلورالیزم په نوم سرمایه دارانو ته حق ورکوي له هرې لارې چې وي سرمایه لاس ته راوړي، او ددې مقابل کې د ټولنې او فیرانو په وړاندې هیڅ مسولیت هم نلري. د اسلامی زکات قانون چې د اسلام مقدس دین له پنځو بناو څخه یوه اساسی بنا ده، چې انکار یې کفر دی، او یوه فریضه د ه چې د هغې له ادا کولو پرته حتا د انسان حلال مال مرداریږي نو غنینان مجبوره دي چې دغه دوه نیم فیصده مال کلنی فقیرانو ته ورکړي. او هر څومره چې سرمایه زیاتیږي په هماغه اندازه د زکات مال هم زیاتیږي، چې ددغو مالونو عادلانه تقسیم د فقیرانو او بی وزلو مشکل له اسلامي ټولنې څخه ورکوي د زکات د نظام جاری کولو سره د فقیرانو او

مسکينانو حقوق حفظ کيږي، هغوی ته به دولت کې يوه خاصه سرمايه وي او دا سرمايه به د دوی په ګټو د دوی د ضرورتو مطابق مصرفيږي، دغه نظم ددې سبب کيږي چې فقيران د امکاناتو پيدا کولو سره بالاخره د غنيانو صف کې دريږي.

**۳– د مالونو نفقه کول ددين مهمترينه برخه ده ددې فلسفه:**

هر عبادت د مومن په ژوند کې خپل ځانګړی تاثير لری او کله هم امکان لري څوک په بدنی او د بی مصرفه عبادتونو په اول صف کې قرار ولري. ولې دده ايمان هغه وخت کامل کيږي، چې دغه مومن بنده ددغو بدنی عباداتو علاوه د اللهﷻ په رضايت د مالونو په تقديمولو کې چې مالي عبادتونه دي هم فعاله سهم ولري. او اللهﷻ په قران کريم کې زکات د لمانځه ترڅنګ کړی دی ترڅو يو مومن د خپلې بندګی دادعا لپاره دواړه په متوازی شکل سره د توان په حالت کې ترسره کړي ﴿وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ۝٤٣﴾ [البقرة: ٤٣]

د نفس نيکو اعمالو د پاکۍ لپاره هم ضروری ده ﴿قَدۡ أَفۡلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ۝٩﴾ [الشمس: ٩]

د حيوان د غوښې پاکولو لپاره ذبحه کې ضروری ده ﴿ وَلَا تَأۡكُلُواْ مِمَّا لَمۡ يُذۡكَرِ ٱسۡمُ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ﴾ مه خوري له هغه شی څخه چې د اللهﷻ نوم ورباندې ياد شوی نه وي.

د مال پاکې لپاره زکات ته ضرورت ده ﴿خُذۡ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡ صَدَقَةٗ تُطَهِّرُهُمۡ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيۡهِمۡۖ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٞ لَّهُمۡۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ۝١٠٣﴾ [التوبة: ١٠٣] «د دوی له مالونو څخه زکات واخله پدې سره يې پاک او تزکيه کړه او دوی باندې لمونځ وکړه، بی‌شکه ستا مونځ د دوی لپاره ارامنبت دي، او الله اوريدونکی او پوه ذات دي».

**۴– د زکات د نظام تطبيق د اسلامی حکومت وظيفه ده:**

د اسلامی اقتصاد مهمترین اساس د زکات ټولول او اسلامی د شریعت مطابق په قانونی ډول سره مستحقینو او فقیرانو ته د هغې توزیع ده. کله چې د یو حکومت مسول حقیقتا دغه نظام مراعات کړي او هغه په سیي ډول سره را ټول کړي او د خیر او نیکو کارونو کې چې د مستحقینو او مسکینانو په نفع وي هغه حقیقتا خپل مسولیت د خپل ملت په وړاندې ادا کړي، الله‌ﷻ ددغسې اشخاصو په هکله فرمایي: ﴿ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ أَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَمَرُوا۟ بِٱلْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا۟ عَنِ ٱلْمُنكَرِ ۗ وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلْأُمُورِ ﴿٤١﴾﴾ [الحج: ٤١] «هغه خلک چې واک ورکړو په ځمکه کې قایموی لمنځونه، ورکوی زکات، او امر بالمعروف، او نهی عن المنکر کوي او الله لره دي د کارونو انجام».

کله چې د دولت یو مسول دغه څلور کارونه مراعات کړي حقیقتا د خپله حکومت نظم یي په شرعی او ایمانی صورت سره ترتیب او تنظیم کړي دي. هم سعادت دده نصیب کیږی او هم ی د پیروانو، دغه څلور حکمونه پورته آیات کې ښه بیان شوی دی چې عبارت دي له:

الف: د لمانځه کول: کله چې دولتی مسولین د لمانځه په قایمولو کې چې د انسان رابطه له الله سره کلکوی او جوړوی کوشش وکړي او رعیت یې هم له الله سره ارتباط ولري. نو هیڅکله دغه خلک د الهی دساتیرو مخالف عمل نه ترسره کوی ځکه هغوی همیشه له الله سره ارتباط لري او څوک چې له الله سره ارتباط ولری همیشه خپله د خپلو اعمالو مراقب وي او د الله له ویرې چا باندې ظلم او تجاوز نکوي.

ب: د زکات ورکول او د زکات د امورو نظم: کله چې د یو حکومت مسولین پخپلو اقتصادی برنامو کې زکات د الهی احکامو مطابق برنامه ریزی کړی د دولت ډیر اقتصادي مشکلات له دې لارې رفع کیږي.

ج: په نیکیو امر کول: کله چې دولتی مسولین دې موضوع ته متوجه شي او خلک نیکو کارو ته دعوت کړي او ټول دولتی او ازاد خبری رسنۍ نیکیو ته د خلکو په دعوتولو باندې مصروف وي او ټولې هنرې برنامې تمثیلی پرچې

تفریحی برنامي، او خپل فلمونه نیکیو ته ددعوت په خدمت کې مقرر وي.حقیقتا کولی شي جامعه دنیکیو او اخلاقی تربیت خوا ته راوکاږي.

د: له بدیو څخه ډیر خلک له بدیو څخه د منع په حقیقت باندې ندی پوه شوي او فکر کوي چې په عبادت باندې په زوره د خلکو مجبورول، یو رنګه دغسي اسلامی حکم دي داسې حال کې چې داسې نده، دبدیو څخه د منع کولو اصلی هدف د ژوند په ټولو عملی برخو کې ده. کله چې د چا کور کې بی سوادي منتشره شي او ورونه او خویندې او د فامیل ټول اعضایې پدې منفی کار او مهلک مرض باندې مبتلا وي. دغه شخص کوشش کوي او درسي برنامو سره دوی با سواد کوي. او دوی د علم او پوهې زده کړې ته تشویقوي، حقیقت کې یې له بدیو څخه منع کړیده.

**۵- زکات د مومنانو د کامیابۍ یوه علامه:**

د ۱۸ پارۍ پیل کې چې د هغو مومنانو په هکله چې کامیابی او بري د دوی نصیب شوی دی قرانی ایاتونه راغلی دی او له دې ډلې څخه یې هغه خلک هم شمیرلی دي چې د خپلو مالونو زکات ورکوي ﴿وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِلزَّكَوٰةِ فَٰعِلُونَ ٤﴾ [المؤمنون: ٤]

چې زکات هم ورکوي زکات ورکوونکی د الهی رحمت امید وار دي، الله جل جلاله مومنانو ته باین کړی دی چې تاسې دغه دری کارونه وکړي ترڅو الهی رحمت لاندې داخل شي، چې دا عبارت دي له: لمونځ کول، زکات ورکول، او د پیغمبر اطاعت کول ﴿وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ٥٦﴾ [النور: ٥٦] «او لمونځ قایم کړي او زکات ورکړي او د رسول الله اطاعت وکړي ترڅو په تاسې رحم وشي» زکات د مال زیاتیدو سبب ګرځی.

﴿وَمَآ ءَاتَيۡتُم مِّن رِّبٗا لِّيَرۡبُوَاْ فِيٓ أَمۡوَٰلِ ٱلنَّاسِ فَلَا يَرۡبُواْ عِندَ ٱللَّهِۖ وَمَآ ءَاتَيۡتُم مِّن زَكَوٰةٖ تُرِيدُونَ وَجۡهَ ٱللَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُضۡعِفُونَ ٣٩﴾ [الروم: ۳۹] «او تاسې چې کوم سود ورکړي چې زیات شي د خلکو مال کې نو دا نه زیاتیږی د الله په نزد، او هغه چ تاسې زکات ورکړي چې د الله رضا غواړي نو همدغه زیاتیدونکی دي».

**۶- زکات له الله ﷻ سره د انسان د محبت اندازه ثابتوی:**

هر څوک چې په ژبه د الله ﷻ د محبت دعوه کوي، دا چې مال هر چاته ګران وي د همدې لپاره د انسان امتحان کې دمال یادونه مخکې شوې او خصوصا زکات فرض شوي دي. چې هغي کې د الله ﷻ سره د خلکو د محبت اندازه معلومیږي.

**۷- زکات د بخل له صفت څخه د انسان د پاکولو وسیله:**

له زکات څخه هدف د بخل له صفت څخه د انسان پاکول دي. دغه سحت هلاکوونکی صفت د انسان په وجود کې وي چې حقیقی مومن ته نه ښايي دغسې صفت واي، حضرت محمد ص فرمايي: درى شيان دانسان هلاک کوونکی دی.

۱- هغه حرص او بخل چې اطاعت يې وشي.

۲- د نفس هغه خواهش چې پیروي يې وشي.

۳- له ټولو څخه د خپل نظر غوره بلل.

**۸- د مال د نعمت شکر په زکات سره ادا کیږي:**

الله انسان ته ډیر نعمتونه ورکړي دي چې باید د ټولو شکر ادا شي او د مال دنعمت شکر د زکات ورکولو په واسطه ادا کیږي.

# اووم فصل:
# د حج فلسفه

**فصل کې شاملې موضوع ګانی:**
**۱- د حج مفهوم.**
**۲- د فرد او جامعی په جوړولو کې د حج نقش.**
**الف: د فرد جوړولو کې دحج نقش.**
**ب: د جامعې جوړولو کې دحج نقش.**
**۳- د حج فلسفه.**

## حج په لغت او د اسلامی شریعت په اصطلاح کې

### حج لغت کې:

د قصد په معنی سره ده

### حج په اصطلاح کې:

په مخصوص وخت او مخصوصو ځایو کې د مخصوصو عباداتو د ادا کولو قصد دی.

### د حج حکم:

حج د قران، سنتو او اسلامی امت اجماع د دلایلو په اساس فرض دی.

### له قران کریم څخه دلیل:

﴿وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلۡبَيۡتِ مَنِ ٱسۡتَطَاعَ إِلَيۡهِ سَبِيلٗاۚ﴾ «او د الله لپاره په خلکو باندې حج دی هغه څوک چې د هغه د لارې وس ولري».

له سنتو څخه دلیل د نبی کریم حدیث: «قال رسول الله صلى الله عليه وسلم بني الإسلام على خمس شهادة أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله وإقام الصلاة وإيتاء الزكاة والحج وصوم رمضان» رسول الله ﷺ فرمايي اسلام بنا شوی دی په پنځو ستنو د لا اله الا الله محمد رسول الله شهادت، د لمانځه اقامه کول، د زکات ورکول حج او روژه د رمضان.

**له اجماع څخه دلیل:**

ټول اسلامي امت اجماع کړیده چې حج یوه اسلامي فریضه ده.




**د حج نقش:**

حج یوه له پنځه ګونو اسلامی ستنو څخه ده دغه الهی وجیبه د انسان ټولنې او فرد په جوړولو کې مهم رول لري. چې کولی شوهغه په تفصیلی ډول د مطالعې لاندې ونیسو:

**۱– د فرد جوړونه کې د حج نقش:**

حج مومن انسان لوړو ایمانی مرحلو ته کشوي چې کولی شو داسې یې تحلیل کړو: دی مراسمو کې معنویت: دبیت الله شریف حج له هر څه مخکې یو معنوی سیر دی چې د مومن انسان روح له مادیت او شیطانی ښوییدلو څخه د الله جل جلاله د ذات عبادت په لور او له ګناهونو څخه د نیکیو او الهی دربار ته د تسلیمیدو په لور کشوی. چې دحج دغه معنویت په لاندې امورو کې کولی شو په ښه ډول سره د مطالعې لاندې ونیسو.

د اللهﷻ په لور سیر: دحج لومړی اثر کولی شو په یو عمومی نظر کې د انسان وجودي سیر: داللهﷻ په لور، او د بنی ادم د خلقت د فلسفی رمز ښونه او د هغه څخه عینی تجسم چې دې فلسفه کې مطرح دی...)[1].

کله چې د حج حقیقت ته نظر واچوو دا په حقیقت کې د اللهﷻ په طرف یو سیر دی، د انسانیت او مسلمانانو د تاریخ په لور سیر، د ارزښتناکو او تاریخ جوړوونکو شخصیتونو په لور سیر د عشق او محبت په لور سیر او د انسان د اصالت په لور یو سیر دی پدې سفر کې هر انسان لکه یو ممثل غوندې د بشر د ژوند تمثیل کوي، د تاریخی شخصیتونو ژوند تمثیلوي، کله د ابراهیم ژوند، کله د سارا ژوند، کله د اسماعیل ژوند، کله د ټولو دردونه او غمونه، کله... او کله.

پدغو مختلفو صحنو کې دغه مومن انسان د ممثل په څیر د هیرو نقش ادا کوي ولې ظاهري نقش نه، بلکې د هغه له دقیقی محتوا داو معنا سره، د شخص خپل ځان له خپل ژوند څخه لرې کړی دی او څرنګه چې هغه ممثل په یو فلم کې خپل ځان هیر کړی دی او د بل چا په نقش کې لوبیږي، او ټول حالات عملا پخپل ځان تطبیقوي په همدی رنګه دغه مومن شخص د بشریت د تاریخ ټولې صحنې یو ځل تمثیلوي.

چې د جمعې لمونځ اداکولی پدې وسعت سره د یو ښار د وګړو ترمنځ د لا زیات تعارف او تفاهم لامل ګرځی.

او دا چې د جمعی لمانځه کې شرط ده چې د رهبر په امامت او یا د یو نماینده په واسطه ادا شي، بنا د مسلمانانو د امام (خلیفه – امیر المومنین) په حضور سره د جمعې د لمانځه او دده د خطبی ادا کو په واسطه مسلمانان کولی شي د خپل هیواد مشکلات پدې ورځ کې د مسلمانانو له خلیفه سره د اللهﷻ په کور کې پرته د مراجعینو د منع کولو د دروازی او سکرتریت څخه په مستقیم ډول سره ترسره کیږي.

---

۱ - تحلیلی از مناسک حج، تالیف دکتر علی شریعتی، ایران: انتشارات الهام، ص: ۳۲

ولې د مسلمانانو د نړيوالو ستونزو د حل لپاره بايد کلنی يو کنفرانس داير شي چې هغه کې ټول مسلمانان له نړۍ څخه را ټوليږی او د خپلونړيوالو ستونزو د حل لپاره تصميم ونيسي، او پدې ډول د هر هيواد نماينده خپلې ستونزې د نړيوالو غوږ ته رسوي او بيا نور ورسره ددی ستونزو په رفع کولوکې مرسته کوي. بناء حج د ملتونو او د نړۍ د مسلمانانو ترمنځ د تفاهم اساسي وسيله ده ولې د اسلام دښمنانو ددې وسيلې د حقيقت په درک سره هڅه او کوشش وکړ چې د حج مراسم صرف په عباداتو او مقدسو ځايونو ته تللو کې منحصر کړي او سياسی رهبران يې غلامان کړي دي، هغوی يې دې ته هڅولې چې د حج د مراسمو پر وخت د اسلامی کنفرانسونو او مجلسونو مخه و نيسي او د مسلمانانو د هغو سياسی جلسو مانع شي چې اصلا بايد دغه ځای کې مطرح شوې وې. همدارنګه حج ته د مسلمانانو د تګ د مخنيوی لپاره يې د حج په وختونو کې ډير قيمته نرخونه واييي. چې ډير وخت د الهی کور زړه تړونکی نشي کولی په ساده ګی سره دبيت الله دزيارت په شرف نايل شي.

**۲- دحج سياسي نقش:**

حج د ملل متحد عملي ښبه ده، چې اساس يې توحيد او دنړۍ د ملتونو يو پارچه کيدل دي. د اسلام مقدس دين د حج په فرضيدلو سره خلکو ته په عملی ډول ښکاره کوي چې د الهی توحيد په اساس سره ملل متحد جوړ شوی دی. چې هغې کې دويتو حق څو لويو دولتونو ته نشته بلکې ټول ملتونه په يو رنګ سره له خپلو حقوقو څخه استفاده کوي که څه هم مونږ يو ملل متحد لرو، ولې د هغه ستونزه داده چې هغه کې د ويتو حق څو لويو ځواکونو ته ورکړ شوی ده.

حج يوه خاصه برنامه ده، چې يو وخت مختلف ملتونه له مختلفو رنګونو (تور) سپين، زيړ او سور) سره، له مختلفو هيوادو څخه يو بل سره يو ځای کيږي او د هر هيواد د اختلافاتو سمبولونو او افتخاری لباسونو د له منځه

وړلو لپاره ټول یو متحد لباس په تن کوی او په ژبه همدا یو شعار وایي چې «لبیك اللهم لبیك لاشریك لك لبیك ان الحمد والنعمة لك والملك لا شریك لك».

په حج کې د ملت جوړونی دغه یوائځنی حقیقت ټولو نړیوالو ته په پراکتیک او عملی ډول سره د مشاهدی وړ دي. که د هندوانو جشن د هندوستان د هندوانو لپاره دی او یا هم د چاپانیانو د بت پرستۍ په مراسمو کې یوائځې د چین خلک برخه اخلی ولې د رب العالمین د عبادت په مراسمو کې هیڅوک حق نلري چې نسبت نورو ته برتریت ولري. رسول اللهﷺ د مکې له فتحی وروسته هیڅ قریشی، مکی، عربی او هاشمی ته امر ونکړ چې د کعبی پر بام وخیژی بلکې یو تور پوستی حبشی غیر عربی غیر قریشی غیر هاشمی چې د ابراهیمی توحید د سمبول نښه وه هغه د کعبی بام ته پورته کوي او ورته امر کوی چې د توحید غږ پورته کړه څومره ښه ده چې دغه حقیقت دداسې یو پوهیال چې تر اوسه لا په توحید ندی مشرف شوی خو په حقیقت باندې پوه شوی دی له خولې ذکر کړو.

د هندوستان یو پروفیسور (راما کرشنا راو) د میسور ښار د مهاراتی هنرونو د کالج د فلسفې د څانګی رئیس د محمدﷺ په نوم یو کتاب لیکلی دی. هغه وایي: (د مکی له فتحی وروسته محمد بلال ته امر کوی چې د کعبی بام ته پورته شی او د الله اکبر غږ له هغه ځایه پورته کړی حبشی بلال له پیړو او ډبلو شونډو سره هلته پورته کیږی هغه بام چې د اسلام له نظره ډیر مقدس او عین حال کې تاریخی هم دی. دې وخت کې د عربو تکبر او غرور خپل اوج ته رسیږي او وایي دغه حبشی غلام چې دبیت الله بام ته خیژی او اذان وایي ښه ورځ دې ونه وینی، خو د الله پیغمبر د غرور تکبر نخوت او ځان غوښتنې دله منځه وړلو لپاره راغلی و، داچی د الله پیغمبر د غرور تکبر نخوت او ځان غوښتنې دله منځه وړلو لپاره راغلی و نو ځکه د الله پیغمبر یوه خطبه ورکوي چې هغې کې داسې وایي:ټول حمد او ثنا اللهﷻ لره دی چې د مخلوقاتو رب دی او دهغه شکر ادا کوو چې مونږ یې د جاهلیت له جهل او ناپوهۍ څخه وساتلو، ای خلکو یاد لری چې ټول خلک په دوه ډلو ویشل شوی دي، د الله متقی او پرهیزګار بندګان چې عالی مرتبې لري، او شقی القلبه خلک چې دالله

په وړاندې بدبخته او بی اهمیته دي. ټول خلک د ادم بچیان دی او ادم له خاورو څخه دنیا ته راغلی دی[۱].

پروفیسور رام کرشنا وایي: د کال یو ځلې ټوله نړۍ د سر په سترګو وینې چې د رنګ، بوی او نژاد اختلافات له منځه ځی او هر انسان منحیث انسان یو د بل تر څنګ دریږي، دغه انسان د اروپا وی یا د امریکا یا د هندوستان او یا چین لنډه دا چې ددنیا له هر ځایه وي، مکې ته ځی او هلته د یو ې کورنۍ غړو غوندې راټولیږي په یوه قیافه یو شکل، یو لباس او یو غږ او له هر رنګه تکبر او غرور څخه خالی په لوړ سر شعار ورکوي «لبيك اللهم لبيك لا شريك لك» دلته ده چې دنیا کې هیڅ داسې شی نشته چې د تمیز او فخر قابل وي، پرته د الله تعالی له ذاته چې هر حاجې له دې تاثر سره کور ته ګرځي چې الله ﷻ لاشریک دی او مونږ د هغه بندګان یو.

هغه زیاتوي: لکه چې پروفیسر هر ګرونجی ویلی دي هغه ملګري ملتونه چې د الله پیغمبر تشکیل کړي و په هیڅ بل ملت او قوم کې سابقه نلري، او مختلفو قومونو له هغه څخه درس واخیست هغه زیاتوی: د اسلام له امت څخه پرته د ملګرو ملتونو په تشکیلولو کې بل هیڅ داسې ملت نشي پیدا کیدلی[۲].

د اسلام پیغمبر وکولی شو چې د نبوت او توحید د مکتب شاګردان داسې وروزي چې ټول د ږومنځې دغاښونو په شان یو شی وی او هیڅوک په بل چا برتریت ونلري او یواځې برتریت په تقوا سره وي.

**۳– د حج اقتصادی نقش:**

که چیرې د بیت الله مسولیت په مخلصانه شکل سره ترسره کیدای، د اسلام رهبرانو کولی شو له هغو مصارفو څخه چې غنی حاجیان یې د حج د مراسمو د اداکولو پر وخت اچوی د نورو مسلمانانو په نفع کار کولی، او د

---

۱- ص: ۱۰-۱۱

۲- ص: ۱۰-۱۱

حج او عمرې کلنی عایدات یې چې ملیونونو ډالرو ته رسیږي فقیرو او مصیبت زده هیوادونو باندې مصرفولی. او پدې ډول د ملتونو فقر او بیچارګی په کلی ډول له منځه تلله.

دا رنګه د حج پر وخت زیات تجارتی اموال خرڅیږی او که د عربستان مسولینو فیصله کړی وه چې د حج پر وخت به هلته یواځې د مسلمانانو مالونه د خرڅ قابل وي نو دغه موسم کې به ملیاردونه افغانۍ د اسلامی هیوادونو په ګټه وي.

ولې په ډېر تاسف سره چې ظالم رهبران د مسلمانانو دغه مالونه مړال کوي او د خارجیانو په سینه یې ځوړندوي. او یا هم د غربیانو له کاره وتلی جنګی وسایل او تاریخ تیرې طیارې په ملیونو ډالرو اخلي او د مسلمانانو د ټکولو لپاره یې استعمالوي ولې د اسلام دښمنانو سره د جنګ پر وخت لکه صدام غوندي په زیر زمینیو کې پټیږي چې بیایې خپل افراد د څو زره ډالرو په اخیستلو سره د امریکایانو لاس کې ورکوي.

**۴– دحج فرهنګی نقش:**

د نړۍ د ملتونو ترمنځ مختلف فرهنګونه وجود لري، چې دغه فرهنګی امور د کلیزو، مراسم، تجلیلولو او نورو امورو په شکل دیوهیواد او یا هم څو هیوادونو په سطح وي. د بیت الله شریف حج د اسلام مقدس دین د مهمو مناسکو او مراسمو څخه د یو منسک او رسم په حیث په اسلامی اصیل فرهنګ کې مهم نقش لوبوی. دلته د ټولې نړۍ مسلمانان له مختلفو نژداونو، مذهبونو، ژبو، قومیتونو او اعتبارونو سره حاصلیږي، او ټول لکه ورونه او خویندې د کعبی شریفی په خوا کې، د منی ساحه کې، عرفات او د حج ټولو منطقو کې په یو لباس او یو شعار سره د خپل پروردګار په عبادت مصروف وي. دلته مهمترینه اسلامی فرهنګ چې د بشریت ترمنځ مساوات او برابر ې څخه عبارت دی ښه څرګندیږي. دلته صرف یو فرهنګ وجود لري، او هغه هم ایمانی فرهنګ دی چې د توحید په پایو ولاړ دی. دلته د اختلافاتو فرهنګ له منځه ځي، او ټول پرته د ژبی، نژاد او جنست له نظر کې نیولو څخه د

پالونکی ذات عبادت کوي اسلامی غونډه کومې پولې پورې منحصره نده، بلکی یو مسلمان چې د رب العالمین عبادت کوي او هر وخت وايي ﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ۝١﴾ پدې اساس دده ټوله هڅه او کوشش د نړۍ د مختلفو ملتونو د پیوند، اود انساني جامعې د بهبود لپاره ده. اوس نو حج دغه عمیق انسان فرهنګ د ملتونو ترمنځ ژوندي کوي او ټولې جغرافیوي، نژادي، مذهبي، حزبی او قومي پولې له منځه وړي، ټول په یو شعار، یو لباس او یو مکان کې را ټولي. او ټول پرته نظر له اختلافاتو خپل مراسم ادا کوي. د حج مراسمو کې اسلامی فرهنګ چې د ملتونو د وحدت او اخوت په اساس ایښودل شوی په خپل عالی شکل سره تمثیلیږي، او کله چې نورو وختو کې هم دغه فرهنګ مراعات شي ټول خشونتونه او بدیانی له منځه لاړې شي ټول مسلمانان کولی شي داسي اسلامي ټولنه نړیوالو ته وړاندې کړي. چې د انسان جوړونې او انسانی ژوند نمونه وي.

## د حج فلسفه

### ۱– سپین لباس:

اکر چې ځینې ماده پرستان په ظاهري لباسونو افتخار کوي او خپل شخصیت د فاخرو لباسونو په اغوستلو کې ویني، او ځان نسبت نورو ته برتر ویني، ددې لپاره چې د مسلمانانو د نړیوال ملاقات پر وخت دمختلفو لباسونو اغوستل مومنان له حقیقت څخه په مادی امورو مصروف نکړي ټولو ته توصیه شوې ترڅو یو سپین لباس واغوندي ترڅو هیڅوک د کمی او یا برتریت احساس ونکړي او همدرانګه سپین رنګ د محشر د ورزی دیاد لپاره چې ټول سپین لباس اغوندي، او قبر ته هم له سپین لباس سره ځي، او دغه د قبر او محشر یادونه په حقیقت کی د انسان معنوی روح له مادیت څخه را باسي اود ملکوت او معنویت خوا ته یې روانوي، او پدې ډول ټول مسلمانان له یو لباس سره د یو هدف په لور حقیقتونو ته ځان نژدې کوي.

### ۲– د حج اخلاقي فلسفه:

یو هغه مهم قرانی حکم چې په مسلمان باندی یې پوهیدل لازم دي داده چې اللهﷻ خطاب مسلمانانو ته وایي: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱدْخُلُوا۟ فِى ٱلسِّلْمِ كَآفَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا۟ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَـٰنِ ۚ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٢٠٨﴾ ﴾ «ای مسلمانانو د اسلام مقدس دین کې مکمل داخل شي اود شیطان د قدمونو پیروي مکوي بی‌شکه هغه ستاسې ښکاره دښمن دی». ددې مبارک آیات مفهوم دی چې مسلمان انسان دې کوشش وکړي چې خپل ځان څخه کامل مسلمان جوړ کړي او کامل مسلمان هغه څوک دی چې ټول الهی احکام په کامل ډول سره درک کړي په هغو عقیده وکړي او عمل ته یې هڅه او کوښښ وکړي.

**د اسلام مقدس دین درې مهم اساسات لري**

عقیدوی برخه (اسلامی فکر) عملی برخه او اخلاقی برخه:

د اسلام اخلاقی برخه د خالق او مخلوق رابطې د ادب، حیا، د خبرو کولو سیي طریقه، اود نورو سره متقابل احترام او ملاقاتو مراعات کولو څخه عبارت دی. دغو اسلامی اخلاقو اکثریت غیر مسلمانان د اسلام مقدس دین ته راکش کړل، پیغمبر‌ﷺ او صحابه کرامو داسې اسلامي اخلاق رعایت کول چې زرګونه غیر مسلمان انسانان به د دوی اخلاقو ته حیران شو او د همدی پیغمبر او صحابه کرامو د اخلاقو لپاره به یې د اسلام مقدس دین ته خپله لیوالتیا اعلانوله کله چې پیغمبرﷺ وایي: «انما بعث لاتم مکارم الاخلاق» زه دغوره اخلاقو د پوره کولو لپاره استول شوی یم. پدې معنی ده چې حضرت اعلانوي چې دې رسالت کې دده حقیقي وظیفه اخلاقیاتو ته دعوت دي، ځکه د انسان هر عمل چې له اخلاقو څخه منفی شي هغه بې فایدې او بی ارزښته ګرځي. مثلا که څوک د الهی کور په خوا ځي، لازم ده ترڅو د یو اللهﷻ کور ته د رسیدو لاره کې د سفر له پیله اسلامی اداب مراعات کړي، او پدي اساس له شهوت پاروونکو خبرو او یا هغو خبرو څخه چې فاسقان یې خپلو مجلسونو کې رد او بدل کوي اجتناب وکړي، ځکه هر اسلامی عمل چې له اخلاقو عاري وي بی فایدې او باطل دی.

دمثال په ډول: لمونځ - اخلاق = د لمانځه عدم قبولی (ځکه لمانځه کې ستر عوت چې د اخلاقو اساسی جز دی فرض دی.

زکات - اخلاق = د زکات عدم قبول (ځکه قرآن کریم کې راغلی دی (لاتبطلوا صدقاتکم بالمن والاذی)

حج: - اخلاق = د حج عدم قبول (ځکه قران کریم کې راغلی دی) ﴿فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي ٱلْحَجِّ﴾.

**۳- د قربانۍ فلسفه:**

قربانی د بیت الله د حاجیانو یوه وجیبه ده، قرباني زیاتې فلسفې لري، چې کله مومن هره یوه فلسفه په دقت سره نظر کې ونیسي او څاروی د قربانۍ ځای ته ویسي یو سلسله رابطې او احساسات له ځان سره وړي چې هر یو یې د انسان جوړونې، د انسان خپل ځاني رابطې، خلکو سره اود الله ﷻ سره د رابطې جوړولو یو درس دی.

**الف: قرباني د باورونو رمز**

نن ډیر خلک شته چې خپل مال د دخپلو خواهشاتو غوښتنو لپاره په مصرف رسوي، ولې د دوی دغه مصارف دوی ته پرته له بدبختۍ او زیاتو مشکلاتو څخه بل شی په ارمغان نه راوړي. هغه څوک چې غواړي په زیاتو مصارفو د خلکو زړونه ترلاسه کړي په نهایت کې متوجه کیږي ددې په عوض چې د هغوی زړونه لاس ته راوړي برعکس د بغض او عناد لامل ګرځي او ددی په ځای چې هغه توصیف او تمجید کړي په غیاب کې یي نکتې او پرزې وربانډې وایي. ځکه ددی انسانانو انانیت د مصرف سبب شوی و، او پرته له شکه انانیت چې یو شیطانی صفت دی پرته له لعنت څخه بله لاس ته راوړنه نلري، ولی هغه خلک چې خپل مصارف د باورونو په اساس کوي او غواړي خپلې پیسې د الله ﷻ په رضا مصرف کړي، دلته ده چې خپله قربانی هم د الله ﷻ په رضا کوي، او کله چې عمل کې اخلاص وجود ولري هغه د الهی

دربار تقرب ته کشوي. او څوک چې الله‎ﷻ خپل دربار ته مقرب کړي نو دداړینو سعادت ورته نصیب کوي.

**ب: قرباني د هابلیانو دپیژندلو درس**

د آدم‎ؑ له پیدایښت څخه وروسته لومړۍ قرباني هماغه د هابیل او قابیل مشهوره قرباني وه چې الهی دربار ته یې وړاندې کړه ولې مقابل کېد الله‎ﷻ توجه مادیاتو ته نه بلکې معنویت ته ده، توجه توښې ته نه بلکې د توښې د خاوند زړه ته ده او همدا ځای ؤ چې د هابیل اخلاص ددې لامل شو چې دهغه قرباني منظوره شي او بر عکس عدم اخلاص اود قابیل دنیا طلبی کثیف او له عناده ډک زړه بده او خرابه قرباني د الهی غضب سبب شو او دا ځای ؤ چې د قابیل شریر زړه هغه نور هم بدبخت کړ او بالاخره ددې پر ځای چې دخپل سعادت توبی او انابت لاره خپله کړي په دښمنۍ او بغض او عداوت یې لاس پورې کړ او په نړۍ کې د قتل د لومړۍ جریمې مرتکب شو.

مومن قرباني کوونکی د احادیثو د کتابونو په لومړۍ صفحه کې د حضرت سرور کاینات محمد مصطفی هغه قیمتی وینا لولي چې «إنما الأعمال بالنیات» هر عمل نیت پورې ارتباط لري او الهی قرب ته د رسیدو په فکر سره لکه حضرت هابیل غوندې بهترینه قرباني له بهترین زړه سره تیاروی اود حیوان په غوره کولو کې هڅه او کوشش کوي او د پیسو تیارولو پر وخت د څاروي داخیستو پر وخت، ذبح کول او دغوښې تقسیم کې فقط د الله‎ﷻ رضایت په نظر کې نیسي او بالاخره پوهیږی چې ددې مشکل د علاج نسخه په هماغه پیغمبری حدیث کې ده چې اخلاص او دنیت صفایي د عبادت د قبول یواځنې لار ګڼي.

**ج: قرباني له ابراهیم‎ؑ سره اړیکه**

حضرت ابراهیم هغه څوک دې چې د ژوند له مختلفو امتحانونو تیر شوی دی د نمرود د وور امتحان له مخلوق څخه د خواست او تقاضا امتحان بالاخره دا ځل ډیر لوی امتحان داسې امتحان چې ددنیا په ګرانه توښه باندې، د چا قرباني؟؟؟ د ځوی قرباني؟؟؟ د څه لپاره؟ د زیات محبت د اثبات لپاره

اوس د دوه محبتونو خبره ده دهويت محبت او كه د اللهﷻ محبت ايا دلسو زامنو له منځه د يو قرباني؟ نه بلكې د يواځني ځوی قرباني... د هغه ځوی قرباني چې د هغه د ځوانۍ په ورځو كې پيدا شوی دی او د ژوند ښې ورځې يې ورسره تيرې كړي دي؟ نخير د هغه ځوی قرباني چې د زړښت او بوډاتوب پر وخت په زياتو دعاګانو لاس ته راغلی دی.

د هغه ځوی قرباني چې د ملايكو د بشارت وركولو پر وخت يې ښځه تعجب كې شوه چې ﴿وَبَشَّرُوهُ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٍ ۝٢٨﴾ او ښځه يې چې دا كار ناشونی ګڼی ﴿فَصَكَّتْ وَجْهَهَا﴾ او په لاسونو مخ وهي ولې بالاخره دغه ځوی بايد د اللهﷻ په حكم قرباني كړي هغه قرباني نيولی اود قربانۍ ځای ته يې بيايي... قرباني څه شی ده، هماغه د زړه ټوټه ځوی... دغلته ده چې اللهﷻ فقط يو امتحان كوي او دغه الهی امتحان د ځورولو لپاره نده بلكې د ازمويلو لپاره ده. او كله چې ابراهيمعليه السلام په موفقانه ډول سره امتحان ترسره كوي اللهﷻ ورته «ذبح عظيم» لويه قرباني تحفه كوي او ﴿فَدَيْنَٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ ۝١٠٧﴾ وايي... او ځوی يې د چړې لاندې ساتی، اللهﷻ ابراهيم ته وايي چې پريكړه، او چړې ته وايي مه پريكوه.

اوس هم مسلمان له ابراهيمعليه السلام څخه درس اخلي او قرباني كوي ولې يوه قرباني، نه بلكې دوه بايد وكړي، ديو حيوان قرباني ترڅو د ابراهيمعليه السلام سنت را ژوندي كړي، د الله د مخلصو بندګانو ياد را تازه كړي دهغوی له سيرت څخه استفاده وكړي ځان قربانۍ ته اماده كړي او د اللهﷻ د رضا لپاره مال قرباني كړي، ولې دويمه قرباني چې له دې قربانۍ څخه مهمتره او با اهميت تره ده هغه د اسماعيلعليه السلام قصه كې لولو.

**د: قرباني د اسماعيلعليه السلام ياد، ياد قرباني شوي (نفس) قرباني كيدل**

د اسماعيلعليه السلام قرباني د اللهﷻ لپاره د ځای د قربانۍ د تقديمولو درس دی، او قربانۍ ته اماده ګی د پروردګار د طاعت حقيقی مفهوم پيژندلو لپاره درس دي. اوس مسلمانان له دې درس څخه استفاده كوي او هڅه او كوشش كوي چې خپل ځانونه الهی احكامو ته تسليم كړي نفس قربانۍ ته اماده كړي،

دښمنیانې یو خوا ته کوي او زړونه د نورو د منلو لپاره خالص کوي، هغه چې دغه ورځ کې خپل ځانونه د الهی دربار ځخه قربانوي چا سره چې عداوت لري او یا هم چا سره زړه بدی لري دوباره ورګرځی ولې د نفس زیاته قرباني هغه وخت ده چې انسان دغه ورځ د هغه چا خوا ته لاړ شي چې پوهیږي هغه دده په حق کې ظلم کړي دی. او حقیقتا ورڅخه خفه ده، ولی د اللهﷻ د رضایت لپاره خپله سینه خلاصوی، ... او اسماعیل غوندی شیطان خوار او ذلیل کوي. شیطانی وسوسې د اللهﷻ په یاد سره لرې کوي، او فقط د اللهﷻ د رضایت لپاره د هغه شخص دروازې ته ځي. او ځان د اسماعیل او د اسماعیل د لارویانو همسفر او همقطار جوړوی.

**هـ: قربانی د ابن الذبیحتین یاد**

کله چې حاجیان بیت الله شریف ته ځي او له هغوی سره ټول مسلمانان د قربانۍ ځای ته ځي او یو څاروی د یو اللهﷻ د رضایت لپاره وړاندې کوي په حقیقت کې هماغه ابراهیمی سنت په یاد راولي چې قهرمانانه حاضرشو ترڅو خپل ځوی الهی دربار ته قرباني کړي. هغه د اللهﷻ پیژندني درس داسې عاشقانه په عملی ډول سره تطبیقوي چې د اللهﷻ محبت ته د ځوی پر محبت باندې ترجیح ورکوي اماده کیږي هغه راوړی او د اللهﷻ لاره کې یې قربانوي او په همدې شکل قهرمانی یواځې ابراهیمؑ پورې نه منحصریږي بلکې دی حالت کې د اسماعیل قهرمانی د هغه با ایمانه او با احساسه ماشوم هم د حاجیانو په ذهنونو کې ظهور کوي. هغه د اسماعیل په یاد کیږي اسماعیل د شیطانی وسوسو له وجود سره بیا هم... اماده دی چې خپله وینه د اللهﷻ په لاره کې توی کړي... او خپل ژوند له یو ذات څخه قربانی کړي... خپل پلار ته وایي ﴿يَـٰٓأَبَتِ ٱفۡعَلۡ مَا تُؤۡمَرُۖ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّـٰبِرِينَ ۝١٠٢﴾ «ای پلاره چې څه درته امر کیږي همغسې وکړه ان شاء الله ما به له صبر کوونکو څخه ومومې». په آیت شریف کې د اسماعیل فضیلت بیان شوی دی، هغه پلار ته نه وایي چې څه غواړې هغه وکړه بلکې ورته وایي هر څه چې درته امر شوی هغه وکړه، ځکه دی د یو اللهﷻ حکم ته تسلیم دی.

او پوهیږي چې موحد پلار یې داسې کار نکوي چې هغه کې ظلم وي، بلکې د هغه هر قدم د الهی ارشاداتو عملی تطبیق دی... ځوی ته وایي: ماته فرمان راغلی دی ترڅو تا الهی دربار ته قرباني کړم، او ځوی هم دغې قربانۍ ته اماده دی. پلار ته وایي چې هر څه امر درته شوی دی هغه وکړه، او ما به صابر ووینې او پدې ډول سره پلار او ځوی دواړه له الهی امتحان څخه ووځي او یو پسه ورته له جنت څخه د قربانۍ لپاره استول کیږي. او کله چې مسلمانان قرباني کوي تصمیم لري او تصمیم نیسی چې کله هم د الله ﷻ لاره کې د دوی د ځامنو تقدیمول مطلوب وي نودوی به له هغه څخه دریغ ونکړي. او کله که خپله هم د ضرورت پر وخت الهی قربانی ځای ته ویوړل شي... حاضر دي... ځکه دوی د حج پر وخت درس اخلي چې څرنګه یو نوی ځوان اماده کیږي چې خپل ځان د الله ﷻ لاره کې قرباني کړي، دوی هماغلته هماغه خاطره یو ځل بیا تازه کوي او دوی هلته د حیوان د ذبح کولو پر وخت... د هغه ځوی او پلار په یاد کیږي چې هر یو... د توحید او فداکارۍ درسونه پری ایښي دي... دلته ده چې حاجی د قربانۍ په تقدیم... له خپل الله ﷻ سره نوی عهد تړي. چې هغه لکه اسماعیل غونډې هره لحظه قربانۍ ته اماده ده هغه لکه ابراهیم غونډې الهی محبت د ځوی پر محبت مخکې ګڼي... او هر چیرته چې الهی محبت مطرح شي... ټول محبتونه هیروي... او د یو رب په یاد به له هر څه څخه تیریږي.

**۴- د ابراهیم علیه السلام خلیل الله د یاد فلسفه:**

د حج فلسفه کولی شو د حضرت ابراهیم له نوم او د هغه د خاطرو له یاد سره پیل کړو، ابراهیم چې د پیغمبرانو پلار یې ګڼي هغه د کعبې بانی، هغه لومړی قرباني کوونکی، څوک یې قرباني کړ، خپل ځوی خپله د ځیګر ټوټه، په کوم عمر کې؟ آیا داسې عمر کې چې کولی شي نور ځامن دنیا ته راوړي، او د یوه ځوی قربانول ساده او آسانه دي، او یا دا چې دغه قرباني د زړښت پر وخت وه چې د نورو ځامنو نه بلکې د بل ځوی امید هم نلري... پدې وخت کې دی قربانۍ ته اماده دی ایا د هغه ټول همزولی قربانۍ ته اماده دي؟؟؟ نه بلکې دی هغه وخت قربانۍ ته اماده شو چې ټول د ګمراهۍ او هلاکت په لاره

روان ؤ ټول د اللهﷻ او د اللهﷻ ددین په ضد و او ټولې کورنۍ دده له کورنۍ سره مخالفی وي، ټولو یو بل ته لاس ورکړي او په ځوانۍ کې یې دی د نمرود اور ته خطا کړ، .. هغه دغه د وحشت او تیاری ماحول کې... د ټولنې دغو ټولو ناهنجاریو ته تسلیم نشو، او د عصر دفیلسوفانو غوندې یې ځان له جامعې سره همر رنګ نکړ... هغه د ټولنې د فرعونانو په ضد را پاڅید هغه د توحید د عقیدې لپاره له لاس او ژبې کار واخیست... هغه منکر په لاس او ژبه له منځه ویوړل هغه د بت پرستانو بتکدی ته ورغی او د هغوی بتان یې مات کړل، او بیا یې د هغوی د قناعت لپاره د مثال او نمونې په ډول د هغوی یو بت پریښود هغه په عملی او پراکتیک ډول سره ټولو ته یو درس ورکړ چې د انسان عقل د انسان پوهه... د انسان برتریت... د انسان عظمت... د انسان کرامت چیرته ځی؟؟؟ کله چې یو مخلوق ته دسجدې سرښکته کړي. کله چې یو بت ته سجده وکړو... نو دهغه په وړاندې مو خپل کرامت له لاسه ورکړ... بیابه نه وایو چې مونږ اشرف المخلوقات یو، کله چې یو انسان ته د تسلیم سر خم کړو، او د استدعا، همکاری، مددرسانۍ او مشکل خلاصونی ژبه یو انسان ته خلاصه کړه... نو ځانونه مو بایللی دي. خپل شخصیت مو بایللی دی. خپل کرامت مو له لاسه ورکړي دي، او خپل ټول کرامت مو له هغه شخص څخه نثار کړي دی. او ځان مو د انسانیت او اشرفیت له دایرې څخه ویستلی او د حیوانیت او ځان غولونې محور او دایرې ته ننوتلی یو ابراهیم د خپل ژوند په سختو او تنګو مرحلو کې... د نمرودی وور منځ کې... د ټولنې د قهر دننه... د انسانی جامعی د بدبختیو په منځ کې بیا هم چاته تسلیم نشو، حتی خپل شخصیت یې ملایکو ته ټیټ نکړ او کله چې ملایک ورته راغلل کوم حالت کې؟؟؟ د وور منځ کې... هغه نه پوښتي ایا مرسته غواړي؟؟؟ ضرورت لري؟؟؟ هغه لکه یو موحد... خدای پرست.. خدای پیژندونکی... معتقد.... وایي: بلې.. ولی تاسې څخه نه، بیا لکه جبریل غوندې لوی ملایک هغه ته ورځي او وایي: ای ابراهیمه دی حالت کې څه غواړي؟؟ او څه پیغام لري؟ او څه دې په کار دي. بیا ورته وایي: بلې هر څه ته ضرورت لرم، ولې تا څخه نه، هغه پوهیږي چې ملایک مخلوق دي، بندګان دی او بنده چې څومره هم

مشرف او مکرم وي... هر څومره محبوب او مقرب وي... څومره عزت او کرامت والاويي... څومره يې وظيفه لويه وي او اسمانو کې هم وي.. بيا هم بنده دي.

د فزيکي امتحان له تيريدو سره د ابراهيم امتحان ختم شو. هغه بيا هم امتحان ورکوي دا ځل نسبت اولی امتحان ته سختر امتحان... د عقيدې امتحان... د مرستې غوښتنې امتحان... د کومک غوښتنې امتحان... د اياک نعبد او اياک نستعين امتحان... ډير انسانان په سختو فيزيکی امتحاناتو کې کاميابيږي ولی د عقيدې او فکر امتحان کې، د اللهﷻ پالنې ا ويو پالنې امتحان کې مغلوبيږي.. د مشکلاتو پر وخت يې پام د شيطانی وينا مطابق.. د يو رب له دربار څخه د ضعيف انسان په لور اوړي.. د مشکلاتو پر وخت يو اللهﷻ هيروي... ﴿وَٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ﴾ هيروی ﴿إِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ﴾ هيروی... له يو انسان... يو مخلوق... له ملايک... له پيغمبر... له يو شخص... او بالاخره چې هغه چا نه کومک غواړی چې خپله مرستې ته اړتيا لري.

ولې ابراهيم د نمرودی وور ترمنځ نه يو عادی وور... هغه وور چې ټولو ښاريانو او کليوالو پکې لرګی اچولي دي... بيا يې هم خپله عقيده نده هيره کړي... او خپل ايمان يې له لاسه ندی ورکړی بلکې يو قوی ايمان سره دې امتحان کې کاميابيږي... ابراهيم په پوره پوهې او راسخې عقيدې سره د ملايکو جواب وايي: بلې ای دوسته د غو سختو او تنګو لحظو کې کومک ته ضرورت لرم، .. مرستې ته اړتيا لرم، ... خلاصوونکی ته حاجت لرم... خو هغه ذات ته نه يي... تاته... هغه چاته اړتيا لرم چې دغوښتونکی په حال مخکی له غو ښتلو پوهيږي... هغه ته ضرورت لرم چې وسايل ورته هيڅ دي... يو حکم... يو امر... د هغه حکم فقط د ک او ن ترمنځ دی – ﴿إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٨٢﴾.

هغه ته اړتيا لرم نه تاته...

هغه ذات ته ضرورت لرم چې حکم يي پر جماداتو هم تطبقيږي.

هغه ذات ته نياز لرم چې امر يي حتمی نافذيږي.

پرته له وسیلي

پرته له تاخیره

هغه ته نیاز لرم چې د هغه حکم د یو مشکل یواځنی حل، بلکې د هغه حکم د ټولو ستونزو حل دی دلته الهی حکم ور ته رارسیږي (یا نار... ای ووره.. کونی بردا... یخ شخ... وسلاما... او د سلامتی خاوند شه علی ابراهیم...

دلته مفسرین بیا په تعجب کې لویږي.. چې دې حکم کې د سلام کلمه.. هم وکارول شوه؟؟؟ نو خپله جواب وایي که یواځې داسې ویل شوی و چې (بردا... یخ شه) دغه له حقیقتونو ناخبر وور به دومره سوړ شوی و چې خپله لمن کې به یې ابراهیم له یخنۍ څخه وژلی و، ولی اللهﷻ ابراهیمعليه السلام ته وور یواځې دانه چې سوړ کړ... بلکې مسخر یې کړ... هغه ته یې امر وکړ چې سوړ شه... ولې دومره نه چې ابراهیم هلاک کړي بلکې سوړ شه اود ابراهیم خدمت کې اوسه.

دغه حاجی په مخکی سفر لري او مقام ابراهیم ته ځي لومړي دوه رکعاته لمونځ کوي... دغه ځای کې ځان د ابراهیمعليه السلام په لباس کې تاووي. او دې مقام کې... د مقام د خاوند.. د ابراهیم د خدای... د نوح د خدای... د اسماعیل د خدای... د پیغمبرانو د خدای... د عیسی او موسی د خدای... د ټولې نړۍ د خدای په وړاندې دریږي... او د ابراهیمی توحید عقیده تمثیلوي. ځان لکه موحد او یو پالونکی ابراهیم جوړوي ځان هیچا ته نه تسلیموي، او خپله توجه یواځې هغه تعالی ته اړ وی.

هغه پوهیږي چې کعبه یو مخلوق دي... او د مخلوق عبادت نه کیږي... کعبه صرف د توحید یو سمبول دی...قبله ده... ولی سجده د قبلې خاوند ته کیږي... ټول یوې خوا ته مخ اړوي. ولې دغې خوا ته سجده نکوي... اللهﷻ ته سجده کوي...د یو دیوال شاته لمونځ کول... هغه دیوال ته سجده نده سجده ددیوال خدای ته ده... کعبه یو جامد جسم دی... او نشي کولی چا ته څه ګټه ورسوي... خپله مخلوق ده... خپله اړتیا لري... دغه مسلمان اوس د

ابراهیم پر ځای قرار لري... ابراهیمي عقیده لري... هغه خپلي سترګی، لاسونه زړه او ژبه د اللهﷻ په طرف خلاص کړی... سره له دې چې مخې ته یې دغه ټولې صحنې او مقدس ځایونه قرار لري... دا ټول فقط د ابراهیم په یاد... په ابراهیمي عقیدي سره تمثیلوي... هغه د حجر اسود مقابل کې دریږي او د ابراهیمی مکتب د پیروانو دعقدي سره... د حضرت عمر هغه خبرې په یادوي چې ویل یې: ای تورې تیګی ته هیڅ نفع او ضرر ماته نشې رارسولی... قسم په اللهﷻ که رسول الله ته نه وې ښکل کړې نو ما به هم نه وې ښکل کړې... دغه حاجی... بیا هم دغو سمبولونو ته ګوري... شخصیتونه را په یادوي... او د توحید عقیده د هغوی له ژبی اخلی... او د اللهﷻ په یاد... حرکت کوي.

په نړۍ کې له پخوا وخت څخه د هابیل او قابیل دوه قطبونه د نړۍ د پیدایښت له پیله ظهور وکړ قابیل د شر اود ښمنۍ سمبول په حیث وغوښتل چې دهابیل د پاکۍ او صفایۍ مقابل کې قد علم وکړي او کله چې یې ونشو کولی په سادګۍ سره خپلو شومو اهدافو ته ورسیږي، نو ویې غوښتل د قتل او تجاوز له لارې د هابیل حق تصرف کړي. دغه د شر سمبول د انسانیت له پراختیا وروسته د درې شریرو سمبولو په ډول (د اقتصاد سمبول چې همیشه دنورو د جبونو خالی کولو کې نقش لري، دویم سلطه قدرت یا سیاسی حاکمیت په زور د خلکو غاړی خپل تصرف لاندې راولي. او د ملتونو وینی له دې لارې تویوي او له هغوی څخه غلامان او خادمان جوړوي. او دریم د تزویر سمبول دی چې ځینی خرڅ شوي، دینی حقیقتونه د مخکینو دوه شریرو سمبولونو په نفع توجیه او تفسیر کوي، او د ملتونو عقلونه او فکرونه مخدر کوي، او پدې ډول د ظلم دغه درې سمبوله همیشه د ملتونو ترمخ ولاړ وي چې قران کریم دریا ظالمانه اقتصاد سمبول د قارون په لباس کې تمثیل کړی دی، او د سلطنت شریر سمبول چې په زور سره یې ملت خپل غلام ګرځولی و د فرعون په لباس کې او د تزویر سمبول یې د بلعم باعور په شخص کې بیان کړی دی. چې د شر دغه درې سمبوله د حضرت موسی مقابل کې هم ولاړ و، ولې موسی د حقیقتونو په درک او د الهی وحی د منابعو څخه په استفاده وکولی شو په دری واړو سمبولونو غالب شي یو په خاوره کې غرق شو، او بل

بحر کې او دريم د تاريخی حقايقو په لا بلا کې سرنګون شو، او بالاخره د حق او توحيد بيرغ د دوی پر ځای ورپيده.

ولې د موسی له رحلت څخه وروسته دغو شريرو سمبولونو د بشری تاريخ په طول کې وجود درلود. او د توحيد مکتب لومړی بنيانګذار د ملتونو د يو موټی کيدو لپاره په حجاز کې يو سمبول کيښود، ابراهيم د نړۍ د نورو مصلحينو په څير د الهی ارشاداتو په اساس يو نوی فکری مکتب په پښو ودرؤ او يو نوی نهضت يې را منځ ته کړ چې ددکتور شريعتی په وينا (بنا پردې د ابراهيم نهضت تنها فلسفی نهضت نه و، د جهان پيژندنی نهضت نه و د بشري تاريخ د مسير په خلاف نهضت... د انحصار، پولو، قيدونو، بندګيو، غلامۍ، ځان غوښتنې له منځه وړلو او عين حال کې د نړيوال وحدت د ايجاد د انسان او جهان وحدت، د انسان او انسان د وحدت، دادی چې د ابراهيم نهضت دغه ټول عظمت او دادی چې انسانان هر کال او هر نسل دعوت کيږي چې يوه خوا کې د ابراهيم د خاطرې په نوم را ټول شي. او د هغه له جدي عملونونمونه يې او اشاروي تقليد وکړي، او پدي شکل ټول بشري نسلونه چې د مسلمان په نوم سره د ابراهيم درسالت د اداکولو او ادامې مسوول دی خپل پيوست له ابراهيم سره حفظ کوي، او هر کال دلته راځي او له هغه سره لوظ تازه کوي دغه د عهد تجديد د روڼ اندی انسان په اوږو د مسوليت ډير دروند بار ږدی. هغه لوی مسوليت چې له ابراهيم سره پيل شو او دا پدې عنوان دی چې د بشری تارخی مسير بيرته هابيلی دوری، د انسانی برابرۍ اوانسانی وروروۍ دورې او د شرک د ټولو عواملو يعنی دضد انسانی انحرافی مذهب نفی ده[۱].

### ۵- د صفا او مروا ترمنځ د سعی فلسفه:

د اسلام تاريخ داسې قهرمانی ښځې لري چې حقايقوته د رسيدو لپاره يې هميشه د کفر او شرک ضد سنګرونو کې خپلې وينې نثار کړي دي، سميه د اسلام لومړۍ شهيدی د ابوجهل پر ضد قد علم وکړ او خپله وينه يې له اسلام

---

۱- جهان‌بينی و ايديولوژی تاليف دکتور علی شريعتی، ص: ٥٤-٥٥

ځخه فدا کړه، او کله چې هم د ابراهیم ښځه د مکې په وچه صحرا کې د اوبو د ځاځکو پیدا کولو په هدف د خپل یواځنی ځوی لپاره چې وروسته یې د ذبیح الله قهرمان لقب حاصل کړ، د صفا اومروه ترمنځ سیر او حرکت کو، اللهﷻ ددغی مومنې ښځې حرکت او غوښتنې یې د لاسو له پورته کولو مخکی ترسره کړې، او د اسماعیل د قدمونو لاندې مقدسې چینې راوخوټیدلې، چې دبیت الله شریف حاجیان دصفا او مروا ترمنځ په منډو سره ددغی قهرمانی ښځې شاهکاري تمثیلوي او غواړي خپل ځانونه د هغوی په قطار کې راولي.

**۶– دقربانۍ فلسفه:**

همدغه قربانی دفداکارۍ درس دی، چې د افغانستان مسلمانانو د روسانو او د اسلام ددښمنانو جنګ کې خپل ځامن دقربانۍ جبهاتو ته لیږل او لیږي. او کله چې خنساء هغه ښځینه صحابی چې خپل ځلور ځامن د جنګ میدان کې شهید وینی د اللهﷻ شکر ادا کوي او د اللهﷻ لاره کې دځامنو په قربانولو سره افتخار کوي.

**۷– د بیت الله د نوم ایښودلو فلسفه:**

کعبه د مسلمانانو مقدس ترین ځای دی د توحید سمبول، بیت الله او د مسلمانان قبله ده، ولې د کعبی ساختمان چې حضرت ابراهیم او اسماعیل بنا کړی دی د هغی مادی ساختمان له عادی خاورې او ختې ځخه جوړ شوی دي، او کعبه شریف سره له دي چې دیته د اللهﷻ کور ویل کیږي ولې حقیقتا اللهﷻ د کور له لرلو ځخه پاک او منزه دی، دغه لقب کعبی ته یواځې دعظمت او احترام لپاره ورکړ شوی دی، ځکه دعبادت او طاعت ځای او د اسلامی امت د توحید او یو موټی کیدو سمبول دی. هیڅوک د کعبی عبادت نکوي، او کعبه هم چا ته نفع او ضرر نشی رسولی.

یو اسلامي پوهیالی د کعبی شریفی په هکله داسې ابراز نظر کوي، د الله د کور د زیارت مساله کې یوه ډیره اساسي مساله داده چې ما احساس کړه او قاعدتا تاسې ټولو هم احساس کړې ده مونږ ټول عمر ددی کور په طرف لمونځ وکړ او د ژوند ټولو لحظو کې مو ددې کور په طرف تقدیس وکړ،

تعظیم مو وکړ تجلیل مو وکړ او مونږ مسلمانانو ته د قبلې جهت یعنی د کعبی جهت له جغرافیایي جهتونو یعنی د نړۍ شمال، جنوب، مشرق او مغرب څخه معنا دار او ارزښتناکه دی او اصولا کعبه لکه زمونږ د زړونو عشق، زمونږ ایمان، زمونږ عقاید زمونږ فرهنګ زمونږ ټول تاریخ او روح، معنویت او عاطفه ده... کعبه یو ادرس دی، او د هغې ټول تقدس هم پدې ادرس والي کې دی. او ټول عظمت یې هم په همدې کې دی چې دا ادرس الله ﷻ تعین کړی دی. او بل ځای کې یي هم تعینولی شو... نه دا تیږي تقدس لري، او د نورو غرونو تیږو سره فرق لري او نه حتی خپله حجر اسود ذاتا له نورو اسمانی تیږو سره فرق او تغیر لري. ددې کور ارزښت ددې لپاره ده چې دا کور داسې یو ادرس دی چې انسان پدې زندګۍ کی خپل ځای، دځمکی پر مخ او دی جهان کې ورک نکړي... ارزښت یې دادی چې دا کور د توحید په نوم جوړ شوی دی خپله کور نه هنری ارزښت لری نه اقتصادی نه معماری او نه ذاتی ارزښت... هیڅ... فقط یو بشري او مافوق بشري اعتقادی ارزښت لري، او هغه دا چې د یو فکر په نوم جوړ شوی دی: توحید، د یو انسان په لاس جوړ شوی دی، او هغه د توحید بنیانګذار دی، او د هغه ملګری د هغه ځوی ذبیح توحید او د توحید قرباني و.

بناء د توحید د عقیدې په اساس کعبه صرف د مسلمانان لپاره د توحید سمبول دی هغوی د لمانځه په وخت فقط خپل مخونه د ی یوې قبلې ته اړوي او متحدانه د پروردګار عبادت کوي، هغوی خدای ته سجده کوي او شرط هم ندی چې انسان دې د لمانځه پر وخت کعبی ته نژدې ودریږي، بلکي هر چیرته چې وی او هر هیواد کې چې وي صرف خپل مخونه دې اخوا ته واړوي. او خپل لمنځونه دې ادا کړي. د یوې قبلې لرل، د مسلمانانو یو موټی والی ښیي او همدغه د توحید سمبول هغوی د اسلامی امت د یو لاس کیدو حقیقت ته سوق کوي. حج ته دتلو پر وخت ددغه کور طواف کوي ترڅو د مختلفو خلکو طواف په مختلفو رنګونو کې ددې دلیل وي چې د اسلام مقدس دین نژادي، او طبقاتی فرقونه د تقوا په غوره والي سره بدل کړي دی او هر څوک کولی شي یو موحد او یکتاپرست مسلمان شي. البته له دی

عقیدې سره چې کعبه او د کعبې ساختمان چا ته څه نفع او ضرر نشي رسولی هیڅو ک د کعبی عبادت نکوي، او نه څوک کعبی ته سجده کوي.

**د ملتونو د اتحاد جهانی اعلامیي فلسفه:**

کله چې مسلمانان دعرفات په غره سره یو ځای ولاړ وي، الهی ارشاداتو غوږ ږدي، پداسې ډول چې دنهمې د ذی الحجی له لمانځه وروسته (منا) کی البته د لمر له ختو وروسته ټول حاجیان (لااله الا الله - الله اکبر او تلبیه ویونکی د عرفات په لور حرکت کوی. او عرفات ته ځي د ماسپښین او مازدیګر لمونځ په نمره مسجد کې یو ځای کوي او د ماسپښین پر وخت امام خطبه وایي. دې خطبه کې د نړۍ د مسلمانانو د اتحاد په هکله څه معلومات او ارشادات د خطیب په واسطه بیانیږي او د نړۍ ټول مسلمانان الهی دربار ته لاس اوچتوي، او لکه د یو جسم ددې ورځ ټول مراسم ادا کوي.

**د طواف فلسفه:**

کله چې مسلمان دبیت الله شریف طواف کوي او د پتنګانو په څیر عاشقانه له کعبی څخه تاویږي. نو انسان ته یو عجیب حقیقت څرګندیږي او هغه دا چې د کعبی پر خوا دغه ګردش لکه د ساعت د عقربونو په شان دی. چې د ۲۴ ساعتونو په موده کې یوه لحظه توقف هم نکوي او لکه د انسان د قلب ضربی دریدل نلري همدرانګه مومنان د کعبی پرخوا ۲۴ ساعته په طواف کې دي او دا کار د اللهﷻ عبادت کې د اسلام برتریت ښکاره کوي، ځکه په ټولو ادیانو کې د عبادت لپاره مخصوص وختونه دي ولی د اسلام مقدس دین کې عبادت هیڅکله نه قطع کیږي او د کعبی همیشنی طواف ددې حقیقت یو دلیل دی. عبادت د اسلام مقدس دین کې لکه چې مخکې یاده شوې د ژوند په ۲۴ ساعتونو کې دوام لري ددې عبادت فلسفه چا له یو اسلامی پوهیال څخه وپوښتله چې تاسې څو وخته عبادت کوي؟ هغه وویل: مونږ مسلمانان ۲۴ ساعته ژوند ټول عبادت کې تیروو هغه شخص وویل: نو تاسې خوب نه کوي؟؟ اسلامی پوهیالی وویل: مونږ خپل خوب د پیغمبر په طریقه کوو، نو بناء زمونږ خوب هم په عبادت کې حساب دي، ددې پوهیالی وینا د اسلام

مقدس دین کې د عبادت اصلی فلسفه بیانوی ځکه د اسلام مقدس دین کې د یو مسلمان ټول اعمال په ۲۴ ساعته ژوند کې دالهی احکامو مطابق تیریږي او هیڅ داسې وخت نشته چې بی عبادته تیر شي.

کله چې څوک د پیغمبرالعلیه السلام د طریقې مطابق واده وکړي نو عبادت یې کړی دي، که څوک دپیغمبرالعلیه السلام د طریقې مطابق تجارت وکړی نو عبادت یې کړی دی که څوک د پیغمبر د طریقې مطابق میلمستیا تیاره کړي نوعبادت یي کړی دی که څوک دپیغمبر د طریقی مطابق غذا صرف کړی نو عبادت یې کړی دی که څوک د پیغمبر د طریقې مطابق له خپلې ښځې او د کورنۍ له غړو سره ښه اخلاق کوي نو عبادت یې کړی دی که څوک د پیغمبر د طریقې مطابق غذا صرف کړی نو عبادت یې کړی دی که څوک د پیغمبر د طریقې مطابق له خپلې ښځې او د کورنۍ له غړو سره ښه اخلاق کوي نو عبادت یې کړی دی که څوک د پیغمبر په طریقه خپل ځان او فامیل ته د حلالې نفقی په لاس ته راوړلو کې کوشش کوي نو عبادت یې کړی دی که څوک د پیغمبر په طریقی موټر کې سپریږي موټر کې د کیناستلو اخلاقی اداب مراعات کوي نو عبادت یې کړی دی که څوک د پیغمبر په طریقه له خپل همیساه سره نیکه رویه کوي نو عبادت یې کړی دی که څوک د پیغمبر په طریقه له خپلوانو سره رفق کوي نو عبادت یې کړی دی که څوک د پیغمبر په طریقه خبرې کوي نو عبادت یې کړی دی که څوک د پیغمبر په طریقه د خپلو والدینو احترام کوي نو عبادت یې کړی دی که څوک د پیغمبر په طریقه او د صحابه و ښځو لکه بی بی سمیه، بی بی عایشه، بی بی فاطمه بی بی مریم بی بی هاجر بی بی اسماء غوندې عمل وکړي لباس واغوندي او واده وکړي نو عبادت یې کړی دی.

**د زمزم فلسفه:**

یو ډیر مهم حقیقت چې پوهیدل یې د مسلمانانو لپاره ډیر ضرورت دی دادی چې د اللهجل جلاله مدد هغه وخت مومن ته ۱۰۰٪ رسیږي چې کله ددغه انسان مادي اسباب او دده اړیکې له مخلوقاتو قطع شي کله چې حضرت ابراهیم پلار کاکا خپلوانو او ټولو دوستانو په وور کې واچو او ابراهیم تنها پاتې

شو او د نمرود په وور کې وغورځید یو ملایک ورته راغی او ویې ویل مرسته غواړې؟ او کومک ته ضرورت لرې؟ هغه وویل بلی: ولی تاته نه.

کله چې د اسلام پیغمبر له خلکو نا امیده شو او د طایف په لور یې مخ کړ ترڅو شاید هغوی اوریدونکی غوږونه او لیدونکی سترګی ولري او په روښانه زړه سره حقیقت درک کړي، ولې هلته له قریشو بدتر غلامان او ماشومان یې ورپسې کړل او د محمدﷺ او دهغه ملګري زید پسې یې ولیږل ترڅو دواړو باندې دتیږو باران وکړی او د اسلام مبارک پیغمبر له پایزار څخه وینې په ځمکه توی شوې، دغه وخت ده ته الهی مدد راورسیده او هغه یی د الهی دربار میلمستیا ته وغوښت او عرشته یې ویوړ په همدې رنګ دزمزم فلسفه هم هماغه الهی مدد دی چې کله بی بی هاجر له خپل ماشوم سره د ټولو انسانی اړیکو څخه جدا شوه او الهی دربار ته یې مخ کړ او دغه ماشوم دشیدو خوړو پر وخت د ژوند اوبه نلرلې او بیچاره مور یې اخوا اودیخوا سرګردانه منډې وهلې نو الله ﷻ ورته خپله مرسته راواستوله او د اسماعیل دقدمونو لاندې اوبو جریان پیدا کړ، او دغه اوبو چې په سختو او تنګو لحظو کې او د انسانانو څخه د امید د قطع کیدو پر وخت په الهی مدد جاری شوې یو مقدس نوم یې خپل کړ، او کوم خاص خوند او مزه هم نلري ترڅو خلک د خوند لپاره نه بلکې دقدسیت لپاره هغه وڅښي.

# اتم فصل:
# دستر عورت او حجاب فلسفه

**فصل کې شاملې موضوع ګانې:**

**۱- دستر عورت او حجاب مفهوم.**

**۲- دفرد او ټولنې په جوړولو کې د حجاب نقش.**

**الف: د فرد جوړولو کې د حجاب نقش.**

**ب: د ټولنې جوړولو کې د حجاب نقش.**

## حجاب په لغت او د اسلامي شريعت په اصطلاح کې:

حجاب په لغت کې: دستر او پټولو په معنی سره ده.

حجاب په دوه شکله: استعمالیږی يو مادی او بل يې معنوی.

مادی حجاب: هغه جسم دي چې د دوه شيانو ترمنځ حايل او مانع واقع کيږي.

معنوی حجاب: هغه معنوی امور دی چې يو شي ته د رسيدو مانع کيږي مثلا هغه عاجزي چې انسان ته د هدف ته درسيدو په لاره کې ګرځي. او ګناه د بنده او پرودګار ترمنځ حجاب دی.

خمار په لغت کې: دستر او يا ټيکری په معنی دی.

خمار په اصطلاح کې: هغه ټيکری دی چې سر، غاړه او غوږونه پټوي.

د خمار او حجاب ترمنځ فرق: حجاب لوی ټيکری دی چې د بدن ټول اعضا پټوی، خو خمار وړوکی ټيکری دی چې يوائې د ښځې سر پټوي.

د نقاب او حجاب ترمنځ فرق: حجاب ټول بدن پټوي ولې نقاب يوائې مخ پټوي.

مومنو خویندو ته خطاب: پاک لمنو او مومنو خویندو ! هغه مهم ټکی چې زمونږ درنه خوريې باید حجاب کې په یاد ولري داده چې کله یوه مسلمانه خور د اللهﷻ په وحدانیت باندې ایمان لري او دا مني چې اللهﷻ په ټولو مخلوقاتو باندې مهربان دی، او الهی قوانین د انسان په نفع دي او په الهی حکمونو کې داسې حکمتونه دي چې مومن انسان به عاجل او یا هم د وخت په تیریدو سره دهغې فایده ویني. او دا چې دغه قانون د مخلوقاتو پروردګار بیان کړی دی پرته له شکه په هغه باندې عمل کول حتمی او ضروری دي ځکه ټول الهی احکام د ضررونو او بدیو ددفع کولو او د ګټو د تر لاسه کولو لپاره دي. زمونږ مومنه او دینداره خور دالهی احکام په پوهیدلو سره سم په هغې عمل کوي او کله چې پدې هکله تحقیق کوي نو ښه پوهیږي چې دغه الهی حکم ددې په نفعه ده او ددې د عزت او کرامت د حفاظت لپاره یې قانون بان کړی دی. د اسلام مقدس دین د اسلامی ټولنې د مصلحت په نظر کې نیولو سره په ښځینه او نارینه باندې یو رنګ ستر عورت فرض کړ هیڅ مسلمان نارینه حق نلري چې د نورو ترمخ خپل عورت ښکاره کړي همدارنګه هیڅ مسلمانه او متدینه خور اجازه نلري چې د نورو په وړاندې خپل عورت برېنډ کړي. دغه عفت او پاک لمني د ټولو مسلمانانو وظیفه ده، ترڅو له پوره حیا او عزت سره خپل ژوند پر مخ بوځي، ځکه پیغمبرﷺ فرمایي د پیغمبرانو د پیغامونو خلاصه داده چې «اذا لم تستح فاصنع ماشئت» کله چط د حیا نه غوښتله نو بیا چې د څه غوښتل هغه کوه.

بی حجابې د شیطان یو دام دی: اصلا شیطان غواړي چې انسان لوڅ کړي او هغه عزت او ابرو چې اللهﷻ انسان ته ورکړې له منځه ویسي شیطان حضرت آدم او بی بی حوارضي الله عنها ته وسوسه وکړه ﴿فَوَسْوَسَ لَهُمَا ٱلشَّيْطَٰنُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وُۥرِيَ عَنْهُمَا مِن سَوْءَٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهَىٰكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةِ إِلَّآ أَن تَكُونَا مَلَكَيْنِ أَوْ تَكُونَا مِنَ ٱلْخَٰلِدِينَ ﴿٢٠﴾ وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴿٢١﴾ فَدَلَّىٰهُمَا بِغُرُورٍۚ فَلَمَّا ذَاقَا ٱلشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ ٱلْجَنَّةِۖ وَنَادَىٰهُمَا رَبُّهُمَآ أَلَمْ أَنْهَكُمَا عَن تِلْكُمَا ٱلشَّجَرَةِ وَأَقُل لَّكُمَآ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ لَكُمَا

عَدُوٌّ مُّبِينٌ ۝٢٢ قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ۝٢٣﴾ [الأعراف: ۲۰-۲۳] «نو وسوسه وکړه شیطان دوی دواړو ته ترڅو بربنډ کړي دوی ته هغه عورت چې دوی پټ کړی دی او ورته یې وویل نه یاست منع کړي تاسې خپل خدای مګر دا چې ملایکې شي او یا همیشني شي او قسم یې ورته وکړ چې زه ستاسې خیر غوښتونکی یم، نو لاربښوونه یې وکړه هغوی ته په چل سره کله چې هغوی دغه ونه وڅکله ښکاره شو دوی ته خپل عورت او شروع شو چې لګولې به یې وربانديې د جنت پاڼې او غږ وکړ دوی ته رب د دوی ایا ما نه وی منع کړي له دغې ونې څخه او درته مې نه وویلی چې شیطان ستاسې دواړه ښکاره دښمن دی دواړو وویل ای ربه مونږ پخپل ځان باندې ظلم کړی دی او که ته مونږ ونه بښې او رحم را باندې ونکړی نو مونږ به شو له تاوانیانو څخه».

شیطان له آدم او بی بی حوا سره چل وکړ او په چل اودو کې یا ننې اصطلاح فکری جنګ سره یې هغوی وښویول، ترڅو هغوی دغه ممنوعه ونه وخوري او دوی ته یې دلیل بیان کړ چې کله تاسې له دې ونې څخه وخورې تاسې په ملایکو او یا هم د جنت دایمی خلکو غوندې شي، شیطان له منافقت څخه کار واخیست او هغوی ته یې قسم وخوړ چې زه ستاسې دوست یم، او دغه خبرې ستاسې په ښه کوم او هغوی ددغه مکار دښمن په خبره وغولیدل او له ممنوعه ونیې یې وخړه او په تش خوړلو سره له دوی څخه د جنت ښکلی کالي وغورحیدل، او دواړه بربنډ شو او دیته اړ شو چې ترڅو د جنت په پاڼو ځانونه پټ کړي.

دغه حکایت مومنانو ته لوی درس دی، ترڅو انسان دجنی او انسي شیطان لخوا دوکه نشي او داسلام احکام کاملا ومنی قران کریم فرمایي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱدْخُلُواْ فِى ٱلسِّلْمِ كَآفَّةً وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَٰنِ﴾ «ای مومنانو ننوځي په اسلام کې پوره او پیروی مه کوي د شیطان د قدمونو بی‌شکه هغه ستاسې ښکاره دښمن دي». د اوس مهال شیطانان او داسلام مقدس دین دښمنان هم له خپل چل او دښمنې او خپل اشغالی لباس سره غواړي زمونږ مسلمانې خویندې بی لارې کړي، د ښځې له حقوقو څخه غږیږي او درادیو او تلویزون له لارې همدغه د بی حجابۍ او عورت لوڅولو موضوع ته زیاته لمن وهي. او غواړي

چې مسلمانه خور د تلويزونی اعلاناتو او يا هم د دوی د تجارت او د بدن د اعضاو خرڅولو اله او وسيله شي. دوی د هغو ليوانو په شکل سره دي چې يو اوري ته چې دمور غېږ کې اوسيږي وايي: دغه مهربانه مور دې په تا باندې ظلم کوي او دا چوپان حق نلري د خپل لاس په لرګی سره دتا ساتنه وکړي ته بايد ازدانه په صحرا کې حرکت وکړي او که دغه ساده لوحه اوری د ليوه په غوړو او چلناکو خبرو وغوليږي دمور له لمنی او د چوپان له ساتنې لرې شي او دغه وحشي ليوه يې ځانته خپلې مخه کې ووينې ځانته به يې مړی کړي او ټوټه ټوټه به يې کړي او په ياد به يي شي.

صدها چراغ دارد و بيراهـه مـی‌رود　　بگذار تا که‌افتدوبيند سزای خويش

د اسلام مخالفينو هم ښځې د ازادۍ او مساوات په نوم سره له کورونو او کار ځايونو څخه رقص ځايونه او د رقص او فساد د کلپونو ته انتقال کړې. او بيا يې دوی يوه وسيله وګرځوله او د دوی د اعضاو لسګونه شرکتونه يي د تلويزونی چينلونو له لارې خلکو ته اعلان کړ. پاکه کورنۍ يې له منځه ويوړه او هغوی يې د پرمختګ او تمدن په نوم سره خلکو ته بی فکره او بی انده معرفی کړل. او اوس پدغسې هيوادونو کې د ورځينيو احصايو له مخی ۸۰٪ سړيان له خپلو ښځو سره خيانت کوي او پرديو ښځو سره جنسي ارتباطات نيسي.

دعورت لوڅونې او بی ستري موضوع د شيطان لويه وسيله ده، ځکه بی حيا انسان ايمان نلري او حيا د انسان د ايمان اساسي جز تشکيلوی حيا د يو مسملان د اخلاقو اساسي بڼ:ارندوی دی، او کله چې انسان له اسلامی اخلاقو او ادابو لرې شي ټول عملونه يې بيهوده کيږي مثلا: لمونځ منفی حيا مساوي صفر دی. ځکه لمانځه کې ستر عورت فرض دی او د عورت لوڅول لمونځ باطلوي.

زکات منفی اخلاق مساوی صفر دی. ځکه الله‌ﷻ فرمايي: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُبْطِلُواْ صَدَقَـٰتِكُم...﴾ «ای مومنانو خپلې صدقې په منت او اذيت سره مه

باطلوی». څوک چې د زکات د توزیع پرو خت بد اخلاقی کوي او دفقیرانو زړونه په سختو الفاظو زخمی کوي د صدقې ثواب یې باطلیږي.

اورو زه منفی اخلاق مساوی صفر دی، څکه پیغمبرﷺ فرمایي: «کله چې یو د تاسې روزه‌دار وي نه باید بدې خبرې او فاسقانه اعمال وکړي، او که څوک ورته کنځاوې وکړي دې دې ورته ووایي زه روزه لرم او هغه سره دې لانجه نکوي».

حج منفی اخلاق مساوي صفر دی، څکه اللهﷻ فرمایي: ﴿فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ ٱلۡحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي ٱلۡحَجِّۗ﴾ [البقرة: ۱۹۷] «په چا باندې چې حج فرض شو نو نشته په حج کې بدې خبرې، بدکار او جنجالونه».

بد اخلاقی او بی حیایي په ټولو عصرونو کې د شیطان یو خطرناک دام دی. هغه خلک چې له محمدﷺ څخه مخکې د ابراهیم د شریعت مطابق حنفاؤ و او د کعبی طواف یې کو شیطان هغوی ته راغی هغوی یې داسې بی لارې کړل دغه لباس چې تاسې د طواف پر وخت اوغندی کیدای شی له حرامو پیسو څخه وي. او یا هم ناپاکه وي، نو بهتره ده د طواف پر وخت خپل لباس لرې کړي او پدې ډول یې هغوی له حق دین څخه واړول او ټول یې مشرک کړل، او دوی بیا بربنډ طواف کو او بیا یې کعبې ته هم بتان دننه کړل او مشرک شو.

د شیطان دغه دام نن عصر کې هم لکه پخوا تکراریږي او انسي او جني شیطان د وسیلو او دلایلو په تغیر سره غواړي مسلمانان لکه خپل ځان غوندې بی حیا کړي. او دوی څخه خپل غلامان او وینځې جوړ کړي.

او خپلو تجارتی شرکتونو کې یې خلکو ته وړاندې کوي ولې مخلص او متدین مسلمانان هیڅکله دغسې چل نخوري څکه مسلمانې ښځې زیات غیرت او شهامت لري اوپه عقل سره هره نوې پدیده تشخیصوي او ځآن د هر عصر مکروب مقابل کې وقایه کوي څکه د اسلام تاریخ دغوره او باهمته ښځو شاهد دی، اودا لوی افتخار دی چې د اسلام لومړی شهید (بی بی سمیه) یوه ښځه ده، او د ټولو پیغمبرانو پای کې په حضرت محمدﷺ له وحی

نازلیدلو وروسته اول تن چې وربانېد ایمان راوړ یوه ښځه (بی بی خدیجه) وه.

**دالهی احکامو د شرح لپاره باید اسلامی عالمانو څخه وپوښتو:**

اوس یو اساسی مطلب پدې بحث کې مطرح کوو، چې دعورت او حجاب موضوع ده، او لازمه ده چې دې موضوع کې له تحقیق څخه وروسته لاندې پوښتنو ته ځواب ووایو:

پوښتنه: د اسلام مقدس دین احکام له کومو سرچینو څخه استنباط کیږي؟

ځواب: د اسلام مقدس دین احکام له قران کریم اود پیغمبر له سنتو څخه اخیستل کیږی.

پوښتنه: له قران کریم او سنتو څخه د احکامو د استنباط صلاحیت کومو اشخاصو ته سپارل شوی دی؟

ځواب: په هره موضوع کې د قانون جوړونی او احکامو استنباط متخصصو اشخاصو پورې اړه لري. څکه مونږ د طبی مشکل دحل لپاره ډاکترانو او د طب متخصصانو، د برق مشکلاتو کې د برق متخصصانو، د کمپیوتر او انترنت په برخه کې د کمپیوتر انجینرانو اود انجن او پرواز په موضوع کې ددپیلوماتو او متخصصو انجینرانو څخه پوښتو، همدرانګه د قران او سنتو د فهم لپاره داسلامی شریعت متخصصینو ته مراجعه کیږي.

پوښتنه: اسلامپوهانو د څوارلس پیړیو په اوږدو کې د اسلام له ظهوره بیا تر ننه د ښځو د عورت او حجاب په هکله له کومو قرانی ایاتونو او نبوی احادیثو څخه احکام استنباط کړي دی؟

ځواب: د ستر عورت او حجاب په هکله زیات آیاتونه او احادیث شته دي، چې د احزاب او نور سورت کې زیات اړوند احکام په صراحت سره بیان شوي دي. چې دلته د قران او سنت ځینې دلایل د مثال په ډول سره راوړو:

﴿قُل لِّلۡمُؤۡمِنِينَ يَغُضُّواْ مِنۡ أَبۡصَٰرِهِمۡ وَيَحۡفَظُواْ فُرُوجَهُمۡۚ ذَٰلِكَ أَزۡكَىٰ لَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا يَصۡنَعُونَ ۝٣٠ وَقُل لِّلۡمُؤۡمِنَٰتِ يَغۡضُضۡنَ مِنۡ أَبۡصَٰرِهِنَّ وَيَحۡفَظۡنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبۡدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنۡهَاۖ وَلۡيَضۡرِبۡنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّۖ وَلَا يُبۡدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوۡ ءَابَآئِهِنَّ أَوۡ ءَابَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوۡ أَبۡنَآئِهِنَّ أَوۡ أَبۡنَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوۡ إِخۡوَٰنِهِنَّ أَوۡ بَنِيٓ إِخۡوَٰنِهِنَّ أَوۡ بَنِيٓ أَخَوَٰتِهِنَّ أَوۡ نِسَآئِهِنَّ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُنَّ أَوِ ٱلتَّٰبِعِينَ غَيۡرِ أُوْلِي ٱلۡإِرۡبَةِ مِنَ ٱلرِّجَالِ أَوِ ٱلطِّفۡلِ ٱلَّذِينَ لَمۡ يَظۡهَرُواْ عَلَىٰ عَوۡرَٰتِ ٱلنِّسَآءِۖ وَلَا يَضۡرِبۡنَ بِأَرۡجُلِهِنَّ لِيُعۡلَمَ مَا يُخۡفِينَ مِن زِينَتِهِنَّۚ وَتُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ۝٣١﴾ [النور: ۳۰-۳۱].

«ووایه مسلمانانو ته چې سترګې څه پټې کړي او خپل فرجونه وساتي، دا دوی ته غوره ده بی‌شکه الله په هغه څه خبر دی چې دوی یې کوي او ووایه مسلمانو ښځو ته چې څه سترګې پټې کړي او خپل فرجونه وساتی او ښکاره نکړي خپل زینت مګر هغه چې ترې ښ:اره کوي، او ودې غوړوي خپل ټیکړي پخپلو ګریوانونو، او نه دې ښکاره کوي خپل زینت مګر خپلو میړونو ته، یا پلرونو ته، یا خسر ته، یا ځامنو ته، او یا د میړونو ځامنو ته، یا خپلو ورونو ته یا وریرونو ته، یا خوریونو ته، یا خپلو ښځو ته او یا هغو ته چې د دوی ښي لاسونه یې مالکان دي، او یا هغو زړونو ته چې شهوت ونلري له سړیانو څخه، او یا هغو ماشومانو ته چې دښځو په عورتونو خبر ندي، او نه دې وهي خپلې پیښې ترڅو ښکاره شي د دوي هغه پټ زینت او توبه وکړي الله ته ټول ای مومنانو ترڅو کامیاب شي».

دې مبارک آیت کې لاندې مطالب بیان شوي دي:

**۱- سترګې پټونه:**

دې مبارک ایت کې له سترګو پټولو څخه هدف له نا محرمو څخه سترګې اړول دي. یعنې مسلمان نارینه او زنانه دې د نامحرمو سره د مخامخ کیدو پر وخت کوشش وکړي چې خپل نظر بلې خوا واړوي.

به نامحرم نظر دل را کند کور ز غربت خانهٔ وضع افگند دور
ز دست دیده و دل هردو فریاد که هرچه دیده بیند دل کند یاد

نن ورځ متاسفانه هغه خلک چې د سریالونو او فلمونو لیدلو سره عادت دی، ددغه مبارک آیات له تطبیق څخه کاملا غافل او بی خبره دي. ځکه ښځې ساتو نه په دغو سریالونو او فلمونو کې نامحرمو سړیانو ته ګوري. او سړیانو هم یواځې دا نه چې ساتونه نامحرمو ښځو ته ګوري، بلکې د هغوی د تصویرونو او رقصونو مشاهده کوي.

**۲– د شرمګاه حفاظت:**

د شرمګاه له حفاظت څخه منظور (ستر عورت) او د زنا په ګناه له مبتلا کیدو څخه حفاظت دی.

**۳– زیاته پاکي:**

د عورت محافظت او سترګې پټول د انسانی جامعې د پاکوالي او پاک ژوند کولو لپاره غوره وسیله ده. الله فرمایي: ﴿وَمَن تَزَكَّىٰ فَإِنَّمَا يَتَزَكَّىٰ لِنَفْسِهِۦۚ﴾ «او چا چې ځان پاک کړ نو د هغه ځان پاکی د خپل ځان لپاره ده» دغه حقیقت هره ورځ پخپلو سترګو وینو چې زمونږه با حیا او با حجابه خورګانې همیشه له پاک او نظیف ژوند سره له مشکلاتو څخه لرې دي، ولې غربي ښځینه او هغه چې د دوی تقلید کوي په زرګونو مشکلاتو، او کورنیو بی‌اعتمادیو او بی‌اعتبار یو باندې اخته دی، او د جهنم اور د هغو نصیب دی چې سترګې څروي، بی‌شرمه او بی‌حیا دي نه د خپل فامیل د اعضاو خیال کوي او نه د بل چا د ناموس او هم د هغو ښځو نصیب دی چې د اسلام مقدس دین احکام نه مراعت کوي.

**۴– د دوی له کارونو څخه د الله جل جلاله خبرتیا:**

الله جل جلاله هر چاته د خپل عمل مطابق بدله ورکوي، او زمونږ د پروردګار علم د انسان په ټولو پټو او ښ:اره کارونو باندې رسیدلی دی. او دغه صخت ټکونه د هغو خلکو لپاره دي چې خپل نیتونه یې پاک کړي ندي، او د نورو ناموس ته

په بې‌حیایۍ سره ګوري. او فکر کوي چې هر کله په پټ ډول سره نامحرمو ته وګوري نو هیڅوک به یې په راز خبر نشي.

**۵- زینت:**

په اسلامی شرعیت کې زینت په دوه برخو ویشل کیږي یو ذاتی زینت او ښآیست دی چې اللهﷻ انسان ته ورکړی دی بل مکتسب زینت او ښایست چې د لباس، زیوراتو او غیره له ارایش څخه عبارت دی.

**۶- الا ما ظهر منها:**

هغه چې پرته له اختیاره ظاهر شي: منظور هغه زینت او ښایست دی چې پرته له اختیاره څرګندیږي او یا هم نشي کولای هغه پټ کړي لکه لباس، ګوتۍ او غیره...

**۷- بخمرهن:**

له خمار څخه غرض ټیکری دي: لکه مخکې مو چې د خمار په هکله خبرې وکړې، چې یوه ټوټه ده چې د هغې په واسطه زمونږ خویندي خپل سر، ویښته او غاړه پټوي، دې ایت شریف کې چې د ټیکري سر او ویښتو دپټولو یادونه شوې ده متاسفانه چې ډېر خلک کاږه او بی لارې تللی دي. او داسې ګمان کوي چې مراد له تقوا څخه معنوی حجاب دی، او حجاب له ټیکري سره څه ارتباط نلري.

بشنو از چادر که در توصیف زن — تاروپودش با تو میگوید سخن
تاروپودم ازشرافت تافته — تا شرافت را به عصمت بافته
درکلاس حفظ تقوا و شرف — دختران درند، چادر چون صدف
بهترین سرمایهء زن چادر ست — زانکه زیب وزینت زن چادر ست
حفظ چادر در سراي اقتدار — دختران راست تاج افتخار
حفظچادر حفظدینومذهب است — شیوهء ازواج پاک احمد ست

حفظ چادر چـاره سـاز کارهاسـت حفـظ گـل از هجـوم خـارهاست

**٨- جيوب:**

جيوب چې د جيب جمع ده د غاړې او سينې په معنی سره راځي. يعنې مسلمانی خوينډې بايد خپل سرونه، ويښته او سينې د خپلو ټيکريو په واسطه وپوښي.

**٩- ځينو خپلوانو ته استثناء:**

هغه اشخاص دي چې په دې آيات شريف کې ذکر شوي او د محارمو له جملې څخه دي چې د دوی سره د عورت اندازه نسبت نامحرمو ته فرق کوي چې وروسته به شرحه شي البته دې آيات شريف کې دکاکا او ماما په هکله څخه ندي ويل شوي، ولې د پيغمبر په احاديثو کې ويل شوي چې کاکا او ماما هم له محارمو څخه دي.

**د دوه دروغجنو شبهو رد**

شيطان او شيطان صفتان ددې لپاره چې په ټولنه کې بی حجابی او بی حيايي رواج کړي دوه دليلونه بيانوي. او پدې سره ډيرو خلکو ته فريب ورکوي:

لومړۍ شبهه: دوی وايي له ستر او حجاب څخه منظور داخلی حجاب او معنوی ستر دی يعنی کله چې انسان داخلی تقوا ولري همدغه حجاب دی نه دا چې حجاب په مخ پټونې نقاب او ټيکري سره شرحه کړي.

ددې دليل ځواب: دا رنګ خلک بايد پوه شي چې دوی د ډيرو قرانی آياتونه څخه انکار کوي. ځکه په قرانی اياتونو کې حجاب په مادی معنی بيان شوی دی ځکه د - خمار - ټيکری لفظ صراحتا په قران کې راغلی دی او هم راغلي دي چې ټيکری بايد سر، غاړه، سينه او ويښته او غيره پټ کړي ﴿وَلۡيَضۡرِبۡنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ﴾ «او خپل ټيکري دې په خپلو ګريوانونو واچوي». غوره ده دداسې خلکو لپاره د قران کريم د مفسرينو اقوال را نقل کړو، ترڅو پوه شي چې د قران کريم ټول مفسرين چې د اسلام علما دی څه وايي:

امام طبرى چې د اسلام مشهور مفسر دى ددې آيت تفسير کې داسې وايي: خپل ټيکري دې د سينې په تخته واچوي، ترڅو يې ويښته، غاړه او غاړکۍ پټې کړي[١].

علامه ابن کثير د قران کريم مشهور مفسر ددې آيات شريف په تفسير کې وايي منظور مخ پټونى دى چې د ښځو د سينې په تخته پروت وي، ترڅو د هغې په واسطه د سينې تخته او خپلې کوڅۍ پټې کړي، او پدې اسلوب د جاهليت د عصر له ښځو سره مخالفت وکړي ځکه د جاهليت پر وخت ښځو د ا کار نکو، بلکې ښځې به د سړيانو ترمخ داسې تيريدلى چې ويښته او ان غوړوالۍ يې معلوميدلى[٢].

د مسلمانانو مور بى بى عايشه صديقه رضي الله عنها وايي: الله جل جلاله دي د مهاجرينو په ښځو رحم وکړي.

زه فکر کوم هغه خلک چې د اسلام د ښمنو (انسي او جني) شيطانانو لخوا غوليږي، ددې حقيقت په درک کولو سره به دغسي خبرې بايد تکرار نکړي. او يقين به وکړي چې د اسلام مقدس دين کې څومره معنوى پاکى ته ارزښت ورکړي، په هماغه اندازه ظاهري پاکي او د حجاب اغوستل هم ضروري دي، ځکه ظاهري او باطنى کمک د يوې سکى دوه مخه دى، چې کله يې يوه طرف هم خراب شي ن ابل يې خرابيږي.

دويمه شبهه: ځينو ځوانانو او نجونو ته يې دا چل ورکړي چي کله زمونږ زړه پاک دي، نو لباس او حجاب ته بيا ضرورت نشته دى دې اشخاصو ته همدومره کافى دى چې ايا تاسې له بى بى فاطمې، بى بى عايشې او د ټولو

---

١- وليلقين خُمُرهنّ، وهي جمع خمار، على جيوبهنّ، ليسترن بذلك شعورهنّ وأعناقهن وقُرْطَهُنَّ. جامع البيان في تأويل القرآن تاليف محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر الطبري، [٢٢٤ - ٣١٠ هـ] تحقيق أحمد محمد شاكر، مؤسسة الرسالة، ط ١ (١٤٢٠ هـ - ٢٠٠٠ م)، ١٥٩/١٣

٢- تفسير القرآن العظيم تاليف أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي الدمشقي [٧٠٠ - ٧٧٤ هـ] تحقيق سامي بن محمد سلامة، دار طيبة للنشر والتوزيع، ط ٢ (١٤٢٠هـ - ١٩٩٩ م) ٤٦/٦

زنانه صحابه و ښځه پاکې ښځې غواړي، دوی د قراني ایاتونو له پوهیدلو او سره له دې چې زړو نه پاک دي. اسلامي حجاب مراعات کړی دی.

## عورت په لغت او د اسلامی شریعت اصطلاح کې:

### عورت په لغت کې:

د کمین خالي والي، د انسان شرم ځای او هر هغه شي په معنی ده چې له هغه ښځه شرم او حیا کیږي[1].

### عورت په اصطلاح کې:

د انسان د بدن یو قسمت دی چې د هغه لیدل او نورو ته ښودل حرام دي.

## دنارینه او زنانه د عورت اندازه

پیل ک مو ولوستل چې د عورت پټول په مسلمان نارینه او زنانه باندې فرض دی او دواړه مکلف دي ترڅو خپل عورت پټ کړي، او د مخالفت صورت کې د ګناه مرتکب دي، ولې دعورت اندازه کې دنارینه او زنانه ترمنځ فرق شته دی، چې طبعا دغه اندازه د هریو د کورنیو شرایطو او ښایست مطابق په نظر کې نیول کیږي، د نارینه د جسم هغه برخه چې ټولنه کې دفتنی او فساد لامل ګرځي عورت دی، او نارینه مجبور دي چې د هغه په حفاظت کې د اسلامی شریعت قوانین رعایت کړي، او زمونږ مسلمانې خویندې هم مکلفې دي چې د عورت تعینه شوې اندازه مراعات کړي چې دادي دعورت په هکله د اسلام پوهانو د نظریو خلاصه تاسې ته وړاندې کوو. ترڅو د حقایقو په پیژندلو، او د اللهﷻ د رضا لپاره په هغې باندې په عمل کولو اخروي اجر، او د نیوی سعادت او پاکې زمونږ او زمونږ د کورنیو نصیب شي. (ان شاء الله تعالی)

---

١- القاموس المحیط ١/ ٥٧٣


دنارینه اوزنانه دعورت اندازه
نارینه او نارینه
نارینه او زنانه
زنانه او زنانه
زنانه او نارینه
له نامه څخه تر زنګون پورې
له نامه څخه تر زنګون پورې
له نامه څخه تر زنګون پورې
دري حکمونه لري
له میړه سره هیڅ عورت نشته
له محارمو سره له نامه څخه تر زنګون پورې
له پردیو سره
احناف او مالکي علما پرته له ورغوو او مخ څخه نور ټول عورت ګڼي
شافعي او حنبلي علما پرته له استثنا ټول بدن عورت ګڼي

**۱- د نارینه عورت له نارینه سره:**

د نارینه عورت د نامه څخه د زنګنو پوري دی، چې ورنونه او زنګنونه یې هم عورت کې شامل دي. نارینه مکلف دي د خپل بدن دغه برخه پټه کړي او د ترک په صورت کې ګنهګار کیږي، او الهی عذاب به ورته منتظر وي. ځینې مشران او ځوانان په عمومی حمامونو، سپورتي حوضونو او میدانونو کې د خپل عورت په هکله بی اعتنا وي، چې باید خپل ورنو او زنګنونه پټ کړي.

**۲- د زنانه عورت له زنانه سره:**

ځینی ښځینه فکر کوي چې د دوی ترمنځ د عورت پټول فرض ندي، داسې حال کې چې د اسلامی شریعت له نظره د یوې مسلمانې خویندې عورت د بلې مسلمانې خور سره د نارینه د عورت په اندازه (له نامه څخه تر زنګنو پورې) دی چې ټولو حالاتو کې باید مراعات شي.

**۳- د نارینه عورت له پردیو سړیو سره:**

د سړیانو عورت له پردیو ښځینو سره هم په پخوانۍ اندازې دی او ځینې علما وایي چې د سړي د بدن ټول اعضا عورت دی، نه باید د پردیو ښځینه و ترمنځ هغه لوڅ کړي.

**۴- د مسلمانې خویندې عورت له سړیانو سره:**

زمونږ د مسلمانې خویندې عورت له سړیانو سره درې حکمونه لري:

الف: زمونږ د مسلمان خور عورت له خپلو محارمو سره لکه پلار، ورور، ځوی، وراره، خور یې، کاکا، ماما، نیکه.

د ښځې عورت له محارمو سره د نامه څخه تر زنګنو پورې په شمول د ملا او سینې دتختې دی.

ب: د مسلمانانو خویندو عورت له خپلو میړونو سره: د ښځې او خاوند ترمنځ هیڅ رنګه عورت نشته.

ج: د مسلمانې خويندو عورت له پرديو سره: زمونږ د مسلمانو خويندو د عورت په هکله له پرديو سړيو سره اسلام پوهان دوه نظره لري:

الف: ځينې علما وايي چې د ښځې د بدن اعضا پرته له مخ او ورغوو څخه نور ټول عورت دی او ددې لپاره درې دليلونه لري:

لومړي دليل (قران کريم دی، دوی وايي چې الله‌ﷻ فرمايلی دي ﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ وايي قرانی آيات د هغه څه ښکاره کيدل استثنا کړي دی چې ښکاره کيدل يې حتمی ضرورت وي. او مخ او د لاسونو ورغوی له ضرورياتو څخه دی [1].

دويم دليل: هغه حديث چې بی بی عايشي‌رضي الله عنها روايت کړی دی چې يوه ورځ اسماء د ابوبکر لور د پيغمبر خوا ته راغله چې نازکه جامی يې په تن وې، پيغمبر له هغې څخه مخ واړو او ورته يې وويل: کله چې نجلۍ بالغه شي نو بيا جايز نده چې د هغې د بدن کومه حصه څوک ووينې پرته له دې دو حصو څخه او بيايې مخ او ورغوو ته اشاره وکړه.

دريم دليل: عقلي دليل دی، وايي چې ښځينه په لمانځه، او حج کې خپل مخونه لوڅوي، او که مخ عورت و نو لوڅول به يې په لمانځه او حج کې هم جايز نه و، ځکه د عورت پټول جايز دی، او د انسان لمونځ د عورت دلوڅوالي حالت کې سيي ندي.

ب: د اسلام پوهانو يوه ډله پدې نظر ده چې د ښځينه د بدن ټول اعضا پرته له استثنا څخه ټول عورت دی، د دوی دلايل په لاندې ډول دي:

لومړي دليل: د قران کريم آيات ﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ﴾ «خپل ښايست دي نه ښکاره کوي» دې آيات شريف کې د زينت ښکاره کول حرام ګڼل شوي دي. او زينت دوه ډوله دی:

يو ذاتی زينت دی چې له هماغه سره پيدا شوي دي، او بل کسبی زينت دی چې ښځې د لباس اغوستلو او زيوراتو او ارايش سره حان ښايسته کوي.

---

۱- روايع البيان في تفسير آيات احکام. محمد علي الصابوني، ۲/ ۱۵۲

مخ د زينت له ډلې څخه دى، او د ښځو اصل ښايست او زينت هم له مخ او اننګو څخه معلوميږي او ايت شريف د زينت ښكاره كول په مكمل ډول سره حرام كړى دى(۱).

دويم دليل: وايي د نظر په هكله زيات احاديث راغلى دي مثلا حضرت جريرﷺ وايي چې ما له رسول اللهﷺ څخه د ناڅاپي نظر په هكله وپوښتل، هغه راته وويل: نظر دې واړوه (يعنى پرديو ښځو ته مه ګوره) د مسلم او امام احمد روايت. پيغمبرﷺ حضرت علىﷺ ته وايي: اى على او مړى نظر بيا مه تكرار وه لومړى نظر بيا مه تكرار وه لومړى نظر درته عفوه او دويم درباندې محاسبه كيږي. د احمد او ابو داود روايت. دغه او نور ټول روايت شوى احاديث پرديو ښحو ته كتل حرام ګڼي بناء د ښځو اننګي عورت دي.

دريم دليل: هغوى وايي چې نامحرمو ښحو ته كتل د فتنې د ويرې په خاطر وي. او د مخ فتنه نسبت پنډۍ او ويښتو ته زياته ده.

او كله چې دښځو ويښتانو او پنډيو ته كتل د علما، په اتفاق حرام دي. نو د اننګو حرمت بايد په طريق اولى سره وي. ځكه اصل ښايست په اننګو نغښتل شوى دى.

يادونه: هغو پوهانو چې اننګي عورت ندي ګڼلي شرطونه لري:

لومړى شرط: مخ بى ارايشه او بى فيشنه وي.

دويم شرط: د فتنې او فساد ويره نه وي. او كه چيرې يوه ښځينه دومره ښايسته وي چې د اننګو ښكاره كول يې د نورو د فتنې سبب ګرځي. او يا هم اجتماعى اخلاق دومره ضعيف وي چې د ښځنيو د اننګو په ليدلو سره خبره فتنه او فساد ته رسيږي نو د مخ ښكار كول جايز ندي.

دريم شرط: د پوهانو ددې خبرې منظور چې عورت فرض ندى، دا نده چې د اننګو ښكاره كول او لوڅول واجب دي، او مسلمانى خويندې بايد حتما خپل اننګى لوڅ كړي. بلكې د هغوى خبره دضرورت لپاره ده. چې كله كومه

---

۱- مصدر سابق ۲/ ۱۵۵

ښځینه د کار او یا درس د ضرورت پر وخت نشي کولی خپل اننګی پټ کړي، کولی شي اننګی ښاره کړي، ولې ټولو حالاتو کې نه باید خپل اننګی لوڅ کړي، او د ښځو د اننګیو د ښکاره کولو پر وخت سړیانو ته امر شوی دی چې کله هغوی د ضرورت په خاطر اننګي نشي پټولی نو سړیان باید ورته ونه ګوري. بلکې دې حالت کې دسړیانو مسولیت دی چې سترګې پټې کړي ﴿قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّواْ مِنْ أَبْصَٰرِهِمْ﴾.

د پوهانو د ویناو ترمنځ غوره والی: د بنده په نظر په اوسی مهال کې مسملانو خویندو میندو ته د اننګو پټول لازمي دي البته که مجبوریت وي او یا استثنا وجود ولري. لکه د طواف پر وخت سيي ده، مګر عادي حالاتو کې احتیاط غوره دي.

## دښځو او نارینه و د لباس شرطونه

په اوسني مهال کې یو اساسی ستونزه د لباس شرایطو ته بی توجهی او نه پیژندنه ده. نن ورځ ځینی نجونې پدې نظر دي چې که خپل ویښته او غاړه پټ کړي با حجابه کیږي، بناء سرونه پّ ټیکریو ښه کلک تړي ولې چسپ کاو بای پتلون اغوندي او یا لنډې چسپي جامې اغوندي، کله ناکله له نازک ټیکري لکه ګاچ او غیره څخه استفاده کوي. هلکان او ځوانان پدې نظر دي چې د ستر عورت او لباس د شرایطو مسله د نجونو او ښځنیو پورې خاص ده. بناء د چسپو پتلونو او سپورتی نازکو او غیره لباس سره د خلکو مخ ته راووځي. او حتی د لمانځه پر وخت داسې لباس اغوندي چې عورت یې مکمل واضح کیږي.

بناء د ستر عورت د تطبیق لپاره لازمه ده دلباس په شرایط مفصل ډول سره پوه شو، دغه شرایط په دوه ډوله تقسیمیږي.




## د لباس عمومي شرايط

د لباس له عمومي شرايطو څخه منظور داده چې دغه شرايط په مسلمان نارينه او ښځينه باندې يو رنګ لازم او ضروري دي او که دا شرايط مراعات نکړي ګناهګار دي او ستر عورت يې سيي ندی.

### ١- نازک نه وي:

هغه لباس چې د ستر عورت لپاره کارول کيږي لازمه ده چې نازک به نه وي ترڅو بدن ترې معلوم شي، ځينې خلک ډير نازک لباس اغوندي چې د لارې تللو پر وخت يې د جسم اعضا ښکاري، د لباس نازکی يا د ټوټې د اختيارولو وخت کې وي لکه ګاچ او امثال يې او کله هم د ډير استعمال په پايله کې نازکه کيږي.

تفسير قرطبی روايت کوي چې دبنو تميم يو ډله ښځينه د بی بی عايشيرضي الله عنها خوا ته راغلې او په تن يې نازک لباس و، بی بی عايشيرضي الله عنها

ورته وويل: که تاسې با ايمانه ښځې ياست نو دا د ايماندارو لباس ندی، او که غير مسلمان ياست نو بيا تاسې ته څخه ستونزه نشته.

په فعلی شرايطو کې بازار ته نازکه ټوټې راغلي دي چې هيڅ رنګه په هغې سره ستر عورت نه راځي. مثلا د ګاچ تکه چې ډيرې ښځينه يې دټيکري لپاره استعمالوي خو متاسفانه چې دا ډيره نازکه تکه ده او زمونږ د خويندو ويښته نه پټوي. بناء ستر عورت نکيږي، همدارنګه ځينې له نازکو ټوټو څخه لستوڼي جوړوي چې لاسونه يې ترې ښکاري پدې حالت کې هم داد ستر لباس ندي.

**۲– لنډ نه وي:**

هغه لباس چې د ستر عورت لپاره استعماليږي لازمه ده ترڅو د جسم هغه قسمت چې پټوي يې مکمل ستر کړي، ځينی خويندې له کوره بيرونه او د نامحرمو ترمخ پنجابی لباس اغوندي چې دا لنډې جامې دي او د عورت مقدار يې سيي نه پټوي، احيانا له پتلون سره لنډې لمنې اچوي چې دا هم د اسلامی ستر د قاعدې مخالف دی.

د غاړې په جوړولو کې احيانا ځينې خويندې لويې غاړې خوښوي چې د سينې تخته يې معلوميږي، او کله هم نيم لستوڼي لباس اغوندي او يا هم لستوڼي لنډوي چې دغه لباس په هيڅ ډول د اسلامی لباس له قوانيو سره موافق ندي.

ځينې هلکان د سپورت او لامبو پر وخت لنډ لباس اغوندي که څوک ورته وو ايي چې دغه لباس موسيي ندي، دليل کې وايي چې مونږ ښځې نه يو، داسې حال کې داسې نازکه لباس اغوستل چې عورت پټ نکړي د نر او ښځې لپاره يو رنګ حرام دي.

متاسفانه چې غير مسلمانانو د سپورت لپاره يو لباس غوره کړی دی مسلمانان کولی شي د هغوی سره تفاهم وکړي او خپل لباس د اسلامی شرايطو مطابق چې د دوی عورت پټ کړي، هماغسې جوړ کړي. حتی ځينې سپورتونه داسې حرکتونه لري لکه سجده او رکوع د بتانو په وړاندې او يا هغه الفاظ زمونږ په ورزشکارانو تحميلوي چې جاچانی، چينايي او کوريايي بت

پرستان يې د بت د عبادت لپاره وايي. بناء لازمه ده چې د مسابقاتو پر وخت د مجسمو او انسانانو مقابل کې تعظيم او سجده ونکړي. ځکه د رکوع او سجدې په شکل تعظيم کول د انسانانو اویا بتانو په وړاندې شرک ګڼل کیږي.

**۳– چسپ نه وي:**

د اسلامی لباس له شرایطو څخه یو هم د لباس پراخوالی دی، بناء ځینې لباس چې چسپ وي لکه برجس، کاوبای او جیمز پتلونونه او غیهر چې بدن پورې چسپیدلي وي نارینه او ښځینه مسلمانانو ته جایز ندي.

**خصوصی شرایط**

له خاصو شرايطو څخه منظور هغه شرایط دي چې یوائې په با ایمانه نجونو او ښځو باندې لکه کور څخه د وتلو پر وخت او یا هم د نامحرمو سره د مخامخ کیدو پر وخت لازم دي چې علاوه له هغو عامو شرایطو دغه شرایط هم باید په نظر کې وايي.

**۱– له جذابه رنګونو لرې والي:**

د با ایمانه خویندو په لباس کې شرط دی چې له کوره بیرون له جذابه رنګونو څخه استفاده ونکړي. ولې دغه رنګونه ورته په کور کې د ښځینو او یا محارمو په منځ کې جایز دي. ولې له کور بهر او یا د نامحرمو سره د مخامخ کیدو پر وخت باید له سنګینه ا وساده کالیو څخه کار واخلي.

**۲– بوټونه یې اواز ونلري:**

با ایمانه خویندې دې د بوټو اخیستلو پر وخت سعی او کوشش وکړي چې د کارولو او له کور څخه وتلو پر وخت اواز ونلري.

**۳– له عطرو دې استفاده نکوي:**

با ایمانه خویندو ته جایز دی چې د کور د ننه له هر رنګه زینت څخه استفاده وکړي ولې له کور څخه د وتلو پر وخت نباید عطر استعمال کړي ځکه چې دغه عمل یې د فتنې لامل ګرځي. حضرت ابو موسیﷺ وایي چې نبی کریمﷺ وفرمایل: هره سترګه زنا کوي، او کله چې یوه ښځه عیر ووهی او

بیا د یو مجلس تر څنګ تیره شي دغه ښځینه هغسې او هغسې ده (یعنې زنا کاره ده)[۱].

## یو ډېر مهم حدیث

حضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله وفرمایل: دوه ډلې دوزیخاین دي چې ما تر اوسه ندي لیدلی. هغه ښځې دي چې کالي یې اغوستي دي خو (دومره نازک او یا چسپ دی) داسې دي لکه لوڅ، خپله (پدې کارونو سره) نورو ته میلان کوي او هم سرونه یې داسې (جوړ کړي) دي لکه د اوښ کوهان، دوی نه جنت ته داخلیږي او نه به د جنت بوی وربانديږي، همدارنګه سړیان دي چې په لاسونو کې به یې دغوا د لکیو غوندې قمچینې وي او خلک به پرې وهي او ټکوي[۲].

له حدیث شریف څخه لاندې درسونه اخیستل کیږي:

۱- دا حدیث یوه معجزه ده چې پیغمبر علیه السلام د راتلونکي په هکله خبر ورکوي چې دوه ډلې خلک چې د رسول الله ﷺ زمانه کې نه و وروسته په مسلمانانو کې را پیدا کیږي. ځکه د انحضرت ﷺ د پاکۍ عصر و او ټولو د عفت لباس درلود، او همدرانګه د انسان حقوق دومره مراعات کیدل چې داسې سړیان نه پیدا کیدل چې بازار کې خلک په قمچینو ووهي.

۲- دا دوه ډلې داسې مسلمانان دي چې دوزخیان دي. ځکه دغه ښځې د انساني ټولنې د فساد لامل ګرځي. او دغه سړیان د خلکو عزت تویوي.

---

۱- مصدر سابق ۲/ ۱۵۵

۲- «حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ عَنْ ثَابِتِ بْنِ عُمَارَةَ الْحَنَفِيِّ عَنْ غُنَيْمِ بْنِ قَيْسٍ عَنْ أَبِي مُوسَى عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُلُّ عَيْنٍ زَانِيَةٌ وَالْمَرْأَةُ إِذَا اسْتَعْطَرَتْ فَمَرَّتْ بِالْمَجْلِسِ فَهِيَ كَذَا وَكَذَا يَعْنِي زَانِيَةً وَفِي الْبَاب عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أَبُو عِيسَى هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ» حدیث نمبر ۲۷۱۰ کتاب الآداب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم، سنن الترمذی.

۳- څوک چې چسپ، لنډ او نازک لباس اغوندي د پيغمبرﷺ د وينا په اساس بی‌لباسه لباس‌داران دي. يعنی سره له دې چې پخپل نظر يي لباس اغوستی دی خو د اسلامی شريعت له نظره بربنډ دي.

٤- اصلا د شهوت انګيز لباس اغوستل د فساد د نشرولو لپاره دی او که نه له کوره د وتلو پر وخت څه ضرورت دی چې انسان د غسې جامې واغوندي.

درخيابـان چهــره آرايــش مــكن     ازجـوانــان سـلب آسـايش مكـن
زلف خـود از روسـري بيـرون مريـز     درمســير چــشمها افســون مريــز
يـــاد كـــن از آتـــش روز مـــعاد     جلـوهء گيسـو مـده دردسـت بـاد
خــواهرم ديگـر تــوكودك نــيستي     فـاش تـر گـويم عروسـك نـيستي
خواهر من اين لباس تنگ چيست     پوشش چسپان و رنگارنگ چيست
خـواهرم ايـن قـدر طنـازي مكـن     بـا اصـول شـرع لجبـازي مكـن
خواهــرم اي عاشـق ديــن مبين     يــك نظــر ازواج پيامــبر بــبين

## دستر عورت او حجاب ترمنځ فرق

د اسلام پوهانو د ستر عورت او حجاب ترمنځ فرق کړی دي:

۱- د اسلام پوهانو د ستر عورت او حجاب ترمنځ فرق کړی دي:

۲- د ستر عورت لباس هماغه دی چې مخکی له خپلو شرايطو سره بيان شو.

۳- حجاب ديو پرچه ډوتی څخه عبادت دی چې د ستر عورت له لباس څخه علاوه د هغه لباس له پاسه اغوستل کيږي. او د بدن ټول اعضا پټوي.

بايد ووايو چي اسلامی حجاب خاص حکم لري، قران عظيم الشان فرمايي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن يُعۡرَفۡنَ فَلَا يُؤۡذَيۡنَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ٥٩﴾ [الأحزاب: ٥٩]

«ای پیغمبره ووایه خپلو ښځو او لوڼکانو ته اود مسلمانانو ښځو ته چې پخپل ځان باندې خپل ټیکري واچوي دا نزدې ده دیته چې دوی وپیژندل شي نو دوی ته به ضرر نه رسیږي او الله ښښونکی او مهربان دی».

له دې آیات شریف څخه لاندی درسونه اخیستل کیږي:

۱- دا آیات شریف د پیغمبر ښځې، لورګانې او با ایمانه ښځې مخاطب کوي.

بناء دا حکم ټولو مسلمانانو ښځو ته دی.

۲- د حجاب اغوستل د مسلمانو ښځو او د جاهلیت دعصر دښځو ترمنځ فرق دی ځکه ښځې له اسلام څخه مخکې او ننې جاهلیت کې بې حجابه وي.

ابن کثیر ددې آیات په تفسیر کې وایي: اللهﷻ خپل پیغمبر ته امر کوي چې مومنو ښځو خصوص خپلو ښځو او لوڼو ته چې له ټولو شریفې دي امر وکړي چې له (جلباب) لویو ټیکریو څخه کار واخلي. ترڅو د جاهلیت له ښځو او وینځو څخه جلا شي او جلباب هغه لباس ده چې دټیکري له پاسه استعمالیږي.

۳- هغه څه اسلامی حجاب له نورو لباسونو څخه جلال کوي (جلباب) دی. په آیات شریف کې راغلي دي ﴿يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّۚ﴾ جلابیب د جلباب جمع ده او جلباب هغه لباس ده چې ټول بدن پټوی، په (لسان العرب) قاموس کې وایي: جلباب له ټیکري څخه لوی لباس دی، او ځینې وایي جلباب هغه لباس ده چې ټول بدن پټوی. حضرت ابن سیرین وایي: ما له عبیده څخه وپوښتل چې ﴿يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّۚ﴾ څه مفهوم لري؟ هغه خپل سر او اننکی په یوه ټوټه پټ کړل او یوه سترګه یې پریښوده.

ام المومنین بی بی ام سلمهؓ وایي: کله چې دا آیات شریف ﴿يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّۚ﴾ نازل شو د انصارو ښځینه له کورونو څخه داسې راوتلې

لکه پر سر يې چې قارغان ناست وي. ځکه هغوی په وقار سره ګرځيدلې او د کاليو له پاسه يې تور ټيکری اغوستل[۱].

اصلاً پوهان حجاب هغه لباس ګڼي چې د اصلي کاليو له پاسه استعماليږي، او يا هم دټيکری له پاسه يو لوی ټيکری وي چې د بدن ټول اعضا پټوي. دنمونه تفسير خاوند ددې آيات شريف په تفسير کې وايي: دا چې منظور له پيژندنی څخه څه دی؟ د مفسرينو ترمنځ دوه نظره دي چې يو بل سره تفاوت هم نلري:

لومړی دا چې هغه رواج و چې وينځې به پرته له سر او غاړې پټولو له کوره وتلې او دا چې له اخلاقی نظره يې ښه وضعيت نه درلود ځينې فاسدو ځوانانو به د هغوی مزاحمت کو، دلته ازاده مسلمانو ښځو ته امر وشو [چې اسلامی حجاب کاملاً رعايت کړي ترڅو له وينځو څخه جلا شي او د فاسدو لپاره د مزاحمت بهانه پاتې نشي.

ښکاره د هچې دوی دا حق نه درلود چې وينځو ته مزاحمت وکړي، بلکه هدف دادی چې له دې فاسدانو څخه بهانه واخلي.

بله دا چې مسلمانې ښځې د حجاب په اغوستلو کې سستی او بی پروايي ونکړي لکه ځينې بی بندوباره ښځې چې دعين حجاب له لرلو سره بی پروا او لا ابالي دي. چې غالبا د بدن برخې يې ښ:اري، او همدغه ټکی د فاسدو ځوانانو توجه د دوی خوا ته راجلبوي.

## د حجاب ارتباط جنسيت سره دی نه له انسانيت سره

زن بسان گل بود درباغ گلزار جهان　　مرد او اندر مثل باشد چومرد باغبان
باغبان‌بايدکه ديواری‌کشدبر دورباغ　　تاگلش‌ايمن‌شودازدست‌بردايـن‌وآن
مردهم‌بايدبپوشاندبه‌زن‌زيب‌حجاب　　تاکه‌باشدهمسرش‌همواره‌درامن‌وأمان

---

۱- «عن أم سلمة قالت لما نزلت هذه الآية ﴿يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّ﴾ خرج نساء الأنصار كأن على رؤوسهن الغربان من السكينة وعليهن أكسية سود يلبسنها».

ورنـه‌میبایدببیندبادوچشـم‌خویشـتن      غنچه‌ٔناموس‌خودرا درکف بیگانکان

د اسلامی حجاب په مسله کې باید د ښځې انسانی او جنسي شخصیت دقیقا مطالعې لاندې ونیسو، چې د دوی انسانی شخصیت د اسلام مقدس دین کې له سریانو سره کامل او مساوي په نظر کې نیول شوی دی. الله‌ﷻ ټول انسانان له یو نر او ښځې څخه پیدا کړي دي او د ښځې او نر د غوره والی مسله یې د دوی تقوا پورې تړلې ده: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَـٰكُم مِّن ذَكَرٖ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَـٰكُمۡ شُعُوبٗا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٞ ١٣﴾ [الحجرات: ١٣]

«ای خلکو مونږ پیدا کړي یاست تاسی له یو نر او ښځې څخه او وموګرځولی ډلې او قبیلې ترڅو یو بل وپیژنئ بی‌شکه ستاسې عزتمن د الله په وړاندې ستاسی پرهیزګار دی، بی‌شکه الله ښه عالم او با خبره دی».

دې ایت کې د انسان د غوره والی معیار په تقوا کې تثبیت او تعین شوی دی. کله چې یوه ښځه با تقوا او مومنه وي نو له زرګونه بی ایمانه او ګنهګارو سړیانو څخه غوره ده الله‌ﷻ فرمایي ﴿أَنِّي لَآ أُضِيعُ عَمَلَ عَٰمِلٖ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰۖ﴾ «زه نه ضایع کوم د یو کار کوونکی کار نر وی که ښځه». یعنی کله چې یو سړی یا یو ښحه یو نیک کار ترسره کړي د هر یو اعمال پرته له کوم نقصان څخه ساتل کیږي او عوض یې ورکول کیږي کله چې کومه ښحه لمونځ وکړي نو ددې اجر د سړی له لمانځه څخه کم ندی، او کله چې یوه ښځه حج ته ولاړه شي ددې ثواب هم پوره د سړي پّ شان دی، الله‌ﷻ فرمایي: ﴿مَنۡ عَمِلَ سَيِّئَةٗ فَلَا يُجۡزَىٰٓ إِلَّا مِثۡلَهَاۖ وَمَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ يُرۡزَقُونَ فِيهَا بِغَيۡرِ حِسَابٖ ٤٠﴾ [المؤمن: ٤٠] «چاچې یو بد کار وکړ نو جزا نه ورکول کیږي ده ته مګر په مثل د هغه او چاچې نیک کار وکړ نر وی او که ښځه او هغه مومن وی نو دوی به جنت ته داخلیږي او هلته به رزق ورکول کیږي بی‌حسابه» د ښځو انسانی کرامت، عال اجتماعی موقف او انسانی حقوق او واجبات ټول په عال انسانی او اسلامی معیارونو سره قانونمند شوي دی. چې

قران عظیم الشان د فرعون د ښځې او د بی بی مریم د ایمانی غوره والی شاهد دی.

خو د مسلمانو خویندو د حجاب موضوع د دوی د انسانی شخصیت په اساس نه بلکې د هغه ارتباط د دوی له جنسیت سره دی. ځکه ددې دپیدایښت ښایست دا غوښتنه کوی ترخو د نایابه غمیو په شان خپل مصونیت حفظ کړی د هر سړي او نه سړي بازیچه نه شوي بناء د حجاب حکم له انسانیت بلکې جنسیت سره ارتباط لري[1].

## د بې‌حجابۍ دعوتګران

د دې بې‌حجابۍ، بربنډتوب او د مستوره لباس له قید څخه د خلاصیدو اصل دعوت لکه د نورو غربی صادراتو دی، چې اسلامی هیوادونو ته انتقال شوی دی، مګر هغه څه چې دلته ایا د ونې وړ دي دادی چې د شرق او غرب کلتور د بشري تاریخ په اوږدو کې کاملا دوه متفاوتی لاری درلودې. او هر یو ځانګړي سلوکیات او اخلاقیات درلودل چې فعلا غربی اباحیت هم د هماغه پخوانی یونان او روم د افکارو ثمره ده. ځکه د هغو پخوانیو فرهنګی اثارو او مجسمو په لیدنه چې له شرقیانو څخه پاتې دي ښه څرګندیږي چې شرقیان په اصل کې د ستر او پردې د کلتور لرونکي دي. او بر عکس غربیان په خپلو ډیرو شته و کې بی ستري او بې لباسي د خپل فرهنګ یوه برخه معرفی کوي. ما ددې ټکو لیکونکی شخصا د لیبیا د مصر اته ښآر څخه چې هلته د پخوانیو رومیانو تاریخی اثار په ځای پاتې دي. لیدنه کړې ده. پخپلو سترګو مې ولیدل چې د دوې په موزیم کې یوه بربنډه مجسمه وه چې د انسان د بدن ټول اعضایې په اصل شکل پرته له پردې څخه ښکاریدل او دی نتیجې ته ورسیدم چې دقدیمي رومیانو دغه تاریخی مجسمی د دوی د پخوانی فرهنګ ښکارندوي دي چې دا بی ستری او بی لباسي یې اوس مهال ته هم را انتقال شوې ده.

---

۱- بازخوانی قصه خلقت، حسن یوسفی اشکوری، تهران: تقاطع بهار وسمیه ص: ۳۰۱

پدې هکله د (باز خوانی قصه خلوت) ليکوال، ليکي:د شرقی او غربی انسان پلټنه د ازاد بحث غوښتنه کوي، خو داسې ښکاري چې ددغو دوه انسان پيښو اساسی توپير پدې کې دی، چې جديد غربی او مانيسيم مستقيما د يونانی بشري اصالت له فکر څخه داخيستي ده هغه فکر چې اساسا د تن لذت ته قيمت ورکوي او ښايست، کاميابی بريالیتوب د بشر د سعادت او خوشبختۍ اصلی محور جوړوي په همدې دليل (قدرت – ثروت – او لذت) د رسنانس د عصری درې اساسی شعارونه و او له دې وروسته علمی د وضعی تحولاتو غربی انسانانو د غو درې غوښتنو ته رسولی دی خصوصا لذت او کاريابی په غربی انسان نګری کې مهم او نه هيردونکی اصل دی د تن لذت د غرب په هنری اثارو (نقاشی، مجسمه سازی او...) له پخوانی يونان څخه تر جدی عصر پورې ښکاره او څرګند دی. له همدې مخې پدې فرهنګ او کلتور کې ښځه او بربنډ توب له پخوا څخه تر اوسه فعال حضور لري [١].

ددې غربي بربنډتوب او بی ستری د اوږد تاريخ بر عکس د شرقيانو عفت او پاک لمني د دوی د تاريخ په اوږدو کې قابل درک او مشاهده ده. او غالبا شرقيانو په معنويت، اخلاقو او روحانيت زيات کلک و، نو موړی ليکوال پدې هکله ليکلی: (اما بله خوا په شرق کې) معنوی تلذذ) (د نفس تعالی) او (روحی تکامل) اهميت درلود... د نړۍ په شرق کې طبيعت ماده، ثروت، قدرت او تن د روح، نفس، اخلاقو او معنويت په خدمت کې و، په همدې دليل د تن لذت په شرق کې يا محکوم و او يا مهار شوی نو بی دليله نده چې شرق کې هميش ښځه پټه ده او بربنډتوب بدکار او د انسانيت خلاف ښکاري.

سره له دې چې مسيحيت يو شرقی دين دی او غرب ته ولاړ او کوشش يې وکړ ترڅو د غرب د بشري اصالت فرهنګ ته تغير ورکړي، او ستر ته په منځنيو پيړيو کې اعتبار ورکړي ولې د رنسانس اونوي عصر د پيړيو په شروع سره د غرب او شرق دغه پيوند بيرته سست شو، او يو ځل بيا غربی او يونانی

---

١ – له قيد او شرط پرته د أزادی په باره کی د بحث مقصد.

او مانيسيم حاکم شو او شرقی دين حذف او يا هم ضعيف شو... د شرق او غرب د فرهنګ مقايسه د فرانسې د (لور) موزيم کې ښه څرګند دي[۱].

د پورته ټکو په نظر کې نيولو سره وينو چې غربی جهان سازی يوازې د اقتصاد ا وسياست په برخو کې ملموسه نده بلکې دا علاقه هم لري چې دشرقيانو په فرهنګی او عقيدتي اصالت کې هم لاس وهنه وکړي دوی غواړي چې خپل همدغه د بربنډۍ او عورت لوڅونې کلتور په اسلامي شرق کې خپور کړي.

ولې دغربيانو ددغه فکری جنګ مقابل کې د منع او مقاومت زيات عوامل د هغو مسلمانانو ترمنځ موجود دي چې تر اوسه يي لا خپل اسلامی او افغانی هويت له لاسه ندی ورکړی. زمونږ مسلمانی خويندې سرت او پرده د خپل انسانی، اسلامی او افغانی هويت جز ګڼی او هيڅکله ځانونه د پرديو مغرض نه غوښتنو ته نه تسليموي. يواځې دا نه چې ددغه کرامت حفاظت زمونږ د هيواد او يا نورو اسلامی هيوادونو د مسلمانانو او باهويته خلکو هيله ده بلکی زمونږ د هيواد غير مسلمانان چې سکان دي هم د کورنۍ عفت د يو افغان د اخلاقياتو مهمه برخه ګڼی. ځکه د دوی ديانت هم شرقی اساس لری او د دوی کلتور هم د همدی مرزا وبوم څخه پيدا ده. هيڅکله د پرديو خبرو ته نه تسلميږي ځکه د هويت او کلتور پريښودنه د شخصيت او اصالت پريښ، دنه ده او هر څوک چې خپل اصالت له لاسه ورکړي، د نورو په کلتور کې ذوب کيږي او وود او عدم يې مساوي دی.

د عربی متحده اماراتو په تلويزون کې مې يو تن مسلمانه خور وليده چې په اسلامی حجاب باندې مستوره وه او يواځې دوه سترګی يي معلوميدې هغې چې خپل مسلک کې د کتورا ليدله او د عربی خليج يوه لويه استاذه ده د حجاب په هکله يې وويل: (دا څو کاله دي چې زه د حجاب او مسلمانو ښځو د حقوقو په هکله بحث او تحقيق کوم يوه اساسي نقطه چې ما کشف کړيده داده چې ما په نړۍ کې هيڅ يو ښايسته او قيمتی موجود داسی پيدا نکړ

---

۱- بازخوانی قصه خلقت، ص: ۹.

چې حجاب ونلري. ټولې میوې حجاب لري، منې ډېر ښایسته پوښ اغوستی دی، او کله یې چې دغه پوښ لرې کړی شي څو لحظې وروسته یې شکل تغیر خوري او کم وخت کې خرابیږي. خلک هم قیمتی شیان پّ امنیت او حجاب کې ساتي ماچې صنف کې تدریس کو ومې لیده چې مارکر قلم داسې سرپوښ لري لکه حجاب او چې د څو دقیقو لپاره یې حجاب لرې کړم ګورم چې خپل خاصیت له لاسه ورکوي خرابیږي او کاره ووځي، دا چې ټول ارزښتناکه موجودات حجاب لري او د حجاب لرې کول یې د هلاکت سبب ګرځي، ما درک کړه چې زمونږ ګرانې خویندې او ښځې پخپله ټولنه کې با عزته او باکرامته دي او همدغه حجاب زمونږ کرامت ساتي، او پرته له دې به د خپل او ټولنې د فساد لامل شو.

بل پوهیالی وایي: که چیرې مدنیت په بی لباسۍ او بربنډتوب کې وي نو بیاد حیوانات له ټولو څخه متمدن او پر مختللي وي ځکه هغوی هیڅ لباس نلري، باید پوه شو چې مادی مدنیت انسان له انسانیت څخه حیوانیت ته کشوي د انسان محبت له حیواناتو سره زیاتوي او انسانی کورنۍ بدبخته کوي، او دا چې د دوی په ژوند کې معنویت کوم نقش نلري دینی اخلاق بد ګڼی او ډیری یې د یو مخې مادي ژوند څخه ستړي شوي ځنګلونو ته یې مخه کړیده او حیواناتو سره ژوند کوي، ځکه مادیت او ماده پرستي د حیوانیت خوا ته دروازه خلاصوي او بربنډتوب او بی حیایۍ خوا ته د عوت د مادی مدنیت یو بد اثر دی.

ولې هغه چې مادی او معنوی دواړو مدنیتونو څخه برخورداره وي د ژوند لذت په صفایي، صمیمیت، الخاقو، پاکۍ او ناموس پیژندنه کې ګڼی.

بل پوهیالی وایي: اصلا ښځې له حجاب سره ازادې دي، ځکه هغوی کولی شي له خبلو نزدی دوستانو (محارمو) او پردیو سره د ملاقات پر وخت د خپل لباس د اندازې په تعین کې تصمیم ونیسي ولې بی حجابه ښځې له دې ازادۍ څخه برخورداره ندي. ځکه هر څوک کولی شي (خپل وي او که پردی) پرته ددې له ارادې او تصمیم څخه ددې د بدن اعضا ووینې، ځکه خپله یې خپل حجاب او پرده لرې کړې ده. ځان څخه یې د نامحرمو لذت وسیله جوړه

کړیده. بناء حجاب د ازادۍ سمبول او بربنډتوب د حاضر عصر یو رنګ غلامي ده.

## د انسان دوه بعدي خلقت:

د ښځو د حجاب او پردی اساسی علت د انسان په دوه بعدی خلقت کې ډیر ښه او واضح مشاهده کیږي. ځکه کله چې الهی مخلوقاتو ته نظر وکړو وینو چې ټول الهی مخلوقات په درې اساسی ډولونو ویشل شوی دي:

### لومړي قسم: روحانی مخلوقات (پرښتې)

پرښتې هغه مخلوق دي چې الله ﷻ دوی له یو روحانی بعد پرته له نفس او شهوت څخه پیدا کړي دي.

هغوی خپلې محوله دندې پرته له کمي او کاستی څخه ترسره کوي، او دا چې نفس او شهوت نلري هیڅ نافرمنی هم نکوي.

### دویم قسم: حیوانی مخلوقات (حیوانات)

حیوانات هغه مخلوقات دی چې د دوی له خلقت څخه هدف د انساني نوعی خدمت دی او خپله د روحانیت څخه بی بخې دي او د دوی په وجود کې یوائې حیوانی اړخ موجود دی چې دغه د معنوی اړخ نشتوالی دوی له اخروی مسولیت څخه معاف کړي دي.

### دریم قسم: انسانان

الله ﷻ انسانان له دوه (ملکوتی او حیوانی) بعدونو څخه پیدا کړي دي انسان د روحانی برخې په درلودو سره د ډیرو عالی او ملکوتی ارزښتونو خاوند دی، او د حیواني برخې موجودیت دی له نفس او خواهشاتو سره تړي د انسان ددغه دوه بعدي شخصیت په اساس پده باندې زیات مسولیتونه هم بار شوي دي. او ده ته یې په ورزنی تصرف کې ډیر اختیارات ورکړي دي.

دغه انسان له خپل عقل او فراست څخه په استفادې کولی شي نیک او ښه اعمال ترسره کړي خپل معنوی اړخ تقویه کړي ځان د پرښتو مقام ته ورسوي، او کله ناکله هم دغه انسان له پرښتو څخه هم عالی مقام ته رسیږي ځکه پرښتې د حیوانی اړخ په نلرلو سره مجبور دي ټول الهی اوامر پرته له کمی او کاستي ترسره کړي ځکه نفسانی او حیواني قوه نلري چې د دوی د نیکو تصرفاتو مانع شي. هرکله چې انسان د خپل اماره بالسوء نفس د حیوانی او نفسي فشارونو سره بیا هم د هغې مخه نیسي او ځان د ګناهونو له ډنډ څخه اخلاقی او ملکوتی ارزښتونو ته رسوي دده نفس مطمینه دی، او مرتبه به یې له پرښتو څخه لوړه وي ددې تصور په عکس کله چې انسان د خپل وجود مادی او حیواني اړخ تقویه کړي او نفسی خواهشات د ټولو نیکمرغیو اساس وګڼی، خپل معنویت وځپي او د حیواناتو په څیر د نفسانی او شهواني تندو ماتولو په هڅه کې وي. خپل با ارزښته مقام له لاسه ورکوي. او حیوانی اړخ ته پّ نزدې کیدو سره ځآن له حیواناتو څخه هم زیات ذیله کوي. ځکه حیوانات چې د بشریت په خدمت کې مصروف دی او د خوړلو او څکلو زیات فکر نلري ملامت ندی، د معنوی اړخ نشتوالی دوی له مسولیت څخه خلاص کړی دی او دغه پوهیالی انسان د معنوی اړخ د قوی فیصدۍ له وجود سره بیا هم مادیت او حیوانیت ته مخ واړوي د عدل د قاعدې مطابق یواځې ادا نه چ له حیواناتو سره مساوي کیږي بلکی له حیواناتو څخه به هم ذلیل او سپک وي اوس حقیقی پوښتنه پدې ځای کې ده چې کوم اسباب کولی شي انسان د نفس اماره بالسوء له شر څخه خلاص کړي؟ په ځواب کې ویلی شو: دا چې د انسان د وجود د ساختمان دوه (ملکوتی او حیوانی) بعدونه لري. الله ﷻ د حیوانی بخش د مخنیوی او ده غه د تسلط څخه د محافظت لپاره مسلمانانو ته وقایوي علاجونه، دواګانې له مناسبو پرهیزونو سره ورکړي دي. مسلمانان هم چې ځان د الهی دربار محتاج ګڼي، ټول اوامر پرته له شک او تردد څخه منی، ا والهی دربار ته ځان د عزت او کرامت له عالي پوړیو سره رسوي.

د نړۍ طبيبان وايي: چې وقايه له علاج څخه غوره ده، د همدغې الهی طبی قاعدې په اساس حجاب هم د مسلمانو او متدينو خويندو لپاره يو رنګ وقايه ده او هم د مسلمانو سړيانو لپاره.

يوه ورځ مو د سويزر لنډ هيواد د يو تن مسيحی سره د ښځو د حجاب په اړه بحث او مرکه درلوده هغه چې عقيده درلوده چې ښځې بايد ازادې پريښودل شي او له هر لباس سره چې غواړي له خپل کوره ووځي او د اسلامی حجاب احکام يې د ښځو د ازادۍ خلاف ګڼل له ما څخه يې د اسلامی حجاب د فرضيت علت وپوښت ما ورته د انسان دو بعدی شصخيت شرحه کړ او ومې ويل: الله ﷻ سړيانو ته امر کړی دی ترڅو خپل دغه حيوانی نفس د روحانيت، اخلاقو، د الله ﷻ عبادت لمونځ، روژې، او سترګی پټولو په دوا سره مغلوب کړي. او خپل روحانی اړخ تقويه کړي، ځکه عبادتونه حيوانی نفس په داسې معنوی زنځيرونو تړي چې نشي کولی په سادګی سره ورته ضرر ورسوي دغه حيوانی خاصيت چې د هر چا په وجود کې شته دی.

ما وويل: که څوک قصدا ددې لامل شي چې دوباره دغه نفس اماره بالسوء په حرکت کې راشي او حيوانيت ته يي تشويق کړي ايا مجرم ګڼل کيږي که نه؟ وويل: هو.

ما وويل: که ما او تا د دوه مغازو مالکان اوسو او مانښآم ته يو تن خپله مغازه په اوسپني قلفونو بنده کړو او بل يې هغه دروازه پرانستې پريږدو او خپلو کورونو ته ولاړ شو، او نيمه شپه غله راشي او قلف دوکان له ډيرو هڅو سره هم غلا نکړي شي خو يو عادی سړی د خلاصی دروازی سره تيريدونکی متوجه شي چې مغازه کې دننه ډير مالونه دي او هيڅ مانع هم نشته، او د مغازې د خاوند بی پروا يي دده ظالم نفس په حرکت کې راولي او پيسي يې ترې غلا کړي او سبا پوليسو ته شکايت وکړي چې زما دکان غلا شوی دی او پوليس هم له تحقيق څخه وروسته پوه شي چې ده داسې بی تفاوتي کړيده، ايا دغه د مغازې خاوند به ملامت کړي او که خير؟

هغه وويل: طبعا.

ما وويل: ډير ښه، اوس چې تاسې يو ځوان ياست که يوې حويلۍ ته ننوځی او وګوري چې يوه نجلۍ له سرت عورت او حجاب سره پخپله وظيفه مشغوله ده او مقابل کې بله ووينې چې نيمه لوڅه ستاسې مخې ته راشي ايا دواړو ته په يو نظر ګوری؟

هغه وويل: نه خير، طبعا دغه نيمه لوڅه نجلی زما د اخلاقی فساد سبب کيږي ما وويل: دا د اسلامی حجاب اهميت دی.

اسلامی حجاب له يو خوا زمونږ مسلمانی خويندې وقايه کوي، دوی د هوس بازانو له شر خخه خلاصوي. بله خوا مسلمانو ورونو سره پر نفس د تسلط پيدا کولو کې همکاری کوي او دوی د ګناهونو له ارتکاب څخه مصون ساتی، چې دا کار هم د دوی او هم د انسانی ټولنې په نفع دی. دغه شخص سره له دې چې غير مسلمان و او د حقيقت منلو ته اماده و د حجاب په اهميت يې قناعت وکړ او اعتراف يې وکړ چې واقعا د اسلام مقدس دين دغه قانونی د بشری ټولنې د بهبود لپاره وضع کړی دی.

بناء ويلی شو چې د حجاب اغوستل نه تنها زمونږ د خويندو عفت عزت او کرامت ساتی بلکې د حجاب مراعاتول دټولو ورونو سره د با عفت او باکرامته ژوند په ميدان کې د دوی په همکارۍ باندې دلالت کوي. څکه په همدې ډول چې ښځې سړيانو ته اجازه نه ورکوي چې د دوی په وړاندې خپل عورت لوڅ کړي او د سړيانو عورت لوڅول خپل توهين ګڼی او د دوی د کرامت ساتنی لپاره سړيان نه بايد له کوره بربنډ ووځي په همدې ډول سريان حق لري ترڅو د دوی د عفت پاکی او ګناه څخه د لرې والي او له بربادۍ څخه د وقايي لپاره ښځې هم حجاب مراعات کړي.

## د حجاب اړيکې د ښځو له ازادي سره

(ما دام رولان هغه فرانسوي پوهيالۍ ښځه چې د فرانسې د لوی انقلاب پر وخت ددې کور د فرانسې د لوی مجلس د نمايندګانو دفتر و کله چې خپلو ساتونکو د ګيوتين دار ته د اعدامولو لپاره وړله، د ازادۍ د مجسمې څخه د

تیریدو پرو خت یي مجسمې ته مخ کړ او ویې ویل: ای ازادۍ ستا په نوم څومره جنایتونه کوی[۱]!

ددغې فرانسوي پوهیالۍ خبره د یو عجیب واقعیت ښکارندوی دی، او هغه دا چې غالبا ښآماران ځان د ازادۍ، دیموکراسی، عدالت، انصاف، مساوات او غیهر الفاظو لاندې ځان پټوي او دې اصطلاحاتو څخه په استفادې سره د بیچاره خلکو په حق کې زرګونه وحشتونه او ظلمونه ترسره کوي. دغه ښځه چې خپله د ازادۍ دعوتګره وه، همدغه هدف ته د مبارزې لپاره په دار ځړول کیده، ولې هغه چې ازادی غوښتونکي په دار ځړوي د ازادۍ مجسمه په ځلور لارو کې ساتی. په اوس مهال کې چې د ښځو د حقوقو او ازادۍ مسله له بل هر وخته زیاته مطرح شویده، لیدل کیږي چې اصله اساسی ازادي مطرح نده، ځکه د ښځې ازادۍ کې باید غلامي له منځه ولاړه شي نه د ښځې عفت، پخوا ښځه یو رنګ غلامه وه اوس مهال بل رنګ، پخوا ښځې لکه نور مالونه په میراث وړل کیده یو تن به سلګونه ښځې درلودې، او ښځې به لکه غلامانو غوندې خرڅول کیدې او اخیستل کیدې، او په اقتصادي اجتماعی او سیاسي تصمیمونه کې یې د شرکت حق نه درلود.

ولی اوس مهال کې هماغه د ښځې غلامی په مدرن ډول سره پر مخ بیول کیږي په غربی هیوادونو کې سرمایه داران او د شرکتونو خاوندان د خپلو سوداګانو د خرڅ لپاره د ښحو له وجود څخه استفاده کوي. او داسې شرکتونه هم شته چې د هغوی ټوله سرمایه د ښځو د عفت او ابرو له خرڅولو را ټوله شوې ده. او لسګونه غربي تلویزوني چینلونه همدغه د ښځو له غلامۍ څخه تمویلیږي. هغو چې شرق کې د ازادۍ غبږ پورته کړی دی. هره شپه د تلویزون تر شا به هوسبازیو مشغول دی، او هیڅکله هم د ښځو بی عفتی د هغوی دا سادت نه ګڼی او د فساد مرکزونه او نایت کلپونه او د ګناه ځایونه د ښځو بی عفتی او بی عزتی نه ګڼي دوی د ازادۍ له دعوې څخه دوه ګټې کوي: یو دا چې د خپلې هوسبازۍ لارېې خلاصه کړیده، دویم دا چې زیات مسولیتونه یې

۱- سخنان سران کمونیزم درباره خدا، تألیف سید رضا صدر قم: انتشارات بهمن. ص: ۱۲.

د ښځو په غاړه اچولې دی او ځانونه یې د کور له قیوداتو ساتلي دي. په نتیجه کې بیچاره ښځه قرباني ده. ځکه هغه ده چې تاوان ویني، هغه ده چې مجبوریږي، یو پوهیالی پدي اړه د امریکایو پوهنتون کې ټول پوښتنه کړې وه، هغه وایي ددغه پوهنتون ۹۰٪ نجونی راضی وې ترڅو دبی عفتۍ او جسم فروشۍ په شرکتونو کې کار وکړي، ځکه د هغه ځای ورځنی قوانین هغوی دیته مجبوره وي چې خپل ځان ته خپله نفقه تیاره کړي، او د اولاد تربیه او فامیلی مشکلات هم د دوی په غاړه وي، میړونه یې هم له نورو سره نا مشروع اړیکي لري، او دا کار دوی هڅوی چې د کور له جوړونې وتښتي او د ښځې د غلام کولو شرکتونو او تلویزونونو ته مخه کړي.

بر عکس کله چې حقیقت په واقعي شکل سره ولټوو، وینو چې د ښځې ازادي قصابانو ته په تسلیمیدو کې نشته، بلکې حقیقی ازادي په عفت او پاکې کې ده.

حجاب چې د ښځې دعفت حامي ده هغې ته حق ورکوي چې سړیانو سره په زړورتیا د اجتماعي ژ، ند په مختلفو ابعادو کې سهم واخلي، ازادانه کار وکړي، با اعتباره او با اعتماده فامیل ایجاد کړي. او همدغه د ښځی صفا او پاکی میړه هم عفت ته را کشوي، ځکه قران عظیم الشان فرمایي: ﴿ٱلۡخَبِيثَٰتُ لِلۡخَبِيثِينَ وَٱلۡخَبِيثُونَ لِلۡخَبِيثَٰتِۖ وَٱلطَّيِّبَٰتُ لِلطَّيِّبِينَ وَٱلطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَٰتِۚ﴾ [النور: ۲۶]

«بدکاره ښځې د بدکاره سړیانو لپاره دي، او بدکاره سړیان د بدکاره ښځو لپاره او پاکې ښځې د پاکو لپاره او پاک سړیان د پاکو ښځو لپاره».

کند همجنس با همجنس پرواز کبوتر با کبوتر زاغ با زاغ

## لباس د سړیانو وقار

د سړیانو دعورت اندازه هومره ده چې مخکې درته بیان شوه ولې دسړیانو د ستر عورت، با عزته پردې، وقار او عفت کې فرق دی، ځکه ستر عورت د ضرورت او دایمی حالاتو کې دی، چې انسان یې باید ښکاره نکړي، کله چې داسې ځای کې وي چې له دې زایت لباس ورته میسر نشي کولی شي په ستر عورت باندې اکتفا وکړي، ولی سړیان د اسلام مقدس دین کې د وقار او

غرب لباس هم لري، چې د ستر عورت له لباس څخه علاوه مسنون لباس دی چې پیغمبرﷺ به هغه اغوستلې او سړیان له هغې څخه د ملاقاتونو، یا بازار ته تللو او یا نورو مراسمو کې استفاده کوي.

که څه هم د عورت پټول په هر لباس چې وي باک نلري، ځکه کلتورونه مختلف دی، او د هر هیواد کلتور یي لباس مختلف وي ولې د لباس په اغوستلو کې فرق دی. سړیانو ته هم د ښځو غوندې لازم دی چې د نازکه او چسپو تکو څخه چې بدن یې ترې ښکاري استفاده ونکړي. بر علاوه په سړیانو لازم ده داسې لباس واغوندې چې په هیواد کې یي با وقاره او با عزته وي. او هماغه عزت چې اللهﷻ مسلمان ته ورکړي حفظ کړي شي.

د هر هیواد لباس د هغوی د کلتور او فرهنګ په اساس فرق کوي، او مسلمان انسان د لباس په اغوستلو کې د اخلاقي مسایلو علاوه خپل فرهنګ او هویت هم جدا مراعات کوي. ترڅو خپل شخصیت د نورو مقابل کې حفظ کړي، غالبا مشهور شخصیتونه په بین المللی مجلسونو کې خپل ملی او کلتوري لباس اغوندې ترڅو خپل ملي او اسلامی شخصیت حفظ کړي په همدې ډول لازمه ده، چې هر مسملان دغه نقطه په نظر کې ونیسي.

د یو مخلص مسلمان په نظر کې مهمه نقطه د پیغمبرﷺ روش دی هغه غواړي پوه شي چې دده رهبر چې اللهﷻ ورته نمونه او رهنما تعین کړی دی څرنګه لباس کار و، ترڅو ځان له نبوي سنتو سره مطابق عیار کړي.

حضرت ام سلمه روایت کوي چې د انحضرت خوښ کړی شوی لباس کمیس و د ترمذی په روایت، شخی عبد الحق محدث دهلوی وایي: پیغمبرﷺ کمیس ددی لپاره خوښ، چې ستر تجمل او وقار ته زایت نزدی و[۱].

۱- اشعة اللمعات تآلیف شیخ عبدالحق محدث دهلوي، کویته: کتابخانه حنفیه. ۵۸۰/۳

بی بی اسماءرضي الله عنها فرمايي: د رسول الله لستونی تر مړوند پورې و[۱]. غالبا پیغمبر لستوڼي والا کمیسونه کارول ځکه دغسي کمیس په سادګی، بی تکلفی او د مسلمان شخصیت په ښایست کې ښه نقش لري.

سمرهرضي الله عنها وايي: چې پیغمبر عليه السلام وفرمایل: سپین لباس واغوندی ځکه سپین کالي پاک، صفا او غوره دي، او خپل مړي هم سپینو ټوټو کې کفن کړي[۲].

په حدیث شریف کې دي چې: «إن الله يحب أن يرى اثرنعمته على عبده» الله تعالی خوښوي چې د خپل نعمت اثر پخپل بنده باندې ووینې، کاله چې تاسې ښه او ښایسته کالي واغوندی د اسلامی شریعت له نظره عیب نلري، ولې ساده لباس هم یو اسلامی اخلاق دی. پیغمبر عليه السلام فرمايي: «إن البذاذة من الإيمان» ساده ګی او شکستګی د ایمان برخه ده اصلاً مشکل د ښه لباس په اغوستو کې نده، بلکې اسلام اجازه ورکوي چې ښه او ښایسته لباس وکاروي ولې ستونزه د انسان په نیت کې ده، کله چې د لباس اغوستل د ضرورت، شر، د ښایست د حفاظت، د الهی نعمت څخه د استفادې لپاره وي مثبت او ښه عمل دی خو که د قیمتی لباس اغوستل د ورځنی مود، تکبر، غرور، افتخار نورو ته د ځان ښودنې لپاره وي لویه ګناه ده، حضرت ابن عباسرضي الله عنه له پیغمبر څخه روایت کې فرمایی: هره غذا چې غواړې وخوره، هر رنګه لباس چې غواړې واغونده، پدې شرط چې دوه شیانو څخه لرې اوسې یو اسراف (زیات مصرف) بل په نورو باندې له تکبر او غرور څخه.

حضرت عبد الله بن عمررضي الله عنه روایت کوي چې پیغمبر عليه السلام وفرمایل: څوک چې دشهرت لباس د تکبر په نیت واغوندی الله جل جلاله هغه ته د قیامت په ورځ ذلت لباس وراغوندي.

دا کار ددې لپاره ده چې پولداره او مالداره انسان او څوک چې ښه مادی امکانات ولري کولی شي له قیمتی لباس څخه استفاده وکړي لومړی باید

---

۱- (به روایت ترمذی و ابو داوود).

۲- (رواه احمد)

لباس کې اسراف ونکړي، او دويم په فقيرانو، مسکينانو، بی وسه او بی چاره خلکو باندې تکبر او غرور ونکړي.

## له طلا او وريښمو څخه استفاده

دا چې طلا او وريښم غالبا د ښحو زنيت دی نو سړيانو ته دطلا او وريښم اچول هم جايز ندي. او شايد کيدلی شي له روانی او طبی اړخ څخه په نارينه و باندې نو تاثيرات او علتونه هم ولري چې ددې څيړنه متخصصينو ته پريږدو.

حضرت ابوموسی اشعریﷺ وايي چې رسول اللهﷺ وفرمايل: طلا او وريښم زما د امت ښځو ته حلال او نارينه و ته حرام دي. ددې حديث مطابق سړيانو ته د ګوتۍ، چله، لاکت، او غيره طلايي شيانو استعمال حرام دی او که هر مسلمان ځوان غواړي خپل د اسلام مقدس دين باندې سمبال کړي او له محرماتو لرې اوسي نو ددې دوه شيانو له استفادې څخه دې لرې وي.

يادونه: له طلا څخه استفاده د تداوي لپاره جايز ده، حضرت عبدالرحمنﷺ فرمايي: چې د نيکه پزه يي په يوه پيښه کې غوڅه شوه داکترانو ورته دسپينو پزه جوړه کړه خو بدبويه شوه، نو پيغمبرﷺ ورته امر وکړ چې طلا څخه دې پزه جوړه کړي[۱] شيخ عبد الحق محدث دهلوی ددی حديث په شرح کې وايي: پدې حديث سره زياتو علما له طلا څخه د پزې جوړول او د غاښونو کلکول مباح ګڼلی دي[۲].

## له نورو سره مشابهت

حضرت پيغمبرﷺ فرمايي: «من تشبه بقوم فهو منهم» «چا چې کوم قوم يا ملت سره ځان يو رنګ کړ دا له هغوی څخه دی»، له نورو سره مشابهت په اخلاقو، لباس، کرکتر، نوم ايښودلو او غيره امورو کې کيږي. دا حديث شريف

---

۱- مشکات المصابيح ص ۷۳۹

۲- اشعةاللمعات ۳/ ٦۰٤

بیانوی چې کله څوک ځان له بد اخلاقو سره برابر کړي او یا د هغوی لباس واغوندي او یا ځان هغسي جوړ کړي او یا خپل ځان او اولادونو باندې د هغوی نومونه او لقبونه کیږدي د قیامت په ورځ به له هغوی سره حشر کیږي.

## له غیر مسلمانانو سره په لباس کې مشابهت

غیر مسلمان دوه رنګه لباس لري:

### د دوی دیني او مذهبی لباس:

بت پرستان زیړې جامې لري چې هغه د دوی دیني شخصیتونو ته خاص وي، او یا هم ځینی څه حلقې او کړې په لاس کوي، چې د دوی د هندو والی یا سکن والي نښې دي، مسیحیان ددی لپاره چې وپیژندل شي مسیحیان دي د صلیب[۱] د علامې لاکتونه چې د جمع + د علامې په شکل وی غاړه کې اچوي، او که کوم مسلمانی قصدا د اسلامی شریعت د حکم له پوهیدلو سره دغسې علامات (لکه د سک کره، د مسیحی صلیب او د بت پرستانو زیړ لباس) وکاروی د کفر ویره پرې کیږي. او که څوک سهوا د اسلامی احکامو د نافهمۍ له مخی داسې کار وکړي لازمه ده فورا توبه وکړي.

### د غیر مسلمانانو فرهنګی لباس:

غیر مسلمان خلک خپل ځانګړی فرهنګ، رسم، رواج او عنعنات لري چې د دوی لباس هم ددوی د کلتور یوه برخه ده، اګر که دغه لباس یې په دین او

---

۱- مسیحیان د مسلمانانو خلاف عقیده لري چې حضرت عیسی عليه السلام د الله جل جلاله ځوی و او د انسانانو د ګناهونو د ښنلو په خاطر په صلیب وځړول شو، صلیب عبارت له هغه لرګی ده چې پخوا به پرې د مجرمانو لاسونه او پښې میخ کیدې بیا به یې د لرګی درول او مجرمان به هماغسې و ترڅو د نیزو په ویشتلو ترې وینې لاړې شي او مړ شي، او اوس د هماغه لرګی علامه پخپلو غاړو کې د مسیح عليه السلام د یاد په خاطر ځړوی ولې مونږ مسلمانان عقیده لرو چې مسیح عليه السلام د الله جل جلاله پیغمبر و الله جل جلاله هغه دیهودو له شر څخه نجات ورکړ او صلیب شوی ندی، قران کریم فرمایي: ﴿وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِن شُبِّهَ لَهُمْ﴾.

عقيدې باندې دلالت نه کوي، خو که کوم مسلمان د خپل کلتور او فرهنګ لپاره له دغو لباسونو او فرهنګ څخه ځان وساتی دا غوره او بهتره ده.

## لعنتی ښځې او سړي

اللهﷻ ښځې او سړی په ځانګړي ښايست پيدا کړي دی او هر يو ته يي خاص لباس او خاص شکل ورکړی دی ترڅو له بل جلا شي، نو هر يو ته پکار دی چې خپل اصلی شخصيت وساتی، که يو سړی دغو اړی ځان له ښځو سره مشابه کړي او ښځينه حرکات وکړي، او يا هم يوه ښځه وغواړی ځان د سړيانو جامه کې ووهی يا خپل شکل له سړيانو سره يو رنګ کړي د الهی لعنت لاندې راځي، پيغمبرعليه السلام فرمايي: د اللهﷻ لعنت په هغو سړيانو دی چې ځان له ښحو سره مشابه کوي او هم د اللهﷻ لعنت په هغو ښځو دی چې ځان له سړيانو سره مشابه کوي.

ځومره ښه ده چې دا ښايسته موضوع په هغه شعر سره د دوستانو د فايدې لپاره پای ته ورسوو چې زمونږ يو تن ځوان د اسلامی احساس خاوند هيوادوال ارشاد کړی دی، ترڅو د خبرو اخر مسک شي:

| | |
|---|---|
| هزارحکمت‌پوشيده‌درسيمای‌حجاب | نه‌صرف‌نام‌قماشی‌سزدبرای‌حجاب |
| حجاب گوهر نسل بشر خدا گويد | به‌شأن مريم عمران باوفای‌حجاب |
| فصيح‌زبان زبلبل شنيده‌ام می‌گفت | که‌قدرگل‌نشناسم درسوای‌حجاب |
| بدين‌سقامت مهلك ولاعلاج امروز | دوای‌نيست‌طبيبا!مگر دوای‌حجاب |
| کجاست نام نکويی که تا فلك‌برسد | مگر زسايه فرخنده همای حجاب |
| به‌پاسداري حفظ و قار و حرمت تو | عقاب‌عزتت‌افراشت‌بالهای‌حجاب |
| مقام آدميت در کتاب يزدان است | بقاي عزت ما وتو در بقاي حجاب |
| به‌چشم خويش نگر مجمع جهانی‌را | که‌گشته‌جمع‌بهايم‌زانزوای‌حجاب |
| برای حفظ کرامت بنی آدم | هدايتی ز خدا آمده لوای حجاب |
| به آن عزت اين هبهء خدا دادت | بساز قامت موزون آشنای حجاب |

نگر تو دفتر و اوراق امشب داعی[1]     چوروزروشنش‌ازپرتــودعای‌حجـاب

د حجاب د بحث پدې برخه کې غوره ده چې زمونږ مسلمان مور او پلار هڅه وکړي ترڅو له ځپلو هغو خویندو او لورګانو سره دحجاب په هکله مرسته وکړي چې تر اوسه يې د ژوند ترخې تجربې ندي ليدلی، او د دوی درک د الهی احکامو له حقيقت څخه ضعيف دی، دوی د حجاب اغوستو ته تشويق کړي، ترڅو ورته با سعادته اينده وبښي، او د الهی احکامو مطابق خپل مسوليت ادا کړي، هلته چې وايي: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمْ...﴾ «ای مسلمانانو خپل ځانونه او خپله کورنۍ له هغو ورڅخه وساتۍ چې سوختني يي خلک او تيږي دي».

متدينه ميړونه هم پدې هکله مسوليت لري چې له اسلامی حکمت او اخلاقو سره سم د حجاب موضوع کې له خپلو ښځو سره مرسته وکړي خپله ددې بی عفتۍ سبب نشي، زما يو تن شاګرد چې د اقتصاد پوهنځۍ کې درس وايي يوه ورځ راته راغله او د خپلې خور لوښي د نا مزاد له بی غيرتۍ يي راته شکايت کې وويل: محترم استاد مونږ د بی غيرته سړيانو څخه شکايت لرو، چې د خپلو هوسبازيو لپاره زمونږ د حجاب مانع ګرځي، مثلا زما خورلښی غوښته پخپل واده کې ټيکري په سر کړي، ولې نامزاد يې اخطار ورکړ چې نشي کولی په واده کې ټيکری په سر کړي.

## د ستر او حجاب په هکله بی تفاوتی د هلاکت سبب کيږي

د ستر او حجاب په موضوع کې زمونږ د مسلمانو خويندو يوه ډيره خطرناکه اشتباه په ځينې عادتونو، رواجونو او عنعناتو کې الهی احکامو ته عدم توجه ده چې داد اسلامی احکامو مخالف هم وي، نو بايد ټول مومنان

---

۱- داعی د بدخشان ولايت يو تن شاعر دی چې ددی کرښو دليکلو پر وخت د کابل پوهنتون د حقوقو د بوهنځۍ محصل دی.

ورته جدي توجه وکړي، چې دا موضوعات پدې برخه کې مفصلا د بر رسۍ لاندې نیسو:

**۱– دیوې ښځې ترمخ د کوم ماشوم لوییدل داد هغه محرم نه جوړوي:**

د ډیرو خلکو عادت داسی دی چې کله یو ماشوم د کومې ښځې تر وړاندې لوی شي نو د هغه په هکله بی پروا وي، او ده سره د یو نامحرم معامله کوي لکه د دوی مخکی څخه ماشومان و چې د بلوغ سن ته ندې رسیدلی، او نظر په رواج لکه لیور، لیورځی، د خور لیور، زامن یې، د ماما زامن، د کاکا زامن، او غیره کسان چې کورونو کې یې تګ راتګ زیات و یا یو بل سره واړه لوی شوی دي، او یا دوی له هغوی څخه واړه و، خو اوس ټول بالغان دی، او دا چې یو بل سره عادت شوی دي او همیشه یي ی وبل سره ناسته ولاړه کړیده، په بی تفاوتۍ له دوی سره معامله کوي، مثلا له لیور او یا لیور زیانو څخه چې نوي ځوانان شوی ستر نکوي او ان دویښتو، لاسونو، او یا هم خپلو ماشومانو ته د شیدو ورکولو په وخت په بی تفاوتۍ معامله کوي، او دا بی تفاوتی دلوی ګناه سبب کیږي، ځکه کله چې د چا عمر بلوغ ته ورسیږي او محرم نه وي نو د اسلامی شریعت د نامحرمانو ټول احکام وربانديې فرض کیږي، او دغه مسلمانه خور باید دوی سره دمخامخ کیدو پر وخت بی پروا نه وي، ځکه نا محرم په یو ځای لوییدو یا د چا مخکې په لوییدو سره نا محرم کیږي، کیدای شي دوی فکر وکړي چې مونږ خو خور او ورور غونډې لوی شوي یو او یا هم هغه ځوانان چې زمونږ مخکی لوی شوی دی زمونږ اولاد غونډې دي. او یا دا چې زمونږ لوټو له هغوی سره لکه د خور او ورور ژوند کړی دی، او اوس چې ځوانان شوی دي د بري وال احساس نکوي، بلکې یو بل سره عادی ناسته ولاړه کوي دغسې خبرې او استدلال د هر چا شخصی نظرونه دي، چې نه باید دغه شخصي نظرونه د شرعی مشروعیت حیثیت خپل کړي ځکه که دغو موضوعاتو مشروعیت لرل او په یو ځای کې لوییدو سره، او یا تر مخی ځوانیدو سره دواړه عمر له تیریدو وروسته زمونږ مقابل کی مشروعیت درلودل او د محرم کیدلو له سببونو څخه یو سبب وی، ددې جواز به مو داسلامی شریعت کتابونو کې لوستی و، ولی هیڅکله پدې هکله د اسلامی

شریعت لخوا عفوه نده راغلي. او همدا علت دی چې دغسي ځایونو کې بی تفاوتی او غفلت د لویې ګناه سبب ګرځي، چې لازمه ده خویندې میندی او محترم والدین دغه الهی احکام په نظر کې ولري او له رواجونو او بی تفاوتیو ځان وساتي، ځکه یوه حویلۍ کې په ژوند کولو او یا یو ځای لوییدلو د شریعت حکم تغیر نکوي، او هغه مسلمانان چې غواړي د الله ﷻ عصیان او نافرماني ونکړي پدي هکله زیاته توجه کوي.

**۲– د رقابت په اساس ستر او حجاب:**

یو هغه باطل عادت چې نن ورځ یې د ځینو له دینه بی خبره مسلمانانو ترمنځ رواج پیدا کړی دی داد چې ځینی سړیان خپلو ښځو ته وایي: دا چې زما فلانی دوست، همسایه یا برادر خوانده مې له ما څخه خپله ښځه ستر نکړه نو ته هم ترې ستر مکوه. او که کله څوک ترې ستر وکړي نو بیا خپلې ښځې ته وایي ته هم ترې ستر کوه ځکه د هغه ښځه له ما ستر کوي، دغه فکر کاملا د اسلامی شریعت د احکامو مخالف دی. او پدې ډول محرم او نا محرم نه پیژندل کیږي بلکې محرم او نا محرم خو به اسامی شرعیت تعینوي، او که څوک خپله ښځه مجبوره وي چې د مختلفو اعتباراتو له مخې خپله پرده لرې کړی نو حقیقت کې یې لویه ګناه کړیده.

**۳– خور لڼه:**

ورورنیول، مورلڼه، پلار نیول، او ځوی نیول حرمت له منځه نه وړي: د اسلام مقدس دین کې تنها ورور، خور، پلار مور ځوی او لور په دوه علتونو تثبتیږي.

الف: هغه صورت چې منځ کې یې قرابت خپلوی وي.

ب: هغه صورت چې د دوه تنو ترمنځ د شیدو رابطه وي مثلا د چا رضاعی خور، رضاعی ورور، رضاعی مور، رضاعی پلار، رضاعی ځوی او یا رضاعی لور وي چې رضاع- شیدی ورکول - یو بل سرهد نکاح کولو د حرمت سبب ګرځي.

ج: د نکاح په اساس یعنې چې کله څوک چا سره نکاح وکړي نو د دواړو طرفو مور او پلار سره نکاح حرامیږي.

پخوا وختو کې د عربو ترمنځ رواج و چې کله به چا څوک ځوی ونیو نو دا به د هغه ځوی شو، مثلا: پیغمبرﷺ یو هلک د زید په نوم سره په ځوی والي نیولی و نو خلکو به ورته زید بن محمد وایه، ولې قرانی آیات راغی او حضرت محمد ته یې امر وکړ چې دې کار څخه ځان وساته زید ته د خپل پلار نوم اخلی بیا به تولو ورته زید بن حارثه وایه، دلته مناسبه ده آیات شریف د اسلام پوهانو له نظرونو سره یو ځای راوړو: ﴿وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَآءَكُمْ أَبْنَآءَكُمْۚ ذَٰلِكُمْ قَوْلُكُم بِأَفْوَٰهِكُمْۖ وَٱللَّهُ يَقُولُ ٱلْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي ٱلسَّبِيلَ ۝٤ ٱدْعُوهُمْ لِآبَآئِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِندَ ٱللَّهِۚ فَإِن لَّمْ تَعْلَمُوٓاْ ءَابَآءَهُمْ فَإِخْوَٰنُكُمْ فِي ٱلدِّينِ وَمَوَٰلِيكُمْۚ﴾ [الأحزاب: ٤-٥] «او نه یې دي ګرځولي ستاسی بلل شوي ستاسې زامن دا ستاسې د خولې خبره ده، او الله حق وایي او نیغه لار ښیي، راویې بلی د پلرونو په نوم دا اللهأ ته د انصاف خبره ده که دپلار نوم یې در معلوم نه وي نو ستاسی ورونه دي په دین کې او ستاسې ملګري دی».

المیزان تفسیر پدي هلکه وایي: داد عیاء کله ددعی جمع د ځوی بللو په معنی ده، او جاهلیت کې دا کار د دوی ترمنځ معلمول ا ورواج و، او همدارنګه د هغه وخت خلکو لکه روم او فارس به چې کله کوم ماشوم ته ځوی وویل نو د اصلي ځوی احکام به یې د دوی په هکله جاري کول، یعنی که به جلکۍ وه نو نکاح یې ورسره حرامه بلله، او که به یې دغه پلار مړ شو هغه ته به هم د تولو اولادونو غوندی میراث ورکول کیده، او همدارنګه د پلار او اولاد تول احکام ورباندې جاري کیدل، او اسلام دغه عمل هم لغوه کړ. بنا پردې د آیات مطلب داده چې کوم کسان چې تاسی په زویتوب نیولی هغه ستاسې زامن ندي ترڅو د دوی په هکله ددغې موضوع تول احکام جاري شي.

دې آیت کې ځوی نیولو ته اشاره ده دا چې تاسې د بل ځوی ځانته منسوبوی دا ستاسې د خولې یوه خبره ده او نور څه معنی نلري، او دا تعبیر د خیرې د بی اثرۍ څخه کنایه ده، لکه څرنګه چې دې آیات کې ده چې الله‎جل‌جلاله

فرمايي: ﴿كَلَّآۚ إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَا﴾ ابن كثير د پورته په تفسير کې وايي دغه آیت شریف ﴿ٱدْعُوهُمْ لِآبَآئِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِندَ ٱللَّهِۚ﴾ هغه امره چې کوم عادتونه د اسلام ابتدا کې رواج و هغه یې له منځه ویوړل. هغوی عادت لره چې پردیو ځامنو ته به یې خپل ځامن ویل نو اللهﷻ امر وکړ چې هر څوک خپل پلار ته منسوب کړي. امام بخاری

له عبد الله بن عمرؓ نه روایت کوي فرمايي چې مونږ به زیدبن حارثه ته زید بن محمد وایه تردې چې دا آیات شریف نازل شو ﴿ٱدْعُوهُمْ لِآبَآئِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِندَ ٱللَّهِۚ﴾ عربانو به دغه ځوی سره داصلي ځوی معامله کوله، دوی به یې له خپلو محارمو سره ځانته پرېښودل، پدې اساس بيبی سهله بنت سهيل چې د ابوحذيفه ښحه وه پيغمبرﷺ ته وویل: مونږ سالم ته زوی وایه او اللهﷻ دا حکم را نازل کړ او وینو چې ابوحذیفه ددې هلک را تلل نه خوښوي، پيغمبرﷺ وویل: هغه هلک ته شیدې ورکړه ورباندې به حرامه شې بناء د پورته آیات په اساس ځوی نويل حرام شو، او نه ځوی نيول د نکاح مانع شو او ځوی نيول په اصلی ځوی باندې نه حسابيږي او کله چې ځوان شي دده خلوت ددې سړي له ښځې سره او د کور نورو اعضاو سره ګناه ګڼل کيږي.

همدارنګه د اسلام مقدس دين کې پلار نيول، مور نيول، ورور نيول، خور نيول، ځوی نيول او لور نيول د حرمت مانع نه ګرځي، او د اسلام مقدس دين کې له دوی سره د محارمو معامله کول لويه ګناه حسابيږي.

اوس مهال ځينې خلک رواج لري چې پردۍ ښځې ته خور وايي او يا هم داسې ښځې دي چې پردي سړی ته ورور وايي او وايي دا زما قرانی ورور دی او ددی خبر په اساس له دغه نا محرم اوپردي سړی سره خپله، لورګانې يې، او د فاميل اعضا په ازادانه ډول پرته له ستر او حجاب څخه حتی سفر کې ورسره يو ځای کيږي او چې ترې وپوښتې له چا سره سفر کې تللې وي وايي له قرانی ورور سره مې.

ځينې ښحې پردي سړی ته پخپل کور کې د پلار په نوم سره ځای ورکوي او لکه د اصلی پلار غوندې معامله ورسره کوي، ستر او حجاب نه مراعاتو يي او

لکه د اصلی پلار غوندې معامله ورسره کوي، ستر او حجاب نه مراعاتوي او خلوت ورسره کوي چې دا کار کاملا د شریعت مخالف دي، او پردی سړی پدې اساس محرم کیدل نشي، لنډه دا چې اسلامی شریعت کې وروږنیول خور نیول، مور نیول، پلار نیول، ځوی نیول او غیره د انسان محرم کیدلی نشی او له پدري سړی سره د پلار یا ځوی یا ورونیولو په نوم ناسته ولاړه قطعا حرامه ده.

### ۴- د زړه پاکی اړیکې له بی حجابی سره:

د شیطان یو بل جال د مسلمانو ښځو د بی ستره کولو لپاره داده چې ډیرو انسانی شیطانانو ته تلقین کوي چې کله د یوې ښځې زړه پاک وي نو ستر او حجاب ضرورت نلري. بناء ډیرې بی حجابه ښځې ددې لپاره چې نورو ته دلیل ولري او خپله ګناه پټه کړي استدلال کوي چې زمونږ زړونه پاک دي، او دا چې زمونږ زړونه پاک دی نو بناء له پردیو سره ناسته ولاړه خندا او ان عورت نه پټول نقص نکوي.

ددې اشتباه ځواب په لاندې ټکو کې ورکولی شو:

الف: د حجاب امر الهی حکم دی او د چا زړه پورې تعلق نلري، بناء هره مسملانه ښځه باید دغه الهی حکم په نظر کې ولري، که څه هم زړه یې لکه صافی اوبه پاک وي.

ب: چې د چا زړه پاک وي د مقابل نفر زړه څخه څه خبر دی، چې د هغه زړه هم پاک دی او که نه، بناء حجاب باید د فتنې څخه د لرې والي لپاره مراعات کړو.

ج: د پیغمبرؑ پاکې بیبیانې، د صحابه و ښځې او ټولې با ایمانه ښځې حجاب مراعاتوي او مراعات کړی دی ایا نن ورځ داسې ښځه پیداکیږي چې له بی بی خدیجی، بی بی زینب او بی بی فاطمی څخه یې زړه ډیر پاک وي.

د: په آیات او احادیثو کې چې د حجاب حکم راغلی دی، داسې ندي ویل شوی چې پاک زړې ښځې دې حجاب نکوي.

## حجاب په غربی هیوادونو کې

ښاغلو دوستانو ګرانو خویندو او ورونو:

حجاب چې زمونږ د مسلمانو خویندو د غرب لباس دی او هر مسلمان دغه حقیقت د قرانی ایتونو او د ورځنی حقیقتونو له مطالعې وروسته درک کوي، او نوي مسلمانان د اسلام له منلو سره فورا د غربی هیوادونو له سختو شرایطو سره ځان دعفت پدې لباس سره سمبالوي، زمونږ یو تن خور د سوسن صفا وردی په نوم سره خپلی خاطرې پدې هکله لیکلې دي چې ۱۴ کاله یې خارج کې تیر کړي دي او له هغو جرمنیانو سره یې وخت تیر کړی دی چې نوي په اسلام مشرف شوي دي او یو کتاب یې ترې جوړ کړی دی، ما هم وغوښتل ددی کتاب یوه برخه چې د حجاب په هکله ده دلته نقل کړم:

زمونږ خور سوسن چې د ایران اوسیدونکې ده خپله کیسه د نوو المانی مسلمانانو په منځ کې د المان په یو مسجد کې له کنفرانس څخه وروسته داسې پیل کوي: د تفریح له اعلان سره، څو نفره د وینا له صالون څخه ووتل او د مسجد حویلې ته ننوتل چې هلته ډیره نرمه هوا وه، او د لمر وړانګې د مسجد په مناره او د ونو سوری په اوبو باندې و اود مرغانو نغمو، اود المانی مسلمانو خویندو ورونو غتې ډلې حضور د هامبورګ اسلامی مرکز کې یوه ډیره روحاني فضا جوړه کړې وه، اتفاقا څو تنه الماني خویندې چې له مختلفو ښارونو څخه راغلي وې حوض ته مخامخ په پولو کیناستلې او په خبرو شو، مونږ پوره د هبامبورګ د اسلامی مرکز د روازې ته مخامخ کیناستلو، او د لارویو او سیلانیانو تګ راتګ چې مسجد ته یې کو کله کله زمونږ نظر ځانته جلبو سیلانیانو ته د المانی مسلمانو سړیانو او ښځو لیدل پدې ځای کې ډیر له انتظاره لری و او پّ ډیر تعجب سره به یې پریښودل، تابه ویل دوی با ورنکوي چې دا المانیان دي، خود المانی خویندو ورونو اروپایی څیرو او ځیګو المانی خبرو دوی ته د شک ځای نه پریښود چې دوی الماني دي او که نه.

### یوه ایراني نجلی

ددغه تګ را تګ ترمنځ زما نظر يوې نجلۍ جلب کړه چې عجيبه څيره، نوې پيغله او حيران حيران کتل او د آلماني خويندو ورونو هري ډلې ته به لږ لږ ځنډيدله، څه وخت تير شوی نه و، تا به ويل چې دغو دوه سترګو سنګيني حس کړه او هغو دوه سترګو پسې ورغلی او کله يې چې هغه يوڅه آشنا وليدې نو مونږ خوا ته يې آرام ګامونه راواخستل خو هماغسې متحير، اوس نو مونږ ته څو قدمۍ کې وه، څه باندې شل کاله عمر يې و جګ او لوړ قد او کاملاً شرقی قواره او په خلاصو سترګو او عين حال حيران شکل سره يې په سترګو دغمونو موجونه ښکاريدل، يو لحظه يې ګډوډ راکتل ترڅو ما سکوت مات کړ او په آلمانی مې ترې وپوښتل، لومړی ځل دی چې دهامبورګ اسلامی مرکز ته راغلې ياست؟ په سر، سره يې مثبت ځواب راکړ، بيايي له سترګو لاندې هر يو له سوال لاندې ونيولو، يوې بلې آلمانی خور ترې وپوښتل، څو کاله کيږي چې دلته ژوند کوې؟ آيا په المانی ژبه پوهيږي؟ ډير ځواب يې را کړ: هو لږ لږ پوهيږم، درې کاله کيږي چې آلمان ته راغلی يم؟

**المانی خويندې مينديې له اسلامی نومونو سره**

ددې لنډ او منقطع ځوابونو ددې و چې په آلمانی پوره تسلط نلري، او کيدا شي د پرديتوب احساس يې ښکارندوي کوله، ددې لپاره چې دغه احساس يې لرې کړم نو خورګانې مې يوه يوه معرفی کړه.

خور حليمه له فرانکفورت څخه.

فاطمه له مونيخ

هدی له زار بروکن

او زه هم ايرانۍ يم.

لکه چې يو دم يې ملګرې پيدا کړه او سترګې يي وځليدې: زه هم ايرانۍ يم.

او بيا يې په فارسي ادامه ورکړه.

دا چې آلمانې دی ولې يې نومونه آلماني ندي؟

ما ورته په آلماني وویل: دغه خوینديې او ټول آلمانیان چې د مسجد حویلۍ کې وینې د اسلام په دین مشرف شوی دي او په همدی علت یې ځانته اسلامي نومونه انتخاب کړي دي.

**یو اروپایي هیواد کې با حجابه خوینديې میندې**

خور (الکه) فاطمی ترېې وپوښتل: لکه چې ډیره حیرانه یې چې مونږ دې مسلمانان او حجاب کې ولیدو، هغه هم اروپایان او داسې افراد چې یو غربی سیستم سره تړلې دي، سر ته یې ټکان ورکړ او ویې ویل: رښتیا همداسې ده زه چې دا درې کاله ایران څخه راوتلې یم دا مې لومړی ځل دی چې دغسې منظر وینم، نن ډیر تصادفی زما حرکت دیخوا ته شو زه په هانوفر کې تحصیل کوم او دا لومړی ځل دی چې یو ډاکتر ته د مراجعی لپاره هامبورګ ته راغلی یم، او دا چې څو ساعته وخت مې درلود، هوډ مې وکړ لږ له له فرصت څخه استفاده وکړم او دلته سیند غاړه کې قدم ووهم چې دبا حجابه اروپایانو تګ را تګ مې نظر جلب کړ او د هغوی خوا ته راغلم او بیا د المانیانو او د مسجد په لیدلو مسجد ته راغلم او اوس نو دداسې المانیانو له لیدلو چې مسلمان شوی دي او بیا ښځې چې کامل حجاب هم لری پوره تعجب کې یم. ځینې غرب زده شرقیان حجاب د ازادۍ سلبول ګڼي.

داسې حال کې چې د غرب مسلمانی خوینديې هغه د عزت، افتخار او ازادۍ لباس ګڼي خور (بریګیت) هدی ترېې پوښتی: ولې تا د اروپایی مسلمانانو د لیدو توقع نه درلوده؟ اسلام خود یو ملت یا یو خارجي ډلې پوری منحصر ندی کنه؟ ایرانۍ نجلۍ چې ځان سهیلا معرفی کړ ځواب ورکړ:

نه هدف مې دا نه و چې اسلام کوم ملت یا کومي ډلې پورې خاص دی، ولې پوهیږي چې زمونږ په ذهن کې د خارجي تبلیغاتو او فلمونو په اثر کې داسی منل شوی دي چې دلته د ازادۍ مرکز دی او اروپایي ښځه له کاملې ازادۍ برخمنه ده، مونږ د خپلو هیلو دنیا دلته لیدله، خو اوس دادی ښځې سره له ازادۍ هغه نه مني او اسلام راوړي او د اسلامی لباس اغوستل انتخابوي. مونږ چوپیږو او حیرانیږو ځکه دلته خو تاسې څوک د حجاب په مراعات کولو

نه مجبوروي نو ستاسې انتخاب يواځې ستاسې دعشق او ايمان انتخاب دی، او زه حيرانه يم هغه څه چې مونږ يې د ښځې د لاسو او پښو زنځيرونه ګڼو، تاسو ازادانه او عاشقانه انتخاب کړي دي.

هدی يې خبرو کې ورغورځيدله او په خندا سره چې ددې د ايمانی افتخار ښکارندوې وويل:نوکه واورړې چې زه مخکی (پانک) وم، بيا خو به زياته حيرانه شې.

سهيلا: پانک: اصلا د منلو نده، هو رښتيا څه سبب شو چې دا لاره مو انتخاب کړه او مسلمانه شې؟ دا ازادي چې دلته ده که لوڅه هم سرک ته را ووځې څوک درسره کار نلري، دلته خو ويل کيږي چې د ښځې او نر د اړيکو نتيجه کې نو هر څه عادي کيږي او بيا مخالف جنس هيڅ اثر نلري.

**د ازادۍ او بی بندو بارۍ ترمنځ فرق**

فاطمی زر ځواب ورکړ: اول خو دا چې اللهﷻ وغواړي چا ته هدايت وکړی نو کوی يې که څه هم په اصطلاح ددنيا د فساد مرکز کې وي.

دويم دا چې مختلف ټکي دي هغه څه چې زمونږ نړۍ کې وينې ازادي نده، بلکی بی بندو باری، فساد او سپکاوی دی، دا چې د نر او ښځې اړيکو هيڅ رنګه حدود نه وي او ښځه او نران متاهل اخلاقی پابندي ونلري او هوسونو پسې ولاړ شي او چه څه وغواړي هغه وکړي او د هيڅ پروا ونلري او په اصطلاح ټولنه تر پښو لاندې کړی، نه زړګيه دې ته ازادي نه وايي:

داد بی بندو بارۍ، لا ابالي ګرۍ مختلف تفسيرونه دي چې له کلونو راهيسې مونږ ته د ازادۍ په نوم سره تبليغ کيږي. او غالبا اکثره عوام پرته له فکر او ارزيابۍ څخه دغې څپې پسې ځي، او که نه نو د انسان او حيوان ترمنځ څه فرق دی؟

جنسې ازادی پر نورو دنوعيت پورته کونی او دتجاوز سبب کيږي د لباس ما ډلونه دشهوانی حرکاتو سبب کيږي او د ښځې د ښايست راويستل د سړيانو دلذت لپاره دي.

ښاغلې خور فاطمی د خپلو خبرو په منځ کې سهیلا ته وویل: له یو خوا باید پوه شي چې ازاد روابط نه یو دا چې کشش او شهواني اړتیاوې کموی بلکې د نوعیت طلبی حس په افرادو کې را پیدا کوي. او کولی شي دا له هغو احصایو ترلاسه کړی چې غرب کې دفحشا او فساد په هکله له کم تحقیق او دقت سره ترسره کیږي مثلا درته ویلی شم چې یواځې المان کې له ۷۲٪ زیاتې کاریګرې ښځې خپل کار ځای کې د خپلو نارینه همکارانو لخوا تر جنسي تیري لاندې واقع کیږي. او د کار امرین ورځخه ناروا غوښتنی کوي. البته د تعجب ځای هم ندي ځکه ددغو ټولو لباس ماډلونو سره چې پرته د شهوانی تحرکاتو او د ښځې د ښایست له راویستلو نور هدف نلري نو بیا باید له دغو تجاوزونو او څورونو څخه هم شکایت ونکړو، او باید پوه شو چې ښځه ځان دومره ارزانه وړاندې کوي او سپکوی نو هیڅ قانون ددې اعمالو مخه نشي نیولی له یوی خوا په کار ځای د ښځې ځان ښودل د کورنیو د کمزوري کیدو او ورانیدو او نتیجه کې د رنګارنګ فسادونو او نامشروعه رروابطو سبب کیږي یا په بل عبارت ښځه د هو سرانانو د لاس اله ګرځي، البته دا چې همیشه داسې خلک شته چې د حاکم نظآم خلاف حرکت کوي نو طبیعی خبره ده چې زمونږ وینا د ازادۍ ددغو پوچو او خالی شعارونو او نتایجو په هکله ده. مونږ هم د اللهﷻ په مرسته ددغو شعارونو په خالي والی او پوچوالی له پوهیدو سره سم په اللهﷻ باندې د ایمان له لارې وکولی شو چې دغه ډند څخه ځان وباسو.

هدی د فاطمی خور د خبرو ادامه کې وویل: څه وخت مخکې یعنی له دویم نړیوال جنګ وروسته زمونږ ټولنی هم اخلاقو ته ډیرې پابندې وې، خو د جنګ په پایله کې د امریکایانو له را تګ څخه وروسته او د امریکایي منحرف کلتور له پیاده کیدو اود امریکا د مکار سیاست له حاکمیدو او بربنډتوب خوا ته د ښځې له راوتو وروسته زمونږ ټولنه پدغه نني اسفناک وضعیت ونیول شوه، او په فساد ک مو داسې غوټه ووهله چې د الهی عذابونو پرته بله د نجات لار ورته نه پیدا کیږي.

ما ددې ټولو خبرو په دوام کې سهیلا تر نظر لاندې نیولې وه ته به وایې چې د هغې دننه یو انقلاب روان و، د هغې د بدن رګونو او رنګونو ځانته مختلف

حالتونه پیدا کول او سخت تغیر پکی و، یوه څه وخت پخپل ځای غلې وه، سترګې یې د اوښکو څاڅکو پټې کړې وي، په ارامه مې غږ پرې وکړ او ومې پوښتله چې څه کې فکر کوي؟ پرته له دې چې سر تا وکړي وویل: نه پوهیږم یو دم د هغې ورځې په یاد شوم چې له ایران څخه مې المان ته پرواز کو، له څه فکرونو او هیلو سره مې د سفر بستره وتړله، د غرب د طلایې قصر په لور سفر، چې هلته هره هیله په محض یادولو سره ترسره کیږي، هغه لوی تمدن چې مونږ ته به د قانون دبشر د حقوقو اغه او دغه د انسان د ازادیو او... تبلیغ کیده.

د نیکمرغۍ او نیکبختۍ هیواد ته سفر، هلته چې ښځه ازاده او له سړي سره برابره وه. هغه تصویر چې د رادیو او خارجی فلمونو له لارې مونږ ته را ښودل کیده، او مونږ په سادګۍ سره هغه منلو. سهیلا لکه چې د خپل زړه انبار دردونو اوریدلو ته صبرناکه کانې پیدا کړی وي یو آه وکړ او بیا یې اوږده کړه: هو ځوک څه پوهیږی خبرې له لرې اوري، او تبلیغات هم دومره زیات دي چې چا ته د فکر کولو وخت نه ورکوي. د حق سمبولونه او ارزښتونه یې تر اثر لاندې راوستي دي او هغه تش شعارونه معرفی کوي. خو د هماغو حقایقو او د غرب د پوچو خیالونو او پوچه فرهنګ او فاسد نظام هغه خبرې چې ځوک خپله غربیانو څخه اوري چې عمر یې دلته تیر شوی او په پوستکې او هډوکي یي پوهیږي نو سړی حیران شي، ځکه دوی ته خو نشي ویلی چې تاسې خپلو منافعو ته تبلیغ کوي.

غرب کې دښځې د مساوات شعار پرته د ښځې له وینځه والی او له هغی څخه داستفادي کولو بله معنی نلري.

سهیلا دلته المانی خویندو ته اشاره وکړه او ویي ویل:

کله چې ځوک د غربی ښځې له ژبی اوري چې د ښځې د مساوات ا وحقوقو پوچ شعار پرته له ښځی څخه د استفادې نه بله معنی نلري، چې څه د بدنی قوت او څه د ښځینه والي ښآیست څخه یي ناوړه استفاده کیږی او واقعیت کې ښځه نوره هم غلامۍ ته کشول کیږي، نور نو نه کیږي چې له واقیعت څخه سترګې پټې کړو او غوږونه وتړو، رښتیا زه هم له ډیر وخت

شخه دې ټکي ته متوجه وم، اماد اقرار کولو شهامت مې نه درلود د غربی لباس اغوستل ددې سبب کيږي چې د هغوی په دردونو اخته شو اوس د سهیلا د سترګو د او ښکو څاڅکی یو یو را تویيدل او هغې همداسې خبره اوږدوله: څه خوبونه او فکرونه و، لا مې یو کال په المان کې نه وتیر شوی چې یوه ورځ ما سپښین د بس تم ځای کې ولاړه وم، ناڅاپه یو موټر زما مخی ته ودریده او یو جګ قد هلک تری راوالوت او پرته له څه خبرې یې زما لاس وینو او زه یې ځانته کش کړم، ما چې دداسې حال توقع نه درلوده، لکه یو وار چې ګونګه شم او یو لحظه مې څه نشو ویلی داسې حال کې هلک غوښتل ما خپل موټر کې سپره کړي، یو دم په سد شوم مقاومت مې وکړ او پخپله بکسه می هلک په سر وواه چې زخمی شو او لارویانو پولیس خبر کړل او دواړه یې حوزې ته بوتلو.

د پولیسو د رئیس په ځواب کې مې په ګډه او ماته الماني ژبه جریان ووایه او فکر می کوه چې اوس به هلک بندي کړي او جزا به ورکوي. خو په ډیر تعجب سره مې ولیدل لکه چټې خبرې، لکه ټوقي چې وی، په خندا شو او راته یې وویل: ښه ولې ورسره ولاړه نشوې پوهيږي چې دا څوک دی؟ ما وویل هر څوک چې دی زه خوا المانۍ نه یم چې هر چا سره لاړه شم زه ایرانۍ یم او زمونږ عفت زمونږ د ژوند جوهر دی. د پولیسو ریس بیا وخندل او ویې ویل: ستا د لباس شکل او ډیزاین خو زمونږ د ښځو غوندې دی. او کومه لوحه هم درسره نشته، د پولیسو د رئیس خبری لکه مرمۍ را باندې لګیدلې خو له بلې خوا مې هغه ته حق هم ورکو. لنډه دا چې څو دوستان می خبر کړل او د خپل شکایت په اخیتلو او له هلک څخه په اجباری عذر غوښتلو مې ځان له جنجال څخه خلاص کړ او که نه عزت مې هم خراب و.

سهیلا لږ ځنډ شوه ما باندې یي سترګې خښی کړې او بیا یې وویل: هغه ورځ ما فکر کو زه یوه خارجۍ یم ځکه را سره داسې سلوک کوي زما اوس ددې خویندو په خبرو لکه له درانده خوبه چې راویښه شم هغه خوبونه چې له کلونو د خارجیانو د ښایسته شعارون او سردابونو په نتیجه را تر غاړه شوي و، رښتیا له ډیر وخته متوجه شوی یم چې د ډیرو سړیانو سلامونه بی تمی ندي.

او بلا فاصله له ښځې ناروا غوښتنه کوي، هغه له دې ټولې جنسی ازادۍ سره چې سړی فکر کوي نور به د سړیانو سترګې ښځو پسې نه وي.

د مسجد له منارو څخه د اذان په اواز پورته کیدلو سره خویندې پورته شوې او د لمانځه اداکولو لپاره مسجد ته ولاړې دغه وخت سهیلا له ما وپوښتل ایا کولی شي مونږ سره لمونځ وکړي په خوشالۍ مې هغه مسجد ته بوتله او له اودس کولو وروسته مسجد ته ننوتلو، په ټول لمانځه کې می احساسوله چې سهیلا ژاړي، د لمانځه له پوره کیدو وروسته څو د قیقی په جای نماز باندې په ژړا او زارۍ وه په مسجد کې پرته له سهیلا، خویندو او ما څخه نور څوک پاتې نه و، ورو سهیلا ته ورنزدی شوم وګورم چې انتظار یې وکړم او که نه؟

سهیلا خجالت وه چې سره له مسلمانۍ نه په ګمراهۍ او بی حجابۍ کې مشغوله وه هغې زما په لیدلو سره په ژړا پیل وکړ، هغه مې غیږ کې ونیوله خو همغسي یې ژړلې، هغه ژړا چې د زړه له تل څخه را ووځي او داسې وایي:

ای اللهﷻ زه له ځان څخه شرمیږم، له تا څخه شرمیږم، دا چې زه مسلمانه وم او یو اسلامی هیواد کې اوسیدم ولې دغه ټول نعمتونه چې تا ماته راکړي و زه بری نه پوهیدم زه د هغی دنیا معیارونو او ارزښتونو پسې وم چې د فساد په ډنډ کې تر ستونی غرقه شوې وه، او د نجات لاریې نه وه. او دغه چې غربی فرهنګ کې لوی شوی او روزل شوي دغه رحمت پسې تږي دي، چې تا پرته له هیڅ مونږ ته را کړي د اسلام معیارونه، مونږ د غرب خوبونه لیدل، او دوی زمونږ د اسلامی هیوادونو لیدلو پسي سوځیدل.

شرم له دې چې زه هغو ارزشونو پسې وم چې د انسان د سقوط باعث کیږي او یوائې دا نه چې راحت او ازادي نه راوړي بلکې اذیت اواز له راوړي، او دې خویندو ددنیا او آخرت سعادت لټو، شرم له دې چې زه پوچو ارمانونو پسې روان وم او دوی واقعي معشوقه پیدا کړې وه، رښتیا په مونږ څخه دي چې حق پیژندلی نشو.

د المان خبري پاڼه د مارچ په ۹ شماره کې داسې لیکي: هغه ټولنو کې چې په پوره بې شرمۍ ښځې لکه د کالیو د سرپانو د هو سرانۍ د پوره کولو لپاره ددغه کار خصوصي ځایونو کې دخرید او فروش لاندې راغلې وې.

د اکتوبر په ۹۲ شماره کې لیکي: هغه ټولنو کې چې د بې بندوبارۍ په علت متاهل خلک نامشروع روابط لري.

هغه ټولنو کې چې کلنی ملیاردونه ډالر د ارایش په وسایلو او د ښایست په ډولونو مصرفیږي. هلته چې د ښځې ښایست او اندام ددی د شخصیت او ارزښت ښکارندوی دی (۱۰ می ۹۳ د مونالیزه برنامه)

هغه ټولنو کې چې مکتبونه یې د مخدره موادو اود حمل د مخنیوی د مختلفو دواګانو د خرید او فروخت ځای دی – جولای ۹۳

او بالاخره هغه ټولنه کې چې له ٪۷۲ زیاتی کاري ښځې یې د جنسي تجاوز لاندې راځي. نومبر ۹۲

دغه ښځې د تیارو له منځه له هر رنګه سختیو د رڼا پسي راووتلي او لکه د هاجر غوندې په وچ او بی اوبو ډاګ کې دومره تګې وګرځیدلې (استجب لکم) د دوی هڅو ته یې ځواب ووایه، او داسې یې حق د دوی په زړه کې وځلاو ته به وایي چې هیڅکله یې تیاره نده لیدلې.

**ایرانۍ نجلۍ په آلمان کې توبه کوي او حجاب اغوندي:**

ټولې خویندې پر مونږ را غونډې شوې وې، او سهیلا همداسې اوښکي تویولې او زمزمه کول یي: ولې مو باور کو چې زمونږ ازادی زمونږ د ښځینه ښایست په وړاندې کولو کې ده. هغه الماني پولیس حقیقت وایه: که مونږ غربي لباس اغوندو نو د هغوی غوندې باید هر غوښتونکی سره ولاړې شو، خو مونږ خو داسې نجونې نه یو، مونږ خپل عفت له هر څه لوړګڼو او حیا ته قیمت ورکوو، نو بیا ولې ظاهري بې پروا یي پسې ځو پرته له دې چې متوجه شو چې مونږ سره څه پیغام دی. کله مې چې خبرې دلته ورسیدې لږ ځند یې وکړ او بیا یې په لوړ اواز ادامه ورکړه: له دې الهی لطف څخه مننه کوم او نن تاسې ټول د الله ﷻ دربار کې شاهد نیسم چې نور نه غواړم نانځکې غوندې د

غربي ارزښتونو خدمت کې اوسم. او له همدا نن څخه د اسارت لباس لرې کوم او د حقیقت غوښتونکی مسلمانی ښځی لباس به اغوندم.

ټولې خویندې تر یو اندازې د سهیلا له مختلفو حالاتو څخه قضیي ته متوجه شوې وې، ډیر لنډ مې د جریان کیسه ورته وکړه، په خوشالۍ یې سهیلا په غیږ کې ونیوله او د خیر او موفقیت دعایي ورته وغوښتله، ډیره ارزښتناکه صحنه وه، او تک تک مو ژړلې، د الله ﷻ شکر مې ویسته چې یو ځل بیا حق لارې ته د انسان هدایت مشاهده وم، لمر د شیشو له لارې د مسجد داخلي صحن رارسیدلی و او ډیره روحانی صحنه جوړه شوې وه همدغه رنګ مې چې سهیلا ته کتل ناڅاپه یو فکر راغی او هوډ مې وکړ چې ددغو ښاغلو تن تن سرګذشت ولیکم که څه هم امکانات نلرم او تاسې دوستانو ته یې وړاندې کړم، دغو دوستانو هغو ټولنو کې حق پیدا کړ چې پرته ددینی مذهبی اخلاقی او انسانی معیارونو له نابودۍ هلته بل هدف نشته او هره ورځ نوي وسایل د یویشتم قرن د انسان دی لارۍ لپاره کارول کیږي هغه ټولنو کې چې اخلاقی فساد دومره اوج ته رسیدلی دی چی ان دځینو غربی سیاستمدارانو څخه یي داسی چیغی ویستلی چی اخلاقی معیارونه مرګ ته رسیدلی دي.

د حیوانی ضرورتونو لپاره مدرن کورنی ژوند – اشپیګل مجله – المان دسمبر ۱۹۹۳ – المان جولای ۹۳ سوسن صفا وردی

# نهم فصل:
# بدعت پیژندنه (په دین کې نوی شی پیدا کول)

**فصل کې شاملې موضوع ګانی:**

**۱- د بدعت او دین کې د نوی شی پیدا کولو مفهوم.**

**۲- د بدعت ضررونه:**

**الف: افرادو کې د بدعت ضرر.**

**ب: جامعه کې د بدعت ضرر.**

**۳- د بدعت حکم.**

## د فصل سریزه

متدینو مسلمانانو: کله چې له ځینو مسلمانو ورونو سره مخ کیږم او د بدعت په هکله ورسره خبرې کوم، دوی بدعت ته دیو اساسی مشکل په څیر نکوي، بلکې دا یو کمزورې موضع ګڼی، بلکې کله کله اعتراض هم کوي چې بدعت خو دومره اهمیت هم نلري.

ولې که حقیقتا د بدعت بدیو ته نظر واچوو دی نتیجې ته رسیږو چې بدعت یو خطرناک ترین وایرس دی چې هر دین یې له اصالت او صفایۍ څخه ویستل دی او نړیوالو ته یې یوه شومه پدیده ورمعرفي کړیده شیطان چې د انسان خطرناکترینه دښمن دی د انسان او جنیاتو په لباس کې راځی او مسلمانان بی لارې ته کشوي او د بدعتونو په داخلولو سره یې هر وخت دپیغمبرانو پیروان بی لارې ته کش کړي دي.

که پوښتنه وکړو چې ولې د موسیﷺ پیروان بی لارې شو، طبعا د غوا پرستۍ بدعت چې سامر را پیدا کړي دموسیﷺ پیروان بی لارې ته کش کړه. هغه خلک چې دعوه لري چې مونږ د عیسیﷺ پیروان یو ولې یې دعیسیﷺ

د توحید او یو ذات د عبادت لاره پرېښوده او په شرک مبتلا شو؟ پرته له شکه د خدای د ځوی والی د عقیدی بدعت چې د پولیس (شاوول طرطوسی) په نوم یو یهودی اختراع کړې وه د عیسیٰ ؑ مسیح پیروان د توحید او یو پرستۍ له عقیدې څخه د تثلیث (درې خدایانو) عقیدې ته کش کړل.

که وپوښتو چې فریشیانو خود کعبی له احرام سره دبیت الله د حاجیانو خدمت کو او سره له دې چې ځان د ابراهیم ؑ پیروان ګڼه او د ابراهیم او اسماعیل ؑ اولادونه و ولې د کعبی له اخلاقی طواف څخه بربنډ طواف ته ورسیدل؟ ولې د یو ذات د عبادت پر ځای د بتانو عبادت پیل کړ او بالاخره د اسلام د پیغمبر خطرناک دښمنان شو؟ حتما وایو: چې دانسان او د پروردګار ترمنځ د بدعت راتللو په واسطه دوی بت پرستان شو. او بالاخره د بشري ټولنو په تاریخ کې لیدل شوی دی چې ددغو بدعتونو له پیدایښت سره د توحید پیروانو ضربه خوړلې ده. او ګمراهۍ ته اووښتي دي. دغه بدعتونه په مختلفو اشکالو د توحید عقیدې او ایماني عباداتو ته داخلیږي. کله باطل دعوتونه، کله رواجوانه، کله ددښمنانو په لاسونو او کله هم د ناپوهوو دوستانو په لاسونو دغه بدعتونه یوی عقیدې یا مناسکو ته داخلیږي. که څه هم داسلام مقدس دین پیروانو خپله عقیده ساتلې ده او د ﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ۝٢ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ ۝٣...﴾ په ویلو سره د یو الله عبادت کوي ولې په ډېر تاسف سره چې یو څه بدعتونو د مسلمانانو ترمنځ هم په یو شکل د اشکالو سره رواج موندلی دی، چې د اسلام او زمونږ مسلمانانو اعتقاداتو ته ډیر لوی خطر دی. له دې مخې مې د امکان تر حده هڅه کړیده چې ننی عصر کې د بدعتونو ژوند یي مثالونه د هغه چا خدمت ته وړاندې کړ چې تر اوسه بدعتونه نه پیژنی.

## عبادت که بدعت:

مهمترینه نقطه په عبادت کې داده چې مومن انسان اصل عبادت په سيي ډول سره وپیژنی او د عبادت، عادت او بدعت ترمنځ فرق وکړي او د هغه څه ترمنځ چې په دین کې دي او هغه څه چې دین کې داخل شوی دي تفکیک

وکړي او یوائې هغه عبادات ادا کړي چې داسلام مقدس دین کې په قران ایتونو او نبوی سنتو بیان شوی وی. عبادت د اسلام مقدس دین کې تنها هغو امورو ته ویل کیږي چې د الهی احکامو او نبوی سنتو په اساس ثابت شوي وي او د اسلام د علماو وظیفه د زمانی او مکانی شرایطو مطابق ددغو عباداتو تشریح او توضیح ده او هیڅوک حق نلري چې د اسلام مقدس دین کې کوم عبادت اختراع او یا نوی را پیدا کړي ځکه الله ﷻ مونږ ته کامل دین را استولی دی چې د نبی ﷺ په زمانه کې مکمل شوی دی. له بدعتونو او خرافاتو څخه دلرې والي لپاره غوره لار هغه حدیث شریف دی چې له حذیفه رضی الله عنه څخه روایت شوی هغه وایي، خلکو له رسول الله ﷺ څخه د نیکۍ په هکله پوښتنه کوله او ما به د شر په هکله پوښتنه کوله هسی نه چی پکې ونښلم.

ما وویل: ای د الله رسوله: مونږ په جاهلیت او شر کې ژوند کو خو الله ﷻ را ته دغه نیکی راولیږله، ایا له خیر څخه وروسته شر هم شته دی.

هغه وویل هو.

ما وپوښتل: ایا له دې شر څخه وروسته خیر هم وجود لري.

ویي ویل: هو او په هغه کې به شايبی هم وي.

ما وویل: د هغه شايبې څه شی دی.

هغه وویل: داسې خلک دي چې پرته زما له لارښوونو خلکو ته لارښوونې کوي.

دا به له هغوی څخه پیژنې او انکار به ترې کوې.

ما وویل: ایا له هغه خیر څخه وروسته بل شر شته دی.

هغه وویل: بلی هغه دعوتګر دي چې د دوزخ دروازو کې ولاړ دی، که څوک د هغوی خبره ومني په دوزخ کې به غورځیږي.

ما وویل: ای د الله رسوله: د هغوی اوصاف را ته بیان کړه.

هغه وویل: هغوی زمونږ له ډلې څخه دې او زمونږ په ژبه خبرې کوی.

ما وویل: که دغسې خلکو سره مخ شم څه امر راته کوي.

هغه وويل: د مسلمانانو ډلې سره اوسه او د امام پیروي يې کوه.

ما وويل: که نه ډله ولري او نه امام.

هغه وويل: بيا دې ټولو ډلو څخه لرې شر او که کوی شي د يوې ونې لاندې کينې ترڅو مرګ درته راورسيږي او ته همداسې اوسې[(۱)].

له دې حديث شريف څخه معلوميږي چې کله بدعتونه او ګمراهی په يوه ټولنه کې سرايت وکړي لازمه ده انسان دهغې د محو لپاره هڅه او کوشش وکړي که چيرې څوک داسې يو شی چې په قران او سنتو کې اصل ونلري د عقيدې او يا عبادت برخه وګڼي هغه عمل عبادت نه بلکې بدعت ګڼل کيږي او پدې هکله نبی کريمﷺ فرمايي: «کل بدعة ضلالة» هر بدعت ګمراهی ده، او په هر مسلمان باندې فرض ده چې د هغه شي څخه لرې اوسي چې د قران کريم او نبوی سنتو خلاف وي. او د هغه بدي خلکو ته بيان کړي. ددې لپاره چې دغه مطلب په سيي ډول سره واضح شي او مونږ هم د حذيفهؓ غوندې لومړی دغه بدعتونه په سيي ډول سره وپيژنو ترڅو خپله پکی واقع نشو.

## بدعت په لغت او اصطلاح کې

بدعت په لغت کې د نوو پيداکولو په معنی ده او د يو شي اختراع کول دی پرته له سابقه مثال څخه او (بدع) عربی ژبه کې لومړی شي ته وايي په ايت شريف کې دي «قل ما کنت بدعا من الرسل» ووايه زه خو لومړنی پيغمبر نه يم،

---

۱- «عن عُبَيْدِ اللَّهِ الْحَضْرَمِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو إِدْرِيسَ الْخَوْلَانِيُّ أَنَّهُ سَمِعَ حُذَيْفَةَ بْنَ الْيَمَانِ يَقُولُ كَانَ النَّاسُ يَسْأَلُونَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الْخَيْرِ وَكُنْتُ أَسْأَلُهُ عَنْ الشَّرِّ مَخَافَةَ أَنْ يُدْرِكَنِي فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا كُنَّا فِي جَاهِلِيَّةٍ وَشَرٍّ فَجَاءَنَا اللَّهُ بِهَذَا الْخَيْرِ فَهَلْ بَعْدَ هَذَا الْخَيْرِ مِنْ شَرٍّ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ وَهَلْ بَعْدَ ذَلِكَ الشَّرِّ مِنْ خَيْرٍ قَالَ نَعَمْ وَفِيهِ دَخَنٌ قُلْتُ وَمَا دَخَنُهُ قَالَ قَوْمٌ يَهْدُونَ بِغَيْرِ هَدْيِي تَعْرِفُ مِنْهُمْ وَتُنْكِرُ قُلْتُ فَهَلْ بَعْدَ ذَلِكَ الْخَيْرِ مِنْ شَرٍّ قَالَ نَعَمْ دُعَاةٌ إِلَى أَبْوَابِ جَهَنَّمَ مَنْ أَجَابَهُمْ إِلَيْهَا قَذَفُوهُ فِيهَا قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ صِفْهُمْ لَنَا فَقَالَ هُمْ مِنْ جِلْدَتِنَا وَيَتَكَلَّمُونَ بِأَلْسِنَتِنَا قُلْتُ فَمَا تَأْمُرُنِي إِنْ أَدْرَكَنِي ذَلِكَ قَالَ تَلْزَمُ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِينَ وَإِمَامَهُمْ قُلْتُ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ جَمَاعَةٌ وَلَا إِمَامٌ قَالَ فَاعْتَزِلْ تِلْكَ الْفِرَقَ كُلَّهَا وَلَوْ أَنْ تَعَضَّ بِأَصْلِ شَجَرَةٍ حَتَّى يُدْرِكَكَ الْمَوْتُ وَأَنْتَ عَلَى ذَلِكَ» حديث نمبر(۳۳۳۸) کتاب المناقب بخاري شريف

بلکی ما نه مخکی هم پیغمبران راغلي دی، اللهﷻ ﴿بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾ دی یعنی د ځمکې او اسمانونو نوی پیدا کوونکی دی چې مخکې نه و.

په قاموس المحیط کې راغلي دي «البدع بالسکر: الامر الذی یکون اولا» بدعت هغه ته وایي چې لومړی وي. په عربی ژبه کې هغه شاعر ته چې د ابتکار او نوښت قدرت ولري مبدع شاعر ورته وایي. بناء بدعت په لغت کې ښو او بدو دواړو ته استعمالیږي. امام شافعی رحمه الله وایي: «البدعة بدعتان: بدعة محمودة وبدعة مذمومة ؛ فما وافق السنة فهو محمود، وما خالف السنة فهو مذموم»[١]. بدعت دوه قسمه دی ښه بدعت او بد بدعت که سنتو سره موافق و هغه ښه دی او که د سنتو مخالف و هغه بد دی. بناء عربی ژبی کې مونږ زایتو شیانو ته په لغوی معنی سره بدعت ویلی شو، چې هغه عبارت له:

١- واجب نوښت: لکه د علم نحو، صرف او بلاغت زده کول د قران کریم د پوهیدلو لپاره، علما وایي: «ما لایتم الواجب الا به فهو واجب» له څه شي پرته چې واجب نه پوره کیږي هغه هم واجب دی.

٢- مستحب نوښت: په وسایلو کې نوښت لکه مکتب، مدرسه، پوهنتون جوړول یا پول او غیره.

٣- مباح نوښت: لکه د حالې غذا پخولو کې نوښت یا څښلو، د لباس په ډیزاین او...

٤- حرام نوښت: عقایدو کې نوښت لکه خرافی مذاهب مثلا قدریه، جیریه، معتزله خوارج، قادیانی[٢]، بهایي، بریلوی او غیره.

---

١- أبو نعیم در الحلیة (١١٣/٩).

٢- دقادیانیانو ډله هغه خلک دی چه د غلام محمد قادیانی پیروی کوی دغه کس د هندوستان د قادیان په سیمه کی پیدا شو او دعوی یی وکړه چه محمد رسول اللهﷺ د انبیاوو آخرین نبی ندی او د هغه نه وروسته نور پیغمبران دی وروسته یي ځان ته یی عیسی موعود، مهدی موعود وویل او دعوی یی وکړه چه هغه ته په دری، عربی، اردو او انګلیسی ژبی وحی راځی او څلور خلفاء یی ځان ته وټاکل. د هغوی د مرتد کیدو حکم د علماو له خوا نه د علی بوتو د بی نظیر بوتو د پلار په وخت کی اعلان شو او دضیا، الحق د حکومت په دوره کی تطبیق شو.

۵- مکروه نوښت: لکه د مسجد ښايسته کول، په طلا د قران کريم نوشته کول او غيره.

## جايز نوښت

لغوی بدعت او نوښت يا جايز بدعت هغه نوښت ته وايي چې دين کې له نوو پيدا کولو سره تعلق نلری او نوو ابتکاری کارونو ته ويل کيږي چې د نيوی امورو وسايلو او غيره پورې ارتباط لري دغه نوښت په درې شکله دی.

### الف: د ژوند وسايلو کې نوښت او بدعت

په وسايلو کې نوښت ته کول شو بدعت ووايو دغه نوښت اسلامی شريعت کې يوازی جايز ندی بلکې نيک او غوره دی.

مثلا: پخوا خلک حج ته په حيواناتو تلل اوس چې نوي ترانسپورتی وسايل اختراع شوی دي هر کال حاجيان حج ته په دغو وسايلو ځي بناء دغه کار ښه او غوره دي.

همدرانګه زمونږ معاصر دعوتګر د اسلامی دعوت لپاره له پر مخ تللو وسيالو څخه استفاده کوي اوس مسلمان دعوتګر کولی شي د ايميل په واسطه خپل دعوت خلکو ته ورسوي. پخوانيو زمانو کې د مسلمان دعوتګر مجبور و د خلکو کورو ته ورشي او دعوت ور ورسوي. اوس له پخوانيو لارو علاوه دغه دعوتګر کولی شي له پر مخ تللو تکنالوژی وسايلو لکه تلويزون، راديو، اسلامی کستونه نشر، سی ډی، ويديوي اسلامی کستونه له لارې خپل دعوت تقويه کړي، البته داسې نه چې پخوانۍ لارې هيرې کړي، بلکې بايد له ټولو لارو د حق درسولو لپاره استفاده وکړي.

### ب: ديو سنت په ژوندي کولو کې بدعت او نوښت

---

دا چه انګليس د دوی په پيدا کيدو کی لاس وو نو اوس د دوی ډير کسان په انګلستان کی ژوند کوی او خپل نوم يي د خلکو د غولولو لپاره ندی د (احمديت) نوم خپل او د (MTN) په نوم تلويزيونی خپرونی لری.

که چیرې د پیغمبر یو سنت ترک شوی وي او څوک کوشش وکړي چې دغه سنت په کامل ډول سره بیا ژوندی کړي او په عملي کولو کې یې کوشش وکړي دیته هم ښه نوښت ویلی شو.

حضرت عبد الرحمن بن القاری وایي زه یوه شپه په رمضان کې له عمر بن الخطاب سره مسجد ته ولاړم خلک مو ولیدل چې ځانته لمنځونه یې کول څوک یوائې او څوک په جماعت عمر رضی الله وویل: که دا په یو قاری را ټول کړم غوره به وي بې ایې هوډ وکړ او په ابی بن کعب یې را ټول کړل.

بیا بله شپه ورسره ووتلم او خلکو ټولو له هماغه یو قاري سره په جماعت تراویح کولې. عمرؓ وویل دا غوره نوښت دی[1]. فتح الباری ددی حدیث په شرح کې وایي: د (اوزاع) کلمه متفرقو ډلو ته وایي، او منظور داو چې چا یوائې او چا په جمع لمونځ کو.

ابن التین او نور وایي چې حضرت عمر رضی الله د پیغمبر له تقریري سنتو پیروی وکړه چې هغه ولیدل خلک له ده سره په جماعت تراویح کوي. ولې انحضرتﷺ د فرض کیدوله ویرې ښه ونه لیده، خو کله چې محمدﷺ رحلت وکړ نور د ډار ځای نه و، بناء اوس له متفرق ډول څخه په یو امام پسې جماعت کول غوره دي. او جمهور صحابه له عمرؓ سره هم نظره شو. حضرت امام مالک په یو له دوه روایتو کې امام ابویوسف د احنافو له مشرانو څخه او د شافعي مذهب ځینې مشران پدې نظر دي چې د تراویح لمونځ په کور کې ادا کول غوره دي.

---

۱- «عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدٍ الْقَارِيِّ أَنَّهُ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لَيْلَةً فِي رَمَضَانَ إِلَى الْمَسْجِدِ فَإِذَا النَّاسُ أَوْزَاعٌ مُتَفَرِّقُونَ يُصَلِّي الرَّجُلُ لِنَفْسِهِ وَيُصَلِّي الرَّجُلُ فَيُصَلِّي بِصَلَاتِهِ الرَّهْطُ فَقَالَ عُمَرُ إِنِّي أَرَى لَوْ جَمَعْتُ هَؤُلَاءِ عَلَى قَارِئٍ وَاحِدٍ لَكَانَ أَمْثَلَ ثُمَّ عَزَمَ فَجَمَعَهُمْ عَلَى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ ثُمَّ خَرَجْتُ مَعَهُ لَيْلَةً أُخْرَى وَالنَّاسُ يُصَلُّونَ بِصَلَاةِ قَارِئِهِمْ قَالَ عُمَرُ نِعْمَ الْبِدْعَةُ هَذِهِ وَالَّتِي يَنَامُونَ عَنْهَا أَفْضَلُ مِنْ الَّتِي يَقُومُونَ يُرِيدُ آخِرَ اللَّيْلِ وَكَانَ النَّاسُ يَقُومُونَ أَوَّلَهُ» حدیث نمبر ۱۸۷۱ کتاب صلاة التراویح، بخاری شریف

ځکه پیغمبرﷺ فرمایي: «أفضل صلاة المرء في بیته إلا المکتوبة» د سړي غوره لمونځ په کور کې دی مګر فرض امام طحاوي مبالغه کوي او وايي: د تراویح لمونځ په جماعت سره واجب کفایي دی له پورته حدیث شریف (او د علماو له نظره معلومیږي چې:

١- د تراویح لمونځ اصلا د پیغمبرﷺ سنت و او خلکو د پیغمبر د سنتو په نیت اداکو او داد عمرؓ اختراع نده.

٢- خلکو د تراویح لمونځ په جماعت سره هم کول ولې یو امام پسې نه و چا تنهايي کولې چا پّ جماعت.

٣- حضرت عمرؓ فکر وکړ که دا ټول یو امام پسې تراویح وکړي نو (امثل) او غوره به وی او له (امثل) څخه مراد دادی چې د پیغمبر طریقې سره به زیات مشابهت لري.

پدې اساس کوم کار چې د نبیﷺ د سیرت مطابق وي او د هغه د لارښوونو مطابق ژوندی شي دیته بدعت نه ویل کیږي.

د مثال په ډول ډیرو اسلامی هیوادونو کې عادت دی چې خلک پخپلو ماشومانو دحیواناتو، الوتونکو، هندوانو او خارجیانو نومونه بردي، ولې ننی مسلمانان غواړي د پیغمبرﷺ سنت په نوم ایښودلو کې تازه کړي خپلو ماشومانو باندې د پیغمبرانو او صحابه و نومونه کیږ دي. چې دا یو ښه نوښت دی، او یوائې دا نه چې داسلام مقدس دین یې ښه ګڼي بلکې یو چا ته چې مړ شوی سنت را ژوندی کوي ډیر زیات اجر بیانوي.

حضرت پیغمبرﷺ حضرت بلال بن حارث ته وویل: پوه شه، بلال وویل: په څه پوه شم ای رسول الله، ویې ویل: پوه شه چا چې زما یو سنت له مړه کیدو وروسته را ژوندی کړ د هغو خلکو اجر ورته ورکول کیږي چې پدې سنتو عمل کوي. پرته له دې چې د دوی له اجر څخه څه کم شي او که څوک داسې بدعت را پیدا کړي چې الله او رسول پرې نه راضی کیږي نو د هغو خلکو ګناهونه به وربانديې وي چې پدې بدعت عمل کوي. پرته له دې چې د دوی له ګناهونو څه کم شي.

**ج: د ژوند په سيستم کې بدعت او نوښت**

که څوک د خپل ژوند په سيستم کې د خپل عصر مطابق داسې تغير راوړي چې د اسلام مقدس دين له اساساتو سره مخالفت ونلري نو دا يو ښه کار دی مثلا څوک د پخوانيو کورو په ځای په اپارتمان کې اوسيږي، او يا له زينو څخه د استفادې پر ځای له لفت څخه استفاده کوي، او يا يو استاد خبل علمی درسونه په عالی ډول د کمپيوتر او پروجکتور له لارې ترتيبوی او تنظيموي قران شريف او احاديث له کمپيوتره زده کوي او بازار ته د تګ په ځای د انترنت له لاری اخيستل او خرڅول کوي، په تعليم اوتربيه کې له پخوانيو وسايلو د استفادې پر ځای له نوو پر مختللو وسايلو استفاده کوي دا ښه نوښت دی او استفاده يې موثره ده او اسلام يې هم تاييد وي. بناء لغوی نوښتونه بدعت حسنه دی.

بدعت په اصطلاح کې: د اسلامی شريعت په اصطلاح کې اسلامی احکامو کې داسی نوښت دی چې اسلامی شريعت کې اصل ونلري «الحدث فی الدين بعد الاکمال او ما استحدث بعد النبی صلی الله عليه وسلم من الاهواء والاعمال» دين کې له پوره کيدو وروسته نوي پيدا کول دی يا هغه څه چې له نبیعليه السلام وروسته له هوا او اعمالو څخه نوي را پيدا شوی وي[1].

ولې: ز ما په نظر د بدعت غوره تعريف دادي چې: هغه نوښت دی چې دين ته يې نسب شوی وي او کوم خاص يا عام شرعی اصل ته يې نسبت نه وي شوی.

د تعريف شرح: ددی لپاره چې يو شی اصطلاحی بدعت او بدو ګڼو بايد دا درې شرطه ولري:

۱- نوښت وي: که څوک داسې عبادت وکړي چې نوی نه بلکی قران او سنتو کې وی بدعت ندی.

---

۱- مرجع سابق عين صفحه.

۲- ددغه نوښت نسبت دین ته وشي: نو که څوک یو شي کې نوښت وکړي خو دین ته یې نسبت ونکړي بدعت ندی، دین ته د یو شي نسبت کول درې ډوله دی:

اول شکل: په نامشروع شي تقرب غوښتل.

دویم شکل: ددین له نظام څخه وتل.

دریم شکل: هغه وسایل چې بدعت ته منجر کیږي.

۳- دغه نوښت کوم خاص یا عام شرعی اصل ته استناد ونلري: که چیرې څوک داسې نوښت وکړي چې شرعی اصل ولري بدعت ندی، لکه د تراویح لمونځ چې د اسلام پیغمبر کړي دي. یا دا چې څوک یو مړ شوی سنت را ژوندی کړي.

عام شرعی دلیل ته د استناد مثال: هغه څه چې د مصلحت لپاره وي، لکه د قران کریم ټولولو کې دصحابه و عمل.

خاص شرعی دلیل ته د استناد مثال: د تراویح لمونځ په جماعت سره ځکه چې اصل خویې د اسلام پیغمبر په واسطه شوی و بیا د عمرؓ پر وخت صحابه و په جماعت سره ادا کړ.

د اصطلاحی بدعت حکم: اصطلاحی بدعت چې دیني امورو کې وي حرام او نا جایز دی هیڅ حسنه او سیئه نلري بلکې ټول بد او ناروا دی. په حدیث شریف کې دي چې حضرت عرباض بن ساریه وایي رسول الله وفرمایل: په دین کې له نوو پیدا کولو څخه ځان وساتی ځکه دین کې هر نوی پیدایښت بدعت دی او هر بدعت ګمراهي ده[1].

---

۱- عن العرباض بن سارية رضي الله عنه، وفيه: قوله: «وإياكم ومحدثات الأمور؛ فإن كل محدثة بدعة، وكل بدعة ضلالة». این حدیث را اخراج نموده است: أبو داود في سنن ابی داوود، (۲۰۱/٤) در شماره: ٤٦٠٧) وابن ماجة (۱٥/۱) در شماره: ٤٢)، والترمذي (٤٤/٥) در شماره: ۲٦٧٦) و گفته است که این حدیث حسن صحیح، و امام البانی آن را در في ظلال الجنة في تخریج السنة لابن أبي عاصم حدیث صحیح خوانده است در شماره: ۲۷.

مبارک صحابی جابر بن عبد الله ﷺ فرمایي چې نبی کریم ﷺ پخپله یوه خطبه کې وفرمایل:

غوره وینا د الله کتاب دی، او د هدایت غوره لار د محمدی هدایت لار ده، او بدترین امور هغه دي چې نوي پیدا شوي وي هر نوی پیدا کار ګمراهی ده، او هره ګمراهی د جهنم په اور کې ده[1].

## د بدعت پیژندلو قواعد

ددې لپاره چې بدعتونه په کلي ډول سره وپیژنو، د اسلام علماوو ددې لپاره څه قواعد بیان کړي چې په هغي سره ښه پیژندل کیږي:

### اوله قاعده: هر عمل او عبادت چې په کوم دروغجن حدیث استدلال وکړي

ټول مسلمانان پوهیږي چې د اسلام دښمنانو یا هم بی علمه او جاهلو دوستانو او یا هم متعصبو مذهبی خلکو یو سلسله احادیث جوړ کړي دی او د خلکو ترمنځ یې خپاره کړي دی، چې د حدیثو پوهانو پدې هکله مختلف کتابونه لیکلي دی خو بیا هم د غو ضعیفو احادیثو خلکو کې رواج پیدا کړی دي، او تر نن عصر پورې هغه څوک چې سیي تحقیق نکوي له دغو احادیثو څخه استفاده کوي بناء هغه عملونه چې دوی کویي عبادت نه بلکې بدعت دی.

### دویمه قاعده: هر عمل او عبادت چې په شخصی نظر او خواهشاتو استدلال کوي

ځینې عادتونه، کیسې او یا خوب د عبادت اساس ګڼي مثلا سمنک، دیکچه او یا چا خوب لیدلی چې فلانی حاجتونه پوره کوي او غیره.

عبد الله بن عمر بن عاص رضي الله عنهما وایي له رسـول الله ﷺ می واوریده چې فرمایل یې: الله جل جلاله علم د خپلو بندګانو له سینې څخه نه اخلي بلکې دعلما په

---

۱- «إن أصدق الحديث كتاب الله، وأحسن الهدي هدي محمد، وشر الأمور محدثاتها، وكل محدثة بدعة وكل بدعة ضلالة وكل ضلالة في النار» بروایت مسلم (۱۵۳/۳)

قران سره هغه له منځه وړي. او کله چې عالمان له منځه لاړل خلک به جاهلان ریسان ونیسي او هغوی به خلکو ته بی علمه فتوا ورکوي هم به خپله ګمراه شي او هم به نور ګمراه کړي[۱].

**دریمه قاعده: هر عمل او عبادت چې صحابه تابعینو او تبع تابعینو ترک کړی وي**

پخپلو مجالسو کې یې د هغه یادونه، نه وي کړي، په کتابونو کې یې نه وي را اخیستي لکه د اسلامي تاریخی ورځو لمانځل، د مولد شریف لمانځل، دپیغمبر علیه السلام د هجرت ورځ، د هجری کال اوله ورځ، معراج النبی او غیره...

**څلورمه قاعده: یو عمل عبادت ګڼل چې شریعت کې عبادت نه وي**

لکه د ځیګو کالیو اغوستل دبدن داذیت لپاره، یا دایمي چوپ والی، یا د خوراک او څښاک پریښودل یا د ثواب په نیت د غوښې نه خوړل. خو که څوک د کوم مرض په خاطر کوم ډاکتر منع کړی وی پروا نلري. او یا څوک د ثواب لپاره دوامداره لمر ته دریږي.

**پنځمه قاعده: په نامشروعو شیانو عبادت کول**

لکه موسیقی، رقص، چک چک او.

**شپږمه قاعده: د عبادت شکل تغیرول**

په صحیحو احادیث او روایاتو دعباداتو خاص شکلونه بیان شوی دی که څوک هغه بدلوی دا بدعت دی، دغه تغیر په لاندې ډول سره راځي.

---

۱- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ الله عَنْهُمَا قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ: «إِنَّ اللَّهَ لَا يَقْبِضُ الْعِلْمَ انْتِزَاعًا يَنْتَزِعُهُ مِنَ الْعِبَادِ، وَلَكِنْ يَقْبِضُ الْعِلْمَ بِقَبْضِ الْعُلَمَاءِ، حَتَّى إِذَا لَمْ يُبْقِ عَالِمًا اتَّخَذَ النَّاسُ رُءُوسًا جُهَّالاً، فَسُئِلُوا، فَأَفْتَوْا بِغَيْرِ عِلْمٍ، فَضَلُّوا وَأَضَلُّوا». (بخاری: ۱۰۰)

۱- د عبادت وخت کې مخالفت لکه پرته له لوی اختره قربانی.

۲- په مکان کې مخالفت لکه پرته له مسجده اعتکاف.

۳- د څه شي جنس کې مخالفت لکه قربانی په غرڅې او اسپ.

٤- دڅه شي عدد کې مخالفت.

٥- په کيفيت کې مخالفت.

**اوومه قاعده: د عام عبادت خاص کول**

ځينی عبادتونه عام دي لکه نفل کول داسې وخت کې چې مکروه نه وي، يا روزه نيول کله چې څوک وغواړي يا ذکر کول کله چې څوک وغواړي، حکه خود عام شي خاص کول پرته له شرعی ليد بدعت ګڼل کيږي. لکه څوک وايي چې زه چارشنبه روزه نيسم يا د جمعې ورځ ذکر کوم.

**اتمه قاعده: په يو عبادت کې زيادت او افراط**

دغه افراط او زيان په لاندې شکلونو سره کيږي:

۱- د هغه شي واجبول چې واجب نه وي لکه دعبادات په نيت د شپې خوب نکوي يا هميش روزه نيسي.

۲- د حلال شي حرامول لکه واده نکول.

**نهمه قاعده: خپل علم او عقل له قران څخه غوره ګڼل**

د ډيرو ګمراهانو او بی لارو اساسی شکل دادی چې خپل عقل او علم له قران څخه لوړ ګڼی او که عقل يي څه ونه مني له هغه نه انکار کوي.

**لسمه قاعده: مذهبی تعصب**

په هر عصر کې يو خطرناک افت مذهبی تعصب دی چې متعصب اشخاص له هغه څه نه چې صراحتا په قران او حديث کې راغلي وي انکار کوي ځکه د دوی له ګمان او يا مذهب سره مطابقت نلري.

**یوولسمه قاعده: په قران او حدیث کې دجاهلانو او غیر متخصصینو پیروي**

قریشیانو هغه وخت بت پرستۍ ته مخه کې چې دعمر بن لحی په نوم یې یو شخص په دیني رهبریت باندې ومنه، رحیق المختوم مولف لیکي: اکثریت عرب د ابراهیم‰ په دین و او د الله‰ عبادت یې کو او توحید یې منه او د حنیفی دین په ارشاداتو یې عمل کو تردې چې ډېر وخت تیر شو او عمرو بن لحی د خزاعه قبیلې ریس راغی هغه چې نیک اخلاقه او سخي سړی و او دینی امورو باندې حریص و خلکو هم ورسره مینه کوله او فکر یې کو چې د لویو پوهانو او اولیا و له جملې څخه دی.

هغه شام ته سفر وکړ او د هغه ځای خلک یې ولیدل چې د بتانو عبادت کوي د هغوی دغه کار یې خوښ شو، او فکر یي وکړ چې دا به حق وی حکه شام دپیغمبرانو او اسمانی کتابونو ځای دی، له هماغه ځای څخه یې د هبل په نوم یو بت ورسره را واخیست او کعبې دننه یې کېښې، د او خلک یې د هغه عبادت ته راوبلل، د ټولو منطقو خلکو فکر کو چې قریشیان د بیت الله خادمان دي بناء هغوی هم د دوی د بت پرستۍ پیروي وکړه[1]. د بدعت پیروۍ کې دنن ورځې د مسلمانانو غټ مشکل د هغو اشخاصو پیروی ده چې د اسلام مقدس دین څخه ناخبره وي صحیح احادیث له ضعیف او موضوعی څخه جلا کولی نشي ایاتونه غلط لولي، او هم ځان ګمراه کوي او هم نور، یوه ورځ د یو دوست کور ته ولاړم چې د خپل یو همسایه ډېره ستاینه یي را ته کوله او ویل یي چې خلک د اسلام مقدس دین ته رابلی، زه هم خوشحاله شوم او د هغه لیدو ته ورغلم ګورم چې ډېر متدین او با اخلاصه ښکاری زما یې ښه استقبال هم وکړ په مجلس کې کیناستم څو تنه نور هم، او په ډېره ښه لهجه غړیده او ښه را غلاست یې وایه. خو ګورم چې د قران کریم آیاتونه غلط لولي او غلط یې ترجمه کوي، او عجیبه او غریبې کیسي کوي او یوه خبره یې داوه چې کله د الله‰ ذکر کوی او نوم یې اخلی دا چې الله‰ نشی لیدلی نوم زما څیره په نظر کې نیسی زه ډېر وار خطا شوم دا ډېره خطرناکه خبره وه او

---

۱ - الرحیق المختوم، ص: ۳۳

انسان د ایمان له دایرې څخه را باسي، در سول اللهﷺ هغه خبره را یاده شوه: چې اللهﷻ علم د خپلو بندګانو له سینو څخه نه اخلي بلکې د عالمانو په وفات سره هغه له منځه وړي، کله چې عالمان وفات شي خلک به جاهلان ریسان ونیسي او خلکو ته به له ناپوهۍ فتوا ورکوي چې هم ځان ګمراه کوي او هم نور ګمراه کوي[١].

ما غوښتل هغه ته نصیحت وکړم څو ورځې په دوستانه شکل وغږیدم ومې لیده چې هغه نه غواړي حق ومني زه ددې لپاره چې دغسې مجلسونو کې په ناسته ګنهګار نشم نور هلته لاړ نشوم خو د هغو خلکو په حال مې افسوس و چې هغه سره کیناستل او پیروي یې ترې کوله.

**دولسمه قاعده: هغه اعتقادات چې له رسول کریمﷺ او صحابه و څخه نقل شوی ندي**

ځینې هغه دلال او اعتقادات چې د خالق صفات له مخلوق سره مشابه کوي او ګمراهۍ سبب ګرځي.

**دیارلسمه قاعده: اسلامی عقیده کې فلسفی افکار داخلول**

کله چې فلسفي رواج واخیست ډیر خلک ترې متاثر شو او تر ننه متاثر دي او د الهی صفاتو او ذات د پیژندنې لپاره قران او حدیث ته نه بلکې فلسفې ته مراجعه کوي.

**څوارلسمه قاعده: په هغو الهی صفاتو او ذات کې بحث کول چې بشر ته یې پیژندل مشکل دي**

په قران عظیم الشان او نبوی سنتو کې د اللهﷻ ځینې صفات ذکر شوی دی چې مسلمان باندې لازمه ده دې صفاتو باندې هماغسې عقیده وکړی

---

١- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ الله عَنْهُمَا قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ: «إِنَّ اللَّهَ لَا يَقْبِضُ الْعِلْمَ انْتِزَاعًا يَنْتَزِعُهُ مِنَ الْعِبَادِ، وَلَكِنْ يَقْبِضُ الْعِلْمَ بِقَبْضِ الْعُلَمَاءِ، حَتَّى إِذَا لَمْ يُبْقِ عَالِمًا اتَّخَذَ النَّاسُ رُءُوسًا جُهَّالاً، فَسُئِلُوا، فَأَفْتَوْا بِغَيْرِ عِلْمٍ، فَضَلُّوا وَأَضَلُّوا». (بخاری: ١٠٠)

ځکه چې ددې صفاتو کيفيت انسان نشي معلومولی ځکه انسان هميشه د مادې عقل او پنځه ګونو حواسو تر تاثير لاندې ده، او له ټولو مادو او حواسو څخه متاثر دی بناء کله که وغواړو ددغو صفاتو کيفيت باندې پوه شو حتما به هغه له يو مادی شي سره تشبيه کوو داسی حال کې چې اللهﷻ ﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞ﴾ «ذات دی چې دده په شان بل شی نشته» په همدی سبب کله چې له امام مالک څخه وپوښتل شو چې ﴿ٱلرَّحۡمَٰنُ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ ٱسۡتَوَىٰ ۝٥﴾ استوا څرنګه ده، امام يې په ځواب کې وويل! استواء معلومه ده او کيفيت يې مجهول دی ايمان راوړل پرې واجب دی او سوال ترينه بدعت دی، صحابه کرام تابعين د اسلام تحقيقی او قران پوه علما پدې هکله زيات بحث نکوي، ځکه چې خپل عقل ددې صفاتو له درک څخه قاصرويني اما بدعتی ډلې هميشه ځان پدې امورو کې مصروف ساتی[1].

**پنځلسمه قاعده: انسان پرستی او يو شخصيت ته تعصب**

څوک چې د ځينو اسلامی شخصيتونو په هکله زيات افراط کوي دغه محبت هغوی تعصب ته کشوی بناء زياتو حالاتو کې داسې بدعتونه ته رسيږي چې د قران او سنتو د صريح مخالفت لامل ګرځي داسې حال کې چې صحابه کرام داسې نه و وايي چې معاويه بن ابی سفيان رضي الله عنهما له عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه وپوښتل د چا په ملت يي د علی که عثمان؟ هغه ځواب کې وويل: د علی ملت کې يم نه د عثمان ملت کې، بلکې د رسول الله ﷺ ملت کې يم[2].

---

١- الكيف غير معقول، والاستواء منه غير مجهول، والإيمان به واجب، والسؤال عنه بدعة. أخرجه اللالكائي في السنة (٤٤١/٣) برقم ٦٦٤، وقال ابن حجر: (وأخرج البيهقي بسند جيد...)، فتح الباري (٤٠٦/١٣، ٤٠٧)، وقال ابن تيمية (وقد روي هذا الجواب عن أم سلمة رضي الله عنها موقوفًا ومرفوعًا، ولكن ليس إسناده مما يعتمد عليه) مجموع الفتاوى (٣٦٥/٥) وروي أيضًا عن ربيعة شيخ مالك. انظر السنة للالكائي (٤٤١/٣) برقم ٦٦٥.

٢- وقد روينا عن معاوية بن أبي سفيان: أنه سأل عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فقال: أنت على ملة علي أو ملة عثمان؟ فقال: لست على ملة علي، ولا على ملة عثمان، بل أنا على ملة رسول الله أخرجه ابن بطة في الإبانة الكبرى (٣٥٤/١، ٣٥٥) برقم ٢٣٧، ٢٣٨.

**شپاړسمه قاعده: دیني امورو کې نظر يي ورکول**

د بدعتونو د انتشار لوی علت د هغو اشخاصو نظريات دي چې د بدعت پر مسايلو د بحث پر وخت کې له خپلو شخصی نظريو څخه استفاده کوي.

**اوولسمه قاعده: له کفارو متاثر کيدل یا ورسره مشابهت**

د بدعت د انتشاريو لامل له کافرانو، مشرکينو، يهودو او نصاراو سره مشابهت دی هغوی ځينی شيان اختراع کړي دی او مسلمانان ترې متاثر شوی دي او فکر کوي چې ښه کار به وي داسی حال کې چې تاوان يې له ګټې څخه زيات دی له هغې جملې څخه له کافرانو سره مشابهت په خاصو ورځو کې لکه د مور ورځ د ښځې ورځ نوی کال او غيره.

**اتلسمه قاعده: د بدعت او ګناه امورو کې د علماوو اشتراک**

د بدعتونو د انتشار يو لامل د ځينو اسلامی علماو هغه سهل انګاری ده چې د اسلامی شريعت مخالفو مجلسونو کې برخه اخلي مثلا ځينې علما په ژبه يوه فتوا ورکوي خو کله چې عملا يو داسې مجلس کې برخه اخلي چې د اسلامی شريعت مخالف وي مونږ ته په خپل عمل سره فتوا راکوي چې دغه عمل مشروع او جايز دی او پخوا څخه يې ويلی دي د عالم سقوط د عالم سقوط دی.

**نولسمه قاعده: په ضعيفو احاديثو اعتماد**

د بدعت د انتشار يو لامل په هغو ضعيفو حديثو اعتماد دی چې ځينو مسايلو کې ذکر شوی دی.

**شلمه قاعده: د منطقې فرهنګ او عادات عبادت ګڼل**

د بدعتونو د انتشار يو سبب د يو منطقی د رواجونو، کلتور، او عادتونو بدليدل دي په عبادت سره.

**يويشتمه قاعده: د عوامو کارونو کې د علماو بی تفاوتی**

احيانا عوام خلک چې زيات اسلامی علم نلري څه کارونه عبادت ګڼي او ترسره کوي يې، کله چې علما پدې برخه کې غلې او بی تفاوته شي بالاخره دغه امور په بدعت بدليږي.

## سيئه بدعت (بد او ناروا بدعت)

سيئه بدعت هماغه بدعت او ددين په احکامو او اساساتو کې نوی پيدا کول دی دا بدعت حرام، ناجايز او يو رنګ ګمراهی ده، او په همدی اساس پيغمبرعليه السلام فرمايي: «کل بدعة ضلالة» هر بدعت ګمراهی ده[1]. کولی شو اصطلاحی بدعت په لاندې ډولونو وويشو:

١ - «أَخْبَرَنَا عُتْبَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ أَنْبَأَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي خُطْبَتِهِ يَحْمَدُ اللَّهَ وَيُثْنِي عَلَيْهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ يَقُولُ مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ إِنَّ أَصْدَقَ الْحَدِيثِ كِتَابُ اللَّهِ وَأَحْسَنَ الْهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ وَشَرُّ الْأُمُورِ مُحْدَثَاتُهَا وَكُلُّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ وَكُلُّ ضَلَالَةٍ فِي النَّارِ ثُمَّ يَقُولُ بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ وَكَانَ إِذَا ذَكَرَ السَّاعَةَ احْمَرَّتْ وَجْنَتَاهُ وَعَلَا صَوْتُهُ وَاشْتَدَّ غَضَبُهُ كَأَنَّهُ نَذِيرُ جَيْشٍ يَقُولُ صَبَّحَكُمْ مَسَّاكُمْ ثُمَّ قَالَ مَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِأَهْلِهِ وَمَنْ تَرَكَ دَيْنًا أَوْ ضَيَاعًا فَإِلَيَّ أَوْ عَلَيَّ وَأَنَا أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ» حديث نمبر (١٥٦٠) کتاب صلاة العيدين، سنن النسائی.




### ۱– د يو نوې عقيدې اختراع:

احيانا د الهی دين او اسمانی کتابونو په نوم سره باطلې عقيدې را پيدا کيږي چې د اللهﷻ له حکم سره صريح مخالفت لري اوپه هغې باندې عمل يو اعتقادي بدعت او مطلقه ګمراهي او شرک دی مثلا:

**الف: د خدای د ځوی نيولو بدعت**

د حضرت عيسیؑ پيروان چې د توحيد عقيده يې لرله او ټول مسلمانان و په ټولو پيغمبرانو او اسمانی کتابونو يې ايمان درلود او حضرت عيسیؑ هم هوی د توحيد عقيدې ته را بللي و، ولې د وخت په تيريدو او ددښمنانو په دسيسو سره يې حضرت عيسیؑ د اللهﷻ ځوی و وايه، او ددې په ځای چې د يو الله عبادت وکړي د حضرت عيسی په نوم يې تصويرونه او مجسمې جوړ ې کړې او خپلو عبادت ځايونو کې يې کېښودې چې داد مسيحيانو عقيده کې يو بد بدعت و.

**ب: الله ﷻ د واسې لټولو بدعت**

ټولو پيغمبرانو خلکو ته ويلي ﴿ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ۝٢﴾ «چې الله بی‌نيازه دی» او د اللهﷻ د بی نيازی معنا داده چې پادشاهانو غوندې واسطې ته ضرورت نلري، کله چې څوک د پاچا خوا ته ځي د هغو عيبونو له وچې چې پاچايان يې لري

نشي کولی مستقیما ورسره محبت وکړي، یا دا چې دغه شخص ډېر مصروف وي او یا زمونږ مشکل نشي درک کولي، او یا هم نه غواړي هر چا سره ملاقات وکړي، بناء خلک مجبوریږي چې د وزیرانو سکرترانو، بادیګار دانو، محافظینو او غیره له لاری هغوی سره تماس ونیسي په قران کریم کې لولو چې ﴿ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ۝٢﴾ «الله بی‌نیازه دی»، د الله جَلَّ جَلَالُهُ بی‌نیازي پدي معنی ده چې د پاچا یانو غوندې نده چې ده سره د اړیکو لپاره واسطو ته ضرورت وي، بلکی الله جَلَّ جَلَالُهُ واسطي ته اړتیا نلري، د واسطې لټونې بدعت هغه وخت په اعتقاداتو کې پیدا کیږي چې الله جَلَّ جَلَالُهُ ته د نور پاچانو تصور وکړو، او داسې ګمان وکړو چې څرنګه پاچایانو او ریس جمهورانو ته د رسیدو لپاره سکرترانو، وزیرانو، بادیګاردانو او غیره ته ضرورت لرو او انسان نشي کولی پرته د دوی له مشورو او هغوی ته ورسیږي او هغوی ته خپل مشکل بیان کړی دوی داسې فکر کوي چې الله جَلَّ جَلَالُهُ به هم همدغسي د پاچاینو او ریس جمهورانو په څیر واسطو ته اړتیا لري چې دغه تصور کاملا د اسلامی معتقداتو پر ضد دی، ځکه الله جَلَّ جَلَالُهُ مسلمان بنده ته نهایت نزدې دی او واسطه بازی ته کوم ضرورت نلري.

امام قرطبی د الجامع الاحکام القران تفسیر کې وايي: حضرت قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي: کله چې دوی ته وویل شي ستاسې رب څوک دی؟ ستاسې خالق څوک دی؟ اسمان او ځمکې چا پیدا کړي دی؟ څوک له اسمان څخه اوبه راتویوی؟ په ځواب کې وايي: الله جل جلاله.

کله چې ورته وویل شی: نو ولې بیا دغو بتانو ته عبادت کوي؟ وايي: ترڅو مونږ الله جَلَّ جَلَالُهُ ته نزدې کړي، او د الله جَلَّ جَلَالُهُ په وړاندې زمونږ شفاعت وکړي.

له حضرت زین بن اسلم او ابن زید څخه روایت دی چې ﴿إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ﴾ زمونږ لپاره د شفاعت کولو، او الله جَلَّ جَلَالُهُ ته زمونږ د نزدې کولو په منی سره ده امام ابن کثیر وايي: داد هرې زمانی د مشرکانو خبرې دي او ټول پیغمبران د همدغې عقیدې په ضد او منع کولو لپاره راغلي دي او خلک توحید او د یو الله جَلَّ جَلَالُهُ عبادت ته را غواړي. او ورته یي وویلې داد مشرکانو خبرې دي چې له ځانه یې اختراع کړي دی، الله جَلَّ جَلَالُهُ دغسي اعمالو ته اجازه نه

ورکوي په هغو رضا نده، بلکې هغه بد ګڼي او له دې کاره يې منع کوي، علام ابن کثیر زیاتوي: اللهﷻ خبر ورکړی دی چې ملایک که په اسمان کې وي او یا مقربې وي ټول د اللهﷻ بندګان دي او پرته د هغه له امر څخه چا ته شفاعت هم نشي کولی، ملایک لکه د پاچایانو والیانو غوندې ندی چې دپاچا له خوښې پرته شفاعت وکړي ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِی...﴾ الله تعالی دروغجنو او ناشکرو ته هدایت نکوي. ځکه اللهﷻ خپلو بندګانو ته ډیر نزدې دی، ﴿إِذَا سَأَلَكَ عِبَادِی عَنِّی...﴾ «کله چې زما بندګان زما پوښتنه درڅخه وکړي نو زه نزدی یم».

**ج: له اللهﷻ څخه پرته د (استعانت) کمک غوښتلو بدعت**

د قران کریم قطعی حکم دادی چې مسلمانانو په ټولو لمنځونو کې خپل تعهد وکړي چې ﴿إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ۝٥﴾ «ای الله خاص تا لره عبادت کوو او خاص له تا نه مرسته غواړو»، او پخپل دې تعهد باندې له لمانځه څخخه بهر هم ودریي، نه خپل عبادت بل چا ته وکړی او پرته له اللهﷻ څخه بل چا نه مرسته وغواړي: ﴿قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱللَّهِ وَٱصۡبِرُوٓاْۖ﴾ [الأعراف: ١٢٨] «موسی خپل قوم ته وویل له الله مرسته وغواړی او صبر وکړي». قرآن کریم مسلمانان په مرسته غوښتلو کې دوه اصولو ته متوجه کوي، اول صبر او بیا د لمانځه کول او د اللهﷻ له ذات سره مستقیم ملاقات او کومک غوښتل. ﴿وَٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى ٱلۡخَٰشِعِينَ ۝٤٥﴾ [البقرة: ٤٥] «او کومک وغواړی الله څخه په صبر او لمانځه سره او بی‌شکه دا لمونځ سخت دی مګر په خاشعینو» د خلکو ترمنځ انسی او جنی شیطانان هڅه کوي ترڅو د خلکو ترمنځ د غیر الله د عبادت او او له غیر الله د کومک غوښتلو بدعت ته رواج ورکړي.

**د: د ونو دریشو د مقدس ګڼلو بدعت**

نباتات هغه مخلوقات دي چې د انسانانو د خدمت لپاره پیدا شوي دي، او مومن انسان کولی ي له ټولو نباتاتو څخه د خپل ژوند د اړتیاو لپاره استفاده وکړي نباتات کوم قدسیت نلري، بت پرستانو به ځینې نباتات مقدس ګڼل او د

هغو تعظیم او عبادت به یې کو چې د دوی دا کار شرک دی، متاسفانه نن په ډیرو اسلامی هیوادونو کې هم زیاتې ښځینه خپل اولادونه د ځینو ونو ریشو ته وروړی او هغه مقدس ګڼی چې دغه عمل یو ډیر بد، بدعت دی، حینې تابعین روایت کوي چې کله د ونې لاندې بیعت وشو مونږ هغه ونه څو کله وروسته نه پیژندله، او شاید هم صحابه و ددې لپاره چې دغه ونه مقدسه ونه ګڼل شي ویستلې وي.

**ه: مخلوق د رکوع او سجدې کولو بدعت**

یو خطرناک عبادت چې د انسان عقیدي ته زیات ضرر رسوي مخلوقاتو ته رکوع او سجده کول دي، کله چې یو مسلمان پوه شي چې الله ﷻ ورته تعلیم ورکړي دي چې ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ﴾ «خاص تاته عبادت کوو»، بناء انسان ته جایز نده چې رکوع او سجده چې دوه ځانګړي الهی عبادتونه دي هغه مخلوق ته ترسره کړي.

**و: زیارتونو ته د قربانۍ ورلو بدعت**

یو خطرناک بدعت چې انسان د ایمان له دایرې څخه باسي او د مشرکینوصفت کې یې دروي، د یو مخلوق په وړاندې د حیواناتو ذبح کول دي، دغه مخلوق مړوي او که ژوندی خو دده په وړاندې د حیواناتو ذبح کول جایز ندي.

**ز: د زیارت د لنګر ګرمولو بدعت**

د اسلام مقدس دین کې مقبرو او زیارتونو ته تلل پدې شرط جایز دي چې انسان هلته صرف خپل مرګ په یاد کړي او د نورو څخه عبرت واخلي او له قبر څخه د څه شي غوښتل او هغوی ته نذر کول د هغه قرانی آیات صریح مخالفت دي چې مرسته او کومک غوښتل یې الله ﷻ پورې خاص کړي دي ﴿إِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ مونږ همیشه لمانځه کې وایو چې ای الله ﷻ خاص خاص خاص له تانه مرسته غواړو او که مونږ بل چا ته نذر وکړو نو ددې قرانی آیات مخالفت مو کړی دی بناء د زیارت د لنګر ګرمول ډیره لویه ګناه ده چې د قران آیات ﴿إِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ سره صریح مخالفت دي.

**ج: د دروازو، دیوالونو، قبرونو او غیره ښکلولو بدعت**

په ځینو اسلامی هیوادونو کې چې د پردیو له اعتقاداتو متاثر شوي دی دروازې، دیوالونه قبرونه ښکلوي دغه اعمال د اسلام له نظره کاملا منفی او ناجایز دي، او دې شیانو ته قدسیت ورکول انسان ته عقیدتي مشکلات را پیدا کوي، په اسلامي روایاتو کې یوائې د حجر الاسود ښکلول روا دي او هغه هم ددې لپاره چې پیغمبرعلیه السلام هغه ښکل کړې ده ځکه هغه له جنت څخه راغلې ده، حضرت عباس رضي الله عنه له حضرت عمر رضي الله عنه څخه روایت کوي چې هغه حجر الاسود ته راغی ښکل یې کړه ا وبیاې ورته وویل: زه پوهیږم ته یوه تیګه یې چې نه ګټه رسولی شي او نه تاوان، ا وکه پیغمبر نه وې ښکل کړې نو ما به هم هیڅکله نه وي ښکل کړي[1].

دغه روایت د حضرت عمر رضي الله عنه د ایمان قوت ښایي چې هغه څومره قوی عقیده درلوده چې دغه شیان چا ته نفع او ضرر شي رسولی او د حجر الاسود ښکلول یوائې د پیغمبرعلیه السلام د متابعت لپاره و خو د نورو شیانو ښکلول هیڅ نفع او فایده نلري بلکی دا چې د قرانی ارشاداتو او نبوی سنتو خلاف عمل دی نو یو ډیر خراب بدعت دی.

**ط: د مراد پوره کیدو لپاره د قلف کشولو بدعت**

ځینې خلک زیارتونو ته ځي او هلته هغه قلفو ځوړندوي چې چین جوړ کړي وي او بیا فکر کوي چې که دغه قلف کش کړو او خلاص شي نو زموږ مراد حاصلیږي دغه کار کاملا د اسلامي عقیدې مخالف دی چې مسلمانان باید له دغسې خرافاتو څخه ځان وساتی.

---

١ - «حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ الْأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَابِسِ بْنِ رَبِيعَةَ عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ جَاءَ إِلَى الْحَجَرِ الْأَسْوَدِ فَقَبَّلَهُ فَقَالَ إِنِّي أَعْلَمُ أَنَّكَ حَجَرٌ لَا تَضُرُّ وَلَا تَنْفَعُ وَلَوْلَا أَنِّي رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُكَ مَا قَبَّلْتُكَ» بخاري حديث ١٤٩٤

**ی: د قبرونو د خاورو خوړلو بدعت**

له اسلامی متعقداتو څخه ځينې بی خبره خلک چې کله د نيکانو خلکو قبرونو ته ورځي نو د برکت په نوم سره د هغه ځای خاونره خوري چې دا کار د اسلامی عقيدې سره کاملا مخالف دی.

**ک: مړو ته د حيواناتو ذبح کولو بدعت**

نذر په اسلامی شريعت کې يو رنګ عبادت دی چې انسان هغه پخپله غاړه مني او او صرف د اللهﷻ په خاطر ادا کيږي او قربانی هم صرف د الله لپاره وی متاسفانه چې ځينې خلک نذر، قرباني او د حيواناتو ذبحه کول ځينو اشخاصو پورې تړلي او حينې خويې ان زيارتونو ته وړي او هلته يې ذبح کوی چې د اد اسلامي عقيدې مخالف کار کار دی.

د قريشو مشرکينو لمونځ اللهﷻ ته او قرباني به يې بتانو ته کوله چې دا کار يې شرک وګڼل شو.

**د سپند کولو بدعت**

دود کول يا د معبودانو مقابل کې او يا مقدسو ځايو کې دځه شي سوحول دهندوييزم او مسيحيت له بقسونو څخه دی بت پرستان د خپلو بتانو مقابل کې خوشبيويانی، او بخارونه دودوی يوه ورځ مې د يوې کليسا په تلويزونی برنامه کې وليدل چې کشيشان د کليسا د ننه يو رنګ واړه واړه قطعی سپندونه دود کوي، د اسلام مقدس دين کې دغسې خرافات ځای نلري ا دود کول څخه عبادت ندی، بناء سپند کول او هغه ته د عبادت او ثواب فکر کول يو رنګ بدعت دی، چې پدې هکله کوم آيات يا حديث ندی راغی چې څوک دې په سپند دود کولو سره عبادت وکړي متسافانه چې نن ځينی مسلمانان د غير مسلمانانو څخه متاثر شوي دي او دا رواج شوی ده چې دا بوټی سوچه دی چې اسلامی شريعت له مخی کوم اساس نلري.

**ل: د مريو مقدس ګڼلو عبادت**

د مريو مقدس ګڼل په ځينو معتقداتو کې شته دي په قديم الزمان کې به بت پرستو او مشرکانو انسانانو څه طبيعي شيان مقدس ګڼل او د هغه عبادت يې کو لکه مرۍ، ستورى، ونې، تيګې او غيره.

حضرت عقبه بن عامر وايي چې رسول کريمﷺ فرمايي: چا چې تميمه (مرۍ) واچوله اللهﷻ دې ورته کار پوره نکړي، او چا چې ودعه (صدف) واچو اللهﷻ دې پرى نږدي، او يا هم سکون او ارامي ورنکړي[1]. په قاموس المحيط کې د تميمه په شرحه کې وايي «وهى حرزات كان الاعراب يعلقونها على اولادهم يتقون به االنفس اى العين بزعمهم» تميمه هغه مرۍ ده چې د جاهليت د وخت اعرابو به هغه پخپلو اولادونو ځوړندولې او غوښتل يې هغه له سترګو څخه پخپل ګمان وساتي[2].

همدارنګه د وديعه په هکله وايي: «والودع خرز ابيض تخرج من البحرتتفاوت فى الصغر والكبرشقها كشق النواة تعلق لدفع العين الواحدة وددعة وجمعه ودعات» يو سپينه مرۍ ده چې له بحر څخه را اخيستل کيږي او په وړوکوالي او لوى والي کې فرق لري د خرما د زړي اندازه ده او د سترګو نظر وهلي لپاره ځوړنديږي[3].

او په حديث شريف کې دي چې پيغمبر عليه السلام فرمايي: «مَنْ عَلَّقَ تَمِيمَةً فَقَدْ أَشْرَكَ» چاچې مرۍ ځوړنده کړه نو شرک يې وکړ[4].

---

١- «حَدَّثَنَا أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَخْبَرَنَا حَيْوَةُ أَخْبَرَنَا خَالِدُ بْنُ عُبَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ مِشْرَحَ بْنَ هَاعَانَ يَقُولُ سَمِعْتُ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ تَعَلَّقَ تَمِيمَةً فَلَا أَتَمَّ اللَّهُ لَهُ وَمَنْ تَعَلَّقَ وَدَعَةً فَلَا وَدَعَ اللَّهُ لَهُ» ١٦٧٦٣ مسند الشاميين / مسند احمد بن حنبل

٢- المحيط المحيط، المحيط المحيط، معلم بطرس البستانى، بيروت: مكتبة لبنان، (١٩٨٧م) ص: ٧٤

٣- المحيط المحيط، ص: ٩٦٣

٤- «حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُسْلِمٍ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ أَبِي مَنْصُورٍ عَنْ دُخَيْنٍ الْحَجْرِيِّ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْبَلَ إِلَيْهِ رَهْطٌ فَبَايَعَ تِسْعَةً وَأَمْسَكَ عَنْ وَاحِدٍ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ بَايَعْتَ تِسْعَةً وَتَرَكْتَ هَذَا قَالَ إِنَّ عَلَيْهِ تَمِيمَةً فَأَدْخَلَ يَدَهُ

داکتر علي شريعتي وايي: انسانان ان له تو تم څخه نيولې، ګرده اسماني او ښايسته مری د فتی ششم په نوم سره دا نيمسيم په نوم د نيکه له روحه، له طبيعي شيانو، له ستورو، او ځينو ونو، او رب الانواع څخه نيولې د يوې تيګی له ټوټې څخه نيولي، د دې ټولو عبادت يې کو، مجسمې يې جوړولې، او عبادت يې کو او ټول عمر يې د هغوی په لاره کې فداکاری کوله بلکې په ساده ګی سره يې خپله وينه ورکوله[1].

اوس د مسلمانانو ترمنځ هم متاسفانه د ځينو تيګو او مريو د مقدس ګڼلو بدعت رواج شوی دی او هغه پخپلو ماشومانو ځوړندوي او هغه مقدس او د نظر لرې کوونکی ګڼي داسې حال کې چې د اسلام مقدس دين کې دغسې اعمال هيڅ اجازه نلري او بدو بدعتونو څخه يې محاسبه کړی دی چې په مسلمانانو کې رواج شوی دی.

**م: د مميز نخودو بدعت**

د مميز نخودو نذر چې د مشکل کشا نذر ورته وايي يو بل بدعت دی چې په مقدساتو کې شامل شوی او له اسلامي عقيدې او دين څخه ناخبره خلک يې ترسره کوي، د اسلام مقدس دين کې د مسلمانانو يوائنی مشکل ګشا ذات الله ﷻ دی، او ددی لپاهر چې الله ﷻ زمونږ مشکلات رفع کړي هغه فرمايي ﴿وَٱسْتَعِينُواْ بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ﴾ «په صبر او لمونځ کومک وغواړي»، بناء مسلمانان د مشکلاتو پر وخت لومړی صبر کوي او بيا له هغه وروسته مستقيما د لمانځه له لارې الله ﷻ سره ارتباط نيسي خپل مشکلات بيانوي او هغه وخت کې چې نيک اعمال لري الله ﷻ يې مشکلات لرې کوي. خو دغسې نذرونه په اسلامی شرعيت کې ناروا دي دسيئه بدعتونو له ډلې څخه دي چې مسلمانان بايد دعقيدې د پاکوالی لپاره له دغسې کارونو ځان وساتی.

---

فَقَطَعَهَا فَبَايَعَهُ وَقَالَ مَنْ عَلَّقَ تَمِيمَةً فَقَدْ أَشْرَكَ» حديث نمبر(١٦٧٨١) مسند الشاميين مسند احمد بن حنبل رحمه الله

١- جهان‌بينی و ايديولوژی تاليف دکتور علی شريعتی مجموعه آثار (٢٣)، ايران: چابخانه حيدری، ١٣٨٢ ص: ٤٤- ٤٥.

**نک د نذر لپاره دماشومانو د ویښتو پریښودلو بدعت:**

ځینې خلک زیارتونه ته ځي او یا کوم بل شخص ته ورځي او نذر کوي چې که چیرې یې اولاد پیدا شو نو لنګر به یې ګرموي او یا به حیوان ورته ذبح کوي بناء د طفل د تولد په وخت کې د هغه یو اندازه ویښته ترڅو هغه نذر بوره کړي که دغه نذر د الله ﷻ لپاره وي بیا ویښتو پریښودلو ته اجازه نشته او که د کوم زیارت یا شخص لپاره نذر وي چې د اشخاصو یا زایرت لباره ناروان او مرتکب یې ګنهګار دی.

## ۲– د نوي عبادت اختراع:

د نوی عبادت د اختراع بدعت هغه وخت پیدا کیږي چې یو جاهل انسان دینی رهبریت په لاس کې واخلي او د خپل فکر مطابق عبادتونه اختراع کړي او هغه د اسلام جز وګڼی او دده پیروان ددغه له قران او سنتو بی خبر شخص خبری د اسلام جز وګڼی او په هغه عمل وکړي، او یا هم د ځینو له دینه بی خبرو اشخاصو په واسطه څه رواجونه ددینی عبادت په نوم مطرح شي، چې دغسي بدعتونه په لاندې ټکو کې مطالعه کولی شو:

**الف: د الهاک بدعت**

ځینی خلک د چا د مرګ په ورځ د متوفی اقارب مجبوروي ترڅو یو څه غذا جوړه کړي او په صلوا باندې التکاثر سورت ولولي، بیا د څلویښت شپو لپاره دغه غذا مسجد ته ولیږي، او که څوک دا کار ونکړي هغه ته د ګنهګار فکر کوي، او تصور کوي چې د مړی روح کور ته راځي او د غذا په نه لیږلو سره د متوفی روح خفه کیږي، دغه عمل عبادت ګڼل یو رنګ نوی عبادت پیدا کول دي چې دیته بدعت وایي.

**ب: د جشنونو بدعت**

د اسلام مقدس دین کې صرف دوه اخترونه شته دي چې یو یې وړکی اختر دی او بل لوی اختر او په دواړو ورځو کې د پیغمبر د سنتو مطابق څه عبادتونه ترسره کیږي لکه لمونځ قربانی، دوستانو کره تلل د نوي لباس اغوستل او

غيره ځينی خلک څه نورې ورځې مقدسې ګڼی او دغه ورځې د عبادت لپاره بولي او د اختر غوندی قدسيت ورکوي داسې حال کې چې پدې هکله کوم آيات يا حديث ندی راغلی مثلا د پيغمبر د ميلاد په ورځ عبادت چې دغسې نظر لرل يو بدعت دی ځکه دپيغمبرعليه السلام په سنتو کې ددې ورځې په هکله څه ندي راغلی همدرانګه ددې ورځې تجليل د پيغمبر سنتو او صحابه و په عمل کې نشته، او که دا ورځ مونږ د څه عبادت لپاره خاص کړو نو د پيغمبر د سنتو مخالفت مو کړی دی، خو که ورځ خاص نکړو بلکې مختلفو ورځو کې د پيغمبر سيرت او سنت تشريح او توضيح کړو او نورو ورځو غوندې يې وګڼو او صرف خلکو ته د حق رسولو لپاره وي دغه کار د علم د رسولو لپاره ده. دا رنګه ځينی فکر کوي چې په نوروز کې خوښي کول عبادت دی چې دا ګمان هم غلط دی، ځکه د پيغمبر سنتو کې دغسې څه شی نلرو.

**ج: د مخصوصو ورځو بدعت**

د اسلام مقدس دين کې څه مقدسې ورځې شته دي چې په دغو ورځو کې مخصوص عبادتونه بيان شوی دی، مثلا عاشورا يوه مقدسه ورځ ده چې پدې ورځ روزه نيول سنت دي، د عرفې ورځ هغه ورځ ده چې حاجيان عرفات ته ځي، او غير حاجيانو ته روزه نيول سنت دي[1]، د واړه آخرت په ورځ د لمونځ کول او دوستانو کور ته تلل سنت دي، د لوی اختر په ورځ د لمونځ کول، قرباني کول او خوښي کول سنت دی – حضرت ابوقتاده وايي چې نبی کريم فرمايي: زه داسې ګڼم چې اللهجل جلاله به د عرفې د ورځې دروزه لپاره د يو

١ – اشاره به حديث شريف: «عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّ رَجُلًا مِنْ الْيَهُودِ قَالَ لَهُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ آيَةٌ فِي كِتَابِكُمْ تَقْرَءُونَهَا لَوْ عَلَيْنَا مَعْشَرَ الْيَهُودِ نَزَلَتْ لَاتَّخَذْنَا ذَلِكَ الْيَوْمَ عِيدًا قَالَ أَيُّ آيَةٍ قَالَ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمْ الْإِسْلَامَ دِينًا قَالَ عُمَرُ قَدْ عَرَفْنَا ذَلِكَ الْيَوْمَ وَالْمَكَانَ الَّذِي نَزَلَتْ فِيهِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ قَائِمٌ بِعَرَفَةَ يَوْمَ جُمُعَةٍ» حديث نمبر (٤٣) کتاب الايمان، صحيح البخاري

کال مخکې او یو کال وروسته ګناهونه عفوه کړي[۱]. اوس مهال په ځینو هیوادونو او خصوصا زمونږ په هیواد کې ځینې ورځو ته خصوصیت ورکوي او څه کارونه کوي چې عبادت یې ګڼي لکه د مړی نه وروسته دویمه ورځ، دریمه ورځ، د جمعيي شپه، څلویښتي او کال یې د عبادت خیرات ا وصدقاتو ورځ ګڼي.

**د: د سمنک بدعت:**

سمنک د افغانستان د خلکو او د ایران، ازربایجان، تاجکستان او ځینو همسایه هیوادونو یو ملي کلتور دي، چې دا رواج د اسلامی معقتداتو جز ندي، او نور اسلامي هیوادونه دغسي څه نه پیژنی، اوس که دغه کار د عنعنوی خوراک او رواج په حیث وشي، څه خبره نده، خو که د یو عبادت او نذر په رنګ یي وکړو بیا د اسلام مقدس دین کې یو رنګ عبادت دي، چې دغسي عقیده بیا د اسلام پر سینه یوه ضربه ده، ځین فکر کوي چې سمنک هغه نذر دی چې بیبیانو کړی دی. ولې معلومه نده چې کومو بیبیانو کړی دی، کله چې داسلام تاریخ مطالعه کړو په نبوی عصر او له هغه وروسته داسې قهرمانې ښځینه شته چې هر یوې د جهاد میدان کې قهرماني ښودلې ده، سمیهرضي الله عنها د ابوجهل په وړاندې مقاومت وکړ او د ابوجهل په نیزه په شهادت ورسیده او د اسلام په کې یي د اولین شهید نوم په طلایي قلم سره ولیکل شو او د قیامت تر ورځې به په افتخار سره یادیږي، بی بی خدیجهرضي الله عنها خپل ټول مالونه د اللهﷻ لاره کې قربانی کړ او دیو با شخصیته ښځې غوندې یې ژوند وکړ، بی بی فاطمه د رسول اللهﷺ لور یوه پاکه او با عفته ښځه وه چې تاریخ یي همیشه د پاکۍ او صفایي یادونه کوي او د ایماندارو ښځو لپاره یوه نمونه وه بی بی نسیبه هغه قهرمانه ښځه وه چې د احد په غزا کې یي د اسلام له

---

۱- «عَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ صِيَامُ يَوْمِ عَرَفَةَ إِنِّي أَحْتَسِبُ عَلَى اللَّهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ وَالسَّنَةَ الَّتِي بَعْدَهُ قَالَ وَفِي الْبَاب عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ أَبُو عِيسَى حَدِيثُ أَبِي قَتَادَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ وَقَدِ اسْتَحَبَّ أَهْلُ الْعِلْمِ صِيَامَ يَوْمِ عَرَفَةَ إِلَّا بِعَرَفَةَ» حدیث نمبر۵۸۰ کتاب الصوم عن رسول الله صلي الله علیه وسلم، سنن الترمذی

پيغمبر څخه پخپله توره دفاع کوله او د تورو او غشو ۱۲ زخمونه يې وخوړل چې تر يو کاله يې تداوي روانه وه. اوس ځينې ښځې تر سهاره رقص کوي او سندرې وايي او خپل غړونه نامحرمو ته اوروي اوس نو دوی کومې بی بی تا ځان منسوبوي، د ګناه کول او بيا هغه يو اسلامی شخصيت ته منسوبول نه ښښونکي ګناه ده.

**د خوړې شعلي بدعت:**

يو رنګ غذا ده لکه نورې غذاګانې چې ځينو هيوادو کې رواج ده، ولې اسلام ته يې منسوبول او په معينه ورځ پخول او عبادت ګڼل دا بدعت دی چې بايد ځان ترې وساتو.

**د ديکچي بدعت:**

شير برنج يو رنګ غذا ده چې د نورو غذاګانو په ډول په ځينو فاميلونو کې تياريږي خو د اسلام مقدس دين کې د شعلي په نوم سره څه نشته او نه عبادت دی او که څوک دغه د کار د اسلام او نذر په نوم سره کوي دا بدعت او سړي ګنهکار دی.

**په قبرونو د شمعې بلولو بدعت:**

په قبرونو باندې د شمعی لګول په هيڅ اسلامی روايت کې ندي راغلي او پرته له اسراف او بيځايه مال لګولو څخه بل څه ندي د شمعي لګول نه عبادت دی او نه ثواب لري او نه په کوم آيات او يا حديث کې راغلي دي چې مړو ته څو شمعي ولګوې او ددين په نوم دغسي کار بدعت دی.

**د اسلام په نوم د دنيا د ترک بدعت:**

د اسلام مقدس دين يو کامل دين دی چې د ژوند هره ساحه کې عمومی احکام لري. او رهبانيت او ګوشه نشينی په اسلام کې ځای نلری د اسلامی شخصيتونو په نوم د بدو کارونو کولو: مسلمانان بايد اسلامی شخصيتونو ته احترام وکړي او د هغوی د نوم اخيستلو سره (رض) يا (رح) او غيره محترمانه الفاظ وکاروي، په ننی عصر کې چې زيات بدعتونه کيږي دادی چې د لويو شخصيتونو د زيارت په نوم ورځي او د احترام پر حای هغه اعمال کوي

چې دی شخصیتونو د دوی پر ضد څومره جهاد کړی دی. د نوی کال په سر کې زمونږ ډېر خلک د مزار شریف ښار ته ځی او هلته د علی‌رضی الله عنه د زیارت په بهانه جدید کارونه کوي لاره کې عجیب او غریب لباس اغوندي، بی معنی او مبتذل شیانو باندې سفر ختموی او مزار ته درسیدو سره سم د تاجکیانو په کنسرتونو او رقصونو کې برخه اخلي او دغه ټول جنایتونه د اسلامی اشخاصو په نوم کیږي. اوکه څوک دغو شخصیتونو احترام وکړي لازمه ده د دوی سیرت سره سم عمل وکړو.

**زیارت ته د ناوې وړلو بدعت:**

ناوې او شاوو خپل ژوند په مقدسو الفاظو پیلوي او لازمه ده چې دواړه خپل دا دزواج عقد له هماغه قدسیت باندې حفظ کړي، او خپل محفل د پیغمبر په طریقه ترسره کړي خو متاسفانه دې ورځو کې مسلمانان د واده پر وخت الهی احکام هیروي او د نفسانی خواهشاتو مطابق لکونه افغانۍ بی ځایه مصرفوي اوپه هغې افتخار کوي همدرانګه له واده وروسته ناوې او شاوو شاه دوشمشیره زیارت ته بیایي دغه کار چې د ثواب لپاره کوي د ثواب په ځای ګناه ده ځکه هیڅ آیات او حدیث کې ندی راغلي چې ناوې او شاوو دې زیارت ته بوځی، هغه هم هغه ناوې او شاوو چې ټوله شپه یي لوڅو لباسونو، نامحرمانو سره عکسونو، رقص او طرب سره تیره کړې وي دا کار یواځې دانه چې ثواب لري بلکې د الله‌جل جلاله دغضب سبب کیږي.

**۳– د جاهلانو فتوا ورکول او د شرعی حکم بدلیدل په قومی حکم:**

په اسلامی شریعت کې فتوا یو ډېر مهم او دقیق کار دی چې ددې صلاحیت یې یوه ډله علماوو ته ورکړي چې د فتوا اهلیت لري، او ان د علماو منځ کې هم هر څوک مفتی کیدلی نشي بلکې تنها هماغه په شرعی او دینی امورو کې فتوا ورکولی شي چې د اجتهاد درجې ته رسیدلی وي. د فتوا خطر پدې کی دی چې مفتی د یو شي په حلال والی او حراموالي فتوا ورکوي. او یا هم یو شی جایز او یا ناجایز ګڼي، د یو شي د حلال او حرام یا جایز او ناجایز والی صلاحیت یواځې الله‌جل جلاله پورې مربوط دی. او هیڅوک حق نلري چې څه شی

حلال یا حرام کړي مفتی هڅه او کوښښ کوي چې د قرانی او نبوی سنتو اجماع او د امت د مجتهدینو د قیاس په استناد سره د یو شي د حلال والی او حراموالی په هکله نظر ورکړی[١].

که څوک علم ونلري هغه کیدلی شي یو حلال شی حرام او یا یو حرام شی حلال کړي چې دا کار بیا د الهی احکامو پر ضد باندی دی، او مستقیما د اللهﷻ مقابله ده. نني عصرکې یو خطرناک بدعت د ځینو جاهلانو فتوا ورکول دی چې د خپلې خوښی فتوا ورکوی د مثال پّ ډول: کله چې د کمپیوتر په هکله خبرې کیږي هغه څوک چې کمپیوترنه پیژنی او یواځې اوریدلي یا لیدلي یې دي چې د فلانی کمپیوتر کې خراب عکسونه و کله چې هغه نه د کمپیوتر په هکله پوښتنه وشي فورا هغه حرام ګڼي او نورو ته تشویش پیدا کوي داسې حال کې چې کمپیوتر رادیو تایپ انترنت تلویزون ټول وسایل دی او مونږ نشو کولی وسایلو باندې د حلال یا حرام حکم وکړ مونږ نشو ویلی چې ګیلاس حرام دی ولې نظر په استفاده ددغې وسیلي یا جواز ورکول کیږي یا عدم جواز، نو که مثبته استفاده ترې وشوه جایزده او که منفی وشوه ناجایز او حرام ده. ځینې وخت ډیر خلک چې شریعت کې تخصص نلري ځینی دینی مسایلو کې نظر ورکوي یوه ورځ مې یو ولیده چې ښځو ته یې د پردیو لاسونو ښکلولو اجازه ورکوله او ویل یې کله چې زما لاس ته وګورۍ هلته د اللهﷻ نوم لیکلی دی او څوک یې چې ښکلو یي هه زما لاس نه بلکې د الله نوم ښکلوي، دی پدې اختراع سره دوه ګناوې کوي یو حرام ته حلال ویل بل د الله نوم ته بی احترامي کول ځکه له همدې لاس څخه په تشناب کې هم استفاده کوي.

---

١- «حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي أُوَيْسٍ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللَّهَ لَا يَقْبِضُ الْعِلْمَ انْتِزَاعًا يَنْتَزِعُهُ مِنْ الْعِبَادِ وَلَكِنْ يَقْبِضُ الْعِلْمَ بِقَبْضِ الْعُلَمَاءِ حَتَّى إِذَا لَمْ يُبْقِ عَالِمًا اتَّخَذَ النَّاسُ رُءُوسًا جُهَّالًا فَسُئِلُوا فَأَفْتَوْا بِغَيْرِ عِلْمٍ فَضَلُّوا وَأَضَلُّوا قَالَ الْفِرَبْرِيُّ حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ قَالَ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ هِشَامٍ نَحْوَهُ» حديث نمبر(٩٨) كتاب العلم، صحيح البخاري.

لار میندل او ځان مفتی جوړول دننیو جنایتونو وسیله: د پیغمبر یو ژوند جوړونکی حدیث دادی چې فرمایي: «دع ما یریبك إلی ما لا یریبك»[۱] هغه څه چې تا شک کې اچوي د هغه څه لپاره پرېږده چې تا شک کې نه اچوي. صحابه کرامو او حقیقی مومنانو همیش دا حدیث په نظر کې نیولی و او نیسي یې، او کله چې کوم کار، خوراک، محفل، رواج او یا غیره امور د دوی په اند مشکوک وي او له حلال یا حراموالي څخه یې په کامله توګه متیقن نه وي له هغه نه ددې حدیث شریف په اساس ځان ساتي، همدرانګه یو موضوع کې د نظر پر وخت هغو پوهانو او علماو ته ورتلل چې اسلامی شریعت کې دفتوا او حکم صلاحیت درلود، او د صحابه و وخت کې خویې له فتوا څخه ځان ساتی هغوی به ویل: مفتی د الله ﷻ په نیابت خبرې کوي، او لازمه خپله فتوا کې په کامله توګه دقیق اوسي او باید هغه څوک فتوا ورکړي چې په ټولو الهی احکامو عالم وي او هغه علوم یې ویلي وي چې ده کې د فتوا لیاقت پیدا کوي، په همدې لحاظ کله به چې څوک کوم صحابی ته ورغی هغه به له فتوا ځان ساته او هغه شخص به یې بل صحابی ته واستوه چې نسبت ده ته به ډېر عالم و، او بیا به هغه هم جرئت نکو او ورته به یېې ویلې که له ده څخه یو بل عالم ته ورشي او نظر ترې وغواړي زمونږ په عصر کې د ډېرو خلکو د حرام خوړلو ستونزه همدغه ده چې ډېرو خلکو ځان څخه مفتیان جوړ کړي دي، او ځانته یې پخپل نظر له حرامو د خلاصی لارې جوړې کړې دي او کله چې داسې ستونزې سره مخ شي چې دی شک کې اچوي خپله فورا نظر ورکوي او ځانته بهانه پیدا کوي، او که کوم عالم ورته ووایي چې دلته اسلامی حکم داسې دی هغه باندې مسخرې کوي او دا چې ټولنه کې ددغسې خلکو تعداد زیات دی له

---

۱- «حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ إِدْرِيسَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ عَنْ أَبِي الْحَوْرَاءِ السَّعْدِيِّ قَالَ قُلْتُ لِلْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ مَا حَفِظْتَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حَفِظْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلَى مَا لَا يَرِيبُكَ فَإِنَّ الصِّدْقَ طُمَأْنِينَةٌ وَإِنَّ الْكَذِبَ رِيبَةٌ وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ قَالَ وَأَبُو الْحَوْرَاءِ السَّعْدِيُّ اسْمُهُ رَبِيعَةُ بْنُ شَيْبَانَ قَالَ وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ بُرَيْدٍ فَذَكَرَ نَحْوَهُ». حدیث نمبر (۲۴۴۲) کتاب صفة القیامة الرقایق والورع عن رسول الله صلي الله علیه وسلم، سنن الترمذي.

خپل ډېروالي څخه په استفاده هغه شخص ملا متوي، او زرګونه بی ځایه دلیلونه ورته راوړي او فکر کوي چې دلته له حسابه خلاص شو نو همیش به خلاص وي.

ولې باید پدې پوه شي چې د یني امورو کې چل او فریب اصلا ځان ته چل ورکول دي ځکه د انسان د بد عمل نتیجه خپله ځانته ګرځي او هر انسان د هر وزې عمل مطابق محاسبه کیږي، او که څوک قصدا دچا د دوکه کوله یا د ځان او فامیل د تیر ویستلو لپاره حلال حرام یا حرام حلال کړي ګناه یې د کفر محلې ته رسیږي- العیاذ بالله د مثال په ډول د اوس مهال رشوت خوړونکی د رشوت نوم تغیروی، شیرنی، تحفه او هدیه ورته وایي او که څوک ورته ووایي چې هر رنګ وي خو حرام ده، نو بیا وایي چې دا خو شرایط همداسې دی او که نه پرته له دې خو ژوند ډېر سخت دی، دوی د رشوت په پیسو په ډېرو لوکسو موټرو، مجللو کورونو، رنګارنګ او یو بل پسې میلمستیاګاني وهي. داسې حال کې چې متدین انسان په حلالو پیسو پرته له شخصي موټر لرلو، یا لوکس کور او میلمستیاګانو څخه خپل شرافتمندانه ژوند کوي یو بل ټکی چې دلته د یادولو وړ دی د یو شرعی حکم بدلول دي په هغه حکم سره چې له پخوانیو رواجونو او عادتونو سره هم موافق وي. ځینې غواړي د اسلام هغه مسایل تطبیق کړي چې د دوی له رواجونو، رسمونو، کلتورونو او غو ښتنو سره موافق وي او که چیرته ورسره ټکر وي نو بیایې پریږدي. یهودیانو هم همداسی فکر درلود، نو اللهﷻ ورته وویل: ﴿أَفَتُؤۡمِنُونَ بِبَعۡضِ ٱلۡكِتَٰبِ وَتَكۡفُرُونَ بِبَعۡضٖۚ فَمَا جَزَآءُ مَن يَفۡعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمۡ إِلَّا خِزۡيٞ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰٓ أَشَدِّ ٱلۡعَذَابِۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ٨٥﴾ «آیا په ځینې کتاب ایمان راوړې او په ځینی نور کافر کیږی، نو څه به وایي جزا د هغه کس چې دغه کار کوي په دنیا کې او د قیامت په ورځ په رد کیږي ډېر سخت عذاب ته او ندی الله ناخبره له هغه څه چې دوی یې کوي». یهودیانو ډېر بد صفت درلود او هغه دا چې کوم الهی حکم به د دوی له غوښتنو سره برابر و منلو یې او که کوم حکم به مغایرو هغه یې نه منلو د یهودیانو دغه قصه په قران کریم کې مونږ ته دعبرت لپاره بیان شوی ده، چې اللهﷻ دوی ته فضیلت ورکړی و خو کله چې

دوی چل شروع کړ نو د الله لعنت ورباندې وشو نو هغه مسلمانان باید له دې څخه عبرت واخلي چې عین د یهودو غوندې برنامه لري او د تطبیقوي یې.

مثلا د اسلام مقدس دین کې د قاتل جزا قصاص دی، او کله چې ثابته شي چې دا قتل قصدا شوی دی لازمه ده ترڅو متحدانه د الله ﷻ د حکم تطبیقولو کې هڅه او کوشش وکړو، ولې متاسفانه چې نن یې قصاص پدې پدل کړی چې د مقتول کور ته یوه نجلۍ ورکوي.

**۴– عبادت نوی سیستم یا نوې طریقه جوړول:**

عبادت چې د اسلام مقدس دین کې روا شوی دی هغه کې د پیغمبر ﷺ طریقه هم شرط ده، مثلا الله ﷻ روزانه پنځه وخته لمونځ په مسلمان باندې فرض کړی دی او د لمانځه کولو کې مسلمان باید د پیغمبر ﷺ طریقه رعایت کړی ځکه هغه فرمایي: «صلوا كما رأيتموني أصلي»[1] داسې لمونځ وکړی لکه ما چې وینی دسروی مستحق ګڼلي دی چې د هغه چپ لاس پوه نشي چې ښي لاس یې څه صدقه کړې ده[2].

---

١– عن مالك بن الحويرث قال: أتينا رسول الله صلى الله عليه وسلم ونحن شببة متقاربون فأقمنا عنده عشرين ليلة فظن أنا قد اشتقنا إلى أهلينا سألنا عمن تركنا في أهلنا فأخبرناه وكا رسول الله صلى الله عليه وسلم رحيما رفيقا فقال: «ارجعوا إلى أهليكم فعلموهم ومروهم وصلوا كما رأيتموني أصلي فإذا حضرت الصلاة فليؤذن أحدكم وليؤمكم أكبركم» حديث نمبر ٢١٣١ – صحيح ابن حبان قال شعيب الأرنؤوط: إسناده صحيح على شرط البخاري

٢– «أَنَس بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ جَاءَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ إِلَى بُيُوتِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُونَ عَنْ عِبَادَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا أُخْبِرُوا كَأَنَّهُمْ تَقَالُّوهَا فَقَالُوا وَأَيْنَ نَحْنُ مِنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ قَالَ أَحَدُهُمْ أَمَّا أَنَا فَإِنِّي أُصَلِّي اللَّيْلَ أَبَدًا وَقَالَ آخَرُ أَنَا أَصُومُ الدَّهْرَ وَلَا أُفْطِرُ وَقَالَ آخَرُ أَنَا أَعْتَزِلُ النِّسَاءَ فَلَا أَتَزَوَّجُ أَبَدًا فَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ فَقَالَ أَنْتُمْ الَّذِينَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا أَمَا وَاللَّهِ إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ لِلَّهِ وَأَتْقَاكُمْ لَهُ لَكِنِّي أَصُومُ وَأُفْطِرُ وَأُصَلِّي وَأَرْقُدُ وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي» حديث نمبر ٤٦٧٥ بخاري شريف كتاب النكاح

بناء هر عبادت چې د پیغمبرﷺ د طریقې مخالف ادا شي یوائې دا نه چې عبادت ندی، بلکې بدعت او گمراهی ده. او هر کله چې یو عبادت په نوی سیستم دسنتو مخالف ادا سي هغه بدعت دی او دغه نوی سیستم څو طریقې لري:

١- ځینو عباداتو کې مبالغه.

٢- عبادت د منطقی د عنعناتو او رواج مطابق ادا کول.

٣- د عبادت سیستم د خلکو د رضا لپاره تغیر راوستل.

٤- عبادات په یو عبادت کې را ټولول.

دلته لازمه ده دغه خبره مفصلا بیان کړو:

**اول: ځینو عباداتو کې مبالغه**

ځینې خلک په یو عبادت کې دومره مبالغه کوي چې ان له پیغمبرانو هم اوړي انس بن مالکﷺ روایت کوي چې درې تنه دپیغمبر کور ته راغلل او د هغه د عبادت په هکله یې پوښتنه وکړه کله چې خبر شول لکه چې کم ورته ښکاره شوی وي، او ویې ویل مونږ نشو کولی پیغمبر سره یو رنګ شو هغه ته مخکنی او وروستنی ګناهونه ببنل شوي دي.

یوه وویل: زه به همیشه ټوله شپه لمونځ کوم.

بل وویل: زه به همیشه روژه یم او افطار نکوم.

دریم وویل: زه به له ښځو لرې او سم او هیڅ واده نکوم.

پیغمبرﷺ هغوی ته وویل: تاسې همغه یاست چې داسې او داسې مو ویلي دي، قسم په الله زه نسبت تاسې ته له اللهﷻ څخه سخت ویریږم او له تاسې تقوا دار هم یم، ولی بیا هم روژه هم نیسم او افطار هم کوم، لمونځ هم کوم او خوب هم کوم او ودونه مې هم کړي دي، او دا زما سنت دی او چا چې زما له سنتو مخ واړو زما څخه ندی[1].

---

١- «حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ بُنْدَارٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنِي خُبَيْبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمْ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا

ددې حديث شريف مطابق هغه چې څه عباداتو کې په افراطي شکل باندې عمل کوي او ددې په ځای چې د پيغمبر په سنتو عمل وکړي د ترک دنيا، ترک ازدواج ترک جامعه په نوم څه کارونه عبادت ګڼي حقيقت کې ټول د پيغمبر مخالف دي.

**دوم: عبادات د منطقی د عنعناتو او رواج مطابق ادا کول**

دغه رنګ بدعتونه زمونږ هيواد کې ډير زيات دي، مثلا صدقه چې د مسکينانو حق دي، هغه خپلو دوستانو اقاربو او مالدارو خلکو ته ورکوي او فقيران په مجلس کې هم نه پريږدي، او نو ميې صدقه (خيرات) بردي. ځينی د صدقي په نوم پيسي ورکوي هغه د منطقی يو تن را ټولوي مختلفی غذا ګانی تياروي او بيايې پخپله خوري.

ځينی زنانه د نامحرمو خلکو لاسونه په مختلفو بهانو سره ښکلوي داسې حال کې چې د اسلام مقدس دين کې د نانحرم سره لاس لګول هم حرام دي، په احاديثو کې راغلي دي چې رسول اللهﷺ هيڅ نامحرمی ښځې ته لاس ندی ورکړي، کله نا کله دوليمې ډوډی، هغه غذا چې د هلک لخوا په خپله خوښه تيارېږي په اجباری ډول د ناوې دکور لخوا ورباندې تحمليږي، او دغه طعام چې بايد فقير او غنی ټول پکې حاضر وي، خو تنها اغنياء دعوت کيږي، پيغمبرعليه السلام پدې هکله فرمايي: بدترينه غذا دواده هغه غزا ده چې اغنيا پکې حاضر وي او فقرانه، او څوک چې دعوت ونه مني د اللهجل جلاله او رسول اللهﷺ معصيت يې کړی دی[١].

ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ الْإِمَامُ الْعَادِلُ وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ رَبِّهِ وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللَّهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ وَرَجُلٌ طَلَبَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ أَخْفَى حَتَّى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللَّهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاه» حديث نمبر٦٢٠ كتاب الاذان صحيح البخاری.

١ - «حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عنه أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْوَلِيمَةِ يُدْعَى لَهَا الْأَغْنِيَاءُ وَيُتْرَكُ الْفُقَرَاءُ وَمَنْ تَرَكَ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى اللَّهَ وَرَسُولَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» حديث نمبر ٤٧٧٩ ، صحيح البخاري كتاب النكاح.

ځینی وختونه دګناه مجلسونه لکه ولیمه دواده ډوډۍ چې دپیغمبر سنت دی په ګناه بدلیږي، پدې مجلس کې د پیغمبر د سنتو په ځای، رقص، موسیقی، د ښځې اواز اختلاط د نامحرمو ښځو عکسونه اخیستل، او د نامحرمو ترمنځ توزیع کول، نا مشروع لباس اغوستل، او فخر کول ټول پکې شامل وي. چې دغه وخت نه یوائې دا چې اشتراک ثواب نلري، بلکې ددغه دعوت منل جایز ندي.

عقیقه چې د پیمبر سنت ده په شب شش باندې بدله شوې ده. د مړو تعزیت چې د جنازی لمانځه کولو، او د مړي په دفن کولو سره ترسره کیږي او باید د مړي له اقاربو سره همکاری وشي د ډوډۍ خوړلو، مسلسلو میلمستیاګانو او د جنازۍ او تدفین د مراسمو پر ځای په دویمه او دریمه ورځ فاتحه خوانۍ باندې بدل شوي دي. عبد الله بن جعفر رضي الله عنه روایت کوي چې کله جعفر وفات شو پیغمبر عليه السلام وویل: «اصْنَعُوا لِأَهْلِ جَعْفَرٍ طَعَامًا فَإِنَّهُ قَدْ جَاءَهُمْ مَا يَشْغَلُهُمْ» «دجعفر کورنۍ ته ډوډۍ تیاره کړۍ چې هغوی ته داسې څه راغلي دي چې مشغوله کړي دي»[(١)].

طیبی وایي: دا حدیث پدې دلات کوي چې دا مستحبه ده چې د مړی همسایه ګان او خپلوان د مړی کورته غذا تیاره کړي.

علامه ابن الهمام له حنفی فقهاو څخه وایي: همسایه او د مړي خپلوانو ته که څه هم لرې وي مستحب ده چې د مړی کورنۍ ته دهماغې ورځ او شپې خواړه تیاره کړي. دی اضافه کوي چې د مړي له کوره ډوډۍ خوړل مکروه دی.

١ - «حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَا حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ خَالِدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ قَالَ لَمَّا جَاءَ نَعْيُ جَعْفَرٍ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اصْنَعُوا لِأَهْلِ جَعْفَرٍ طَعَامًا فَإِنَّهُ قَدْ جَاءَهُمْ مَا يَشْغَلُهُمْ قَالَ أَبُو عِيسَى هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَقَدْ كَانَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ يَسْتَحِبُّ أَنْ يُوَجَّهَ إِلَى أَهْلِ الْمَيِّتِ شَيْءٌ لِشُغْلِهِمْ بِالْمُصِيبَةِ وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ قَالَ أَبُو عِيسَى وَجَعْفَرُ بْنُ خَالِدٍ هُوَ ابْنُ سَارَةَ وَهُوَ ثِقَةٌ رَوَى عَنْهُ ابْنُ جُرَيْجٍ» حدیث نمبر (٩١٩) کتاب الجنائز، سنن الترمذی

ځکه د ميلمستيا خوړل په نيکو کارونو کې وي نه په مصيبتونو کې او دا يو ډېر خراب بدعت دی،

همدارنګه ملا علی قاری چې د حنفی مذهب مشهور عالم ده وايي: د مړي د کور لخوا د راغلو خلکو لپاره ډوډۍ تيارول يو بد بد عت دی بلکې له حضرت جرير څخه روايت شوی دی چې وايي (مونږ دا په مړی باندی له ژړا کولو څخه ګڼله او دا خبره ددې کار په حراموالی ښن:اره ده.

همدارنګه په حديث شريف کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ د چا جنازه کې برخه اخيستې وه، له جنازې وروسته يوې ښځې څه غذا تياره کړې وه، انحضرت ﷺ د هغې کور ته ورغی او هغه يې وخوړه، د حديث پوهانو د تحقيقاتو په اساس چې دی حديث کې شوي دي، دغه ښځه د مړی والا همسايه وه[1].

---

١- «أَخْبَرَنَا عَاصِمُ بْنُ كُلَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ رَجُلٍ مِنْ الْأَنْصَارِ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنَازَةٍ فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْقَبْرِ يُوصِي الْحَافِرَ أَوْسِعْ مِنْ قِبَلِ رِجْلَيْهِ أَوْسِعْ مِنْ قِبَلِ رَأْسِهِ فَلَمَّا رَجَعَ اسْتَقْبَلَهُ دَاعِي امْرَأَةٍ فَجَاءَ وَجِيءَ بِالطَّعَامِ فَوَضَعَ يَدَهُ ثُمَّ وَضَعَ الْقَوْمُ فَأَكَلُوا فَنَظَرَ آبَاؤُنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلُوكُ لُقْمَةً فِي فَمِهِ ثُمَّ قَالَ أَجِدُ لَحْمَ شَاةٍ أُخِذَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ أَهْلِهَا فَأَرْسَلَتْ الْمَرْأَةُ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي أَرْسَلْتُ إِلَى الْبَقِيعِ يَشْتَرِي لِي شَاةً فَلَمْ أَجِدْ فَأَرْسَلْتُ إِلَى جَارٍ لِي قَدْ اشْتَرَى شَاةً أَنْ أَرْسِلْ إِلَيَّ بِهَا بِثَمَنِهَا فَلَمْ يُوجَدْ فَأَرْسَلْتُ إِلَى امْرَأَتِهِ فَأَرْسَلَتْ إِلَيَّ بِهَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَطْعِمِيهِ الْأُسَارَى» حديث نمبر (٢٨٩٤) كتاب البيوع سنن ابی داوود. قلت: حديث جرير رضي الله عنه أخرجه أحمد وابن ماجه بلفظ: قال كنا نعد الاجتماع إلى أهل الميت وصنعة الطعام بعد دفنه من النياحة انتهى. وإسناده صحيح. فإن قلت: حديث جرير هذا مخالف لحديث عاصم بن كليب الذي رواه أبو داود في سننه بسند صحيح عنه عن أبيه عن رجل من الأنصار قال: خرجنا مع رسول الله صلى الله عليه وسلم في جنازة فرأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو على القبر يوصي: «الحافرا أوسع من قبل رجليه أوسع من قبل رأسه» فلما رجع استقبله داعي امرأته فأجاب ونحن معه أ فجيء بالطعام فوضع يده ثم وضع القوم فأكلوا الحديث. رواه أبو داود والبيهقي في دلائل النبوة هكذا في المشكاة في باب المعجزات. فقوله: فلما رجع استقبله داعي امرأته... إلخ أنص صريح في أن رسول الله صلى الله عليه وسلم أجاب دعوة أهل البيت واجتمع هو وأصحابه بعد دفنه وأكلوا أ فإن

اسلامی پوهانو او علماو له پورته حديث څخه په استفاده شوو درسونو کې څو ټکو ته اشاره کړيده، چې د يو تن د مرګ پر وخت د نورو مسوليت ته اشاره کوي. چې پيژندل يې ډير ضرورت دي، او له پيژندلو وروسته نن عصر کې دهغو تطبيق بياد مقايسه شي:

١- مستحب ده چې د مړی خپلوان او ګاونډيان هغوی ته خواړه تيار کړي ځکه پيغمبر ﷺ ويل ديی چې تاسې د جعفر کورنۍ ته خواړه تيار کړی ځکه هغوی د خپل دوست غم مشغوله کړی دي او نشي کولی ځانته خواړه تيار کړي، نن ورځ متاسفانه ددې په ځای چې د پيغمبر ﷺ پدې وينا عمل وشي او نور د مړي کورنۍ ته خواړه اماده کړي او غم شريکی ورسره وکړي، د سول اکرم ﷺ د خبرې خلاف خپله د هغوی د اوږو بار کيږي او د همغوي غم لا زياته وي.

٢- علامه ابن همام وايي حتی هغه خپلوان که لرې هم وي بايد مړي والا ته غذا تياره کړي خو متاسفانه نن ورځ خو لرې خپلوان حتما څو ورځې د مړي په کور پاتې کيږي.

---

الضمير المجرور في امرأته راجع إلى ذلك الميت الذي خرج رسول الله صلى الله عليه وسلم في جنازته ؛ فما التوفيق بين هذين الحديثين المختلفين؟ قلت: قد وقع في المشكاة لفظ داعي امرأته بإضافة لفظ امرأة إلى الضمير وهو ليس بصحيح بل الصحيح داعي امرأة بغير الإضافة ؛ والدليل عليه أنه قد وقع في سنن أبي داود: داعي امرأة بغير الإضافة. قال في عون المعبود: داعي امرأة كذا وقع في النسخ الحاضرة ؛ وفي المشكاة: داعي امرأته بالإضافة انتهى. وروى هذا الحديث الإمام أحمد في مسنده ص ٢٩٣ ج ٥ وقد وقع فيه أيضا: داعي امرأة بغير الإضافة بل زاد فيه بعد داعي امرأة لفظ: من قريش ؛ فلما ثبت أن الصحيح في حديث عاصم بن كليب هذا لفظ: داعي امرأة بغير إضافة امرأة إلى الضمير ؛ ظهر أن حديث جرير المذكور ليس بمخالف لحديث عاصم بن كليب هذا فتفكر. هذا ما عندي والله تعالى أعلم. قوله: (هذا حديث حسن) وصححه ابن السكن ؛ والحديث أخرجه أبو داود وابن ماجه. قوله: (وجعفر بن خالد هو ابن سارة) بمهملة وخفة راء وقيل بشدته ؛ كذا ذكر صاحب المغني (وهو ثقة) ووثقه أيضا أحمد وابن معين والنسائي وغيرهم (روى عنه ابن جريج) وابن عيينة. قال البغوي: لا أعلم روى عنه غيرهما كذا في تهذيب التهذيب.

٣- د اسلام لوی پوهان لکه ملا علی قاری وایي چې مړی والا کره څه خوړل او یا د دوی لخوا خلکو ته خواړه تیارول بدعت یعنې د پیغمبر د وینا او سنتو مخالف دی خو دا چې نن رواج شوی دی ډیر خلک چې ځان متقی او د پیغمبر پیرو ګڼي هغه هم پدې کارونو تر ټولو زیات اصرار کوي.

٤- حضرت جریر چې یو لوی اسلامی شخصیت دی خپله بیانوي چې د مړی کور کې د خلکو لپاره خواړه تیارول یو رنګ غم ګڼل کیده چې د پیغمبر د سنتو خلاف دی، خو نن همدغه غم ګڼلی عادت ګرځیدلی دی.

٥- د ابن جریر خبره علماو د مړی والا لخوا خلکو ته د خواړو تیارولو په حرام والی منلې ده خو نن ډیر خلک شته چې ددغه کار د حلال والي فتوا ورکوي.

**دریم: د خلکو د رضایت لپاره د عباداتو سیستم کې تغیر**

د شیطان یو خطرناک دام د عبادت په شکل او سیستم کې تغیر راوستل دي، ترڅو خلک داسې کار وکړي چې پخپل فکر یې عبادت په ډیر اخلاص سره کړي وي خو هغه عمل بدعت وي، او ددی په ځای چې کوونکی ته ثواب حال شی برعکس هغه ګناه شي او د شیطان دې کار ډیر خلک ښکار کړي دي، په قران عظیم الشان کې د شیطان له دې چل څخه زیاته یادونه شوې ده، یوه مهمه خبره داده چې قران عظیم الشان کې راغلي دي ﴿قَدْ أَفْلَحَ ٱلْمُؤْمِنُونَ ۝١ ٱلَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَٰشِعُونَ ۝٢﴾.

تفسیر طبري وایي: ﴿ٱلَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَٰشِعُونَ ۝٢﴾ الله تعالی فرمایي چې کامیابی د هغه چا نصیب ده چې لمانځه کې خشوع ولري، او خشوع د الله تعالی مقابل کې ذلت څخه عبارت ده، چې د هغه په طاعت سره حاصلیږي، همدارنګه داسې دریدل لکه الله تعالی چې وایي، او زیاتوي: چې

دغه آیات شریف هغه وخت نازل شو چې خلکو به لمانځه کې اسمان ته کتلې نو ددې آیات په نزول سرع منع شو[1].

د طبري له ویناو دوه اساسي ټکی معلومیږي:

اول ټکی: خشوع داده چې عبادت هغسې وشي لکه چې الله ﷻ امر کړی دی.

دویم ټکی: په لمانځه کې ان اسمان ته کتلو څخه مسلمانان منع شوي دي.

علامه ابن کثیر د قران کریم مشهور مفسر وایي ﴿ٱلَّذِينَ هُمۡ فِي صَلَاتِهِمۡ خَٰشِعُونَ ۝٢﴾ علی بن ابی طلحه له عبد الله بن عباس څخه روایت کوي چې ﴿خَٰشِعُونَ﴾ ویریدونکی هغه کسان دی چې په سکون او ارامی سره لمونځ کوي، علی بن ابی طالب وایي: خشوع د زړه خشوع ده، حسن بصري وایي: خشوع یي په زړه کې وه نو خپلې سترګې ساتلی، او د بدن اعضای سم کړل[2].

خشوع، تواضع، ارامی، د نظر ساتنه، د لمانځه دننه دبدن اعضا ساتنه، د اسلام د پیغمبرانو او د هغوی د پیروانو صفات دي، خو شیطان نه غواړي څوک خپل عبادت په خشوع سره وکړي، بناء ددغه اسلامی اصل د تغیر لپاره شیطان همیشه کمین کې ده او دقریشو د ګمراهی علت هم همدا و چې هغوی د وخت په تیریدلو سره پخپل عباداتو کې بدعتونه داخل کړل او خشوع او خضوع ترې لاړه. یو له دغو خطرناکو بدعتونو څخه په لمانځه کې د چک چکو او اشپیلاق ننویستل و، قران کریم د قریشو د لمانځه داسې وایي علامه ابن کثیر له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کوي: «وَمَا كَانَ صَلاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ إِلا

---

١- جامع البيان في تأويل القرآن تاليف محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر الطبري، [٢٢٤ - ٣١٠ هـ] تحقيق أحمد محمد شاكر، مؤسسة الرسالة، ط١، (١٤٢٠ هـ - ٢٠٠٠ م). ١٩/ ٦٩٤

٢- تفسير القرآن العظيم تاليف أبى الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي الدمشقي [٧٠٠ - ٧٧٤ هـ]، تحقيق سامي بن محمد سلامة، دار طيبة للنشر والتوزيع، ط٢، (١٤٢٠هـ - ١٩٩٩ م) ٤٦١/٥

مُكَاءً وَتَصْدِيَةً» قریشو کعبی ته پیښې لوڅې، بربنډ په اشپیلاق او چک چکو طواف کو(١).

د قریشو مشکل هغه وخت پیل شو چې د عبادت مشکل کې یې تغیر راوست د عبادت لباس یې هم تغیر کړ، لمونځ یې له خشوع او خضوع له مشکل څخه چک چکو او اشپیلاق ته واړو، او د حیا لباس یې په بربنډ توب بدل کړ. نن هماغه پخوانی بدعتونه بیا رواج شوي دي، ډیر خلک چې ل هقران او سنتو څخه بی خبره دي غواړي په موسیقی رقص او عجیب او غریبو حرکتونو سره عبادت وکړي.

**څلورم: په یو عبادت کې د عبادتونو خلاصه کول**

پیغمبر اکرمﷺ فرمایلي دي: ایمان څو او یا څانګې دی، چې د ایمان غوره څانګه ویل د (لا الا الا الله) دي او ټیټه یې د خلکو له لارې څخه د یو مضر شي لرې کول دي. او حیا هم د ایمان یوه برخه ده دغه حدیث شریف د کامل دین لپاره ډیره غوره شرحه ده، ځکه هر انسا د قیامت په ورځ شهادنامه اخلي، او د خپل دنیوی عمل ثمرهویني، که د آخرت د شهادنامو توزیع د پوهنتون له شهادنامې سره مقایسه کړو، په ښه توګه وینو چې یو محصل د څلور کلونو او ږدو کې باید شپیته الی اویا مضمونه په اتو ورزینیو اولسو شپې سمسسترونو کې تنظیم شوي ښه امتحان ورکړي اود هر مضمون نمرې هم پاید له پنځوسو کمې نه وي، او که دغه محصل ټولو مضمونو کې سل نمرې واخلي ولې یو یا دوه مضمونو کې صفر واخلي د شهادنامي مستحق کیږي نه، او لازمه ده د کابل په تکرارولو او یا هم بل چانس سره کوښښ وکړي حد اقل پنځوس نمرې واخلي، په همدې ډول یو مسلمان باید د ایمان څو او یا څانګی په کامله توګه درک کړي، او د هرې برخې حق څرنګه چې ده هماغسې ادا کړي، او که دغه مسلمان په یوه یا خو برخو اکتفا وکړي او د اسلام ټول احکام له یاده وباسي او په ډیرو اسلامي احکامو کې له نیک اخلاق، د لویانو احترام، د کمزورو لاس نیوي، په ماشومانو شفقت او غیره امور او د اسلام احکامو کې

---

١- تفسیر القرآن العظیم ٥٢/٤

د صفر مستحق وګرځي، د آخرت په ورځ هغه لوی امتحان کې چې د الله ﷻ په مخکې يې لري ناکامه به وي، او متاسفانه چې بل چانس هم نلري ځکه ټول کافران د محشر د ورځې مسلمان شي، لکه څرنګه چې فرعون دربوبيت دعوه کوله او ځان خدای قلمداد کولو، او ويل يې ﴿أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلۡأَعۡلَىٰ ۝٢٤﴾ «زه ستاسې لوی خدای يم»، په مجرد د ملک الموت په ليدلو سره يې د غرقيدلو پر وخت غږ کړ «امنت بما امنت به بنو اسرائيل» په هغه څه چې د يعقوب اولادې ايمان راوړي دی ما هم ايمان راوړی دی، ولې په حواب کې يې ورويل شو ﴿وَقَدۡ عَصَيۡتَ﴾ اوس او مخکې دې نافرمانې کوله، ددين همدغه ناقص فهم ددې سبب شوی چې مسلمانان دې په ځای چې د نړۍ فکر رهبران او لومړنی مخترعين شي او تکنالوجي وسايل اختراع کړي، د بشري ژوند د خط په اخر کې قرار لري او کله خو ان د نورو د اوږو بار شي، د نورو د لاس وهونکو څخه استفاده وکړي او يا هم واړي خپل اقتصاد د نورو په کومک سره تقويه کړي.

مهمترينه قرانی آيات هه وخت نازل شو چې ددين د کمال خبري ورکو ﴿ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ﴾ «نن مې ستاسې دين در مکمل کړ». دغه آيات شريف بيانوي چې د اسلام مقدس دين کامل دی او عرب ددين کله د نظام په معنی اخلي او د آيات شريف معنی ده چې الهی نظام کامل دی، او کله چې د انسانانو هغه نظام چې ديو هيواد لپاهر يې جوړ کړي وي اقتصادی، سياسی، فرهنګی، فردي او اجتماعی برخو ته شامل وي نو د اسلام ټول پوهان او علما دا وايي چې د اسلام مقدس دين د خپل کامل والی په اساس د مختلفو فردی، اجتماعی، اقتصادي سياسی او فرهنګی برخو لرونکی دي چې که هر کله څوک ددين د يوې برخې انکار وکړي د اسلام مقدس دين په کامل والی کې يې شک کړي دی.

ځينو يهوديانو عادت درلود چې دين په خپله خوښه تعبير او تفسير کړي او تنها هغه احکام عملی کړي چې د دوی شخصی منفعت او ګټه پکې وي، او د ژوندو په نورو حالاتو کې يې به بيا ددين احکامو ته پابند نه و او له خپل فکر

او نظر څخه به یې ځانته قوانین جوړول، اللهﷻ هغوی تهدید کړل او ورته یې وویل: ﴿أَفَتُؤۡمِنُونَ بِبَعۡضِ ٱلۡكِتَٰبِ وَتَكۡفُرُونَ بِبَعۡضٖۚ فَمَا جَزَآءُ مَن يَفۡعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمۡ إِلَّا خِزۡيٞ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰٓ أَشَدِّ ٱلۡعَذَابِۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ٨٥﴾ «آیا په څه کتاب باندې ایمان راوړي او په څه باندې کافر کیږي نو نه به وي جزا د هغه کس چې دغه کار کوي مګر خواري او رسوایي په دنیا کې او دقیامت په ورځ به سخترین عذاب ته ورګرځي، او نه دی الله غافل له هغه څه چې تاسې یې کوي». دغه ایت مبارک د ټولو هغو مسلمانانو په هکله هم تطبیقیږي چې د یهودانو په څیر یې د اسلام یوه برخه تطبیق کړي، او غواړي اسلام دژوند له نورو برخو څه منزوي کړي او سیاسی، اقتصادی او اجتماعی برخو پخپله خوښه عمل وکړي، ځکه هغه چې اسلام د ژوند په نورو حیاتي مسایلو کې هیروي ددینا ذلت یي په نصیب کیږي او د آخرت په ورځ به یې سخت عذاب په برخه وي ننی عصر کې بدترین بدعت دادی چې ځینې خلک د اسلام یو یا څو ځانګو باندې مشغل وي اوفکر کوي چې دوی نسبت نورو څخه بهتره دي، او د ایو بد بدعت دی چې اسلام په یوه برخه کې خلاصه شي او باقی احکام هیر شي.

**٥– د عبادت د مفهوم تغیر په رواج او عنعنو سره:**

زمونږ د عصر خطرناکترین بدعت د شرعي امورو پدلول دي په قومی او منطقوي شیانو باندې همدا اوس زمونږ په هیواد کې داسې کارونه جریان لري چې الهی حلال حکم پریږدي او مقابل کې یو حرام شی ته شرعی لباس وراغوندی او د خلکو ترمنځ یي تطبیقوي چې د مثال په ډول یي څو دانې دلته بیانوو.

**الف: د مهر بدلول په طویانه بانه**

مهر چې د نکاح پر وخت تعينيږي او د نجلۍ حق دی، او که په نکاح کې تعين نشي مهر مثل لازميږي، چې بايد د ميره لخوا ښځې ته ورکړ شي...[١].

څوک چې د اسلام مقدس دين له احکامو څخه بی خبره دی او يا هم غواړي د الله ﷻ احکام د خپلو غوښتنو مطابق تغير کړي طويانه چې يو حرام اوناروا شی دی د مهر په نوم اخلی اود نجلۍ په مهر کې يې حسابوي چې داد يو حلال شي بدلول دې په حرام باندی، ځکه چې د لور مقابل کې طويانه اخيستل يو رنګه لور خرڅول دي، او د ازاد او انسان خرڅول روا ندي پيغمبر عليه السلام په حديث قدسي فرمايي چې الله ﷻ فرمايي: زه د قيامت په ورځ ددرې ګنو دښمن يم: څوک چې زما په نوم قسم وکړي بيا هغه کې غلطي کو، څوک چې ازاد انسان خرڅوی او بايي پيسی خوری او څوک چې له مزدور سره خبره وکړي او بيايي حق نه ورکوي[٢].

ډير خلک طويانه دشيربهايا جهيز او يا نورو منفی رواجونو په نوم سره اخلي او يا همدغه منفی رواجونه ددې لامل کيږي چې ډير خلک چې د نکاح علاقمند دي له نکاح څخه پاتې شي او د دوي دغه ناروا کارونه د زنا او بدکاريو لار خلاصوي.

---

١- «حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ وَمُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالُوا حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ قَال سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ بَنِي فَزَارَةَ تَزَوَّجَتْ عَلَى نَعْلَيْنِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَضِيتِ مِنْ نَفْسِكِ وَمَالِكِ بِنَعْلَيْنِ قَالَتْ نَعَمْ قَالَ فَأَجَازَهُ قَالَ وَفِي الْبَاب عَنْ عُمَرَ وَأَبِي هُرَيْرَةَ وَسَهْلِ بْنِ سَعْدٍ وَأَبِي سَعِيدٍ وَأَنَسٍ وَعَائِشَةَ وَجَابِرٍ وَأَبِي حَدْرَدٍ الْأَسْلَمِيِّ قَالَ أَبُو عِيسَى حَدِيثُ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي الْمَهْرِ فَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ الْمَهْرُ عَلَى مَا تَرَاضَوْا عَلَيْهِ وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ وَالشَّافِعِيِّ وَأَحْمَدَ وَإِسْحَقَ وقَالَ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ لَا يَكُونُ الْمَهْرُ أَقَلَّ مِنْ رُبْعِ دِينَارٍ وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْكُوفَةِ لَا يَكُونُ الْمَهْرُ أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ» حديث نمبر (١٠٣١) سنن الترمذی کتاب النکاح عن رسول الله صلی الله عليه وسلم

٢- «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ اللَّهُ ثَلَاثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ أَعْطَى بِي ثُمَّ غَدَرَ وَرَجُلٌ بَاعَ حُرًّا فَأَكَلَ ثَمَنَهُ وَرَجُلٌ اسْتَأْجَرَ أَجِيرًا فَاسْتَوْفَى مِنْهُ وَلَمْ يُعْطِ أَجْرَهُ» حديث نمبر(٢٠٧٥) کتاب البيوع، صحيح البخاری.

**ب: دنیمه نکاح بدعت**

یو ډیر بد، بدعت چې اوس یې حرامو ته لاره برابره کړیده د نیمه نکاح بدعت دی، د اسلام مقدس دنیک ې له خطبې (ریباری) وروسته چې د هلک او نجلۍ له موافقې وروسته دویم کاروي چې له نکاح وروسته ولیمه (د هلک لخوا په خپله خوښه او خپله وسه ډوډۍ ورکولو) وروسته وي، له دې نکاح وروسته نجلۍ د شریعت له مخې ددغه شخص ښځه ګرځي.

د اسلامی شریعت خلاف اوس په رواج سره د شیرین خورۍ په نوم څه کارونه کیږي چې د اسلامی شریعت مخالف دي.

الف: د ناوې د پلار او د زوم ترمنځ یو رنګ غلط ایجاب او قبول کیږي، داسې حال کې چې ایجاب او قبول شرعا د هلک او نجلۍ یاد نجلۍ د وکیل ترمنځ کیږي چې دغه وکیل د شاهدانو له لارې تعینیږي خو پدې ایجاب او قبول کې نجلۍ ته شاهدان نه ورځې بلکې صرف یو غلط ایجاب او قبول د زوم او خسر یا کاکا خسر ترمنځ ترسره کیږي، دغه ایجاب او قبول چې خلکو کې دنیمه نکاح په نوم سره رواج ده د اسلامی شریعت مخالف دی، ځکه اسلامي شریعت کې نیمه نکاح نشته یا نکاح ده او یا هیڅ نشته، او دغه نیمه نکاح د شریعت ضد اعمالو ته لاره خلاصوي ځکه په شریعت کې چې ترڅو نجلۍ د هلک په عقد کې را نشي، د دوی اختلاط هم ناروا ده، ولې دوی ددې لپاره چې جریمه ځان ته حلاله کړي دنیمه نکاح په نوم هلک د نجلۍ کور ته ځي، او یا ورسره ګرځي داسې حال کې چې دوی نا محرم دي.

ب: لاس ورکول یا ګوتۍ اچول اود نامحرم سړي ترڅنګ د نجلۍ دریدل: مخکې مو وویل چې له شرعی نکاح مخکې که څه هم نامزاد وي خو نجلۍ ته نا محرم دی خو خلک پدې نوم چې نیمه نکاح یې کړې په شیرین خورۍ کې یو دبل ترڅنګ دریږي ګوتۍ اچوي یو بل ته خول هکې کیک ورکوي او بیا په همدې بهانه اختلاطونه کوي چې تماما د اسلامی شریعت مخالف دي.

## د ګمراه کوونکو بدعتونو د انتشار اسباب

د اسلام مقدس دين پخپلو کاملو قوانينو نازليدلو سره هغه وخت مکمل شو چې کله دا آيات نازل شو چې ﴿ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ﴾ ټول مسلمانان پوه شول چې الهی احکام په کامل ډول سره تکميل شو، او هغه عبادات چې اللهﷻ په مسلمانانو باندی لازم کړي و هم بيان شو، او حلال او حرام هم بيان شو «الحلال بين والحرام بين» متاسفانه زمونږ په عصر کې دمسلمانانو ترمنځ يو څه بدعتونه پيدا شوي دي ددې لپاره چې پوه شو دغه بدعتونه څه قدسيت نلري او مسلمانانو ته يې له کټې څخه تاوان زيات دی بناء لازمه ده چې د انتشار اسباب او اساسی علتونه يې په ګوته کړو:

**١- تيزي او افراط:**

د اسلام مقدس دين کې افراط او تفريط کوم ځای نلري، بلکې ټول قوانين يې متوسط دي، او که کوم مسلمان په ځان باندې ١٠٠٪ اسلام هم تطبيق کړي بيا يي هم افراط ندی کړي، څه افراط د ځينو اشخاصو په واسطه هغه وخت پيدا کيږي چې د پيغمبر له طريقې او سنتو څخه په ناخبرۍ کې غواړي په خپل ګمان ان له پيغمبر څخه هم مخکې شي، حضرت انس بن مالکرضي الله عنه وايي چې درې ډلې خلک د رسول اللهﷺ کور ته راغلل او د هغه د عبادت پوښتنه يې وکړه کله چې خبر شو يو يې وويل زه به هيڅکله ويده کيږم نه بل يې وويل زه به ټول عمر روزه نيسم دريم وويل زه به هيڅ واده نه کوم، کله چې پيغمبر خبر شو نود غو درې کسانو ته يې وويل ګوري زه تاسې ټولو څخه ډير متقی يم او له اللهﷻ زيات ويريږم خو بيا هم روزه نيسم او هم افطاری کوم، هم لمونځ کوم او هم خوب کوم او هم نکاح کوم، اودا زما سنت دی او څوک چې زما له سنتو مخ اړوي هغه زمونږ څخه ندي[1].

---

١- «أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ جَاءَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ إِلَى بُيُوتِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُونَ عَنْ عِبَادَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا أُخْبِرُوا كَأَنَّهُمْ تَقَالُّوهَا فَقَالُوا وَأَيْنَ نَحْنُ مِنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ قَالَ أَحَدُهُمْ أَمَّا أَنَا فَإِنِّي أُصَلِّي اللَّيْلَ أَبَدًا وَقَالَ آخَرُ أَنَا أَصُومُ الدَّهْرَ وَلَا أُفْطِرُ وَقَالَ آخَرُ أَنَا أَعْتَزِلُ النِّسَاءَ فَلَا أَتَزَوَّجُ أَبَدًا فَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ فَقَالَ أَنْتُمْ الَّذِينَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا أَمَا وَاللَّهِ إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ لِلَّهِ وَأَتْقَاكُمْ لَهُ لَكِنِّي

نني عصر کې هم داسې خلک شته چې ددنیا د شرک په نوم، اوږدور ته عبادت، چهله، ترک ازدواج، او غیره سره له اسلامی تولنې لرې کيږي، او غارونو کې ژوند کوي، او ټول کاروه چې کوي د اسلامي شريعت خلاف وي، ولې هغوی باید پوه شي چې عباداتو کې وسط حد په نظر کې نیول شوی دی او مسلمان انسان باید په یو عبادت مشغولیدلو نور عبادات له یاده ونه باسي.

**۲– د پردیو تاثیر:**

په اسلامي هیوادونو کی غیر مسلمانان ژوند کوي او یا هم د سریالونو او فلمونو له لارې د هغوی ځینې عادتونو په مسلمانانو کې رواج شوی دي او هغه خلک چې دین څخه بی خبره دي دغه عادتونه اسلامی د عباداتو جز ګڼي دغسې خلک د غیر مسلمانانو ډیر هغه عادتونه چې د هغوی د عقیدې جز وي اسلام ته را انتقالوي او عمل پرې کوي موسیقی او له موسیقي او اواز څخه په عباداتو کې استفاده د هندوانو کار دي چې له دوی څخه متاثره مسلمانان هم کوشش کوي د دوی په رنګ موسیقی او اواز په اسلامي عبادت کې هم داخل کړي داسې حال کې چې دا کار نه د پیغمبر په سنتو کې شته او د صحابه، تابعینو او تبع تابعینو په روش کې، چې دوی له موسیقی څخه استفاده کړې وي بلکې روایت شوي حدیث موسیقی حرامه ګڼي. اوس نو ولې یو ډله مسلمانان حرام کار په عبادت کې داخلوي او فکر کوي چې ثواب ګټي.

**۳– د پخوانیو کلتورونو تاثیر:**

کله چې داسلام رڼا عربی جزیرې ته راغله او خلک ترې برخمن شو نو هلته یو سلسله رواجونو او عنعنات موجود و، ځینې دغه عنعنات چې د جاهلیت، بت پرستۍ او اور پرستۍ څخه را پیدا شوی او ساسلام سره له یو مخی ټکر و مسلمانانو کوشش وکړ هغه له منځه ویسي مثلا د عربو ترمنځ د لور ژوندي خوښول، د لورل لرلو شرم، مختلف جنسي روابط د ازادو انسانانو

---

أَصُومُ وَأُفْطِرُ وَأُصَلِّي وَأَرْقُدُ وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي» حديث نمبر ٤٦٧٥ بخاري شريف کتاب النکاح

اخیستل او خرڅول او نور بدعادتونه موجود و چې مسلمانانو او خصوصو صحابه کرام د هغې دله منځه وړلو لپاره سختی قربانیانې ورکړې، ولې متاسفانه په ځینو اسلامی هیوادو کې چې خلک په اسلام عقیده هم لري، بیا هم هماغه پخوانی رواجونه د اسلام پر ځای تطبیقوي او هماغه قومی فیصلی له اسلامي احکامو مخکې ګڼي مثلا اسلام مقدس دین کې د قاتل جزا قصاص دی، ولې ځینې مسلمانن د قصاص پر ځای لکه پخوا غوندې یوه غریبه مظلومه نجلۍ په بدو کې ورکوي. او یا هم ځینې خلکو د مهر په نو مسره چې د نجلۍ خالص حق دی د طویانه ناروا پیسي اخلی. ځینې نور عاتونه هم نشته چې هڅه او کوشش وشي، ا ومشکل هغه وخت زیاتیږي چې دغو عنعناتو او کلتوري رواجونه ته د عبادت نظر وي داسې حال کې هیڅ اسلامی حکم به نه وي او نه اسلام سره مطابقت لري خو د اسلامي فرهنګ په نوم به یې رواج اخیستی وي مثلا پخوا د عربو ترمنځ زیات اخترونه خو اسلامې کې دوه اخترونه (وړوکی اختر لوی اختر) معرفی شو، په ځینو هیوادونو کې پخواني رواجونه د نوروز، کرسمس ا ویا نور ورځې لمانځې او متاسفانه ځینې مسلمانان یې هم لمانځي او اسلامی رنګ ورکوي.

**۴– دیني احکاموته د فلسفی نظریاتو انتقال:**

کله چې مسلمانانو د یوناني او عزیقي فلسفې کتابونه وژباړل څه فلسفي نظریات اسلامی احکامو ته هم سرایت وکړ او له همدغه فلسفي کشمشکونو سره ډیر خلک بی لارې شو او د جبر په قدریه معتزله پّ څیر عجیب او غریب او منحرف مذهبونه را پید اشو، ولې اسلامی عقیده په ډیر ساده او اسانه توګه قران کریم کې بیان شوې ده ترڅو ټول خلک پرې وپوهیږي، مثلا که یو بی سواده ته چې په هیڅ نه پوهیږي ووایو: الله ﷻ یو دی شریک نلري، لم یلد ولم یولد ولم یکن له کفوا احد، ورته ترجمه او شرحه کړو نو د توحید په عقیده ښه پوهیږي، کله چې دالله له ذات پوښتنه وکړي ورته ووایو ﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ﴾ «دده په مثل شی نشته»، چې مونږ هغه ورسره مشابه کړو ځکه

هغه خالق او نور مخلوق دي او د خالق او مخلوق ترمنځ کوم شباهت نه وي، بناء په خپلو ليدلو د هغه فکر ونکړو نو د غه بی سواده هم پرې پوهيږي.

مسلمانان ددغو قرانی حقایقو په پوهيدلو سره د اسلام مقدس دین ته په کامله توګه پابند و، ولې په عقایدو کې د فلسفي نظریاتو په داخليدو سره د اللهﷻ د ذات په هکله داسې نظرات او تصورات بيان شو چې د منفعت په ځای يې تاوان زيات و، او دغه فلسفه په اسلامي عقيادو کې د بدعت پيدا کيدو لامل شو او ان داسې نظريات پيد اشو چې قران کريم يې مخلوق باله او اللهﷻ ته يې مخلوقاتو غوندې تصور کو.

اسلامی عقيده کې د فلسفې دداخليدو بدعت له قرانی عقيدې څخه د ډيرو خلکو د انحراف لامل شو، او د اللهﷻ په هکله يې خپل عقل منځګړی وګرځو، چې داد ګمراهی سبب دی، ځکه عقل محدود دی او د اللهﷻ ذات او صفات د درک کولو لپاره بايد له محدودې دايرې څخه ووځو او دايې يواځنی حل قران وحی ده او بس.

**۵– عقل په شرعی احکامو کې منځګړی ګرځول:**

هر مسلمان مکلف دی چې اسلامی احکام په ځان تطبيق کړی او د اچې مومن دی بايد د احکامو تطبيق کې هڅه او کوشش وکړي، ولې ستونزه هغه وخت را پيداکيږي چې څوک هر شرعی حکم ته يو عقلی حکمت ولټوي، او په ټولو احکامو کې عقل منځګړی وروګرځوي.

**۶– د يو بدعت په بل بدعت سره:**

کله چې ځينې اشخاص يو بدعت ويني نو غواړي هغه بدعت په بل بدعت سره له منځه ويسي چې دغه حرکات د بدعتونو د پيداکيدو لامل ګرځي.

**۷– دسنتونو مخفی پاتې کيدل:**

قرآن کریم او دپیغمبر سنتو ته نه توجه کول او په نوو کارونو د خلکو مشغولیت او لهو او لعب کې وخت تیرول ددې لامل شو چې سنتو ته توجه ونشي اود هغو ځای بدعت ونیسي، اتیا فیصده بدعتونه هغه خلک رواجوي چې له قران او سنتو څخه بې خبره دي، که دغه خلک یو ځل هم د خپلو بدعتونو په هکله قران کریم ته مراجع وکړي نو پخپله اشتباه به پوه شي، اوس وختې داسی خلک هم شته چی وایي مونږ مقام ته حقیقت ته رسیدلي یو او پخپله وینایي څوک چې مقام ته وریږي له څه عباداتو څخه معاف کیږي، که دغه خلکو لومړی قران کریم ولوي چې الله‎ﷻ وایي: ﴿فَلَا تُزَكُّوٓاْ أَنفُسَكُمۡۖ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَنِ ٱتَّقَىٰٓ ٣٢﴾ [النجم: ٣٢] «تاسې خپله تزکیه مه کوی الله په متقیانو ښه پوه دی»، علامه ابن کثیر وایي: په مدی علت الله‎ﷻ فرمایي: ﴿بَلِ ٱللَّهُ يُزَكِّي مَن يَشَآءُ﴾ «بلکې الله پاک چې څوک وغواړي تزکیه کوي»، ځکه هغه په د هرڅه په حقیقت باندې پوه دی، علامه بیضاوي د ﴿فَلَا تُزَكُّوٓاْ أَنفُسَكُمۡۖ﴾ تفسیر کې وایي د خپلو ځانونو مدحه او صفت مه کوي، چې دا کار زیات ثواب لري، او یا له ګناه څخه پاک دی، هو ﴿هُوَ أَعۡلَمُ بِمَنِ ٱتَّقَىٰٓ ٣٢﴾ ځکه الله‎ﷻ متقی او غیر متقی پیژني[(١)].

او بیا نبوی سنتو او سیرت ته توجه وکړي چې ایا له رسول الله څخه غوره څوک شته هغه ان د مرض په وخت او د عمر اخري ورځو کې چې ضعف هم پرې راتلو مسجد ته تللو او لمونځ یې کولو، دغه خلک چې دعوه کوي مونږ رسیدلی یو، ا وعبادت ته اړتیا نلرو، په حقیقت کې ځان له رسول الله‎ﷺ څخه لوړ ګڼي، ولې پیغمبر له عبادت څخه معاف نشو؟ ولې رسول الله‎ﷺ د عمر تر اخري لحظو لمونځ ترک نکړ، ولې هغه ونه ویل زه رسیدلی یم، لمونځ دې نور خلک کوي.

**٨- جهالت:**

---

١- أنوار التنزيل وأسرار التأويل تاليف ناصر الدين أبو الخير عبدالله بن عمر بن محمد البيضاوي ٢٤٢/٥

د شرعی احکامو په هکله جهل د بدعتونو د انتشار لامل ګرځي کله چې څوک د شرعی تعلیم او تعلیم د مجلسونو پر ځای د ګناه او ناپوهۍ مجلسونو کې برخه اخلي دغه بی خبرۍ او ناپوهی دبدعتونو د پراختیا لامل ګرځي ځکه کله چې وغواړي څه کار ترسره کړي او له دین څخه ناخبره وي نو داسې رواجونو او عنعناتو ته به تسلیمېږي چې بدعتونو ته به یې کشوي.

**٩- اسلامی شخصیتونو سره افراطی محبت:**

د بدعتونو د پراختیار یو لامل هغه افراطي محبت دی چې ځینې خلک یي له متدینو شخصیتونو سره لري عیسویانو د همدې افراطی محبت له مخې عسی مسیح ته دخدای ځوی ووایه، او رسول بیا خلک له خپل افراطي صفت او مدحې څخه منع کړل، عبد الله بن عباس له حضرت عمرﷺ څخه روایت کوي چې پیغمبرﷺ د حمر له له پاسه وفرمایل: زما په مدح او صفت کې داسې مبالغه او افراط کوی لکه څرنګه چې نصاراو د عسیسی په هکله مبالغه وکړه او هغه ته یي د خدای ځوی وویل او دوی کافر شو، زما په حق کې همدومره وواياست چې د اللهﷻ بنده او رسول دی[1].

فتح الباری ددې حدیث شریف په شرحه کې فرمایي: «لا تطرونی» اطراء باطلې مدحی ته وایي، یعنی د چا توصیف کې مو افراط وکړ، له «کما أطرت النصاری ابن مریم» څخه منظور داده چې نصاراو د مریم ځوی د اللهﷻ له بندګی څخه ویوت او الوهیت ته یې ورسو.

حقیقت کې یو انسان ته د خدای صفت ورکول باطل صفت دی، پیغمبر خپل امت ته درس ورکوي چې د شهادت کلمه لوستلو کې داسې ګواهي ورکړي چې محمد د الله بنده او رسول دی، د هغه بنده والی دا معنی لري چې مخلوق دی او مکلف دی عبادت وکړي د پیغمبرۍ مقام دی له بندګۍ څخه

---

١- «عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ سَمِعَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ عَلَى الْمِنْبَرِ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تُطْرُونِي كَمَا أَطْرَتْ النَّصَارَى ابْنَ مَرْيَمَ فَإِنَّمَا أَنَا عَبْدُهُ فَقُولُوا عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ» حدیث شریف نمبر (٣١٨٩) صحيح البخاري، (کتاب احاديث الانبياء)، همچنان ابوالمنتهي ص: ٥٢- ٥٣

نشي ویستلی، هغه هم مکلف دی عبادت وکړي هغه زامن نه درلودل او ټول په کوچینتوب کې وفات شوي و او دا خپله ددې دلیل دی چې پیغمبر نشي کولی چا ته اولاد ورکړي او که نه ځانته به یې ډیر اولادونه پیدا کړي و کله چې مشرکینو غوښتل په قتل یې ورسوي نو دی له ابوبکرﷺ سره وتښتیده او علیﷺ یی خپله بستره کې ویده کړ. که پیغمبر اولاد ورکولی شو اول به یې ځان ته ورکړی و خو هغه دا کار ونشو کولی ځکه اولاد ورکول، ځوی ورکول او مړه کول د اللهﷻ کار دي.

همدارنګه په پورته حدیث شریف کې پیغمبر خپل امت ته د پیغمبرانو سره د رب او معاملې زده کړه ورکوي، چې تاسې د هغوي مدحه کې دومره افراط کوي دوی ته د بندګی او پیغمبری مقام ډیر غوره مقام دی. ابن کثیر واي: اللهﷻ خپل رسول ته په غوره مقام کې غوره لقب ورکړ، د قران کریم د نزول پر وخت او د معراج پر وخت یې ورته د عبد کلمه راوړیده او د مخالفینو د تکذیب او زړه تنګوالی پر وفخت یې ورته د عبادت امر کړي دی[1].

علامه قرطبی په جامع الاحکام تفسیر کې وایي: پوهان وایي که د نبی کریمﷺ لپاره د بنده له نوم ښخه بل غوره نوم وی نو دغه وخت به یې هه په هماغه نوم سره یاد کړي و، نن ورځ کې غټ مشکل همدغه ده چې بدعتیان د پیغمبر، صحابه و اولیاء... او په افراطی توصیف باندې اخته دي دوی فکر کوي چې پدې مدحه او صفت به دغه خلک دوست کړي، او کله خو هم دمدحه الهی صفاتو ورکولو ته ورسیږي، او که ښوک ورته ښه ووایي نو فورا غصه کیږي او وایي تاسو خو یې پد ګڼی. خو اصلا د چا احترام هغه وخت کیږي چې د قران ارشاداتو او نبوي سنتو سره برابر وي، دوی که هر ښومره عالی مقام ولري د پروردګار مقام ته نه رسیږي، ځکه پیغمبران، صحابه او

---

۱ـ ﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَىٰ عَبۡدِهِ ٱلۡكِتَٰبَ﴾ ثنا مرالله (جل جلاله)ی راست که بر بندهاش کتاب (قرآن) را فرستاد ﴿وَأَنَّهُۥ لَمَّا قَامَ عَبۡدُ ٱللَّهِ﴾ زمانیکه بنده خدا برخواست ﴿سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا﴾ پاکی است ذاتی را که بندهاش را شبهنگام از مسجد الحرام به بیت المقدس برد.

اولیاء ټول مخلوق دي، او باید د یو مخلوق په څیر معامله ورسره وشي، نه دا چې له زیات محبت څخه د خالق صفات ورکړو.

**۱۰– د جاهلانو ته ددیني رهبرۍ تسلیمول:**

ټول پدي عقیده دي چې څوک نشي کولي پرته له تخصصه د یو مسلک مسول شي مثلا روغتون ریس باید د طب یو متخصص داکتر واي د ساختمانی شرکعت مسول یو انجینر وي او په همدي ډول د د هریو پوهنځی ریس د هماغه مسلک متخصص وي، زموږ هیواد افغانستان کې هغه وخت بدبختی راغله چې ځینو ظالمو نظامونو د تخصص موضوع قصدا له یاده وویستله او غیر مسلکی خلک یي صرف پدي چې د دوی د حزب خلک دي، په منصبونو مقررول، او ټول کارونه به دی مسلکی په وجه ناکامیدل، د وطن دغه وروسته پاتې والي حتی په دینی ساحاتو کې هم اثر کوي او ځینې غیر مسلکې خلک چې له قران او حدیث څخه هیڅ معلومان نلري په عربی ژبه نه پوهیږي ان قران کریم غلط تلفظ کوي، دغسي اشخاص ددین پر مسند کیني، هغوی پدې ګمان چې اخلاص لر ي او کیدای شي هم یي ولري، خپل حانته حق ورکوي چې اسلام کې خبرې وکړي او خپل پیروان هغو امورو ته دعوت کړي چې تنها عبادت ندی بلکی بدعت او لویه ګمراهی ده، یواځې اخلاص چا ته نجات نشي ورکولی، بلکې اخلاص سره دپیغمبرﷺ د طریقي موافقت لازمه ده. تاسې که هر وخت پرستان ووینې هغوی ډیر اخلاص کوي او دا پدې معنی نده چې اخلاص به د هغوی د نجات لامل شي ځکه هغوی دغه اخلاص د بتانو په وړاندې کوي، علامه دکتور شریعتی ځومره ښه وایي: شرک د هغه څه په خلاف چې موږ فکر کوو، لا مذهبی نده، بلکې مذهب دی، زموږ دفکر خلاف شرک دینداري ده، عقیده ده، او مشرک عابد او پالونکی دی، مشرک هغه ده چې کله یي د بتانو ګاډۍ راووځي نو ښځې سړیان خپلې ښایسته لورې او زامن ورته نذر کوي او دیت پښو ته یي سرونه پرې کوي ده او دا وینه بیا با برکته وینه ګرځي، او په دعاګانو، او مذهبی مراسمو او نذرونو کې مصرفیږي او مبارک شراب ترې جوړیږي دا شرک ده او دا بی دیني ده، قربانی دبتانو لپاره، او د عربو په جاهلیت کې هم قرباني وه؟ د انسانانو قربانی،

نه د پسونو قربانی، ډیرو به نذر کو چې که زما اولاد دومره شو اول یې قربانی دی، بت ته یې قرباني کو، که فلانی بت اولاد راکړي نو ددغه اولاد په شکرانه کې خپل معبود ته ځوی ذبحه کوي[1].

لنډه دا هغه چې دین کې معلومات نلري او ځان له متخصصینو علماو لوی ګڼي او دعوه کوي چې فلانی پسې لمونځ جایز ندي هغه حرام خور دی او داسی نور یوائې دانه چې دده د ګمراهۍ لامل کیږي بلکې د قران او سنتو له مخالفو نظریاتو سره خپل پیروان بی لارۍ ته کشوي او عاقبت کې تهول کیږي.

**١١- مذهبی تعصب:**

تعصب یو هغه بد کار دی چې ډیر خلک یي کفر ته کش کړي دی، که پوښتل شي چې قریشو د پیغمبر خپلوان و ولې د مدینې دخلکو غونډې یو حل مسلمانان نشو او د یثرب خلکو ولې یو ځل د پیغمبر دعوت قبول کړ او خپل وطن یې د اسلامی دعوت او اسلامی خلافت لپاره مرکز جوړ کړ؟ ځواب ډیر ساده ده، هغه دا چې یهدو چې مدینه منوره کې خلکو ته دا خري پیغمبر زیری ورکو ځکه دوی خپلو کتابونو کې لوستی و او علما یي پوهیدل چې اخري پیغمبر د حجاز منطقه کې را ښکاره کیږي، یهودیان د همدغه پیغمبر د ښه را غلاست لپاره مدینې منورې ته راغلل، او خلک یي را بلل ترڅو د اسلام مقدس دین باندې مشرف شي، او پدې ګمان چې اخری پیغمبر به د دوی له قوم څخه وي، ځکه اکثریت پیغمبران د بنی اسراییلو له قوم څخه واخلو کله چې پیغمبر راغی او دوی ولید چې عرب دی نو هماغه جاهلانه تعصب ددې لامل شو چې حق ونه ومنی او خپله د پیغمبر له راتلو وروسته کافر شو؟ اوس هم ځینې مذهبی او قومی تعصبات ددې لامل ګرځي چې له حقایقو څخه سترګی پټې شي او ځینې متعصب اشخاص فکر کوي چې ډیر بدعتونه د

---

١- جهان‌بینی و ایدیولوژی تالیف دکتور علی شریعتی مجموعه آثار(٢٣)، ایران: چابخانه حیدری، ١٣٨٢ ص: ٤٤- ٤٥.

مذهب حقیقی برخه ده داسې حال کې چې که سیي مطالعه وشي نو دغه خرافات او بدعات د دوی د مذهب رهبرانو هم رد کړي او منع کړي دی. اوس مهال زمونږ هیواد کې هم د بدعتونو سره د مبارزې اساسی مانع همدغه تعصب دی چې ځینې خلک ددي پر ځای چې د خپل مذهب په حقیقت باندې پوه شي، ځانته حنفی وایي او څه داسې بد کارونه کوي، او که ورته وویل شي چې دا بدعت دی فورا د ځینو متعصبه اسلام د ښمنو د تبلیغاتو په اساس وایي داد وهابیانو نظر دی، داسې حال کې چې حقیقی مسلمان هڅه او کوشش کوي چې حق ومنی ان که دغه حق بل مذهب کې وي هم یې قبلوي.

**۱۲– د موضوعي احادیثو انتشار:**

ډیر بدعت ته دین ته د ضعیفو د احادیثو له لارې داخل شوي چې د اسلام دښمنانو، یا جاهلو دوستانو، یا هم د کوم مذهب متعصبو پیروانو په لاس نشر شوی دی، داسې خلک شته چې د احادیثو په روایت کې دقت نکوي، حتی صحیح له موضوعی څخه نشي جلا کولی او هر چیرته چې د حدیث په نوم څه واوري هغه روایت کوي او خلکو کې یې رواجوي او ددغو غلطو روایاتو په اساس خلکو بدعت خپریږي. ډیر سپین ږیري پخپلو خبرو کې وایي چې پیغمبر ویلي دی (یوم البدتر) دغه خبره له درې کلمو جوړه شوې ده.

یوم عربی، بد انګلیسی، تر دری، په غلط او دروغجن شکل د اسلام پیغمبر ته نسبت کیږي. ځینی وایي: ورورہ اللهﷻ وایي «خلق الإنسان من تفاوت» داسې حال کې چې داخبره دورغ ده.

**۱۳– په رواجي عبادتونو اصرار:**

ځینې کارونه خلکو کې دومره رواج شوي دي چې د بدعت والي او ناروا والي له پیژندلو سره هم ورته درواج له مخې تسلیم دي او عمل پرې کوي او که ټول مسلمانان داسې وکړي نو بدعت به هیڅکله ورکه نشي بلکې زیات به شي.

**۱۴– دینی حقایقو سره احساساتی بر خورد:**

ځینې خلک ټول امور احساساتی مني او پرته له پوهیدو په حقیقت باندې په احساساتی شکل عمل کوي، دغه جاهلانه احساسات یواځې دانه چې ګټه نه کوي بلکې د بدعتیانو ډلې کې یې داخلوي.

### ١٥- دنیوی منفعت طلبی او دینی تجارت:

د بدعتونو په نشر کې اساسی مشکل ځینې هغه افراد دي چې ځان د اسلام مقدس دین ته منسوبوي خو وینا یې کاملا له قران او سنتو سره مخالف وي، دغه اشخاص ددنیوی منفعت لپاره سره له دې چې علم نلري فتوا ورکوي او په حدیثو نه پوهیږي حدیث روایت کوي تشریح کوي او تفسیر کوي یې. حضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ فرمایي: په اخري زمانه کې به داسې اشخاص ظهور وکړي چې دین به ددنیا لپاره غواړي پوستکی به یې د بسونو وي ژبه یې له بورې خوږه وي او زړونه به یې دلیوانو وي، الله جل جلاله فرمایي: «آیا زما په حلیموالی مغرور دي، او یا هم په ما زړور دي، پخپل ذات قسم یادوم چې داسې فتنه به پرې راواستوم چې حلیم یې حیران شي»[1].

## د بدعت پایلې او ضررونه

کله چې دبدعتونو په هکله خبرې کوو دا پوښتنه مطرح کیږي چې ولې دغه بدعتونه دومره تقبیح شوي دی، ایا کوم ضرر لري؟ او ایا د بدعتونو ضررونه همدومره دي چې انسانان ګمراهۍ ته کشوي، او ویل شوی دی چې هر بدعت ګمراهي ده. او ګمراه هغه دي چې له - صراط المستقیم - څخه لرې دي.

په ځواب کې باید ووایو، بلې: بلي بدعتونه په هماغه اندازه چې ویل شوي دي، پرته له ګمراهۍ څخه بل شی ندی، ځکه دغه بدعتونه د اسلام ساختمان

١- «عن ابى هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ رِجَالٌ يَخْتِلُونَ الدُّنْيَا بِالدِّينِ يَلْبَسُونَ لِلنَّاسِ جُلُودَ الضَّأْنِ مِنْ اللِّينِ أَلْسِنَتُهُمْ أَحْلَى مِنْ السُّكَّرِ وَقُلُوبُهُمْ قُلُوبُ الذِّئَابِ يَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ أَبِي يَغْتَرُّونَ أَمْ عَلَيَّ يَجْتَرِئُونَ فَبِي حَلَفْتُ لَأَبْعَثَنَّ عَلَى أُولَئِكَ مِنْهُمْ فِتْنَةً تَدَعُ الْحَلِيمَ مِنْهُمْ حَيْرَانًا وَفِي الْبَاب عَنْ ابْنِ عُمَرَ» (٢٣٢٨) كتاب الزهد عن رسول الله صلي الله عليه وسلم ترمذي شريف

ته زياته ضربه رسوي ددغو بدعتونو ضررونه په عقيده، عمل، عبادت او ټولو اسلامی احکامو کې منفی اثر لري. چې کولی شو لاندې برخو ته يي تقسيم کړو.

**لومړۍ برخه: په دين کې د بدعت منفی تاثير**

**الف: د اسلام ناقصه منل**

بدعتی پخپل بدعت سره داسې ښايي چې دين ناقص دی، بناء ددې لپاره چې دين تکميل شي دغه بدعتی امور بايد پکي داخل شي او دا لوی حرم دی.

**ب: د اليوم اکملت لکم دينکم آيت سره مخالف**

د بدعت خطرناکترين ضرر د مسلمان په عقيده کې منفی اثر دی ټول پوهيږو چې الله ﷻ په قران عظيم الشان کې ويلی دي ﴿ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ﴾ «نن مو ستاسی دين در پوره کړ» ددې آيات شريف په اساس مسلمانان پوهيږي چې الله ﷻ يو کامل کتاب قران عظيم الشان را نازل کړی دی. او د انسان ټول ضروری قوانين په هغه کې نغښتي دي. ددين ټول احکام د قران عظيم الشان په واسطه بيان او د حضرت محمد په واسطه تشريح او توضيح شوی دي. بناء اسلام د عبادت لپاره نوو احکامو ته ضرورت نلري او کله چې مسلمان دقران عظيم الشان او د پيغمبر د سنتو مطابق عمل وکړي په حقيقت کې يې ١٠٠٪ د اسلام دين مراعت کړی دی.

**ج: په پيغمبر باندې تهمت کول**

بدعت او ددين احکامو کې نوی شيان را پيدا کول په دې معنی دی چې شايد د اسلام پيغمبر خپله وظيفه په کامله توګه نده ادا کړې دين يې ناقص بيان کړی دی، بناء د عبادت لپاره د نوو احکامو ايجاد ته ضرورت دی. چې دغه طرز فکر کفر او په حضرت پيغمبر باندې تهمت دی، پرته له دې د نوو احکامو د ايجاد لپاره چې هغه د عبادت جز وګڼو هيڅ ضرورت نشته.

**د: د پيغمبر د يو سنت له منځه وړل**

د اسلام علما او پوهان پدې نظر دي چې هر بدعت د پیغمبر یو سنت له منځه وړي، د مثال په ډول نن ورځ د مسلمانانو ترمنځ د یو متوفی د جنازې پ ّ دویمه او دریمه ورح دفاتحه خوانی مراسم چې دین کې هیڅ اصل نلري رواج شوی دی دغه بدعت د جنازې اود تدفین په مراسمو کې د اشتراک سنت چې دواړه اجر او ثاب لري له منځه وړي دی، ځکه ډیر خلک د چا د جنازې د اعلان له اوریدو وروسته وایي مشکل نشته فاتحې ته یې ځم.

**دویمه برخه: د بدعت منفی تاثیر پخپله بدعت کار کې**

بدعت کار سړی ځانته زیات ضررونه جلبوي چې لاندې ډول دي.

**الف: په عقیده کې فساد**

بدعتکاره شخص لومړی خپله عقیده خرابوی ځکه د بدعت عقیده لرل بالاخره انسان ګمراهی او کفر ته کشوي.

**ب: عمل یې مردود وي**

د بدعت کار هیڅ عمل د الله ﷻ په وړاندې منظور نه وي.

**ج: توبه یې نه قبلیږي**

ترڅو هغه بدعت پرې نږدي او توبه ونکړي.

**د: د پیغمبر له امت والي څخه ځان باسي**

پیغمبر فرمایي: «من رغب عن سنتی فلیس منی» چا چې زما له سنتو مخ واړو زما له امت څخه ندی، پدې ډول بدعت کاره سړی په امورو کې د افراط له لامله د پیغمبر له سنتو څخه لرې کیږي چې دغه عمل دی د انحضرت ﷺ له امت څخه باسي.

**ه: د پیغمبر له حضور څخه محرومیږي**

**و: د هغو خلکو ډله کې راځي چې بی علمه په الله ﷻ باندې خبرې ترې**

**دریمه برخه: د اسلام انتشار کې د بدعت منفی تاثیر**

بدعتکار یوائځې دا نه چې له داخله د اسلام ساختمان ته ضربه رسوي بلکه بله خطرناکه اشتباه یې داده چې نور غیر مسلمانان له اسلم څخه لرې والي ته تشویقوي، چې کولی شو دغه ضررونه لاندې ټکو کې تشریح کړو.

**الف: د اسلام دښمنانو سره د اسلام مقدس دین په متهم کولو کې همکاري**

اکثرا د اسلام دښمنان ددې لپاره چې نړۍ د اسلام مقدس دین څخه لرې وساتی په اسلام باندې هغه تهمتونه تړي، چې د اسلام مقدس دین احکامو کی نه وي، ولې بدعتیان د ناسمو افکارو او غیر اسلامی عقایدو په واردولو سره د اسلام دښمنانو ته چانس ورکوي دچا خبره تبر یي لاستی پیدا کړي او د اسلام مقدس دین په ضرد تبلیغ کوي.

**ب: د اسلام مقدس دین څخه د خلکو متنفر کول**

بدعتونه غالبا ډیر بدکارونه وي چې د اسلام په نوم د خلکو ترمنځ خپریږي، لهذا غیر مسلمانان د مسلمانانو ترمنځ ددغسې بدو اعمالو په لیدلو سره هغه د اسلسام برخه ګڼي او له اسلام څخه نفرت کوي. ډیر خلک خپل ځینې قومي او قبیلوي عادات عبادت ګڼي ددې په ځای چې دغه بدعتي اعمال دین ته څه فایده ورسوي، بلکې خلک له دین څخه متنفره کوي، دغه عادات چې عبارت له ځان جوړولو، په مړي کې د غذا خوړلو، څلویښتی، د مړو کلیزه، د جنازی مراسمو مشترکینو ته خواړه تیارول، په واده کې زیات خواړه تیارول او غیره هغه امور چې اسلام کې اصل نلري، او یا دا چې ددین د غلط تفسیر نتیجه ده، هغه امور دي چې د اسلام مقدس دین کې پدې هکله کوم نص وجود نلري ځینو خلکو هغه د ځان لپاره اختراع کړي دي او عبادت یې ګڼی داسې حال کې چې د اسلام مقدس دین دم ړی له کور سره همدردی او کوم لازم کړي دی، هغوی حق لري چې مرسته ورسره وشي نه دا چې مجبور شي ترڅو نورو ته خواړه اماده کړي، همدارنګه د واده خواړه باید د هلک کور کې په خپله خوښه تیار شي او دوس لاندې یې وي، خو اسوس بې بل شکل اختیار کړي دی، ځکه د نجلۍ کور هغه مجرو وي چې د هغوی مصارف هم هلک ورکړي. چې دا کار یو رنګ بدعت او ظلم دی. او نه یوائځې دا چې اسلام کې

اساس نلري بلکی د صریحو احکامو مخالفت هم دی. همدارنګه ولور اخیستل یو غیر اسلامی بدعت دی، چې ډیر خلک یې له مهر سره چې د ښځې حق دی فرق هم نکوي اود ناوي پلار یا ورو هغه خپل جیب کې اچوي، او ځینې جاهلان هغه د ښځې په مهر کې حسابوي چې درهم نامشروع او د اسلامي احکامو خلاف دی ځکه د ښځې مهر هماغه دی چې د نکاح پر وخت تعینیږي، او پدې د تصرف حق هم یواځې ښځې ته دی، او دفامیل نور اعضایې کوم حق نلري.

یو حقیقی مومن ته پکار ده چې د خپلو عادتونو او عباداتو ترمنځ فرق وکړي او هر کار چې دینی نصوصو کې اساس ونلري هغه ترک کړي.

ځینو ځایو کې دخلکو ځینې قومی او قبیلوي عادات او عنعنات د عبادت برخه ګڼل کیږي داسې حال کې چې دغه عادتونه تنها دا چې عبادات ندي او ثواب نلري بلکې ګناه ده او کوونکی ته هیڅ نفعه نه رسوي. مثلا قران عظیم الشان کې فرمایي: ﴿۞إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ لِلۡفُقَرَآءِ وَٱلۡمَسَٰكِينِ﴾ «صدقې فقط فقیرانو او مسکینانو ته دي»، ددی الهی حکم په اساس یواځې هغه خلک شي چې د صدقې، زکات نفلی خیرات او غیره څخه استفاده وکړي چې فقیر او مسکین وي. ولې ځینې خلک صدقات هم د محفل په شکل ترتیبوي او د فقیرانو او مسکینانو حق مالدارانو او سرمایه دارانو ته ورکوي او یا خپل دعوتونه اخر کې خیرات نوموي. یو با اخلاصه مسلمان ته لازمه ده چې هڅه او کوشش وکړي ترڅو د عاداتو، رواجونو او عباداتو ترمنځ فرق وکړي، او د عبادت د شرایطو مطابق د پروردګار عبادت وکړي.

**ج: بدعت د الله ﷻ او د پیغمبر د دوستی مخالف دي**

حقیقی مسلمان همیشه هڅه او کوشش کوي چې الله ﷻ سره مینه ولري او هم غواړي چې الله ﷻ ده سره مینه ولري اوس پوښتنه پیدا کیږي چې مونږ څرنګه ثابتولی شو چې الله ﷻ سره مینه لرو او الله ﷻ څرنګه مونږ سره مینه لري. ددې پوښتنې ځواب مونږ ته قران کریم راکوي ﴿قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ﴾

«ورته ووايه كه تاسې الله سره محبت لرئ نو زما پيروي وكړئ الله به تاسې سره محبت وكړي».

بناء هر كله چې مونږ اللهﷻ سره مين هلرو بايد د رسول الله متابعت وكړو، او كله مو چې د رسول الله پيروي وكړه اللهﷻ له مونږ سره مينه كوي، د پيغمبرعليه السلام پيروي هغه وخت كيږي چې مونږ د هغې وينا او عمل پيروي وكړو كوم چې پيغمبرعليه السلام تاييد كړې وي، «قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا بُنَيَّ إِنْ قَدَرْتَ أَنْ تُصْبِحَ وَتُمْسِيَ لَيْسَ فِي قَلْبِكَ غِشٌّ لِأَحَدٍ فَافْعَلْ ثُمَّ قَالَ لِي يَا بُنَيَّ وَذَلِكَ مِنْ سُنَّتِي وَمَنْ أَحْيَا سُنَّتِي فَقَدْ أَحَبَّنِي وَمَنْ أَحَبَّنِي كَانَ مَعِي فِي الْجَنَّةِ».

انسرضي الله عنه وايي رسول اللهﷺ ماته وويل اى ځويه كه دې وكولى شو چې شپه كړې او ستا زړه كې چا ته كينه نه وي نو دا كار وكړه، بيايي راته وويل اى زويه دا زما سنت دي او چا چې زما سنت ژوندي كړ ماسره يې مينه وكړه او چا چې ماسره مينه وكړه هغه به ماسره جنت كې وي...[١].

ومن الله التوفيق

١- «عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا بُنَيَّ إِنْ قَدَرْتَ أَنْ تُصْبِحَ وَتُمْسِيَ لَيْسَ فِي قَلْبِكَ غِشٌّ لِأَحَدٍ فَافْعَلْ ثُمَّ قَالَ لِي يَا بُنَيَّ وَذَلِكَ مِنْ سُنَّتِي وَمَنْ أَحْيَا سُنَّتِي فَقَدْ أَحَبَّنِي وَمَنْ أَحَبَّنِي كَانَ مَعِي فِي الْجَنَّةِ وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ طَوِيلَةٌ قَالَ أَبُو عِيسَى هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ وَمُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيُّ ثِقَةٌ وَأَبُوهُ ثِقَةٌ وَعَلِيُّ بْنُ زَيْدٍ صَدُوقٌ إِلَّا أَنَّهُ رُبَّمَا يَرْفَعُ الشَّيْءَ الَّذِي يُوقِفُهُ غَيْرُهُ قَالَ وسَمِعْت مُحَمَّدَ بْنَ بَشَّارٍ يَقُولُ قَالَ أَبُو الْوَلِيدِ قَالَ شُعْبَةُ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ زَيْدٍ وَكَانَ رَفَّاعًا وَلَا نَعْرِفُ لِسَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَنَسٍ رِوَايَةً إِلَّا هَذَا الْحَدِيثَ بِطُولِهِ وَقَدْ رَوَى عَبَّادُ بْنُ مَيْسَرَةَ الْمِنْقَرِيُّ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ أَبُو عِيسَى وَذَاكَرْتُ بِهِ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَعِيلَ فَلَمْ يَعْرِفْهُ وَلَمْ يُعْرَفْ لِسَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَنَسٍ هَذَا الْحَدِيثُ وَلَا غَيْرُهُ وَمَاتَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ سَنَةَ ثَلَاثٍ وَتِسْعِينَ وَمَاتَ سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ بَعْدَهُ بِسَنَتَيْنِ مَاتَ سَنَةَ خَمْسٍ وَتِسْعِينَ» ترمذي شريف كتاب العلم عن رسول الله صلي الله عليه وسلم حديث نمبر(٢٦٠٢)